




Download from: aghalibrary.com






Download from: aghalibrary.com

Download from: aghalibrary.com

# سیاسي مکتبونه

## لیکوال: فرهاد داوري

## د کتاب ځانګړنې:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **سیاسي مکتبونه** |
| لیکوال: | فرهاد داوري |
| | ۰۷۰۸۳۲۵۵۴۲ |

farhad.dawari@gmail.com

خپرندوی: مومند خپرندویه ټولنه – ننګرهار

برېښنالیک: momand.books@gmail.com

کمپوز او پروف: په خپله لیکوال

ډیزاین چارې: رحمن الله بهیر ۰۷۹۷۱۳۱۲۱۷

چاپ کال: ۱۳۹۲ل

چاپشمېر: ۱۰۰۰ (یو زر)

چاپ وار: لومړی

چاپځی: مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه- ننګرهار

**د چاپ حقوق یې د لیکوال او خپرندویې ټولنې سره خوندي دي**

**د ترلاسه کولو درکونه:**

عبدالمجید مومند کتاب پلورځی، مخابراتو ثلور لارې – جلال آباد.

اړیکې: ۰۷۰۰۶۲۲۱۲۱ / ۰۷۷۷۶۲۲۱۲۱

یار کتاب پلورځی، اسحاقزی مارکېټ لاندېنی پوړ (تلخونه) جلال آباد ښار

هلمند: سید جمال الدین افغان کتابپلورنځی

ګردېز: علمي کتاب پلورنځی، حمید ګردېزي مارکېټ.

پکتیکا (ښرنه): مجاهد کتاب پلورځی / کابل: اصلاح و افکار کتاب

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: aghalibrary.com

# ډالۍ:

مور جانې تاته !

چې ته مې د ژوند لومړۍ ښوونکې يې، ستا تر سيورې لاندې ډاډه او ستا د دعاګانو په برکت، تل د ژوند له ستړياو خلاصون مومم او د ژوند په هر ډګر کې د برياليتوب منزل ته رسېدلی يم.

[داوري]

Download from: aghalibrary.com

# تقریظ

د افغانستان په رسمي ژبو باندي ، په ځانګړې ډول په ملي او رسمي ژبي پښتو باندي د علمي اثارو نه شتون هغه نیمګړتیا ده چي زمونږ علمي پلټونکي او زده کړیالان یې هره ورځ احساسوي. نن ورځ مونږ په افغاني ټولنه کي دعلمي اثارو لیکلو او ژباړلو ته زیاته اړتیا لرو ، دا د خوښی ځای دی، چې اوس په افغانستان کي علمي پرمختګونه شویدي، په هره برخه کي د علم پلټونکي او زده کړیالان شته، خو له بده مرغه مونږ په خپلو رسمي ژبو باندي داسي علمي مواد نلرو ، چې زمونږ د زده کړیالانو او څېړنکو علمي تنده په خړوبه شي.

که څه هم په پښتو ادب او نورو برخو کي څه ناڅه کتابونه لیکل شویدي، خو د سیاست په اړه علمي او پوهنیز کتابونه ډیر کم لیدل کیږي، له یوي خوا مونږ ډیر کم سیاستپوهان درلودلي دي او له بلي خوا همدي سیاستپوهانو د سیاست په اړه ډیري کمي لیکني او علمي مواد چمتو کړیدي. نو دا تشه اوس ډیره محسوسیږي، له همدي کبله ځوانان او علمي اشخاص باید دي تشي ته متوجي شي او د ډکولو لپاره یې لستونې را ونغاړي. دا مهمه نده چې یوازی باید لیکني وشي، بلکي که د نورو ژبو څخه علمي او بډایه مواد را وژباړل شي او په افغاني ژبو باندي خپلو خلکو ته وړاندي شي دا هم د علمي پرمختګ لپاره ډیره مرسته کولای شي.


Download from: aghalibrary.com

زمونږ سیاستوال باید همداسي سیاسي علمي او پوهنیز مواد ولولي او بیا د سیاست ډګر ته ور ودانګي تر څو چې سیاسي پوهه نه وي، تر هغو هیڅ سیاستوال نشي کولای، چې په مهمو سیاسي مسایلو او دهغو په اغیز باند وپوهیږي او یا هم د روانو سیاسي حالاتو سره سم د هېواد سیاسي خوځښت منظم کړي. تر څو چې په سیاسي ډګر کي علمي چمتوالی شتون ونلري، تر هغو به سیاسي اعمال د ټولني لپاره اغیزناکه او موثر ونه ګڼل شي.

دا چي زمونږ ځوان زده کړیال ښاغلي فرهاد داوري، د همدي تشي د ډکولو لپاره لستوڼي رانغښتي دي او په خپله ځوانه پوهه او علم باندي یې د سیاست په اړه علمي مواد چمتو کړي دي او خپلو خلکو ته یې وړاندي کړیدي، د ستاینې وړ دي. ښاغلي داوري تیر کال پیاوړی علمي اثر (سیاست پوهنه) ولیکله او خپلو خلکو ته یې وړاندي کړه، په نوموړي کتاب کي د پیاوړو ماخذونو څخه ګټه اخیستل شوي وه او مواد یې علمي وه، له همدي کبله د پوهنتونونو استادانو، زده کړیالانو او د سیاست مینه والو لپاره غوره کتاب وګڼل شو، دا چي ښاغلي داوري اوس بل همداسي علمي اثر (سیاسي مکتبونه) چمتو کړی دی، دا کتاب مي ولوستئ، پدي کتاب کي هم ده د غوره ماخذونو څخه ګټه اخیستي ده او ډیر ضروري او ښه مواد یې ځای پر ځای کړیدي.

دا کتاب (سیاسي مکتبونه) ښاغلي داوري پر دوو برخو باندي ویشلی دی، چې په لومړی برخه کي یې په سیاسي مکتبونو پوري اړوند مفاهیم او په دوهمه برخه کي یې د سلو په شاوخوا کې لوی او واړه سیاسي مکتبونه څیړلي دي. د هر سیاسي مکتب لپاره یې مناسبه

او د ضرورت په اندازه تشریح وړاندي کړیده او هم یې په لیکوالی کې خپل ځان بې طرفه ثابت کړی دی. زه دده دا لیکنه او ځیرنه تایدوم او په ژوند کي ورته د نورو بریاوو او کامیابیو لپاره دعا کوم.

نو په پای کې زه ښاغلي داوري ته، ددي علمي اثر د لیکلو او چاپولو مبارکي وایم او د سیاست د زده کړیالانو او ځیړنکو څخه مي هیله داده، چې همدا کتاب ولولي او د سیاسي مکتبونو په اړه علمي ذخیره زیاته کړي. او هم د پوهنتونونو د استادانو څخه مي هیله ده چې ددي علمي اثر څخه د درسي موادو د چمتو کولو لپاره ګټه واخلي.

**په درنښت**

**پوهندوی م. شیرزاد**

**د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی استاد**

# سريزه

انسان که له يوې خوا ټولنيز مخلوق دی نو له بلې خوا ورته سياسي مخلوق هم ويلی شو ، لکه څه ډول چې انسان له يوې خوا له ټولني څخه ځان نشي بېلولی نو په همدې ډول انسان د سياست له مهار څخه هم ځان نه شي ايستلی، انسان که خپله په سياسي ډگر کې داخل نه شي نو هرورمرو پرې د نورو له لورې سياست چلول کيږي، په بله خبره د بل چا د سياسي اغيزې لاندې هرومرو راځي.

انسان نه يوازې دا چې د ټولنيزوالي د ځانگړنې له مخې اړ دی چې له نورو انسانانو سره اړيکې ولري، بلکې د سياسي ځانگړنو له مخې هم يو انسان د بل انسان همکارۍ او مرستې ته اړتيا لري، د دې له پاره چې يو سياسي چاپيريال او يا هم سياسي طبيعت په سمه مانا سره وپېژنو نو اړ يو ترڅو د نړۍ د سياسي سيستمونو او سياسي مکتبونو په اړه لازمه پوهه ولرو دا پوهه له يوې خوا مونږ او تاسو د نړۍ له سياسي سيستمونو سره اشنا کوي او له بلې خوا مونږ ته په سياسي ډگر کې د ډېر څه د کولو او د ډېر څه د نه کولو تجربه را پياوړې کوي. همدا ډول د نړۍ د بېلابېلو سياسي مکتبونو، سياسي نظامونو، سياسي سيستمونو او سياسي کړنلارو په اړه معلومات په حقيقت کې مونږ او تاسو ته د نړۍ د عمومي پېژندنې يوه دروازه خلاصوي.

ګران ورور فرهاد داوري چې تر اوسه د سیاسي علومو زده کړیال دی، د سیاست او خپل مسلک په اړه یې په زړه پوري علمي ګامونه اوچت کړي، داسي علمي او مسلکي ګامونه چې انسان یې د ده د عمر په همزولو کي کمي بېلګي پیدا کولی شي. ښاغلي داوري تیر کال یو کتاب د (سیاست پوهنه) په نامه چاپ کړ، چې د سیاست د علم په اړه بنسټیز معلومات یې پکې ځای پر ځای کړي وه، ډیر ژر د خلکو په منځ کي مشهوره شو، سیاست پوهنه تر اوسه په زیاتو پوهنتونو کي د تدریسي مضمون په څیر لوستل کیږي او هم د زیاتو علمي کتابونو لپاره د غوره علمي او پیاوړي ماخذ په بڼه کارول کیږي. د سیاسي علومو داسي زده کړیال او یا هم استاد دي نه وي، چې دا کتاب دي نه وي لوستی او یا هم ورڅخه خبر نه وي، دده همغه اثر د علم په ډګر کي هغه ستره لاسته راوړنه وه، چې راتلونکي نسلونه به ورڅخه د تل لپاره ګټه اخلي.

ښاغلی داوري تل زیار او زحمت کښلی ترڅو د خپلي پوهي په مټ د خپل ځوان نسل پام د سیاسي ډګر ډیرو مهمو مسایلو ته راواړوي چي مهمي بېلګي یې تیر کال چاپ شو اثر (سیاست پوهنه) او بل همدا چاپ شوې اثر (سیاسي مکتبونه) دي په کوم کي چې ورور داوري پوره پوره ځان ستړی کړی او پدي کتاب کي یې د سیاسي مکتبونو په اړه لازم او د استفادي وړ مواد راټول کړي. ښاغلی داوري په ډیره روانه ژبه د سیاسي مکتبونو پیچیده او سخت مسایل د سیاست د ډګر مینوالو او په ځانګړې ډول د سیاسي علومو زده کړیالانو ته وړاندي کړي. زه د ښاغلي داوري دا هڅه او ګام په سیاسي ډګر کي او د دي ډګر د زده کړیالانو لپاره یوه ګټوره، سیاسي او پوهنیزه هڅه بولم، د

سياسي علومو په ډګر کې د هرې داسې پنځونې او لاس ته راوړنې مثبت او موثر رول نفي کېدلی نشي. هغه هم په داسې حال کې زمونږ ارزښتونو او بنسټونو په شان زيانمن شوي زيات چاپي اثار مو د جنګونو د کرغېړنې بلا خوراک شوي دي، په ډېرو ځايونو کې مو پوهنيزه خلا شتون لري، نو ددې خلا د ډکولو لپاره هغه هم په سياسي ډګر کې دداسې علمي اثارو ليکل او خپرول له شکه پرته چې اړين او د وخت حالاتو غوښتنه ده.

زه له يوې خوا تاند ، هڅاند او پلټونکي ځوان فرهاد داورې ددې لوی کار له امله تودې مبارکۍ وړاندې کوم او له بلې خوا د الله په لوی دربار کې دده د لا زياتو برياوو په موخه لاسونه لپه کوم.

## په ټوله علمي او هېوادنۍ مينه

## استاد ميرولي جان (لکنوال)

# د لیکوال خبرې

سیاست او سیاست پوهنه (د سیاست علم) د ټولنیزو علومو څانګې دي، لکه څرنګه چې ټولنیز علوم د انسانانو ټولنیز کړه وړه لولي، همداسې په سیاست پوهنه کې هم د انسانانو د کړو وړو او اعمالو سره سروکار دی. د سیاست او سیاست پوهنې ترمنځ توپیر پدې کې دی، چې سیاست عملي بڼه لري، خو سیاست پوهنه بیا تیوریکې او نظري بڼه لري، نو په تیوریکې لحاظ د ټولنې سیاسي اعمال لوستل، موږ د ټولنې په تګلارې باندې پوه کوي او هم زموږ سره مرسته کوي، تر څو د بشري تلنلارو څخه خبر سو.

سیاست پوهنه ډیر پراخ او وسیع علم دی، چې سیاسي مکتبونه د همدې علم یوه مهمه او اړینه برخه ګڼل کیږي. په سیاسي مکتبونو کې د حکومتونو او سیاسي ایډیالوژیو پر بېلابېلو بڼو باندې خبرې کیږي، د هر مکتب پیژندنه، ځانګړني او آرونه لولي. موږ د سیاسي مکتبونو په لوستلو سره د سیاسي تلنلارو او ایډیالوژیو په اهمیت او اړینوالي باندې پوهیږو او هم د بشریت د سیاسي تاریخ لاسته راوړنې او هڅې پیژندلای سو. لکه څرنګه چې سیاست پوهنه د بشري آندونو د پرمختګ په پایله کې رامنځته سویده، همداسې سیاسي مکتبونه هم د بشریت د سیاسي تاریخ د پیل سره سم پیل سوي دي. سیاسي مکتبونه په لومړیو کې د پوهانو او فیلسوفانو لخوا د سیاسي نظریو په بڼه څرګند سوي دي، وروسته د زیاتو پوهانو لخوا همدا سیاسي نظریې پیاوړې سوي دي او د وخت او کلونو په تیریدو سره نورې

نظریې هم ورکړې سوې دي، چې بالاخره د سیاسي مکتب په بڼه پاخه مواد ورڅخه جوړ سوي دي. کله ناکله ځینې سیاسي مکتبونه د سیاسي ایډیالوژیو په بڼه هم پاته سوي دي، یانې سیاسي ایډیالوژي زیاتره وخت تبلیغاتي بڼه لري، د خلکو په منځ کې د غړو د راجلبولو او اغیز ښیندلو لپاره تبلیغاتي شکل لري، خو سیاسي مکتب بیا تر ډېره بریده عملي بڼه لري، یانې د حکومت واګې یې په لاس کې وي او عملاً سیاسي قدرت پلې کوي.

د سیاسي مکتبونو په اړه معلومات زموږ لپاره ډېر اړین دي، لکه څرنګه چې د تیرو څو لسیزو راهیسې په افغانستان کې سیاسي ثبات نسته او تقریباً په هره لسیزه کې سیاسي رژیم اوړي، له همدې کبله موږ باید په بېلابېلو سیاسي رژیمونو وپوهیږو او په اړه یې کره معلومات ولرو. ما هم د همدې تشې د ډکولو لپاره دا هڅه پیل کړه چې موږ باید په خپلې تاریخي او نړیوالې ژبې پښتو کې هم د سیاسي مکتبونو په اړه تر ډېره بریده وسیع او غوښین کتاب ولرو، نو کله چې مې دا وپتیله په لومړیو کې مې د زیاتو لیکوالانو، استادانو او علمي کدرونو سره مشورې وکړې، ټولو راته همدا تشه په ګوته کړه او کار کولو ته یې وهڅولم. ما هم د خپلو درسونو ترڅنګ پر همدې سیاسي مکتبونو باندې کار پیل کړ، تقریباً یو نیم کال مخکې مې بشپړ کړ، خو متاسفانه چې زما د کمپیوټر د ځېنو ستونزو له امله د کتاب زیاته برخه مې د لاسه ووتل، که څه هم د خپل کمپیوټر هارډیسک مې هندوستان ته واستوی خو بیا هم ټوله برخه مې لاسته رانغله، خو ما هم خپل همت د لاسه ورنکړ بیا مې د سره کار پر پیل کړ او بیا مې بشپړ کړ. نو پر

همدي کتاب مي تقریباً دري نیم کاله کار کړی دی، چې ستاسو تر ګوتو یې در ورسوم.

ما ډیره هڅه کړیده، چې پدي کتاب (سیاسي مکتبونه) کي ټول مواد کره او پیاوړي وي، نو له همدي کبله مي د پیاوړو ماخذونو څخه ګټه اخیستي ده. پدي کتاب کي می د هر مکتب په اړه لنډه پیژندنه د اړتیا تر بریده کړیده، لکه څرنګه چي د هر مکتب په اړه کتابونه کتابونه لیکل کیدای سي، خو ما یوازي د لوستونکو لپاره د هر مکتب لنډه پیژندنه وړاندي کړیده. همدا رنګه شوني ده چي پدي کتاب کي ځیني تخنیکي ستونزي هم موجودي وي، چي له امله یې اوس لا بخښنه غواړم.

ددي کتاب د لیکلو پر مهال زیاتو ملګرو، استادانو، لیکوالانو او نورو علمي کدرونو مرستي راسره کړیدي، چې د ټولو نومونه یادول دلته ناشونی دی، بیا هم زه د ټولو دوستانو او ملګرو څخه چي پدي برخه کي یې د ماخذونو په پیدا کولو کي او یا هم د کتاب د لیکلو پر مهال یې مشوري راکړي دي، نړۍ نړۍ مننه کوم.

**په درنښت**

**فرهاد داوري**

**هلمند- افغانستان**

# لومړۍ برخه:

# په سياسي مکتبونو پوري اړوند مفاهيم

انسان د خپل پیدا ایښت سره سم د ټولنیز ژوند د پیلیدو لپاره زیات ګامونه اخیستي دي، انسان د بشریت په تاریخ کې په خپله خوښه د یوازیتوب ژوند نه دی غوره کړی، بلکې له پیله یو د بل تر څنګ او سیدل یې غوره ګڼلي دي. له همدې کبله ویلای سو، چې انسان ټولنیز حیوان دی. لکه څرنګه چې ټولنه نظم او قانون ته اړتیا لري، چې بېله نظمه ټولنه خپلي چارې پر مخ نسي بېولای همدارنګه په ټولنه کې د نظم راوستل سیاسي پوهې ته اړتیا لري، نو ځکه انسانانو د خپل ژوند په دوران کې د سیاسي لارو چارو پر بنسټ انساني ټولنیزې اړیکې ټینګې کړې دي او د سیاست په کارولو یې په ټولنه کې نظم راوستئ دی، له همدې کبله ځېنو پوهانو لکه ارسطو انسان سیاسي حیوان بللی دی. نو ویلای سو، چې سیاست د ټولنیز ژوند څخه نه بېلیدونکی اړخ دی، که چیرې سیاسي پوهه نه وای نو د ټولني پرمختګ او ټولنیز نظم به نه وای، که چیرې د سیاسي لارو چارو څخه ګټه اخیستل نه وای نو اوسنۍ نړۍ به د کلي په شان نه وای، همدارنګه په بشري ټولنه کې د سیاسي پوهې له امله وګړې د مینې، وروروليۍ او نظم تر چتر لاندې ژوند کوي.

له همدې کبله د سیاستپوهني لوستل اړینه ګڼل کیږي. په سیاست پوهنه کې مهمه موضوع د حکومت او دولت لوستنه ده. د یو شمېر پوهانو په آند د سیاست علم د دولت څخه پیلیږي او پر دولت باندې ختمیږي. نو دولت او حکومت د بشري ټولني ستر اورګانونه دي او په ټولنه کې د نظم راوستلو مهم بنسټونه دي.

د حکومت لوستنه به زموږ سره دا مرسته وکړي، چې د سیاست په هسته او د ټولني د نظم راوستونکي اورګان په جوړښت وپوهیږو. لکه څرنګه چې سیاسي مکتبونه د بېلابېلو حکومتونو سیاسي ایډیالوژۍ او جوړښت مطالعه کوي، له همدي کبله د سیاست په علم کي مهم دي. ددي لپاره چي د سیاسي مکتبونو په لوستنه ښه وپوهیږو، نو لاندي ځیني اړین اصطلاحات لولو:

(۱)- **سیاست پوهنه** (**د سیاست علم**):

د سیاست علم د انسانانو د آندونو د پرمختګ په پایله کي رامنځته سو ی دی، انسانانو د ژوند د نورو برخو د پرمختګ ترڅنګ د سیاست په علم کي هم پرمختګ وکړ، چي د همدي پرمختګ په پایله کي سیاست د انحصار څخه راووتی او د هرچا علم و ګرځېدی. هرڅومره چي سیاسي پوهه پراخه کیدل په همغه اندازه د خلکو افکارو او نظریاتو زیات ارزښت پیدا کوی، کله چي په منځنیو پیړیو کي ډیموکراسي عملي ډګر ته راووتل، نو عامه افکارو او خلکو زیات ارزښت پیداکړ؛ ځکه چي په ډیموکراسۍ کي ګوندونو هڅه کول چي په ټولنه کي خپل ملاتړي ډیر کړي او د ازادو ټاکنو د لارې سیاسي واک تر لاسه کړي.

سیاست ته په انګریزي ژبه کي (Politics) وايي چي د یونانې ژبې د (Polis) څخه اخیستل سوی دی او پولیس په یوناني ژبه کې د ښار مانا ورکوي. د لرغونو یونانیانو لهآنده سیاست د ښار اړونده پوهه ده. په لرغونې یونان کي هر ښار د دولت بڼه درلوده؛ نوځکه دوی سیاست د ښار یا دولت د چارو پوهي ته وایه.

د سیاست علم له ډیرو لرغونو زمانو څخه په بېلابېلو ماناوو کارول سوی دی، یو شمېر پوهان سیاست د دولت د چارو پوهي ته وایې، ځینې یې هغه پوهه ګڼې چي پربنسټ یې سیاسي قدرت لاسته راځي. یانې د سیاسي قدرت د لاسته راوړلو اړونده پوهه یې ګڼې. په هر حال د عربې ژبې سیاست د انګریزي ژبې تر (Politics) په پراخه مانا سره کارول کیږي؛ ځکه چي د انګریزي ژبي (Politics) یوازي د حکومت او دولت د چارو پوهي ته ویل کیږي، پداسي حال کې چي د عربي ژبي سیاست بیا د ژوندانه د ټولو چارو سره سروکار لري.

یو شمېر پوهان دا علم د (سیاست علم) بولې، بله ډله یې (سیاسي علم) بولي، نور یې (سیاسي علوم) بولي، چي موږ په راتلونکي کې ددي هرڅه پر ځای یوازي (سیاست) کاروو.

**د سیاستپوهني تعریف**:

لکه مخکي چي مو وویل یو شمېر پوهان سیاست پوهنه یوازي د دولت او حکومت د چارو پوهي ته وایې، پداسي حال کي چي دا ډول تعریف د سیاستپوهني لپاره اوس د منلو وړ نه دی؛ ځکه چي سیاستپوهنه په ټولنه کي غیري رسمي جوړښتونه او سیاسي سلوک هم تر څېړني لاندي نیسي. که څه هم دولت د سیاستپوهني بنسټیزه موضوع ګڼل کیږي او سیاستپوهنه د دولت سره ډیر سروکار لري، خو سیاستپوهنه یوازي په دولت پوري نسي تړل کیدای.

د یو شمېر پوهانو لکه کاتلین او دوژوونال په آند سیاست د انساني ټولني جوړښت او سیاسي ژوند ترڅېړني لاندي نیسي او سیاست د ټولني د غړو ترمنځ د اړېکو علم دی. پدي تعریفونو سره د سیاست د

علم ساحه ډېره پراخه کيږي او د بشري ژوند ټول اړخونه د سياست تر اغيز لاندي راځي.

ځيني نور پوهان بيا سياست په قدرت او واک پورې اړوند علم ګڼي، ددوی په آند سياست د قدرت لاسته راوړل، ساتل او انتقال ته ويل کيږي. همدارنګه سياست د سياسي قدرت بنسټ، ساحه، د کارونې ډول او سرچيني په ګوته کوي. دکانون توجه په آند د سياست علم هغي مبارزي ته ويل کيږي، چې موخه يې د واک لاسته راوړل، ساتل، پلي کول،نفوذ کول او يا د نورو د نفوذ څخه مخنيوی کول دي. خو سياست ته يوازي د سياسي واک علم ويل هم تر نيوکو لاندي راغلی دی، بلکي زياتره پوهان پدي آند دي چي سياسي واک د سياست د علم د بنسټيزو موضوعاتو څخه ګڼل کيږي او حتا ځيني پوهان وايي چي سياسي واک د سياست د علم هسته ګڼل کيږي، خو سياست سربېره پر واک باندي د نورو موضوعاتو سره هم سروکار لري او يوازي د واک او قدرت علم نسو ورته ويلای.

په پای کي د سياست د علم لپاره داسي تعريف کولای سو ((سياست هغه سوله ييز يا غيري سوله ييز مشرتوب دی چي د وګړو ترمنځ پر اړيکو، ډلو او ګوندونو، د هېواد په دننه کې پر حکومتي چارو او د دولتونو ترمنځ پر اړيکو باندي واکمني لري))[1].

[1]- د سياست لپاره بېلابېل تعريفونه شتون لري، ځيني سياستپوهان او سياستوال په سياسي مباحثو کي (سياست د ګټو لوبه بولي) يانې د سياست موخه د خپلو ګټو ساتل او لاسته راوړل دي، همدارنګه يو شمير نور پوهان بيا (سياست د سيالانو لوبه بولي) يانې سياست د رقيبو او سيالو ډلو ترمنځ د لوبي نوم دي.

همدارنګه د سیاست په اړه اسلامي پوهانو هم تعریفونه وړاندي کړي دي، چي په لاندي ډول یې د ځینو یادونه کوو:

۱-امام محمد غزالي<sup>(رح)</sup>د سیاست د پیژندني په اړه وایې (سیاست د الله تعالي د مخلوق اصلاح او هغي لاري ته لارښودنه ده، چي د دنیا او اخرت د خلاصون لامل ګرځي). همدارنګه دی وایي(سیاست هغه پوهه او تدبیر دی، چي د ژوندانه د وسایلو او د هغو پر چارچاپیره د افرادو او ټولني تر منځ د مینې، یووالي او یو له بل سره د مرستي د پیدا کیدو لامل ګرځي).

۲-ابن خلدون<sup>(رح)</sup>د سیاست د پیژندني په اړه وایې (حکومت او سیاست د انسانانو د ساتني او د هغوی د ګټو د کفالت او ضمانت نوم دی او دا ډول سیاست د مځکي پرمخ باندي د الله تعالي پربندګانو د هغه نیابت دی. چي پرانسانانو باندي د هغه احکام پلي سي). د دي تعریف څخه داسي جاج اخیستل کیږي، چي اسلامي سیاست د حکومت او سلطنت د هغي تلنلاري سره سروکار لري، چي له مخي یې عامه ګټي بشپړیږي او د الله تعالي د بندګانو په حالت کي غوره والی پیدا کوي.

۳-علامه ابو البقي حنفي<sup>(رح)</sup>سیاست داسي تعریف کړی دی (هغه تلنلاره، چي د انسان د ښیګڼي او غوره والي په اړه د اوس او راتلونکي لپاره ضمانت وکړي د سیاست څخه عبارت دی).

په پای کي د اسلامي پوهانو د آندونو پر بنسټ سیاست داسي تعریفولای سو ((د اصلاحي تدبېرونو ټاکل او د نظم او ترتیب پر مخ بېولو ته سیاست ویل کیږي. سیاست یو فن او حکمت دی، چي د

حکومت او رياست نظم، ترتيب او ښايسته والی يې موضوع او مهمه دنده ده )).

نو د پورتنيو اسلامي پوهانو د آندونو پر بنسټ سياست چل، فريب، درواغ، مکر او جنګول ندي، بلکي سياست د هغي پوهي نوم دی، چي د خلکو ترمنځ مينه، ورورولي او محبت منځته راوړي. ريښتني سياستپوهان او سياستوال هغه دي چي ښه نظر، ريښتينولي، تدبير او ښه اخلاق ولري.

### (۲)- **سياسي مکتب**:

سياسي مکتب د دولت په اړه نظرياتو او آندونو ته ويل کيږي، ياني د سياسي ټولني (دولت) د سرچينو، موخو، تلنلارو او بالاخره د هغه د غوره بڼي په اړه آندونو ته سياسي مکتب ويل کيږي. لکه څرنګه چې د دولت مفهوم د قدرت سره تړلی دی له همدي کبله سياسي مکتب پر دولت سربيره د سياسي غورځنګونو او قدرت لپاره هم ځيني اصول لري، چې سياسي مکتب بيا پدي بڼه د ايډيالوژۍ بڼه ځانته غوره کوي. چې وروسته سياسي ګوندونه يې د پلي کولو لپاره غوښتنه کوي د بېلګي په توګه که چيري د ليبراليزم، فاشيزم او کمونيزم سياسي مکتبونو کې د ټولني د سرچېني په اړه څيړنه وکړو، نو دابه وليدل سي، چې د ټولني د سرچېني په اړه ددوی ترمنځ ټکرونه شتون لري او په عملي بڼه هم همدا ټکرونه پلي سويدي.

## د سیاسي مکتبونو پیدایښت:

سیاسي مکتبونه چې په اوسني مفهوم سره یې پیژنو د دوه یا درې پیړیو څخه زیاته مخینه نلري او د اروپا د فکري او ټولنیزو انقلابونو څخه سرچینه اخلي. یانې په اروپا کې د رنسانس او دیني ریفورمیشن په پایله کې د فکري او ټولنیزو خوځښتونو لپاره زمینه برابره سول او زیات فکري او سیاسي غورځنګونه راپورته سول. د یادونې وړ ده چې دا په دې مانا نده، چې له دې څخه مخکې سیاسي خوځښتونو او غورځنګونو شتون نه درلودی، بلکې سیاسي تفکر د ارسطو او افلاطون راهیسې د لودیځ په فلسفه کې ځای کړل سوی دی. همدارنګه له دې څخه مخکې هم سیاسي غورځنګونو او انقلابونو تر دیني سیوریو لاندې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ځانونه ښکاره کړیدي. خو پدې وروستیو پیړیو کې په ځانګړې ډول د فرانسې د لوی انقلاب څخه وروسته سیاسي غورځنګونه د ځانګړو سیاسي ایډیالوژیو پر بنسټ راپورته سول.

د دولت او سیاست په اړه د آندونو ریښې د لرغوني یونان د افلاطون او ارسطو د آندونو څخه پیلیږي، چې په فلسفه کې یې د سیاست د فلسفې په نامه ځای پر ځای کړیدي. خو په هغه وخت کې د سیاست په اړه د پوهانو خبرو یوازې نظري اړخ درلودی او هر فیلسوف او پوه د سیاست په برخه کې بېلابېل نظرونه ورکول. د لرغوني یونان په فیلسوفانو کې لومړی فیلسوف افلاطون و، چې د حکومت په اړه یې خیالي نظر ورکړی دی، خو وروسته ارسطو چې حکمت یې پر نظري او عملي باندې وویشی او نظري حکمت یې پر (الاهیات، منطق،

ریاضیات) باندي وویشی او عملي حکمت یې پر (اخلاق او سیاست) باندي وویشی، نو په سیاسي تفکر کې یې ډیر اړین ګام واخیستی.
خو پدي وروستیو پیړیو کې زیاتو سیاستپوهانو لکه ماکیاولي، روسو، لینن.. او زیاتو سیاسي غورځنګونو او انقلابونو د سیاست لورې ته بدلون ورکړ او زیات پرمختګونه یې رامنځته کړل. دا بنسټیز بدلون هغه وخت رښتني بڼه خپله کړه، چې د اروپا د پرمختګ لپاره د عقل باوري او دنیوي ګامونه پورته سول او د اروپا د عروج لپاره یې د الاهیاتو پر ځای د عقل او فکر څخه بنسټیز کار واخیستی. پر عقل باندي باور او عقلي ګامونه په ځانګړي توګه د بورژوازي پوړ لخوا جدي ونیول سول او عملي بڼه یې ورکړه او دا اصل چې (عقل بایدي حکومت وکړي) په اروپا کې ومنل سو. همدارنګه هغه سلطنتونه او دیکتاتورۍ چې د ځانګړیو امتیازاتو پر بنسټ جوړ سوي وه، رنګ سول او د عقلي حکومت لپاره زمینه برابره سول.
په مخکي وختونو کي د سیاسي مکتبونو لخوا هڅه کیدل چې عدالت او برابري رامنځته کړي او دداسي حکومتونو لپاره ګامونه واخلي چې تر ډیره بریده عادل وي، خو ددوی د عدالت نوموړي فرضي زیاتره وخت پر دیني او مذهبي بنسټونو او ا رزښتونو باندي ولاړې وي او دوی زیاتره وخت د سلطنت او شاه د حقوقو په ملاتړ باندي خلک سیاسي بهیر ته اچول او په خلکو کې یې همدا ارزښتونه خپرول.

(۳)- **سیاسي فلسفه**:
د فلسفې هغه برخه چي په سیاست پوري اړه و لري او په هغه کي د دولت او حکومت پرمسایلو د فلسفې اصولو له مخي بحث وسي

سیاسي فلسفه بلل کیږي.یا په بل عبارت سیاسي فلسفه د عقلاني څرګندونو اوبنسټیزو پوښتونو ، هغه چې د ټولني ، دولت ،هیوادولۍ ، ټولنیز ژوندانه ، فردي حقونو ، د فرد او ټولني دندي د یو بل په وړاندي تر غور او څېړني لاندي نیسي سیاسي فلسفه ګڼل کیږي. سیاسي فلسفه د قانون ، عدالت ، قدرت ، او حکومت څرګندوی ده. سیاسي فلسفه دې پوښتني ته چي [ حکومت ] د کومو کسانو حق دی بنیادي ځواب وايي ، په داسي حال کي چي سیاسي علوم له دې ډول پوښتونو سره کار نه لري بلکي د سیاسي فلسفې له مخي دغور او څېړني وړ وي. په سیاسي فلسفه کي دفرد اړیکه له دولت او ټولني سره، د حکومت د ډولونو پیژندګلوي او همدا ډول د سیاست اړوند پوښتني مطرح کیږي.

د سیاسي فلسفې ټولیز هدف اوموخه د حکومتونو د سیاسي او ټولنیزو سازمانونو سپړنه او پیژندنه ده هغه که په تېر کي شتون درلود او یا اوس شتون لري. یا په بله وینا د سیاسي فلسفې موخه د سیاسي سازمانونو د ارزښتونو ټاکل دي ځکه نو وایو چي په سیاسي فلسفه کي د حکومتونو ډولونه او تعریفونه او په یوه وخت کي د هغوی اړوند پوښتني وړاندي کیږي او ځوابونه یې ورته موندل کیږي.

دلته وایو چي( فلسفه ) په ټولیزه توګه په علمي مسایلو کي تفکر ، ژورلید ، تفنن او پوهه ده هغه علم چي د اشیاؤ د بنسټونو او د هغوی د شتون له عللو څخه بحث کوي. خو سیاسي فلسفه په سیاسي اډانه کي په پورتنیو عنصرونو را ګرځي ، ځیني سیاسي فیلسوفان سیاست پر ټولنه باندي د حکومت کولو علم او پوهي ته وايي ځیني بیا پر انساني ټولنو د حکومت کولو فن ته سیاست وايي خو په پورتنیو دواړو

تعريفونو کې يو تړلی عنصر شتون لري چې هغه ( حکومت او سياست ) دی.

(( سياسي فلسفه د فلسفې يو څانګه ده چې د فلسفې کلمه يې د [فلسفي سياست] د تګلارې او معقول[1] بحث بيانونکې ده ، هغه تګلاره چې هم په ټولنيزو ډول او هم د مسئلو ژورو ته کتنه کوي له دې اړخه د سياسي اصولو پېژندني ته [سياسي فلسفه] وايي. ))[2]. يا په بله وينا سياسي فلسفه د سياسي چارو د ماهيت او ارزښت د فهم او درک لپاره هڅه ده او د [سياسي فلسفې] موضوع د سياسي عمل له هدف سره تړلې ده.

سياسي فلسفه د سياسي چارو د ماهيت پيژندني لپاره د ګمان پر ځای د هغوی اړوند ويښ کوښښ دی ، د دولت ځواک او جوړښت ، د دولت د رښتني شناخت لپاره او له بله پلوه د هغه د ساتني او تغير لپاره فکري او ذهني فعاليت دی هغه چې د سياسي او ټولنيزو ستونزو او سختيو د اواري په موخه را مختـه کيږي.[3] سياسي فلسفه يانې د سياسي اند ځانګړی ډول او هغه تفکر چې انسان ځان د سياسي فلسفې په چارو کې بوختوي. لومړی پر سياست باندې د واکمنو حقايقو د کشف په موخه په تامل سره ګام پورته کوي ، په دوهم قدم کې سياسي حيات ، د فلسفي حيات له صورت څخه ګڼې او په ورستني کې دا چې سياسي فلسفه په ټوله کې د حقيقت موندلو په لټه کې ده.

[1] : Rational

[2] : سيد مهدي سيديان ، روش شناسي فلسفه سياسي ، ۱۳۸۷ شمسي ، ۴ مخ

[3] : سيديان مخکني اثر ، ۵ مخ:

[سياسي فلسفه] د سياسي او ټولنيزو پيښو انعکاس دی هغه چې هڅه يې کړې هغه ښکاره توجيه ، او تفسير کړي او د هر پېر معضلاتو او ستونزو ته تغير او سمون ورکړي او يا د هغوی لپاره حل لاره ومومي. د سياسي فلسفې رشد او پراختيا د ټولنيزو او سياسي چارو د پيښو د پايلي د سر ليک په توګه او د هغوی انعکاس په ذهن کې د متفکرانو ، پوهانو او د پوهانو او د تصور د قوي ځواک لرونکي دي ، بيلابيل انځورونه په بيلابيلو وختونو کې له بهرنۍ نړۍ څخه او ډول – ډول سياسي فلسفې را منځته کوي.

پر سياست باندې وا کمن اصول د سياسي فلسفې په شتون کې رامنځته کيږي. يا په بل ډول د سياسي ژوند د کشف لپاره تلاښ ته سياسي فلسفه ويل کيږي. د بيلګې په توګه: د حکومت اړتيا ، د حاکم ځانګړني، د حکومت غوره نمونې، د حاکم او وګړو تر منځ اړيکه ، عدالت، ازادي، برابري، حق پلټنه، او فضيلت غوښتنه د سياسي فلسفې له مسايلو څخه شمېرل کيږي.

د هري ټولني سياسي فلسفه د هغه د سياسي نظام پر ارزښتونو باندې تکيه لري او سياسي فلسفه يې د سياسي نظام سپړونکې او د هر نظام د حقانيت بنسټ جوړوي ، سياسي فلسفه د سياسي نظام سپړونکې او ضامنه ده او په څنګ کې دوګړو لپاره په سياسي اډانه کې د قانع ځواب موندونکې ده.

سياسي فلسفه بايد په هستۍ پېژندني سره پيل سي تر څو حکومت او قدرت هستي د نورو هستيو سره د تړاو په لرلو سره تر غور او څېړني لاندي ونيول سي.

## په سیاسي فلسفه کې بنسټیزې پوښتنې:

په سیاسي فلسفه کې بنسټیزې پوښتنې په دې توګه دي:

۱: ایا له لویه سره حکومت شتون لري ؟

۲: له آره حکومت څه شی دی ؟

۳: د حکومت د شتون علت څه شی دی ؟

۴: د حکومت قلمرو تر کومه ځایه پورې دی ؟

۵: د حکومت استقرار (توان) او استمرار (روان) پر کوم بنسټ دی ؟

۶: په پای کې د حکومت ډولونه کوم دي ؟

باید ووایو چې سیاسي فلسفه یانې له فلسفي لیدلورې د سیاست پېژندنه او په ټولیزه توګه ویلای سو چې سیاسي فلسفه سیاست ته له فیلسوفانه لیدلوري څخه له کتنې عبارت ده.

له آره په سیاسي علم کې هم پوښتنې پر دوه ډوله دي ، د بېلګې په توګه ورځنۍ پوښتنې ځانګړې وخت او ځای ته په کتو سره بېلابېل ځوابونه مومي او هغه پوښتنې رامنځته کیږي چې تل د ملتونو په منځ کې د فکر او اندونو په تاریخ کې مطرح وې ، ځکه نو وایو چې همدا [سیاسي] فلسفه ده چې د سیاست د علم د بنسټیزو او تلپاتو پوښتونو لپاره د ځواب موندلو په لټه کې ده.

حکومت او په خپل وار سیاسي سازماني ځواک او فرمان چلونکي سازمانونه هغه چې د ټولنې د سیاسي جوړښت ساتونکي وي ښکارندویې کوي.[1]

---

[1]: فلسفه او سیاست ، ۳۸ مخ

په بنسټیزه توګه د نړۍ ټول حکومتونه د سیاسي تاریخ له پیله بیا تر نن پورې د یوه سیا سي مکتب ، نظام ،تګلارې او لیدلورې پر بنسټ را منځته سوي دي دا چې سیاسي مکتبونو په خپلو کې له یو بل سره توپیر درلود ،[1]ځکه نو بې شمېره حکومتي دولونه رامنځته سول چې دې حکومتي دولونو په یونان[2] ، مصر[3] ،بین النهرین[4] ،اریانا[5]،چین[6]،روم[7]،هند[8] او نورو کې بیل – بیل دولونه درلوده او همدا سې اسلام د سپیڅلي دین په خپرېدو سره اسلامي سیاست دی چې د قران کریم او نبوي حدیثو پربنسټ جوړ او رامنځته سوی دی.

لکه څنګه چې مخکې ورته نغوته وسوه په سیاسي فلسفه کې هغه پوښتني او مسایل وړاندې کېږي چې د سیاست او د یوې ټولني له سیاسي دستګاه سره تړاو ولري له دې شمېر څخه یو څو یې په لاندې توګه دي:

الف: ایا له لویه سره د حکومت شتون اړین دی؟

ب: که وي د حکومت بنسټ څه شی دی؟

ج: ایا انسانان د حکومت د شتون پرته له یو بل سره ژوند نه سي کولای؟

---

[1]: فلسفه او سیاست مخکني اثر ، ۳۹ مخ

[2] : Greece = Greek =یوناني

[3] : Egypt

[4] : Mesopotamia= په یوناني ژبه کې ورته میزوپوتامیا وایي

[5] : Arianna

[6] : China

[7] : Rome

[8] : India

د : د دولت او حکومت دځواک بریدونه د ټولني پر وګړو تر کومه ځایه پوري وي؟

ر : ایا شونې ده چي په ټولنه کي د وګړو پر ټولو چارو څار وسي، یا داچي ازادي ورته ورکړل سي ؟ خو دا ازادي باید برید ولري که نه ؟

س : ایا ملي شورا ته را وړاندي سوي نماینده ګان هغه چي ځانونه وړ بولي هغوی ته دي رایه ورکړل سي ،یا داچي درایي ورکونکو په خوښه هرڅوک او هر ډول چي وي رایه ورکړل سي؟ او نوري هم دې ته ورته پوښتني...

یو شمېر پوښتني چي له پخوا څخه دفیلسوفانو تر منځ داختلاف وړ دي هغه داچي : فرد مهم دی که ټولنه ؟ ایا ټولنه دفرد لپاره رامنځته سوې او که فرد دټولني لپاره ؟ د کوم یو ګټې تر هغه بل وړاندي او مهمي دي ؟.

د دې ټولو پوښتونو ځواب د حکومتونو د بېلا بیلو مکتبونو پربنسټ سوي دي.

د بیلګي په توګه د سوسیالیستي[1] او کمونیستي[2] حکومتونو سیاسي فلسفه پر دې بنسټ ده چي ټولیزي ګټې پر فردي ګټو وړاندي دي خو پانګوالي او کپیټالیستي[3] نظام د سیاسي فلسفې له مخي فردي ګټې تر ټولنیزو ګټو وړاندي بولي.[4]

د سیاسي فلسفې یو بله پېچلې او بنسټیزه پوښتنه داده چي کوم کسان باید حکومت وکړي ؟

---

[1] : Socialism

[2] : Communism

[3] : Capitalism

[4] : فلسفه او سیاست ، ۴۰ مخ.

له ډېره وخته سیاسي فیلسوفانو او سیاسي مکتبونو دې پوښتنې ته په توپیري ځوابونه ورکړي دي خوبیا هم دې پوښتنې ته هر ډول ځواب له هري سیاسي زاویې څخه د دولت او حکومت د نوي ډول غوښتونکی وي.

## سیاسي فلسفه د څه لپاره ؟

سیاست ، د سیاست علم ، د سیاسي مدیریت فن ، سیاسي اندونه ، سیاسي ایډیالوژي ، سیاسي مکتبونو ، سیاسي تفکر ، سیاسي نظریې ، سیاسي قاموسونه ، سیاسي تحلیل ، سیاسي کلام ، سیاسي فلسفه او له دې ټولګي څخه د نورو مفاهیمو تعریف او دقیقه سپړنه د سیاسي فلسفې د بحث وړ موضوعاتو څخه شمېرل کیږي.

د پورتنیو ویيونو (لغاتونو) ترمنځ توپیر علمي ځیرتیا او ژوري څېړنې ته اړتیا لري.

که فلسفه د نړۍ شمولي او ټولیزو احوالو د وجود څخه بحث او تلاښ کول وي بیا نو د فلسفې ګټه او ثمره ، لوستل او ټولیز فیلسوفانه فکر ښایي په درک او فهم[1] کې وي.

داچې فلسفه د کُلي احکامو او ارزښتونو له کلیاتو سره سروکار لري کولای سي چې انسان ته ټولیزه پوهه او ځیرکي ورو بخښي ، ځکه فلسفې ته ور دانګل ،د ذهن باریک لیدنه او په ورځنیو سیاسي چارو کې له غور پېدلي فکر سره جوخت یون کوي.

سیاسي فلسفه په دې هڅه کې ده تر څو د عقلي لید لوري د سیاست بنسټیزو مباحثو ته کتنه وکړي او بل داچې سیاسي فلسفه په دې هڅه

[1] : Perception

کـې ده تـر څـو دبرهـانې قیـاس د تګـلارې لـه لـورې د سیاسـي مسـایلو سپړلو ته ورو دانګې.

د یادولو وړده هغه څه چې د سیاست د علم اوسیاسي اندونو لـه مخـې شتون لري ، د سیاسي فلسفې له تګلارې سره ډیر توپیر لري په دې منځ کـې د سیاسـي فلسـفې د تګـلارې پيژنـدنې لپـاره د سـپړنې څرګنـدې تګلارې دادې چې په لیدلورو او یا په ټولیزه توګه د [سیاسي فلسـفې] فیلسوفانو او مفکرینو ته ور ودانګو ، په دې برخه کې لږ تـر لـږه کـولای سو هغه په زماني مقطع کې مشخص کړو . پاتـه دې نـه وې چې سیاسي فلسـفه پـه خپـل وار بیـل د پلټنې حیـات لـرې او د سیاسي لیـدلورې لـه اړخه انساني هدفونه د نړۍ اړونـد سـوژو کـې پـه خپلـه اندیزه او نظـرې اډانه کې لرې.

د سیاسي فلسفې ځانګړې مانا نن ورځ په هغه اندازه څرګنده ده چې د سیاسي فلسفې له پیدا ایښته یانې د یونان له [اتن] څخه بیا تر نن پـورې یې پایښت او پرورښت هرچا تـه څرګند دې. هرسیاسي عمـل یـا کړنـه دموجوده وضعې د تغیر لپاره را منځ تـه کیـږې او یـا هـم د هغـه د سـاتلو لپاره ، که هر کله د موجوده وضعې د سـاتلو لپـاره هیلـه او میـل شـتون ولري ، منظور دادی چې تغیرات هم د غوره والي په لور رامنځته کیـږې ، ځکه ټولي سیاسي کړنې د (ښه) او( بد ) څیزونو په ځواب سره هدایت کیږې خو د (ښـه) او(بـد ) د انځـور دلالـت ، پـخپلـه دښـه او بـد پـه هکلـه غور کـول دي ، همدا پوهـاوي دی چې د خیـر پـه لـور زمـوږ ټـولي کړنـې هـدایت کـوي او دا پوهـاوی د داسـي ګمـان خصـلت لـري چـې نـور د

پوښتني ورته وي خو په هغه اندازه د (غور) وړ ګرځي چي پوښتنه پارونکې وي[1].

دا واقعیت چي کولای سو د هغه څه په اړه پوښتنه وکړو چي موږ د (ښه) او (بد) د انځور په لور هغه چي نور د بحث وړ نه دي او د هغو تفکرونو لپاره چي نور (حدس او ګمان) نه دی بلکه معرفت او پیژندنه ده رهنمایي کوي.

څکه نو ټولي سیاسي کړني د پیژندني او معرفت[2] په لور د (خیر) او (بې خیرۍ) لوری نه لري یانې هغه چي د ښه ژوند او ټولني پېژندنه یې بولو، څکه ((ښه ټولنه پخپله د بشپړ اونیکمرغه سیاست ځرګندوی ده.)) که دا جهت لرونکی ځرګند سي او انسانان وغواړي خپله ځرګنده موخه وپیژني لاس ته راوړل یې نسبت ښه ټولني اوژوند ته ځای پرځای تري [سیاسي فلسفه] ځرګندیږي، د دې بېلګه د سیاسي فلسفې تر سرلیک لاندي ددې ځرګندوی ده چي دا جزئي فعالیت اوکړنه له یو کُل او ټولګي څخه ده، یانې د فلسفې یو برخه یا په بله مانا [سیاسي فلسفه[3]] د فلسفې یو څانګه ده.

د سیاسي فلسفې په اصطلاح کي د [فلسفې] کلمه د سیاسي اندونو د بحث اوکړونو بیانونکې ده همدا سي تګلاره چي ټول د پام وړ موضوعات رانغاړي او هم یې له جرړي سره سر اوکار لري. [سیاست] هم د بحث وړ موضوع ده او هم د دې څانګړي او اړین کار ښکارندوی دی.

---

[1]: لیو شتراوس، سیاسي فلسفه ۱۲ مخ.

[2] : Acquaintance

[3] : Political philosophy

مخکې موهم ور ته نغوته وکړه چې [سیاسي فلسفه] د هغو مسایلو او تګلارو سره سروکار لري هغه چې مانا او مفهوم یې د سیاسي ژوند اړوند وي او د هغه موضوع باید د سیاسي عمل د غایت او هدف سره هم غاړې وي ، د سیاسي فلسفې د کاري او خبري مدار موخه ټولنه بشري ټولنه وي ، لکه: خپلواکي ، ټولواکي (امپراتوري) ، حکومت او نوري هغه موخې چې وکولای سي بشر د خپلو سیاسي موخو ټولو لوړو پوړیو ته ورسوي. [ سیاسي فلسفه ] د فلسفې له هغو څانګو څخه ده چې د سیاسي ژوند یانې غیري فلسفي ژوند او بشري ژوند سره ډیري نږدې اړیکې لري.

(( سیاسي فلسفه هڅه کوي ترڅو د سیاسي چارو د طبیعت[1] او سیاسي نظم ، ښه او بد دواړو باندې پوه سي. )) سیاسي فلسفه باید له سیاسي [ اند ] څخه په ټولیزه توګه جلا سي. لیدل کیږي چې ډېر ځلې دواړه یو ډول انګېرل سوي دي ځیني شنونکي بیا تر دې اندازې پوري ژور او کاږه تللي چې حتی سیاسي فلسفه یې تر پوښتنې لاندې راوستې ده ، دلته د سیاسي اند څخه منظور په سیاسي تفکر کې ژورتیا او یا د هغه اړوند تفسیر وړاندې کول دي او د سیاسي اند[2] (نظر) څخه مراد هر خیال ، مفهوم ،ډول او یا هر څرګند سیاسي کار چې د تفکر په وخت کې د هغه اړوند ذهن په کارلویږي او د سیاسي بنسټونو اصول تر غور لاندې نیسي. )) ځکه نو وایو چې:(( هره سیاسي فلسفه سیاسي نظر دی ، هر سیاسي[ نظر ] سیاسي فلسفه نه ده. )) د واقعیتونو پربنسټ سیاسي نظر نسبت د ګمان او معرفت

[1] : Nature
[2] : Thought , mind, idea

بېلوالي ته بې تو پیره دی مګر سیاسي فلسفه هغه وینبه هڅه ده چې انعطاف نه منونکې ده ، د معرفت پر ځای کول نسبت سیاسي اصولو ته د ګمان پر ځای نسبت نورو ته. سیاسي نظر ممکن ونه غواړي چې کوم شی بیله بیان او دفاع له یو باور څخه ، بېله زمور منل سوو څېزونو څخه یوه ځواکمنه اسطوره او سي - خو - د سیاسي فلسفې لپاره اړینه ده چې د خوځنده وینبتیا ، نسبت تو پیري باور ، اعتقاد او معرفت په خوځښت راسي او حرکت یې وساتل سي یو سیاسي (نظروال) چې فیلسوف هم نه دی په ځانګړي نظم او سیاست کي جذبیږي او یا د هغه سره تړل کیږي په داسي حال کي چې سیاسي فیلسوف له آره له حقیقت سره تړلی دی.

ځکه نو وایو چې سیاسي اند سیاسي فلسفه نه ده بلکه د نورو تخلیقي څېزونو شعر ، داستان ، مقررات او یانورو سره بې تړاوه نه ده.

د سیاسي فلسفې او سیاسي کلام تر منځ هم تو پیر شتون لري.

(( هر حکومت د سیاسي فلسفې لرونکی دی ، د حکومت د موخو بحث د سیاسي فلسفې له اړینو بحثونو څخه دی. )). ((لکه د سیاسي نظامونو ډولونه ، دهریوه ښې ګټې او بدګټې د دوي موخي او همدا ډول د خلکو حقونه د سیاسي فلسفې ستن جوړوي. ))

په پښتو ژبه کي (( سیاسي فلسفې ، د سیاست فلسفه ، د سیاست د علم فلسفه ، او د سیاسي علومو فلسفه. )) په ځیر سره له یو بل څخه نه دي جلا سوي. په حقیقت کي سیاسي فلسفه د سیاسي علومو او ټولنپیژندني خلاف یو تجربي علم (نه )دی او موضوع یې هم تجربي تحلیل نه دئ.

سیاسي علم د دولتونو ، احزابو ، نهادونو ،سیاسي موسساتو او سیاسي ایډیالوژیو ، واقعي شرایطو باندي رڼا اچوي او ټولنپوهنه لکه له نوم څخه چي یې څرګندیږي تجریبوي پیښې په ټولنیز ژوند کي تر څېړنې لاندي نیسي. خو [سیاسي فلسفه] په سیاسي علم کي د روانو پوښتنو او ګرویږونو اړوند اساسي او اصولي پوښتني ، له انساني اړخه اړیکه له تجربو او پیښو سره یو لار موندنه ده همدا ډول د سیاسي فلسفې او اخلاقو د فلسفې تر منځ هم نږدې اړیکي شتون لري.[1]

## د سیاسي فلسفې اړتیا:

[د سیاسي فلسفې] اړتیا حاضره او تل پاته ده په ځانګړې توګه هر کله چي د نویو سیاسي مسایلو (پوښتنو ) د ځواب سره مخ کیږو هغه چي د دودیزو سیاسي مفاهمو په ځواک یې نه سو ځوابولای د سیاسي فلسفې تر سرلیک لاندي یې ځواب مومو . ویل کیږي چي په سیاسي فلسفه کي لاندنۍ دوې اړیني پوښتني هم شتون لري:

الف: څوک څه په لاس راوړي ؟

ب: او څوک څه وینا لري ؟

لومړنۍ پوښتنه ؛ د مادي ګټو د تحلیل او همدا ډول د انسان د حقوقو او ازادیو اړوند ده ، دا چي وګړي پرکوم بنسټ د شتمنیو او سیاسي خپلواکیو لرونکې سي ؟او په څنګ کي د کومو حقوقو او ازادیو لرونکي وي ؟کوم ډول قوانین دي چي نه یوازي د شتمنیو د سپړلو لپاره بلکه پرځواک ، واک ، حقوقو او ازادیو باندي څارو کړي ؟

---

[1]: حسن سهل آبادي ، مقاله ، ماهیت فلسفه سیاسي ،۲ مخ.

دوهمه پوښتنه؛ هم د يو ډول ګټورو سپړلو لپاره مطرح کيږي ، يانې سياسي قدرت[؟ !] ، په بل عبارت د [سياست فلسفه] او سياسي فيلسوف لپاره تل عادلانه (ويش او شتمني ) او څه ډول د هغو حقوق او ازادي چې وګړي يې لري او څه شيان نور بايد ولري ؟ او بل دا چې د کومو لارو او معيارونو پر بنسټ بايد د شتمنۍ څېړلو او سپړلو لپاره په ټولنه کې څار او کار [و ] سي . دا چاره اغلب تل د ارزښت وړ وه ؛ د سياسي فلسفې غوره ځانګړنه او ځرګنده اړتيا د سياسي فلسفې له مخې او د سياسي فلسفې په اډانه کې کيږي.[1]

په حقيقت کې لکه وړاندې چې ورته کتنه وسوه هر حکومت د ځانګړي سياسي فلسفې لرونکی دی له ليبراليستي او کمونيستي حکومتونو څخه نيولې تر جمهوري اسلامي پوري ، البته موخې او ايډيالونه (نظريې ) د هر سياسي نظام هغه متفاوت او بېل دي او دا پخپله د يوه حکومت په ساتنه کې د ارزښتناکو عواملو څخه شمېرل کيږي د دې موضوع اړوند ځيني يې له اړينو هغو څخه دا دي:

۱ : هر حکومت د سياسي فلسفې لرونکي دی ؛ دې ته په کتو انقلاب هم د يوې سياسي فلسفې د دړې- وړې کولو په مانا دی او ځای يې د نوې سياسي فلسفه نيول دي .

۲ : د سياسي نظام، اعتدال او حيات د سياسي فلسفې په [واک] کې دی ؛ په دې ډول چې سياسي فلسفه نظام سپړي طبعاً هر څومره دا فلسفه غښتلې وي عمل يې هم زيات وي .

۳ : سياسي فلسفه د سياسي ارمانونو بيانونکې ده ؛ په دې ډول چې د فعلي نظام پر توجيه د حکومت د موخو وړانديز هم کوي ، هدف ټاکي

[1] : جانتهان ولف ، د سياسي فلسفې ګټي ، ۱۳۹۱ ، ۱۳ مخ .

او هدف ته د رسېدو تګلاره بیانوي ، په تولیزه توګه که وغواړو سیاسي فلسفه هغه هم په شلمه پېړۍ کې په یوه عبارت کې و پلټو د اوس لپاره یوازې په دې طرحې بسنه کوو[1]:
لکه څنګه چې په شلمه پېړۍ کې کلتوري ژوند تر ډېره سیاسي سوی دی ځکه نو [سیاسي فلسفه] هم د هغه نظري او سیاسي فعالیت د تګلارې سره ورته والی موندلی تر دې چې دا یوشانوالی تر دې مهاله پوره بریالی هم (نه) دی.[2]

## سیاسي فلسفه او سیاسي تفکر:

د سیاسي فیلسوفانو په اند چې سیاسي فلسفه د سیاسي تفکر په مفهوم (نه) ده بلکه د سیاسي فلسفې اند ،د سیاست اړوند ، د حکم او امریت ، د فطرت او ماهیت ،د سپړني فهم ، اطاعت او تبعیت ، اړتیا او موخه ، دولت او ټولنه ، د دولت د شتون دلایل او د انسان د سیاسي ژوند د سازماندهۍ غوره تګلاره د ژوند د اساسي موخو د تامین او عدالت او همدا ډول د برابرۍ او ازادۍ پلوي او سپړونکې ده.
د سیاسي فلسفې له مکتبونو څخه هر یو یې بیل- بیل پر پورتنیو مسایلو باندې د خپلې ځانګړې سیاسي تګلارې په رڼا کې څېړني او څرګندونې کړې دي[3]:

[1]: محمد جواد نوروزي ، فلسفه سیاست ، ۱۳۷۷ لمریز، ۷ مخ.
[2]: ډونالډ اټول زول ، د شلمې پېړۍ سیاسي فلسفه ، ۱۳۸۷ لمریز، ۲ مخ.
[3]: حسین بشیریه، آموزش دانش سیاسي ،نشرنګاه معاصر،چاپ دوم ۱۳۸۲، ۴۷ مخ
:

د ارسطو په سیاسي فلسفه کي پرعقلي استدلال تکیه ، د توماس هابز په سیاسي فلسفه کي پرانتزاعي او منطقي استدلال تکیه ، د جان لاک په سیاسي فلسفه کي پر طبیعي حقوقو او سلیم عقل تکیه ،او د (هگل ) په سیاسي فلسفه کي ټولیز عقل تکیه او ټینګار د [سیاسي فلسفې ] له مهمو تګلارو څخه شمېرل کیږي.

له آره سیاسي فلسفه خپله دنده د انسان د سرښت او فطرت د فرضیاتو پر بنسټ پیلوي خو د انسان د فطرت او سرښت پر بیخ بنایي مساله د فیلسوفانو تر منځ یو واحد نظر شتون نه لري هغه چي په ټوله کي پر څلورو برخو راځرخي:

الف: ایا انسان په طبیعي ډول فرد پال او یا ټولیزپال دی ؟

ب: ایا انسان یو سیاسي او مدني موجود دی او که نه ؟

ج: ایا انسان طبعاً عقلاني ازاد او عقلاني موجود دی او که غیري عقلاني او مجبور دی ؟

د : ایا انسان له آره کمال منونکی دی او که غیري...؟[1]

که د پورتنیو لید لورو څخه د هر یوه مقدمات ومنو قاعدتاً باید هغه پایلي چي د دولت د ماهیت دلید لوري په اړه دي، د سیاسي ژوند نتایج ، موخي ، اطاعت او دلایل ومنو. خو د سیاسي فلسفې یو اړینه پوښتنه د دولت د ماهیت څخه بحث دی.

د دولت د ماهیت له تعبیر څخه ، د سیاسي ژوند د هدف تعبیر د دولت غوره بڼه د هغه د تګلاري د موندني شرایط رامنځته کوي. په نهایت کي سیاسي فلسفه د دولت د منشأ او ماهیت د توصیفي مسایلو ،سیاسي ژوند د موخو ، ارزښتونو او حکومت د غوره بڼي سره تړاو

[1]: بشیریه مخکني اثر ۴۸ مخ.

لري علاوه پردې اند داچې دولت په بنسټېزه او بشپړېزه حاصل له کورنۍ څخه کلي(باندې) ته ،په ښار او مدني ټولنه کې هم دي او یا داچې د افرادو تر منځ مصنوع ، ټولنیز تړون ،حاصل او ښکارنده (پدیده) ده ؟خو هر یو بیا بیلي –بیلي څرګندوني او د سیاسي فلسفې د اساسي مسایلو یانې ،آزادي ،اطاعت ،مشروعیت،حقوق اوداسي نور مخي ته وړي.

د حکومت په غوره بڼه کې تأمل په نهایت کې د سیاسي فلسفې له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کیږي.د سیاسي فیلسوفانو څخه هریوه د خپلو تعبیرونو پر بنسټ د غوښتونکي موخي لپاره د حکومتونو د بڼو د مطلوبیت د اندازه ګیرۍ د معیار لپاره د پیدا کېدو په لټه کې وه دبیلګي په توګه:

۱: د افلاطون په سیا فلسفه کي دحقایقو دمعرفت میزان.

۲: د ارسطو له سیاسي فلسفې څخه د عامه اصلاح ، دوستۍ او فضیلت د تامین میزان.

۳: د هابز په سیاسي فلسفه کي د نظم او امنیت د تامین میزان او د اکثرو خوښیو میزان.

د مکتب اصالت د وګړو ډیرکیو ته ، په ټولیزه توګه باید ووایو د سیاسي فیلسوفانو د پام وړ مهموبوختیاو او په ټولنه کې د عادلانه قانون او عدالت د رامنځته کېدو لپاره سپړني ، څېړني اوپلټني کولې.

د عدالت اړوند دسیاسي فیلسوفانو د اختلاف ټکي له دریو اندونو او تعبیرونو څخه سرچینه اخلي:

الف: ځینو عدالت برابري باله.

ب: ځینو وړتیا په پام کې نیول، د عدالت له لومړنیو شرطونو څخه باله.

ج: یوشمېر په دې اند وه چې د اړتیاو تامین د عدالت له ملکیتونو څخه دی.[1]

(۴)- **حکومت**:

حکومت په اوسنی ماناسره د دولت اجرایوي اورګان ته ویل کیږي. پداسي حال کې چې د نوې دولت له پیدا ینبت څخه مخکې حکومت د ټولني یوازنی لوړ اورګان و، یانې په هیواد کې ټول اجرایوي، قضایي او د قانون جوړوني چاري په حکومت پوري اړوندي وي. خو کله چې د نوې دولت آند وړاندي سو او نوی دولت هم په عملي ډول جوړ سو نو حکومت د دولت اجرایوي اورګان وګڼل سو، یانې حکومت د دولت یو جز سو. نو د حکومت د کارونو په اړه هم بیلا بیل آندونه وړاندي سول. همدارنګه حکومت د پوهانو ترمنځ په لاندي ماناوو سره کارول سوی دی:

۱- مځکنی حکومت چې د ځانګړي واک په لرلو سره د یوي ټاکلي مځکي پر خلکو باندي حکومت کوي، او ټاکلي جغرافیاوي، سیاسي او حقوقي اړخونه لري. دا ډول حکومت ((ټاکلي رسمي ژبه لري، پر ټولو طبیعي سرچینو باندي انحصاري اقتصاد لري، بیرغ، ملي سرود او ځیني وختونه رسمي مذهب هم لري)). دا ډول حالت حتا په فدرالي نظام کي هم ترسترګو کیږي. حکومت پدي ماناسره د اوسني دولت سره یو شان کارول کیږي او دولت د حکومت یو اجرایوي اورګان ګڼل

[1]: مخکني اثر ۴۹ مخ.

کیږي. د حکومت دا ډول کارونه او پیژندنه یوازې د سیاسي جغرافي پر بنسټ باندې کیږي او د سیاست په علم کې هیڅ علمي ارزښت نلري.
۲ – حکومت د حکم ورکولو، د واکمنۍ کولو او د ټولنې د کنټرول طریقې ته هم ویل سویدی. د حکومت دا ډول پیژندنه د واک کارونې، د حکومتي بنسټونو د سیاستونو کارونه، او د ټولنیزو ډلو ترمنځ اړیکو ته اشاره کوي. حکومت پدې مانا سره سیاسي نظام/سیاسي رژیم یادیږي.
۳ – حکومت د دولت د ګډو (بنسټیزو) عناصرو په څیر د ټولو اجرایوي اورګانونو مجموعې ته ویل کیږي، چې همدغه دوهمه او دریمه پیژندنه یې منل سوې ده، چې په دواړو حالاتو کې د دولت برخه ګڼل کیږي.
حکومت بیلابیلې بڼې لري، خو لکه څرنګه چې لیکاک ویلې دي ((د حکومت د منځته راوړلو لپاره یوازې د خلکو اطاعت مهم دی)). په اوسني وخت کې د حکومت شتون ډیر اړین دی او ټولو منلی دی، حتا آنارشیستان چې د سیاسي نظام څخه کرکه کوي بیا هم د حکومت شتون مني خو دوی هڅه کوي چې د حکومت د ظلم څخه خلک وساتي او خلک په خپله خوښه بیله زوره هغه پرمخ بوزي.
حکومت د دولت اجرایوي ځواک دی، یانې د ټولو وزیرانو او د کابینې د ریس څخه عبارت دی، حکومت په حقیقت کې د قوانینو او قضایي ځواک د پریکړو پلي کول په غاړه لري.
د حکومت لپاره بڼه او جوړښت ډیر اړین ندی، یانې کله حکومت ډیر ساده وي او لږ وزیران لري، خو کله بیا ډیر پیچلی وي او زیات شمیر وزیران لري. د حکومت د شتون لپاره دوه شرایط اړین دي، لومړی دا

چې حکومت باید په دولت کې د نظم، امنیت او عدالت د ټینګولو او د قوانینو د پلي کولو وړتیا ولري. دوهم دا چې حکومت باید د ټولني د ډیرو وګړو لخوا د منلو وړ وي او که د ډیرو وګړو لپاره د منلو وړنه وي؛ نو بیا پدي حالت کې دي ډول حکومت ته ربښتنی حکومت نه ویل کیږي.

**د حکومتونو ډلبندي:**

د حکومتونو د ډلبندی په اړه زیاتي هڅي سویدي، چې دا هڅي په بیلابیلو درجو سره ارزښتناکي دي. ځینو سیاسي څیړونکو حکومتونه د دولت په شان ډلبندي کړیدي، پداسي حال کې چې دا ډلبندي سمه نده؛ ځکه چې دولت ځوبڼي نلري. د ټولو دولتونو ځرنګوالی یو شان دی، ټول دولتونه د بنسټیزو عناصرولکه نفوس، حکومت، قلمرو او واکمني لرونکي دي.

د نفوسو او مساحت زیاتوالی د دولت په بڼي کې بدلون نسي راوستلای. ځیني وختونه بیا حکومتونه په ملي او نړیوالو امپراتوریو باندي ډلبندي سویدي. خو دا ډلبندي هم د سیاست په علم کې زیات ارزښت نلري.

د حکومتونو ډلبندي زیاتي ستونزي لري. د ارسطو د وخت لرغوني ډلبندي هم نیمګړې ده. د ارسطو د حکومتونو ډلبندي پر پاچاهی، آریستوکراسی او پولیتي یا د دوی په فاسدو بڼو تیراني، اولیګارشي او ډیموکراسی باندي، نن ورځ د منلو نده. نن ورځ د حکومت غوره بڼه ډیموکراسي ده، پداسي حال کې چې ارسطو ډیموکراسي د حکومت فاسده بڼه او د غلامانو، بې هنره او بې ګټې حکومت ګڼلی دی.

جیمزهرینګټون، شتمني د حکومتونو د ډلبندی معیار ګڼي، ده په

۱۷۵۲م کال کې د (اقیانوس) په کتاب کې ویلي دي، په ټولنه کې د شمتنی یا نفوذ ویشل کیدل چي په هره اندازه وي، حکومت او هیوادوالي هم په هغه کیفیت سره وي. دی زیاتوي(هرکله چي یو وګړی په یوازي ځان د لویې مځکي خاوند وي او په هیواد کې د ده د مالونو ساری نه وي، پدي حالت کې دی لوی خان ګڼل کیږي.. او د ده واکمني د مطلقي پاچاهی په نامه یادیږي. که چیري یو څو نفره یا د اصیلو خلکو یوه کوچنی ډله د روحانیت یا د زیاتي مځکي په لرلو سره واک په لاس کې ولري، نو د دوی حکومت آریستوکراسي یا پاچاهي به وي. همدارنګه که چیري د ټولو وګړو ترمنځ مځکي او شتمني یو شان وویشل سي او هیڅ وګړی پر بل باندي لوړوالی ونلري، نو دي ډول حکومت ته د ګډو ګټو حکومت ویل کیږي). مونتسکیو بیا حکومتونه پر لویو او کوچنیو باندي ویشلي دي. د ده په آند (د کوچنیو هیوادونو طبیعي خاصیت دا دی چي سیاسي رژیم یې جمهوریتي بڼه لري یانې د جمهوریت په بڼه کنټرولیږي. د متوسطو هیوادونو طبیعي خاصیت دا دی چي وګړي د یوه پاچا تر واکمنی لاندي ژوند کوي او د لوی(پراخه مځکولرونکي) هیواد طبیعي خاصیت بیا دا دی چي تر امپراتوری لاندي مستبد واکمن پر هغه باندي حکومت کوي).

پردي سربیره ځیني نور پوهان لکه: بلونشلي، بورګس، ماریوت، لیکاک او سټرانګ هم د حکومتونو په اړه ډلبندي وړاندي کوي. بلونشلي د حکومت څلورم ډول یانې تئوکراسي چي په هغه کې ویل کیږي، چي واکمن د الله تعالي د ارادي پر بنسټ حکومت کوي یا هم دی پخپله د خدای په بڼه واکمني پلي کوي، غوره ګڼي. د تئوکراسی یا دین پالني فاسده بڼه(بت پالنه) ده. دي آند هم زیات ارزښت پیدا نکړ،

ځکه چې اوس دین او سیاست سره بیل سوی دی. بورګس، په ۱۸۹۲م کې په خپل کتاب (د سیاست علم او اساسي قانون) کې د حکومتونو لپاره جالبه ډلبندي وړاندي کړه. ده د حکومتونو ترمنځ د توپیر لپاره څلور آرونه وړاندي کړه: لومړی، د دولت او حکومت ترمنځ توپیر یا یو شانتوالی، چې د دي پر بنسټ ده حکومتونه پر ټاکنیز (انتخابي) یا استازولی (نمایندګي) باندي ډلبندي کړیدي، دوهم، د اجرایوي قوي د دوري د څرنګوالي په اړه، د دي پر بنسټ ده، حکومتونه پر موروثي او ټاکنیز باندي ویشلي دي، دریم، د جرایوي قوي او مقنني قوي ترمنځ د اړیکو پر بنسټ ده حکومتونه پر ریاستي او پارلماني باندي ویشلي دي او څلورم د واک د تمرکز پر بنسټ ده حکومتونه پر فدرالي او مرکزي باندي ویشلي دي. که څه هم دا ډلبندي د ځینو پوهانو لخوا منل سویده، خو بیا هم سمه نده؛ ځکه چې د هغو حکومتونو په اړه چې غیري ډموکراټیک دي هیڅ نه وایي. همدارنګه د هغه ټولنیز پوړ په اړه چې واک پلي کوي یا هم د دولت د موخو په اړوند روښانه آند نلري.

ماریوت، د حکومتونو لپاره دري ګوني ډلبندي مني. د ده د ډلبندی لومړنی بنسټ د حکومت او ایالتونو ترمنځ د واک او واکونو پر ویشل کیدو باندي دی. د ده په آند که چیري واک په مرکز کې را غونډ سوی وي او ایالتي واحدونه یوازي د مرکز له لوري د ټاکل سوو واکونه لرونکي وي، نو دي ډول ته مرکزي (ساده) حکومتونه ویل کیږي. خو که چیري د اساسي قانون پر بنسټ د مرکز او ایالتونو ترمنځ واکونه ویشل سوي وي، دي ډول ته فدرالي حکومت ویل کیږي. د ده د ډلبندی دوهم بنسټ په یوه دولت کې د نرم یا سخت اساسي قانون شتونوالی

دی. د ده په آند که چيرې يو حکومت د سخت[1] اساسي قانون لرونکی وي، نو د عادي قوانينو د جوړولو او اساسي قانون د جوړولو او اصلاح کولو ترمنځ تو پير ځانګړی سوی وي. خو که چيرې يو حکومت د نرم اساسي قانون لرونکی وي، بيا د اساسي قانون او عادي قوانينو د اصلاح او جوړولو د مرجع ترمنځ کوم توپير شتون نلري، يانې مقننه قوه پر عادي قوانينو سربيره اساسي قانون هم اصلاح کولای سي. د ده د ډلبندی دريم بنسټ پاچاهی يا رياستي، پارلماني، کابينه يي او استبدادي حکومتونه دي. پدي ډلبندی کې د اجريوي قوي او مقنني قوي ترمنځ اړيکي معيار دي. که چيرې اجرايوي قوه تر مقنني قوي لوړه وي نو ديته استبدادي حکومت ويل کيږي. که چيرې اجرايوي قوه د مقنني قوي سره يو شان واک ولري، نو ديته رياستي حکومت ويل کيږي. او که چيرې اجرايوي قوه د مقنني قوي تابع وي نو ديته پارلماني حکومت ويل کيږي. د ماريوت ډلبندي هم د بورګس د ډلبندی په شان نيمګړتياوي لري.

ليکاک، بيا خپله د حکومتونو ډلبندي د موجوده حکومتونو څخه

[1] - کله چي اساسي قانون دنورو عادي قوانينو په څير ديوي مرجع(مقننه قوه کولای سي چي عادي قوانين او اساسي قانون دواړه اصلاح او جوړکړي)، دي ډول ته نرم اساسي قانون ويل کيږي، چي دانګلستان او اسرائيل اساسي قوانين پدي ډول دي. خو که چيرې داساسي قانون او عادي قوانينو اصلاح دبيلوبيلو غونډو په غاړه وي، دبيلګي په توګه په افغانستان کې عادي قوانين دپارلمان له لوري جوړيږي او داساسي قانون جوړيدل او اصلاح کول بيا دلويې جرګې له لاري کيږي. دي ډول ته سخت اساسي قانون ويل کيږي. په نرم اساسي قانون کې دعادي قوانينو او اساسي قانون ترمنځ هيڅ توپيرنسته خو په سخت کې بيا اساسي قانون ترعادي قوانينو لوړ او غوره ګڼل کيږي.

پیلوي او د حکومتونو ټولي تاریخي بڼې د خپلې ډلبندۍ څخه باسي. دی لومړی حکومتونه پردوو ډلو استبدادي او ډموکراټیکو باندي ویشي. په استبدادي حکومت کې تر ټولو زیات واک د یوه نفر سره وي او بیله دي چي د خلکو غوښتنو ته پاملرنه وکړي، واک چلوي. له بل پلوه په ډموکراټیکو حکومتونو کې بیا د واکمن واک د خلکو سره وي. دی ډموکراسي پر محدودي پاچاهۍ او جمهوریتونو باندي ویشي. په محدوده پاچاهۍ (مشروطه شاهۍ) کې پاچا د اساسي قانون پر بنسټ سلطنت کوي، ریښتنی واک نلري که څه هم ټول کارونه د ده په نامه سرته رسیږي. چي ښه بیلګه یې انګلستان دی. په جمهوري کې بیا واکمن، په مستقیم یا غیري مستقیم ډول د خلکو لخوا ټاکل کیږي. همدارنګه د دي دوو ډولونو څخه هر یو کولای سو چي په فدرالي او مرکزي حکومتونو باندي یې وویشو. لیکاک، مرکزي دولت هغه بولي چي په هغه کې واکمن ځواک په مرکز کې راټول سوی وي، شوني ده چي په مرکزي حکومت کې سیمه ییز واحدونه هم موجود وي خو هغوته د مرکز له لوري واکونه ټاکل کیږي. له بل پلوه فدرالي حکومت چي د دولتونو د یوالي څخه منځته راغلی دی، خپل ځیني واکونه همغو سیمه ییزو دولتونو ته سپاري، همدارنګه نور ملي واکونه بیا د خپل ځان سره ساتي. پدي ډول حکومتونو کې د اساسي قانون پر بنسټ واکونه د مرکز او سیمه ییزو د ولتونو ترمنځ ویشل سویدي. مرکزي او فدرالي حکومتونه بیا پر پارلماني او غیري پارلماني باندي د اجرایوي او مقنني قوي ترمنځ د اړیکو پر بنسټ ویشل کیږي. په پارلماني حکومت کې اجرایه قوه د مقنني قوي پر وړاندي باندي مسولیت لري، پداسي حال کې چي په غیري پارلماني(ریاستي)

حکومت کې اجرایه قوه مقنني قوي ته مسولیت نلري او د مقنني قوي سره یو شان ځواک لري.

که څه هم لیکاک د حکومتونو لپاره ښه ډلبندي وړاندي کړیده خو بیا هم تر نیوکو لاندي ده او سمه نده ګڼل سوي. دی د نن ورځې ارزښتناکه یو ګوندي او څو ګوندي حکومتونو ته هیڅ پاملرنه نه کوي. شاید د ده دا ډلبندي پردي معیار وي چې ایا دولت د وګړو سیاسي او مدني خپلواکیو ته ژمن دی او یا هم د مدني حقوقو د ساتلو لپاره د قانون واکمني او د قضا ملاتړ راجلبوي او کنه.

سټرانګ، دحکومتونود ډلبندي لپاره پنځه آرونه وړاندي کوي، چې د هغه پر بنسټ کولای سو ، حکومتونه د نوې اساسي قانون پر مټ وویشو:

۱. د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت څرنګوالی: دی د دي پر بنسټ حکومتونه پر مرکزي (ساده ) او فدرالي باندي ویشي.

۲. خپله د اساسي قانون څرنګوالی: یانې دا چې اساسي قانون نرم دی که سخت.

۳. د مقنني قوي څرنګوالی: پدي برخه کې د ټاکنیز نظام په اړه، چې وګړي خپل استازي ټاکي او هغه بیا نور چارواکي ټاکي، اشاره سویده.

۴. د اجرایوي قوي څرنګوالی: یانې دا چې پارلماني ده او که غیري پارلماني(ریاستي).

۵. د قضایي قوي څرنګوالی: پدي کې دیته اشاره کیږي چې آیا د اجرایوي قوي د قانون تر واکمني لاندي ده او که د خپلو ځانګړو

تګلارو او اداري حقوقو پر بنسټ واکمني کوي کوي[1].

دا ډلبندي تر زياته بريده د دولت په رسمي جوړښت پوري اړه لري او د هغه موخي په ښه ډول نه څرګندوي. همدارنګه د پوړونو او واکمنانو په اړه ښه څرګند آند نلري؛ نو ځکه دا ډلبندي هم د ليکاک د ډلبندی په شان نيمګړتياوي لري.

**(۵)- سياسي قدرت (واک)** :

سياسي قدرت د سياست پوهني بنسټيزه موضوع ګڼل کيږي، د سياست په هره برخه کي د سياسي قدرت موضوع يادېږي، نو ددي لپاره چې سياسي قدرت وپيژنو لومړی به فردي قدرت وپيژنو:

**الف- فردي قدرت:**

فردي قدرت هغه ځواک او واک دی، چې د نورو وګړو کړنې تر څارني لاندي راولي او د خپلو موخو تابع يې ګرځوي، ياني فردي قدرت يو فردي ځواک دی، چې په ټولنه کې يوڅوک د نورو وګړو پر اعمالو او کړنو برلاسی کوي. د قدرت په اړه پوهانو بېلابېل پېژندونه وړاندي کړي دي، د بېلګې په توګه د (ګرين) په آند قدرت په ساده ډول د نورو د کنټرولولو هغه آله ده چي هرڅه ورڅخه وغوښتل سي هغه په عمل کي وکړي او د (مورګنتا ) په خبره د نورو پرذهنونو او کړونو باندي د انسان واکمنتوب ته قدرت ويل کيږي. همدارنګه پردوی سربيره نورو پوهانو بيا قدرت داسي تعريف کړی دی ((د خپلو موخو او ګټو په موخه د نورو وګړو پر کړنو اغيز ښندل عبارت د قدرت څخه دی، همدارنګه قدرت د نورو وګړو پر ارادو او کړونو باندي داسي کنټرول ته ويل

[1] - عبدالرحمن عالم، بنيادهاي علم سياست، ص ۲۲۷-۲۷۲

کیږي چې د خپلو موخو او ګټو لپاره وکارول سي)). په پای کې د قدرت لپاره څه ناڅه بشپړ تعریف پدې ډول کولای سو(( قدرت هغه فکري او عملي ځواک دی، چې خپلو مطلوبو غوښتونو او شرایطو ته عملي بڼه ورکوي)).

**ب- سیاسي قدرت** (**واک**):

سیاسي قدرت بیا په ټولنه کې د دولتي پالیسیو او موخو پلي کولو ته ویل کیږي، یانې د هر ډول مقاومت او خلاف په شتون کې د دولت او حکومت د موخو لاسته راوړل عبارت د سیاسي قدرت څخه دی. سیاسي قدرت د ټولني په ټولو غړو پوري اړه لري. زیاتره پوهان پدې آند دي، چې سیاسي قدرت د ټولني د غړو په ګټه کارول کیږي، خو که عملي اړخ ته یې وګورو تاریخ دداسې ډیرو پیښو شاهد دی، چې زیاتو واکمنانو او لویو پاچاهانو سیاسي قدرت یوازې د خپل ځان او خپل ټیم د ګټو د ساتلو په موخه کارولی دی، نه د عامو خلکو د ګټو لپاره، خو پر دې سربېره بیا زیاتې داسې بېلګې هم شته، چې سیاسي قدرت د وګړو و سوکالی او هوساینې په موخه کارول شوی دی. نو ویلای شو، که چیرې سیاسي رژیم مشروعیت ولري او د خلکو په خوښه چارې تر سره کوي، نو هغه وخت سیاسي قدرت تر زیاته بریده د وګړو په ګټه کارول کیږي.

د پورته پیژندونو څخه لاندې درې پایلې ترلاسه کیږي:

لومړی واک دخپلو ارادو په نورو باندې منل دي، دوهم واک دواکمنو او امرمنونکو(تابعینو) ترمنځ اړیکه ده، دریم واک په عامه پریکړو کې ګډون دی.

واک په بنسټیزه مانا سره دنورو په مخالفت کي دخپلو غوښتنو او کړونو پلي کول دي. واک پر سیاسي بهیرونو او دوګړو پر کړنو باندي اغیز ښندي، خو دا په دي مانانده چي واک تل پر زور او جبر باندي ولاړ دی، امکان لري چي واک دا یمان، وفاداری، عادت او ګټو پر بنسټ ولاړ وی. واک دنورو دکنټرول یوه اغیزناکه وسیله ده. دسیاست علم په عمومي ډول واک ته زیاته پاملرنه لري. واک ویشل کیدونکی دی او د(دال) په آند که څوک دواک دویش په اړه بشپړ مالومات ونلري نو دهغه انسان پوهه دواک دکارونې او لاسته راوړني په اړه هم نیمګړې ده. دسیاست دعلم موخه داده چي دواک دویشل کیدو اندازه او بنسټونه په ګوته کړي، او داوټاکي چي دواک کارونکي کوم کسان او بنسټونه دي. دپورته پیژندونو په پام کي نیولو سره دواک بشپړ پیژند(تعریف) پدي ډول کوو(واک هغه فکري او عملي ځواک دی، چي خپلو مطلوبو غوښتونو او شرایطو ته عملي بڼه ورکوي).

**د سیاسي قدرت (واک) ځانګړني:**

١ – **سیاسي واک لوی او الزامي دی:** په هره ټولنه کي دواک بیلابیل مرکزونه سته لکه دکورنۍ دمشر واک، دشرکت دمشر واک... خو په حقیقت کې دا ټول واکونه دیو بل واک تابع دي، هغه واک ددولت واک دی. دولت دسیاسي واک په مانا پریوه هیواد باندي ترټولو لوړ واکمن واک دی. همدارنګه سیاسي واک اخلاقي مسولیت نلري بلکي الزامي بڼه لري.

٢ – **سیاسي واک ټولشموله دی:** سیاسي واک دټولني دټولو غړو هڅي(فعالیتونه) په غیر کي نیسي او هیڅوک نسي کولای چي ددولت

د تابیعت څخه جلا ژوند وکړي. د سیاسي واک اغیز د ټولني پرټولو او سیدونکو باندي ستره. د یادوني وړ ده چي سیاسي واک په ډموکراټیکو ټولنو او توتالیتر حکومتونو کي توپیر لري. په ډموکراټیکو حکومتونو کي سیاسي واک یوازي پر عمومي کارونو باندي څارنه کوي او د ژوندانه ځاني (خصوصي) اړخ د سیاسي واک د لاسوهني څخه په امن کي وي. پداسي حال کي چي په توتالیتر حکومتونو کي سیاسي واک د ژوند د هر اړخ سره سروکار لري او د انسانانو په ځاني (خصوصي) ژوند کي هم لاسوهنه کوي.

**۳ – سیاسي واک ریښتنی دی**: په هر هیواد کي دواک ټول ځانګیز (فرعي) مرکزونه د سیاسي واک زیږنده او تابع دي. پداسي حال کي چي سیاسي واک ریښتني او لوی دی او د بل انساني واک تابع ندی او نه هم بل انساني واکي مرکز دا واک ورسپارلی دی.

**۴ – سیاسي واک تلپاته دی**: سیاسي واک تل د خوځښت په حالت کي دی او په عمل کي کارول کیږي، البته دا په دي مانا ندی چي نور ټولنیز واکونه نو تلپاتي او په عمل کي نه پلي کیږي، بلکي زموږ موخه دا ده چي د نورو واکونو پلي کیدل د حالاتو او دلایلو تابع دي. پداسي حال کي چي سیاسي واک تل پلي کیږي او د هیڅ ډول حالاتو تابع ندی.

پورته ځانګړني د سیاسي واک سره نه بیلیدونکي اړیکي لري او سیاسي واک په همدغو ځانګړنو باندي پیژندل کیږي، خو پردي سربیره یو شمیرنورو پوهان د سیاسي واک لپاره ځیني نوري ځانګړني هم په ګوته کړیدي، چي په لاندي ډول به یي یاونه وکړو:

**۵ – سیاسي واک ټولنیزواک دی اوپه ټولو پوري اړه لري**: د ټولنیز تړون د آند پربنسټ ټولنیز واک د ټولني د ټولو غړو په خوښه او د ټولو په

چوپړ کې دی، سیاسي واک دنظم او امنیت ساتل او دوګړو دطبیعي حقوقو څخه دننګې مسولیت په غاړه لري. داځانګړنه یوازې دسیاسي واک لپاره کارول کیږي او په ټولنه کې بل داسي واک نسته، چې دټولني دټولو غړو په خوښه او چوپړ کې وي نوځکه یوازي همدا سیاسي واک دټولني دټولو وګړو په ګټه دی. دیادوني وړ ده چې سیاسي واک تل په عملي ډګر کې دټولو په ګټه نه کارول کیږي، په تیرو وختونو کې دیکتاتورانو، امپراتورانو او استبدادي شاهانو سیاسي واک په ټولنه کې دظلم او استبداد ځنځیر ګرځولی و. په اوسني وخت کې هم سیاسي واک دنړۍ په ټولو هیوادونو کې دټولو دګټو په موخه نه کارول کیږي او په زیاتو هیوادونو کې دځانګړو کړیو لخوا دهغو دګټو دساتلو په موخه کارول کیږي.

۲ – **سیاسي واک دټولنیزو موخو لرونکی دی**: داجوته سول چې سیاسي واک په ټولنه کې ترنورو انساني واکونو لوړ دی، دټولو وګړو په خوښه او چوپړ کې دی؛ نوځکه باید ټولنیزې او عامه موخې ولري. خو ترننه په زیاتو ټولنو کې سیاسي واک یوازې دواکمني ډلې دګټو دساتلو په موخه کارول سوی دی. لکه څرنګه چې سیاسي واک دټولني سره تړاو لري نوځکه باید ټولنیزې موخې هم ولري.

۷ – **سیاسي واک پر اړیکو ولاړ دی**: واک تل دانسانانو پر اړیکو باندي ولاړ دی او سیاسي واک بیا دواکمن پوړ او اولس ترمنځ پر اړیکو باندي واکمني کوي. دلاسول په آند واک لرونکی ترنورو وګړو دژوند زیاتې اسانتیاوې او اختیارات لري. دده په آند دیوه وګړي واک هغه وخت رینښتنی دی چې دنورو وګړو سره پر اړیکو باندي واکمن وي او دهیوادونو په منځ کې دیوه هیواد واک هغه وخت رینښتنی دی چې

دنورو هیوادونو سره پراړیکو باندې واکمن وي. داجوته ده چې دواک کارول یونفري لوبه نده یانې واک هغه وخت پلې کیدای سي چې نور یې پرځان باندې ومني.

**۸ – واک نسبي او دځای تابع دی**: دځینو پوهانو په آند فردي واک نسبي او دځای تابع دی او دواک اړیکه دوخت په تیریدو سره بدلیږي، پداسي حال کې چې سیاسي واک تل په ټولنه کې شتون لري، ځکه دټولني نظم بیله سیاست څخه ناشونی دی او سیاست بیله واک څخه ناشونی دی.

**۹ – سیاسي واک تل پلي کیږي**: په ټولنه کې سیاسي واک تل دحکومت، دولت او واکمن وګړو لخوا پلي کیږي، پداسي حال کې چې نور واکونه هم سته چې هغه ځیني وختونه دځانګړو دلایلو پرمټ نسي پلي کیدای.

همدارنګه پرپورته ځانګړنو سربیره د(رابرت دال او کارل دویچ) په آند واک ځیني نوري ځانګړني هم لري:

**۱۰ – پرنورو داغیزځواک ته واک ویل کیږي**: پرنورو داغیز ښندل دواک دمهمو ځانګړتیاوو څخه دی، ټولنیز-سیاسي ځواکونه هغه وخت دواک لرونکي دي کله چې وغواړي دخپلو غوښتنو مطابق دنورو ټولنیزو-سیاسي ځواکونو کړنو ته بدلون ورکړي.

**۱۱ – سیاسي واک اجرایوي ضمانت لري**: سیاسي واک داجرایوي ضمانت لرونکی دی او بیله دي څخه واک ریښتني بڼه نسي خپلولای. د(دال) په آند په ټولنه کې هر هغه اورګان چې مجازات تاکي زیات ارزښت لري، په حقیقت کې حکومت دنورو ټولنیزو-سیاسي ځواکونو سره داتوپیر لري چې حکومت پروګړو باندې دسختو مجازاتو دټاکلو

حق لري او کولای سي چي دامجازات په ټولنه کي په مشروع او قانوني بڼه سره پلي کړي. د(بال) په آند مجازات چي هرڅومره سخت(البته دقانون په چوکاټ کي) وي په هغه اندازه سیاسي واک پیاوړی او لوی دی.

۱۲ - **سیاسي واک دځانګړو موخو لرونکی دی:** واک دځانګړو او مالو موموخو لپاره په کار اچول کیږي او بیله دي څخه واک بې اغیزي دی. د(کارل دویچ) په آند اراده بیله واکه بې اغیزي ده. واک هغه وخت په سیاسي-ټولنیز چاپیریال کي اغیزناکه دی کله چي ټاکلي موخي او غوښتني دهغه لپاره شتون ولري.

(۲)- **سیاسي اندونه** (**نظریات**):

سیاسي آندونو د سیاسي تفکر څخه سرچینه اخیستي ده، هر سیاسي آند سیاسي تفکر کیدای سي خو هر تفکر سیاسي آند نسي کیدای، یوازي هغه تفکر او فکر کول چي د سیاسي مسایلو په اړه وي، سیاسي آند ګڼل کیدای سي.

د فرانسوي ریمون آروون په آند سیاسي آند د منطقي موخو د ټاکلو لپاره هڅي کوي، په سیاسي آند کي منطقي موخي باید د ټولني د ریښتنو اړتیاوو پر بنسټ وټاکل سي. کله چي د ټولني بنسټیزي منطقي (برهاني) اړتیاوي وټاکل سوي، وروسته د هغو د لاسته راوړلو لپاره اړین وسایل په کار دي، همدارنګه ددي وسایلو د کارولو په لاره کي باید د خلکو ملاتړ هم د ځان کړل سي، نو ویلای سو، چي سیاسي آند دري فکتورونه لري:

الف- موخې؛ د ټولني بنسټيزې موخې بايد وټاکل سي، ددې موخو د ټاکلو لپاره بايد منطقي دلايل شتون ولري.

ب- اړين وسايل؛ کله چې د ټولني بنسټيزې موخې د ځانګړو منطقي دلايلو پر بنسټ وټاکل سولې، بيا ددې موخو د لاسته راوړلو لپاره اړين او لازم وسايل په کار دي.

ج- د خلکو ملاتړ؛ کله چي اړين وسايل د ټاکلو موخو د لاسته راوړلو لپاره وټاکل سول، نو په دريم پړاو کي دا اړينه ده، چې نوموړي موخې او وسايل د خلکو (ټولني) سره شريک کړل سي او پدې اړه ددوی ملاتړ تر لاسه کړل سي؛ ځکه چې خلک د همدې موخو لاسته راوړلو لپاره زمينه برابروي.

سياسي آندونه تلپاني نه وي، بلکي د وخت په تيريدو او د ټولني د غوښتنو په بدلون سره بدلون کوي، لکه څرنګه چې وګړې تل د پرمختګ په حال کي دي او د وګړو کړه وړه تر زياتو ټولنيزو فکتورونو لاندي بدلون کوي، همداسي د ټولني غوښتني هم بدلون کوي، نو ددې سره سم سياسي آندونه او دريځونه هم بدلون کوي.

په سياسي آند کي دوه اړين موضوعات شتون لري:

(۱)- ايقان (باوري کيدل): ايقان په سياسي آندونو کي د باوري کيدلو او اعتماد کولو په مانا دی، کله چې سياسي آند ولوستل سي او د هغه ټول اړخونه تر نظر تير کړل سي، که چيري د ټولني لپاره ګټور وي، نو پر هغو باندي باور او اعتماد پيدا کيږي او ايقان رامنځته کيږي.

(۲)- تقاعد (ليري کول): په سياسي آندونو کي تقاعد هم شتون لري، تقاعد د ليري کولو او له منځه وړلو په مانا دی، کله چي د سياسي آند ټول اړخونو ولوستل سي، که چيري د ټولني غوښتنو ته ځواب ونه

وايي او يا ځينې اړخونه يې د ټولني د غوښتنو د لاسته راوړلو په لاره کي خنډونه جوړوي، نو هغه اړخونه يې ليري کيداى سي او دلته تقاعد رامنځته کيږي.

سياسي آند د بشر (انسان) د ذهن، فکر او منطق لاسته راوړنه ده، لکه څرنګه چي انسانان د خپل راتلونکي په اړه پوهه نلري، همداسي سياسي آند هم د راتلونکي لپاره سم اټکل نسي کولاى او تل د بدلون په حال کي وي.

په ليبراليزم کي فرد، پوهه، عدالت او ځاني ملکيت اصل ګڼل کيدى، خو د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره د نا سمو وسايلو په کارولو سره ددي لامل سو، چې انارشيزم، فاشيزم او سوسياليزم رامنځته سول. د بېلګي په توګه په ليبراليزم کي پر دي باور و، چې په ازاد بازار کي مساوات او برابري په طبيعي ډول شتون لري، پداسي حال کي چې داسي نه وه او نه هم ده. سربېره پر دي د وخت په تيريدو سره فاشيزم، انارشيزم او سوسياليزم له منځه ولاړل خو ليبراليزم لا تر اوسه ژوندى پاته دى، ددي دليل دادى، چې ليبرالانو د وخت په تيريدو سره د ټولني غوښتني و پيژندلي او خپل تلنلارې ته يې بدلون ورکړ، ياني دوى د وخت سره سم ځان برابر کړ او خپلي موخي يې د ټولني د غوښتنو سره سمي و ټاکلي.

(٧)- **سياسي ايډيالوژي**:

سياسي ايډيالوژي د سياست پوهني مهمه او اړينه برخه ده. سياسي ايډيالوژي د دولت او نړۍ په اړه د غبرګونونو او آندونو څخه عبارت ده، چې د بېلابېلو شعارونو لکه ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي

فرهنګي... او نورو څخه سرچینه اخلي، چې ټولنی ته د حقایقو او باورونو په ډول وړاندي کیږي. د بېلګي په توګه د هټلر شعار د (آلماني اریايي نژاد غوره والی) و، د موسولیني شعار بیا (د ایټالیا ستر ملت) و، همدارنګه په افغانستان کي د دي شعار څخه چې (اسلام په خطر کي دی) ډیره ګټه اخیستل کیږي.

د ایډیالوژیو مشران لومړی د ټولني روان حالات مطالعه کوي، وروسته خپل شعار ټاکي، یاني دوی د خلکو غوښتني او دریځونو لومړی پېژني وروسته د خلکو د ملاتړ او د خپلو ایډیالوژیو د پرمختګ لپاره شعار ټاکي. دا شعارونه کیدای سي، چې د ناامنی، بیوزلی، سوالګری، اقتصادي کمزورتیا، سیاسي کړکیچ او نورو زیږنده وي.

په ایډیالوژی کي زیاتره وخت یو ځواکمن تبلیغاتي ټیم شتون لري، چې د هغه ټیم موخي د خلکو رابلل وي، یاني د ځانګړو موضوعاتو په اړه د خلکو راوبللو او جذبولو لپاره کار کوي؛ ځکه چې په سیاسي ایډیالوژی کي باور او ګروهه ډیره اړینه ده، ترڅو چې باور شتون ونلري، تر هغو سیاسي ایډیالوژي نسي پلي کیدای.

(۸)- **سیاسي نظر ورکول**:

سیاست پوهنه ډیره پراخه او پیچلي ده او ښاخونه یې ورځ تر بلې زیاتیږي. د سیاسي نظریي ورکول د سیاست پوهني نوې برخه ده، چې د شلمي پیړی په وروستیو کي رامنځته سویده. سیاسي نظریه د ټولني حقایق او د سیاسي بحران د حل لپاره وړاندیزونه کوي.

د سیاسي نظریې په ورکولو کې یوازې نیوکه او شکایت شتون نلري، بلکې د سیاسي نظرې ورکولو اصل دادی، چې د ټولنې بحران روښانه کړي او د هغو د حل لپاره وړاندیزونه وکړي. یانې له یوې خوا باید د ټولنې روانې نیمګړتیاوې و پېژندل سي او له بلې خوا د هغو لپاره ځانګړې د حل لاره وړاندیز کړل سي.

د سیاسي نظرې په ورکولو کې دنده او موقف ندی مهم هر څوک چې په هره دنده او موقف کې وي، کولای سي، چې سیاسي نظریه ورکړي. یو شمېر خلک داسي دي، کله چې په دولت کې پر کومې چوکۍ باندې کار کوي، پر دولت باندې نیوکه نه کوي، دوی نیمګړتیاوې او بحران وینې خو پر هغو باندې نیوکې نه کوي، خو کله چې د ځېنو لاملونو له امله د دولتي چوکۍ څخه لیرې کړل سي، بیا نو پر دولت باندې نیوکې کوي، نیمګړتیاوې په ګوته کوي او په اپوزیسیون کې ننوځي، چې دې ډول خلکو ته سیاسي نظریه ورکونکي نسي ویل کیدای.

د سیاسي نظریې په ورکولو کې د اثباتي علومو څخه ګټه اخیستل کیږي، یانې مخکې له دې، چې سیاسي نظریه ورکول سي نو یو حقیقت هم باید شتون ولري، چې هغه د قانوني منابعو پر بنسټ ثبوت کړل سي.

د سیاسي نظریې ورکولو اړتیا زیاتره وخت په هغه حالت کې پیدا کیږي، کله چې د دولت نافذه قوانین هغه که په هره برخه کې وي، د یوې ډلې خلکو او یا هم خپله د حکومت لخوا تر پښو لاندې کړل سي. پدې حالت کې د سیاسي نظرې په ورکولو کې مهم اصل د پرتلې او مقایسې دی،یانې د دولت کړنې د قانوني موادو سره پرتله کیږي. د بېلګې په توګه داسي ویل کیږي، چې د دولت فلانې مامور په فلانۍ

اداره کې داسې وکړل پداسې حال کې چې د فلاني قانون په فلانۍ ماده کې بیا دا ډول عمل داسې اټکل سوی دی[1].

سیاسي نظریه ورکونکي هغه وخت د ستونزو بحرانونو شننه او د هغو لپاره وړاندیزونه کوي، کله چې دوی د هغه کار کولو مسؤلیت نلري، یانې د هغو نیمګړتیاوو حل دده په دندې او مسؤلیت پورې تړاو ونلري، خو که چیرې د هغو ستونزو حل دده د دندې یوه برخه وي، پداسې حالت کې دی د سیاسي نظریې ورکولو واک نلري، ځکه چې هغه دده دنده ګڼل کیږي.

**(۹)- سیاسي افکار:**

سیاسي افکار د سیاسي آندونو، سیاسي فلسفې، سیاسي ایډیالوژۍ، سیاسي مکتب او سیاسي نظریه ورکولو زیربنا جوړوي، یانې:

الف- که چیرې عملي بڼه پیدا کړي، په سیاسي آندونو باندې بدلیږي؛

ب- که چیرې یوازې په تیوریکې او نظري ډول باندې پاتې سي، په سیاسي فلسفې باندې بدلیږي؛

ج- که چیرې تبلیغاتي، عقیدوي او باوري بڼه پیدا کړي، په سیاسي ایډیالوژۍ باندې بدلیږي.

د- که چیرې سیاسي افکار د ستونزو د حل کولو لپاره د خبرو او بیان په بڼه وکارول سي، نو د سیاسي نظریاتو په ورکولو باندې بدلیږي.

[1]- د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي لیکچر نوټونه.

سیاسي افکار په حقیقت د ټولني د ستونزو د حل لپاره سیاسي طرحي دي، چې کله نا کله د لویو بدلونونو او تغیراتو لامل ګرځیدلي دي[1].

[1]- د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي لیکچر نوټونه.

# دوهمه برخــه:

# سياسي مکتبونه

# ابسولوټیزم[1]

په انګلیسي ژبه کې (ابسولیټ) د بشپړ(مطلق) په مانا دی او ابسولوټیزم څخه موخه بشپړ حکومت کول دي، یانې پر یوه ټولنه باندې د یوه تن هر ډول امر چلولو ته ابسولوټیزم ویل کیږي. همدارنګه ابسولوټیزم هغه نا پایه واک ته هم ویل کیږي، چې هیڅ قانوني، عُرفي او اخلاقي محدودیت ونلري، دا اصطلاح زیات وخت د دیکتاتورۍ سیاسي نظام لپاره کارول کیږي. د دې نظام مشر ته دیکتاتور ویل کیږي او دیکتاتور هغه څوک دی، چې هره خبره یې قانون او واک یې نا پایه وي.

د ابسولوټیزم د آندونو پر بنسټ د دې نظام د مشر حقوق او واک کوم محدودیت نلري او حتا ځینې وختونه طبیعت او طبیعي حقوق هم نسي کولای، چې د هغه د واک کړۍ را لنډه کړي. پدې نظام کې مشر د خلکو پر مالونو او د ژوند پر ټولو اړخونو باندې واکمن وي. په (۱۵ز) پیړۍ کې کله چې پاپ خپل ځان د یوه واکمن سیاسي او روحاني سلطنت په سر کې راوستئ نو د ابسولوټیزم فرضي ځان ښکاره کړ، وروسته دې

[1] - Absolutism

فرضي د بشپړ سلطنت (مونارشیکل ابسولوتیزم[1]) په بڼه ځان وښودی. د پاپ د سلطنت ملاتړو به دده سیاسي او روحاني حقوق د الهي او اسماني حقوقو په شان ګڼل؛ نوځکه به یې خلک د هغه امر منلو ته را بلل.

ابسولوتیزم ځیني وختونه د داسي حکومت لپاره هم کارول کیږي، چي د پراخه او بشپړ واک څښتن وي، که څه هم هغه د یوه تن یا څو تنو په لاس کي وي او یا د ځینو جوړښتونو په ګډون د یوه واکمن لخوا اداره کیږي.

ابسولوتیزم په (۲۰ز) پیړۍ کي د حکومت معمولي بڼه وه، چي تر اوسه هم رواج لري. ابسولوتیزم د تاریخ په پاڼو کي په بیلا بیلو بڼو سره ځان ښکاره کړی دی او تل یې د ژوند پر ټولو اړخونو باندي بشپړه واکمني کړیده. دي سیاسي نظام د نړۍ په هر ګوټ کي قدم وهلی دی او پلونه یې پري ایښي دي لکه د لاتین امریکا نظامي دیکتاتوري، د پخواني شوروي اتحاد دیکتاتوري، په لویدیځه اروپا کي دیکتاتورۍ او په افریقایي دولتونو کي دیکتاتورۍ یې غوره بیلګي دي. ددي سیاسي نظام پلویان د واک پوله نه مني او د حکومت لپاره پراخه واک غواړي. خو سربیره پر دي، ځیني سیاستپوهانو ددي نظام لپاره بنسټیز عناصر وړاندي کړي دي، چي په لاندي ډول به وربانـدي لنډي خبري وکړو:

## الف- د واک مرکزي کول:

د ابسولوتیزم ټول ډولونه د واک مرکزیت غواړي او پدي آند دي، چي واک باید د پاچا، ولسمشر یا لومړي وزیر په لاس کي وي. پدي

---

[1] -Monarchical Absolutism

سیاسي سیستم کي واکمنان دا هڅه کوي، چي محکمي او د قانون ملاتړي اداري له منځه یوسي یا د هر ډول ریښتني واک څخه بغیر د فعالیت اجازه ورکړي، د بیلګي په توګه په (۱۹۳۰ز) کال کي د المان پارلمان د نازي مشر هټلر د کابیني تر واک لاندي و.

د ابسولوتیزم په سیاسي نظام کي د اجرایوي قوي مشر هم کولای سي، چي کلیوالي شوراګاني او د حکومت نور څانګیز سازمانونه له منځه یوسي او د سیمه ییزو موضوعاتو کنټرول د حکومت په لاس ورکړي. پدي حکومت کي پولیس او نظامیان په بشپړ ډول کنټرول او واک یې محدود کیږي. حکومت هڅه کوي، چي د را ولاړو سوو مخالفتونو د له منځه وړلو په موخه پټ پولیس په کار واچوي. د واک د مرکزي کولو د آند پلویان دا ادعا لري، چي دا تګلاره کولای سي، چي ابسولوتیزم ته تر ډیموکراسۍ یا بل هر سیاسي نظام مشروع او منل سوي بڼه ورکړي.

**ب- د ټولنیزو بنسټونو بشپړ کنټرول:**

د ابسولوتیزم سیاسي نظام هڅه کوي ترڅو ټولې ټولنیزې ډلې لکه سوداګرې، کلیسا، د ځوانانو ټولني او دزده کړي مرکزونه په بشپړ ډول تر خپل واک لاندي راولي. حکومت هڅه کوي، چي دا ډول ډلي بیخي له منځه یوسي او یا هم د دولتي مشرانو تر واک لاندي محدود فعالیت وکړي.

د ابسولوتیزم پلویان پدي آند دي، چي د دي ډلو (بنسټونو) کنټرول حکومت ته دا چانس په لاس ورکوي، چي ټولنه په بشپړ ډول کنټرول کړي او د مخالفتونو مخه ونیسي. ځیني وختونه حکومت دي ډول

بنسټونو ته پدې موخه د فعالیت اجازه ورکوي، چې د حکومت فعالیت او مشروع والی په تیوریکي بڼه بیان کړي او د خلکو په منځ کې دا تبلیغ وکړي، چې د حکومت هره کړنه مشروعیت لري. خو ځینې بیا ددې ډلو ملاتړ پدې موخو کوي، ترڅو په اولس کې ملاتړ ځواکمن کړي، یانې د ولس ریښتنی ملاتړ د ځان کړي، د بېلګې په توګه تر (۱۹۹۰ز) کال پورې سهیلي افریقا د آپارتهېډ (توکمیز بېلتون) تر اغیز لاندې وه، څرنګه، چې سپین پوستي لږ وه او حکومت هم ددې لږکیو په لاس کې و؛ نوځکه دوی د ټولنیزو بنسټونو تر شا ودریدل ترڅو په ولس کې د حکومت ریښې ټینګې وساتي.

## ج- د ګوندونو ترمنځ د سیالیو له منځه وړل:

د ابسولوټیزم سیاسي رژیم خپلواکو ټولنګنو ته اجازه نه ورکوي او د سیاسي ګوندونو ترمنځ د واک پر سر سیالۍ نه مني. ځینې وختونه واکمنې ډلې خپلې مخالفې ډلې د قانون په ماتولو باندې تورنوي او د هغو پر وړاندې د اپوزیسیون دریځ غوره کوي، خو ځینې ابسولوټیستي رژیمونه بیا د ګوندونو ترمنځ مخالفت نه غواړي او د ګوندونو څخه غواړي، چې د زور زیاتې څخه لاس واخلي او یو د بل پر وړاندې دې د اپوزیسیون دریځ نه غوره کوي. پدې سیاسي نظام کې تل د ټولنې کنټرول د واکمن ګوند یا حکومتي ګوند په لاس کې وي او بل ګوند نسبي کولای، چې د واک د ترلاسه کولو په موخه هڅې وکړي. ځینې دا ډول رژیمونه د ولسي جرګې د څوکیو د ډکولو په موخه سمبولیکي ټولنګني ترسره کوي، خو خپل مخالفین نه پرېږدي، چې دې څوکیو ته لاره پیدا کړي او د مخنیوي لپاره یې ځینې لارې چارې په

کار اچوي لکه د مخالفو مشرانو نیول، د ټاکنو پیچلی قانون او د ولس پر رایه ورکونه باندي بشپړ کنټرول.

## د- د ولسي استازو ملاتړ:

له تاریخي اړخه د ابسولوتېزم زیاتو رژیمونو د دیکتاتورۍ بڼه ځانته غوره کړېده، خو په (۲۰ز) پېړۍ کي دي رژیمونو کوښښ وکړ، چي ځانونه داسي وښئ، چي د حکومت په چارو کي ورسره د ولس نامتو او ریښتنو استازو هم برخه لرلې ده او د ولس د ریښتنو استازو ملاتړ د ځان سره لري. دوی ځانونه داسي ښودل، چي د ولس په استازیتوب باندي حکومت کوي او خپله ټوله انرژي د ولس په خدمت کي لګوي د بیلګي په توګه د پخواني شوروي اتحاد حکومت دا ادعا درلوده، چي ددوی پالېسي پدي موخه جوړه سویده، چي په خپلو خلکو کي مساوات او برابري راولي، خو په حقیقت کي ددي رژیم واک یوې کوچنۍ ډلې چي د کمونیست ګوند سره یې تړاو درلودی په لاس کي و. دیته ورته کله چي هټلر واک ته ورسیدی نو دا ادعا یې وکړه، چي دده پالېسي د جرمینانو د هوسایني او سوکالی لپاره جوړه سویده، ځیني ابسولوتېزمي رژیمونه غواړي، چي د ډیموکراسۍ په بڼه کي ځانونه ښکاره کړي؛ نوځکه (ناکاره او غیري ولسواکې ټاکنې) ترسره کوي. پدې ټاکنو کي دوی عامه رایه (دولس رایه) کنټرولوي او رایه ورکونکې خپلي خوښې ته نه پرېږدي. حتا ځیني وخت داسي هم سویدي، چي د ټاکنو ترمخ د دولت مشران پریکړه کوي او ټاکنې په سمبولیکه بڼه ترسره کوي.

# اپارتهیډ[1] (توکمیز بیلتون)

دآپارتهیډ اصطلاح دبیلتون او جلا والي په مانا ده، یاني د قومي او توکمیز بېلتون پر بنسټ د قومونو او ولسونو بېلوالي ته ویل کیږي. د آپارتهیډي سیاست له مخې ولسونه باید پر پوړونو او ډلو باندي وویشل سي، چې غوره پوړ او ډله د نورو څخه په امتیازاتو کي غوره والی لري. لکه د نازي آلمان سیاست چې د غیري آریایي قومونو پر وړاندي یې لاره، یا هم لکه په امریکا کي چې د سپین پوستو او تور پوستو ترمنځ چې بېلتون شتون درلودی او یا هم لکه په سویلي افریقا کي د تور پوستو پر وړاندي د نوموړي حکومت سیاست او دریځ[2].

دا اصطلاح په (۱۹۴۸ز) کال کي د سویلي افریقا د ملي ګوند لخوا سیاست ته ورد ننه سول او په همدي وخت کي د سویلي افریقا توکمیز تبعیضه نظام ته وکارول سول. دغه نظام په سویلي افریقا کي د سپین پوستو او تور پوستو ترمنځ د توپیر پربنسټ حکومت کوی او سپین پوستو ته چي د ټولني یو پر پنځه برخه یي جوړول، دا واک ورکوی چي د ټول هېواد د قدرت واګی په لاس کي واخلي او د هېواد زیات خلک

---

[1] Apartheid

[2]- داریوش آشوري، دانشنامه سیاسي، ص ۱۰۹.

چي سپين پوستي ندي ښکيلاک کړي. همدارنګه دغه اصطلاح د هغه اوږدمهاله پلان لپاره چي موخه يې د نژادي توپير پربنسټ د سيمو بيلتون دی، هم کارول کيږي.

په سويلي افريقا کي د آپارتيډ د واکمنی په وخت کي د سپين پوستو ټولنو هيڅ ډول سياسي او کاري محدوديت نه درلودی، دوی په خپلواکه توګه پريکړي کولي او هغه يې کول چي دي ټولنو ته تورپوستان لاره پيدا نکړي. همدارنګه د فابريکو مشرانو هم هغه کول چي تورپوستو ته لږ معاش ورکړي او دوی په ټيټو پوړونو کي وساتي.

د سويلي افريقا حکومت د توکميز بيلتون لپاره زياتي لاري په کار واچولي، د بيلګي په توګه د سپين پوستو لپاره په کار او صنعتي چارو کي د پرمختګ نوي قوانين وضع سول، د افريقايانو ژوند په ټاکلو مځکو او سيمو کي محدود سو چي د هېواد ۱۳٪ سلنه يې جوړول، د سپين پوستو او تور پوستو ترمنځ جنسي اړيکي او واده کول غيري قانوني اعلان سول، د تورپوستانو څخه د رايي ورکولو حق واخيستل سواو د ټولو افريقايانو څخه وغوښتل سول چي ښاري سيمو ته د ننه کيدو او دريدو په وخت کي بايد اجازه واخلي. تورپوستي يوازي په خپلو محدودو سيمو کي د څه ناڅه سياسي او اقتصادي حقوقو څخه برخمن وه[1].

د توکميزبيلتون پر سياست باندي زياتي نيوکي وسولي، همدارنګه دا ډول سياست په امريکا کي هم پلي کيدی او په عامه تفريح ځايونو کي به پرلويو تختو باندي ليکل سوي وه چي يوازي سپين پوستان کولای سي چي ورد ننه سي، تور پوستانو ته د غلامانو په سترګه کتل

---

[1]- فرشيد اقبال، مکتب هاى سياسي، ص ۵۷-۵۸

کیده او ترزیاته وخته پوري یې سیاسي حقوق نه درلودل. تور پوستي نسوه کولای چې د جمهوري ریاست چوکۍ ته نوماند سي او ځیني نور محدودیتونه وه، خو د امریکا په تاریخ کې د تور پوستي بارک اوما ولسمشر کیدل لومړی پیښه ده. دا سیاست په ځینو نورو هېوادونو کې د اولسونو لخوا د نژادي، قومي، ژبني او سمتي توپیر لپاره هم کارول کیږي.

# اپیکوریانیزم[1]

دا فلسفه د لرغوني یوناني نامتو فیلسوف (اپیکور) ته منسو بیږي، چي په (۳۴۲-۲۷۰) دزیږدیز کال څخه مخکي) یې خپله ښونځی په اتن کي پرانیستل، چي تر څو پیړیو پوري پاته سول. دده فلسفه د لرغونو یونانیانو د څلورو بنسټیزو مکتبونو د ډلي څخه ګڼل کیږي، چي د فلسفي آرونه (اصول) یې په لاندي ډول دي:

۱. دا مکتب د مادیت ملاتړی دی او د ماټریالیزم پر آرونو باندي باوري دی.

۲. انسان دوسته دی او بشر ته په نیکه سترګه ګوري.

۳. د الحاد او کفر پلوی دی او دخدای (ج) څخه منکر دی.

۴. د تکامل (پیاوړتیا ) پر آرونو باندي ولاړ دی.

همدارنګه د اپیکوریانیزم سیاسي ګروهي (عقاید ) په لاندي ډول دي:

۱ ) د اپیکوریانیزم مکتب ټولنه او ټولنیز ژوند د ځاني ګټو پربنسټ باندي پېژني او وایې که چیري موږ د یوي ټولني غړي سو نو پدي کي موږ خپله ځاني ګټه زیاتولای سو. ټولنه او دولت موږ د دښمن د خطر

[1] - Epicurianism

څخه ساتي، او که داسي ورځ راغله، چي ټولني او دولت دا دندي نسوي پلي کولای نو غوره داده، چي غړيتوب يې پرېږدو.

۲) دي مکتب عدالت، قانون او ټولنيز حقوق د ذهني پرمختګ پر بنسټ پيژندلي دي او د هغوی لپاره بهرنی شتون نه مني. همدارنګه ښه او بد اصطلاحات د تړون د آرونو پر بنسټ پيژني، ياني (ښه) هغه دی، چي خلک د هغه پر ښه والي باندي يوالی ولري او ټول وګړي يې د (ښه) په نوم وپېژني او د دي پر وړآندي بيا د (بد) په نامه ټول هغه څه دي، چي ټولو وګړو يې پر بدوالي باندي يوالی کړی وي او د (بد) په نامه يې وپېژني.

۳) قانون د هغو آرونو ټولګه بولي، چي د يوې ټولني غړو په يوالې سره منلی وي او د هغه په چو کاټ کي خپل ژوند ته دوام ورکوي. که چيري خلک پدي وپوهيږي، چي دا آرونه نور د خلکو او ټولني لپاره ګټور ندي نو کولای سي، چي هغه مات او لغوه يې اعلان کړي، پدي شرط، چي د قانون د ماتولو د سزا څخه ځانونه خوندي و ساتي.

۴) تقوي د خوښی او سوکالی په ساتلو کي ده (نه په علم کي داسي لکه ارسطو او افلاطون، چي ويلي دي).

۵) برابري، سوکالي، منځنۍ تګلاره او ورورولې د ژوند تر ټولو غوره لاره ده او د شهرت، زياتوب او افراط څخه بايد په هرڅه کي ډډه وکړو.

۶) ورورولي او د نيشنليزم پر وړآندي تګلاره: د بشر ټول وګړي يو دبل سره وړونه دي او هيڅ ولس پر بل ولس باندي غوراوی نلري (اپيکور د ښځو او غلامانو د حقوقو پلوي کوي او د عمومي روزني او د انسان دوستی د خوځښت غوښتونکی دی).

۷) لیریوالی او گوښه توب: اپیکور د گوښه توب تگلاره د انسان لپاره غوره بولي او په دي باور دی، چي په ټولنیز ژون کي گډون د انسان د سوکالی لامل نه گرځي، واکمن او پوه سړی باید د عمومي او دولتي بوختیاوو او د مسؤلیت منلو څخه ډډه وکړي.

۸) فردیت: دی وایي چي د ژوند تر ټولو غوره لاره د فردیت تابع کیدل او د وگړو پر یوازیتوب باندي باور، ځاني گټو ته غوراوی او نورو وگړو ته هیله نه درلودل دي. هر وگړی باید خپل ځان یوه وسیله وگرځوي او د خپل ژوند بسنه وکړي، نه دا چي د ټولني پواسطه د خپل ژوند لاره غوره کړي.

د اپیکوریانیزم مکتب د روڼ آندو ځان غوښتنه هم نومول کیږي، چي پدي سیاسي مکتب کي روڼ آندان ځان غوښتنه او ځاني گټي پلټي.

د اپیکور مادي او انسان دوستي فلسفه پدي وروستیو پیړیو کي د گرگو-رومن (د لرغوني یونان او روم ترکیب ته ویل کیږي) د ټولني د پرمختگ، د ښځو او غلامانو د موقیعت په لوړولو او انسان دوستی او عمومي روزني په غورځنگ کي اغیزناکه تمام سول.

د اپیکور څخه وروسته دده ځای ناستی لوکرسیوس (**۵۵-۹۲** د زیږدیز څخه مخکي)، چي د روم نامتو شاعر او فیلسوف و، وتاکل سو. دده څخه شپږ ټوکه د شعرونو، فزیک، اروا پوهني او اخلاقو کتابونه پاته سول، چي د اپیکور د مکتب تر اغیز لاندي یې لیکلي وه[1].

[1]- دکتر بهال الدین پازرگا، مکتب های سیاسي، **۱۳۴۴**ش، ص **۵**-۷

# اتوریتاریانیزم[1]

د اتوریتاریـانیزم سیاسـي مکتـب د انډویـډوالیزم (وګړپـالني) پـر وړآندې منځته راغلی دی، یانې د حکومت هغه فلسفي او سیستم تـه ویل کیږي، چې وګړیزې(فردي) خپلواکی په عملي او تیوریکي بڼه پـه بشپړ ډول د حکومت تر واک لاندې بولي. د دې ډول حکومت واک تـل د یـوې کـوچنۍ ډلـې پـه لاس کـې وي، چـې هغـه ډلـه ځانونـه د نومـوړي حکومت مشران بولې.

دا ډول حکومـت د تـاریخ پـه بیلابیلـو پړاوونـو کـې پـه بیلابیلـو بڼـو ښکاره سوی دی، چې دیکتاتوري یې یوه افراطي بڼه ده.

اتوریتاریانیزم د حکومت داسې بڼه غواړي، چې د قانون پـر بنسـټ نـه وي جوړ سوی او خلکو تـه مسـؤلیت و نلري، بلکې د دې ډول حکومـت واک بایـد یـوازې د یـوې کـوچنۍ ډلـې یـا یـوه تـن پـه لاس کـې وي. د دې حکومت مشر د قانون پر وړاندې کوم مسـؤلیت نلري او نـه هـم د خلکـو لخوا له واکه لیرې کیدای سي. په اتوریتاریانیزم رژیـم کـې ګوندونـه او د هغوی ترمنځ سیالۍ شتون نلري، هیڅ ډله نسي کولای، چې د واک د

---

[1] Authoritarianism

ترلاسه کولو په موخه سياسي هڅي وکړي او يا هم د واکمن لپاره د ټاکنو غوښتنه وکړي.

**د اتوريتاريانيزم د پياوړتيا شاليد:**

۱. ددي فلسفي بنسټ ايښودونکي د لرغوني يونان فيلسوفان لکه فيثاغورث، ډموکريتوس، سقراط، افلاطون او ارسطو دي. ارسطو داسي استدلال کاوه، چي کُل پر جز باندي لوی دی (جز د کُل تابع دی)؛ نوځکه دولت پر وګړي لوی دی او وګړی د دولت تابع دی.

۲. سټايکيان (رواقيان) بيا ملي دولت ردوي او د نړيوال دولت لپاره يې بشپړ واک غوښتئ.

۳. د منځنيو پيړيو فيلسوفانو (د ۴ پيړۍ څخه پيل بيا تر رنسانس ياني ۱۳ او ۱۴ز پيړۍ پوري) په ځانګړي ډول د سکالسټيک مکتب پيروان ددي تلنلاري ملاتړي وه.

۴. ژان بودن، چي په ختمه فرانسوی و په (۱۲ز) پيړۍ کي يې ددي فرضي (د سلطنت او دولت د واک او واکمنۍ د بشپړ حق) پر بنسټ نوموړي فلسفه و سپړل او پياوړي يې کړل. همدارنګه ماکياولي هم د بشپړ واک ملاتړی و.

۵. توماس هابس په (۱۷ز) پيړۍ کي د واکمن د اتوريټي (واک) ملاتړی سو، په (۱۸ز) پيړۍ کي چي په وګړپالني باندي پيژندل سوي ده اتوريتاريانيزم په زياته کچه ملاتړي نه درلودل.

۶. په (۱۹ز) پيړۍ کي هګل، مارکس، انګلس، لاسال او نيچه د دولت د بشپړ واک ملاتړي سول.

۷. په (۲۰ز) پیړۍ کې لینن او ستالین (د کمونیزم په موخه کې)، هیټلر او موسولیني (د فاشیزم په موخه کې) د بشپړ واک ملاتړي وه او د داسې واک مشرتوب یې غوښتی.

# اراستانيزم[1]

ددي سياسي مکتب لومړنی بنسټ ايښودونکی (مارسل دوپادو) ايټالوي تئولوژيست دی، چي په (۱۳ز) کي په مارسيلو باندي پيژندل سوی و. ددي لومړني موخه داوه، چي روحاني ځواک د حکومتي سياسي کړنو تر کنټرول او څارني لاندي په مستقيم او يا غيري مستقيم ډول تعريف او محدود کړي.
په (۱۸ز) پيړۍ کي په بريټانيا کي د کينو لاسو مذهبي ډلو په ځانگړي ډول د (پرسبيتاريانيزم) پر وړاندي د خلکو په افکارو کي غبرگونونه را وپاريدل، چي وروسته يې د ارسټانيزم په مکتب باندي شهرت و موندی، ددي آندونو موخه داوه، چي کليسا بايد ددولت تر واک لاندي راسي او کليسا بايد ددولت د واکمنۍ په چوکاټ کي هڅي وکړي.
ددې مکتب پيژندل سوی استازی انگريزی (جان سلډون) دی.
ددي سياسي مکتب او فلسفي لنډيز پدي ډول دی:
ـ مشروطيت او ټول قانوني ترتيبات يوازي د عمومي نظم او ټيکاو د ساتلو په موخه دي او اسماني او الهي سرچينه نلري.
ـ د پاچا واک هغه دی، چي قانون ښودلی وي.

[1] - Erastanism

ـ حقوق او قانون هغه دی، چې محکمه د هغه د پلي کولو توان ولري.
ـ د کلیسا ګانو جوړول او د روحانیونو امتیازات هغه دي، چې په عُرف (دودونو) کې شتون ولري.

جان سلډون دولت او کلیسا برابر د خپلو خبرو د موخو ښکار ګرځول او ویل یې سلطنت، کلیسا او دیته ورته نور الهي حقوق یوازي د عامه ولس د تیر ایستني بنستهونه ګرځیدلي دي او موخه یې د عوامو چپاول او د هغو څخه د پیسو او واک تر لاسه کول دي.

د ارستهانیزم مکتب د لاندي برخو څخه جوړ سوی دی:

الف- اوتیلیته (پولیتي): چې د ګټې کولو فلسفه ده.

ب- سکولاریزم: د نړۍ او دنړۍ ښکاره چارو ته پاملرنه ده.

ج- راسیونالیزم: د عقل د غوراوي فلسفه ده.

# ارسطوتلیانیزم[1] (ارسطویې)

د ارسطویې څخه موخه هغه فلسفه ده، چې د لرغوني یونان نامتو فیلسوف ارسطو ته منسوبیږي. نوموړي د زیږدیز کال څخه څلور پیړۍ مخکې ژوند کاوه، دده فلسفه د لرغوني یونان د نامتو او پیژندل سوو مکتبونو له ډلې څخه ده، دده سیاسي عقاید او آندونه پر لاندي آرونو باندي ولاړ دي:

**۱. د انسان او ټولني اړیکې:**

ارسطو انسان یو ټولنیز حیوان ګڼې او وایې، چې انسان خپل ریښتنولي په خپله ټولنه کي او پخپل ډول (نوع) کي مومي. لکه څرنګه چي کُل پر جز باندي لوی دی نو د غسې ټولنه او دولت هم پر فرد باندي لوړوالی لري، سربیره پردي هر وګړی په ټولنه کي منځته راځي، پداسي حال کي چي نوموړي ټولنه دده د پیدا ېښت څخه مخکي شتون لري؛ نوځکه فرد د ټولني څخه نسي خپلواکه کیدای.

**۲. دولت:**

دولت تر ټولو لوی بشري سازمان دی، چې موخه یې د ښه ژوند برابرول دي. که چیري دولت د وګړو لپاره سوکاله ژوند رامنځته نه کړي نو هغه دولت مردود (نامشروع) دی. ؛

---

[1] - Aristotelianism

**۳. وګړي**:

د ارسطو په آند د يوه هېواد وګړي نسي کولای، چې د حکومت په چارو کې ورګډ سي.

**۴. مساوات**:

وګړي په مساوي ډول سره ندي پيدا سوي او ددوی په منځ کي غيري مساوات يو طبيعي امر دی.

**۵. اساسي قانون**:

اساسي قانون بايد د طبيعت او د ټولني د غړو د اړتياوو سره سم جوړ سي او د وګړو طبيعي غيري مساوات بايد په نظر کي ونيول سي. اساسي قانون بايد د وګړو حقوق په هغه ځای کي چي سره مساوي وي، مساوي و پيژني او په کوم ځای کي، چي سره مساوي نه وي غيري مساوي و پيژني. دده په آند غيري مساوات عبارت دی د ځاني وړتيا، استعداد، لياقت او نژاد څخه او يا هم د زيږدني له اړخه د نسب او کورنۍ څخه.

**۶. خپلواکي**:

غلامان خپلواک ندي پيدا سوي؛ نو ځکه غلامي ددوی طبيعي ځانګړنه ده، ياني غلامي پر حق ده او د طبيعت سره جوړه ده. د غلامانو څخه بغير هر وګړی د يوه هېواد او سيدونکی دی او د يوي ټولني غړی پيدا سوی دی. دده په آند د يوي ټولني غړی د نړۍ د نورو وګړو سره اړيکې نسي نيولی؛ ځکه چي هر وګړي ته د نړۍ نور خلک د بهرنيانو

په بنه دده د هېواد او ټولني څخه بهر دي. ارسطو دا هم زیاتوي، چي بهرنیان د غلامانو په شان دي او تر یونانیانو پاته خلک دي.

## ۷. د حکومتونو ډولونه:

ارسطو ددري ډوله ښه حکومتونو یادونه کوي:

**الف- سلطنتي (مونارشي) حکومت** : که چیري دا حکومت فاسد او د خپلي لاري څخه کوږ سو نو په تیراني (دیوه تن ظالم حکومت ) باندي بدلیږي.

**ب- اریستوکراسي (اشرافي) حکومت**: که دا حکومت فاسد او د لاري واوړي نو په الیګارشي (د شتمنو ) په حکومت باندي بدلیږي.

**ج- پولیټي ( د منځنـي پوړ) حکومت**: که دا حکومت فاسد سي نو د ډیموکراسۍ (دعامو او بیوزلو خلکو ) په حکومت باندي بدلیږي.

پدي ډول سره ارسطو ډیموکراسي د پولیټي یوه فاسده بڼه بولي، خو مونارشي، اریستوکراسي او پولیټي د حکومتونو څخه د ترکیب سوي حکومت ملاتړ کوي.

د ارسطو فلسفي وروسته د تاریخ په اوږود کي کږلیچونه پیدا کړل، چي د هغه له ډلي څخه د طبیعي ارسطوئیانو فلسفه ده، دوی د عقل او الهام ترمنځ تو پیر وکړ او دادواړه یې په خپل منځ کي سره بېل کړه.

(مارسل دوپادو ) په (۱۳ز ) پیړۍ کي تر نورو دا مکتب غوره څیړلی دی، چي ددي مسلک پلویانو ته له لاري اوښتونکي (اوروئیسټ) وایي او مسلک ته یې (اوروئیزم) وایي.

# اریستوکراسي[1]

د اریستوکراسۍ اصطلاح د یونـاني ژبـي د (اریسـتوس[2]) څخـه اخیستل سویده چي د غوره مانا ورکوي. د لرغوني یونان زیاتو پوهانو او فیلسوفانو اریستوکراسي د غـوره ښـاروندو حکومـت ګڼلـی دی. ارسطو لیکلي (هغه حکومت چي د یوي کوچنۍ ډلي په لاس کي وي او د ټول اولس ملاتړ ورسره وي، د اریستوکراسۍ پـه نامـه یـادیږي، کیدای سي چي دا کوچنۍ ډله د ټولني د غوره خلکو څخه وي او یا هم دا ډلـه د ټولني لپاره غـوره شیان او ګټي پـه لاس راوړي). د (ګارنر) د تعریف پر بنسټ (اریستوکراسي د حکومت هغه بڼه ده، چي په هغه کـي حکومـت د څـو نفـرو پـه لاس کـي وي). پـه دقیـق ډول ویـلاي سـو چـي اریستوکراسي هغه حکومت دی، چي په هغه کي د ښاریوه کوچنۍ ډلـه د هېواد د سیاست مشـرتوب کـوي. د (یلینـک) پـه آنـد اریستوکراسـي هغـه حکومـت دی، چـي پـه هغـه کـي د ځـانګړي پـوړ خلـک واکمـن وي. شوني ده چي اریستوکراسي د روحانیونو، اشـرافو، نظامیـانو، مځکـه والو، کسبګرو او یا د دوی د ترکیب څخه منځته راغلي وي.

---

[1] -Aristocracy.
[2] - Aristos

اريستوکراسي ډيري لرغوني ريښي لري او د ميلاد څخه مخکي د څلورمي پيړۍ څخه بيا تر دوهمي پيړۍ پوري واکمنه وه. حتا تر نن ورځي پوري د انګلستان د مشرانو په جرګي کي اريستوکراټيک عناصر ترسترګو کيږي. ارسطو، اريستوکراسي د حکومت طبيعي او غوره بڼه ګڼلي او اوليګارشي يي د اريستوکراسۍ فاسده او ناوړه بڼه ګڼلې ده. ياني اريستوکراسي د څونفرو غوره او طبيعي حکومت ته ويل کيږي او اوليګارشي بيا د څو نفرو فاسد او ناوړه حکومت ته ويل کيږي. روسو، بيا اريستوکراسي د درو لارو څخه شوني بولي، ياني اريستوکراسي کيداى سي چي، طبيعي، ټاکنيزه او يا موروثي وي. دده په آند طبيعي اريستوکراسي د هغو خلکو حکومت دی، چي د طبيعي ځواک پربنسټ د مشرتوب ترټولوغوره کسان وي، ياني په ټولنه کي يو شمېر خلک په طبيعي ډول تر نورو د مشرتوب او لارښوني غوره وړتيا لري، چي د همدي خلکو حکومت ته طبيعي اريستوکراسي ويل کيږي. ټاکنيزه اريستوکراسي بيا د يوي کوچنۍ ډلي حکومت دی، چي د خلکو له لوري ټاکل کيږي. او موروثي اريستوکراسي بيا هغه حکومت دی چي واک ورته په ارثي ډول پاته سوی وي.

همدارنګه زياتو نورو پوهانو هم د اريستوکراسۍ لپاره تعريفونه وړاندي کړيدي، خو د ټولو ګډ ټکی دادی، چي اريستوکراسي د يوي ډلي حکومت دی. نن ورځ اريستوکراسي د هغي اوليګارشی نوم دی، چي واک د شتمنو په لاس کي وي او دوی يوازي د خپلو ګټو ساتلو لپاره کارکوي.

**د اريستوکراسۍ ګټې:**

په ډيرو پخوا زمانو کي د لاندي ښيګڼو پر بنسټ د اريستوکراسۍ څخه ګټه اخيستل کيده:

**۱ . د حکومت طبيعي بڼه ده:**

د پخوا وختونو څخه داسي ويل کيږي چي اريستوکراسي د حکومت طبيعي بڼه ده. که چيري په طبيعي توګه ډيموکراسۍ ته وکتل سي نو په ډيموکراسۍ کي هم يوه ډله پر ټولني باندي واکمني کوي، ياني په ډيموکراسۍ کي يوګوند واک په لاس کي اخلي او پر اولس باندي واکمني کوي، چي تر زياته بريده اريستوکراسۍ ته ورته والی لري. نن ورځ د انګلستان په مشرانو جرګي (د لردانو مجلس) کي د اريستوکراسۍ بيلګي تر سترګو کيږي.

**۲ . منځلارتوب:**

احتياط او منځلارتوب د اريستورکراسۍ د ښيګڼو څخه ده. د (مونتسکيو) په خبره د منځلارتوب ځانګړنه د اريستوکراسۍ روح دی. اريستوکراسي چټک اوښتون او پرمختګ نه غواړي او نوي ابتکارات نه خوښوي. همدارنګه اريستوکراسي د احساساتو او ابتکاراتو سره سخته مخالفه ده او د دي پر وړاندي محافظه کارانه دريځ لري، چي په همدي خاطر د ډيموکراسۍ مخه هم نيسي.

**۳. د حکومت باثباته بڼه ده:**

په اريستوکراسۍ کي د محافظه کارانه او منځلارتوب دريځ، د حکومت د ثبات او ټينګښت يوازنی لامل دی. (مونتسکيو) منځلارتوب د اريستوکراسۍ هغه بنسټيزه ښيګڼه بولي، چي

اریستوکراسۍ ته ثبات او ټینګښت ورکوي. اریستوکراسي د پاچاهۍ او استبدادي حکومتونو په څیر نیمګړتیاوي نلري او د ډیموکراسۍ په څیر عام خلک د واکمنۍ د ټینګو ځنځیرونو څخه خلاص دي.

**۴.د پخوانیو تجربو ساتل**:

لکه مخکي چي مو وویل اریستوکراسي محافظه کاره او منځلاره ده، یاني د پخوانیو خلکو لارو او تلنلارو ته په اسانۍ سره بدلون نه ورکوي. نو ځکه اریستوکراسي د پخوانیو تجربو ساتونکي ده.

**۵. کیفیاتو ته پاملرنه کوي**:

اریستوکراسي د ډیموکراسۍ په خلاف، چي کمیت ته ارزښت ورکوي، کیفیت ته ارزښت ورکوي. اریستوکراسي د خلکو شخصیت او د کار کیفیت ته ارزښت ورکوي. پر همدي بنسټ په اریستوکراسۍ کي یوازي هوښیارو او پوه خلکو ته د واکمنتوب شرایط برابریږي.

**د اریستوکراسۍ زیانونه**:

اریستوکراسي د خپلي واکمنۍ په وخت کي په عملي ډګر کي دا وښودل چي د حکومت کولو لپاره یو ښه رژیم ندی، نو ځکه د خلکو په منځ کي بې ارزښته سول او خلکو پریښودل. د لاندي نیمګړتیاو په یادولو سره ویلای سو چي اریستوکراسي د حکومت کولو یو ښه رژیم ندی:

**۱.د واک انحصار:**

په اریستوکراسۍ کې د واک انحصار منځته راځي او واکمن پوړ یوازي خپلي ډلي ته ارزښت ورکوي، یاني واکمن پوړ هغه خلکو ته ارزښت ورکوي چې د دوی د ګټو ساتونکی وې او د دوی پر لار روان وې. بلکې نورو خلکو ته ارزښت نه ورکوي. اریستوکراټان د ټولني عامه ګټې په نظر کې نه نیسي، د عامو خلکو د ښېګڼو او پر مختګ لپاره پالیسۍ نلري او یوازي د خپلو ګټو ساتونکې دي. پر همدي بنسټ خپل ارزښت د لاسه ورکوي او په پای کې په اولیګارشۍ باندي بدلیږي.

**۲. ټولنه له خوځښته غورځوي او شاته یې پریږدي:**

اریستوکراسي پر منځلارتوب او محافظه کارو آندونو باندي باور لري، دا ډول آندونه د دي لامل ګرځي چې د ټولني پرمختیایي خوځښت له خنډ سره مخ کړي او په ټولنه کې د پرمختګ روحیه کمزوري کړي. د اریستوکراسۍ دا دریځ ټولنه شاته پاته کوي او نسي کولای، چې د وخت د غوښتنو او پرمختګ سره همږغې سي.

**۳.د واکمنو خلکو د ټاکني ستونزه:**

اریستوکراسي په لغوي لحاظ د غوره خلکو حکومت ته ویل کیږي او که موږ هم دا ومنو چې په اریستوکراسۍ کې غوره خلک واکمني کوي، نو ستونزه دلته پیدا کیږي چې غوره خلک څوک دي او څنګه ټاکل کیږي. آیا غوره خلک هغه دي چې په لویو کورنیو کې زیږیدلي وي یا هم ښه نسب او خاندان ولري، یا هغه خلک دي چې زیاتي شتمنۍ

او مځکي لري. شوني ده چي یو څوک د ښه خاندان او نسب لرونکی وي، خو د مشرتوب وړتیا نلري، یا هم یو څوک ښه شتمني لري خو بیا هم نسي کولای، چي د ټولني مشرتوب وکړي. نو پدي ځای کي د غوره کسانو ټاکنه ستونزمنه ده، له همدي امله اریستوکراسي د یوي ناوړي ډلي په لاس کي لویږي او ډیر ژر په اولیګارشۍ باندي بدلیږي.

### ۴. په خلکو کي د سیاسي پوهاوي کمښت:

اریستوکراسي د خلکو لپاره سیاسي زده کړه نه خوښوي اودوی هیڅ داسي پلان نلري، چي د هغه پربنسټ خلک وکولای سي، چي سیاسي پوهه ترلاسه کړي. دوی د ډیموکراسۍ په شان ټاکني نلري، چي د ټاکنیزو سیالیو په ترڅ کي د خلکو سیاسي پوهه زیاته سي او نه هم ګوندي سیستم لري، چي هرګوند خپلو غړو د زیاتوالي لپاره سیاسي پلانونه لري او د خلکو په منځ کي یي خپروي. په اریستوکراسۍ کي یوازي هغه وخت د خلکو لپاره سیاسي پوهه اړینه ګڼل کیږي کله چي په سیاسي ډګر کي داخلیږي.

### ۵. د موروثي کیدو نیمګړتیا:

په ارثي اریستوکراسۍ کي واک په ارثي ډول د واکمن پوړ زامنو ته لیږدول کیږي، چي دا پخپله یوه لویه نیمګړتیا ده، د (ګارنر) په خبره استعداد او سیاسي وړتیا هغه ځانګړني ندي، چي په ارثي ډول د پلار څخه زوی ته لیږدول کیږي.

**۶. ځان ښودنه او د افکارو بندیز:**

په اریستوکراسۍ کي واکمن پوړ تل ځان ښودنه کوي، ځان تر نورو خلکو لوړ ګڼي او تل د ځان ستاینه خوښوي. دوی هغو خلکو ته زیات ارزښت ورکوي چي په هر ځای کي د دوی ستاینه وکړي او پر حقیقت باندي سترګي پټي کړي، همدارنګه دوی د اولس د حقیقي افکارو مخه نیسي او یوازي د خپلو ګټو د ساتلو اړوند افکاروته درناوی کوي[1].

---

[1] - فرهاد داوري، سیاست پوهنه، مخ ۳۵۳-۳۵۲.

# اسلامي حکومت[1]

داچې الله تعالي دټولو کائناتو خالق ، مالک ، تکویني او تشریعي حاکم دی؛ نو دانسانانو دسوکالۍ اوبهبود لپاره يې هر اړخيز شامل او کامل نظام رالېږلی دی، تر څو دانسانانو دجسماني، روحاني او ټولنیزو ښېګڼو انتظام وکړي. څرنګه چې داسلام مبارک دین پر اسلامي عقیده څرخيږي او اسلامې عقیده اسلامي دولت ګڼل کيږي؛ نو اسلام داسي یو بشپړ نظام دی چې دژوندانه ټولو برخو ته شاملېږي. اسلام هم دولت دی هم وطن، هم حکومت دی هم ملت، اخلاق، قوت او رحمت، اسلام عدالت، ثقافت، کلتور، قانون، علم، رښتيني عقیده او ښه عبادت دی. اسلامي حکومت د ګرده بشریت لپاره د الله تعالي د لورې ټاکل سوی دی، ګرده قوانین او لارښوونې يې الله تعالي نازل کړيدي[2].

اسلام یوائی رهبانې او تعبودي دین نه؛ بلکي دټول ژوند یو مکمل نظام دی. په اسلامې حکومت کي لوړ اقتدار دالله عزوجل سره دی او دقانون سرچینه يې قرانکریم او نبوی سنت دي. په اسلامې حکومت

---

[1] - Islamic Government.

[2]- زاهدي احمدزی، د اسلامي حکومت بنسټونه، ۱۳۸۷ل، مخ **۵**.

کي میراثي او استبدادي ظالمانه نظام هیڅ ځای نه لري؛ بلکې اسلامي حکومت یو شورايي حکومت دی. اسلامي حکومت د دې لپاره جوړېږي چې پرمځکه د الله تعالي عدل او انصاف ټینګ او د ظلم او زور مخه ونیسي. له همدې کبله اسلامي حکومت هدایتګر حکومت دی نه غارتګر ، د اسلام رسالت هدایت دي نه د مالیاتو جمع کول، اسلامي حکومت د بېوزلو او محرومو وګړو د ملاتړ او ساتنې حکومت دی، د اسې نه دی چې د شتمنو په چوپړ کې به وي؛ بلکې د دیکتاتورانو ، جابرانو او سرکښانو د اقتدار ګډې رانسکوروي. مسلمان ولسمشر او ټول دولتي چارواکي د خدای او ولس په وړاندې مسؤل او مکلف دي، چې د ځمکې پرمخ د خدای(ج) اسماني قانون نافذ کړي. دوی به تر هغه وخته د اطاعت وړ وي ،چې د الهي احکامو او قوانینو ته یې غاړه ایښودله او که کله هم د الهي اوامرو او احکامو په سرغړونه لاس پورې کړي، بیا یې په مسلمانانو اطاعت نشته او ولس حق لري چې د دولتي چارواکو سره محاسبه وکړي. اسلامي حکومت د نا مسلمانو لږکیو د حقوقو ساتونکي د مذهبي ازادیو د تامین او د اخلاقي ارزښتونو غوښتونکی دی. په خپله مځکه او بیرون د دولت او دښمن دواړو سره په جګړه او سوله کې اخلاقي معیارونه په نظر کې نیسي.

په پای کې ویلای سو ، چې اسلامي حکومت د الله تعالی رحمت دی ، اسلامي حکومت د مسلمانانو د ساتنې یو اځنې ذریعه ده، همدارنګه قرانکریم د مسلمانانو څخه غوښتنه کوي تر څو په فکري ، اخلاقي، تهذیبي، تمدني او سیاسي لحاظ سره د حق دین د برلاسي لپاره قرباني ورکړي. نو د دې لپاره چې د اسلامي حکومت په اړوند بشپړ معلومات

وړاندې کړو، لاندې سکالوګانو ته نغوته کوو:

**د اسلامي نظام په اړه د پوهانو اندونه:**

د اسلامي نظام په اړوند پوهانو بېلابېل آندونه وړاندې کړي، چې دهغې ډلې څخه پر ځینو یې رڼا اچوو:

**الف- لویدیځ پوهان:**

ځیني پوهان وایي چې اسلامي نظام د مشروطه پاچاهۍ یوه ځانګړې بڼه ده او ورته والی یې دادی، چې خلیفه هم د ټول عمر لپاره ټاکل کیږي او کوم ځانګړی او ټاکلی وخت نلري او په مشروطه پاچاهۍ کې هم پاچا د ټول عمر لپاره ټاکل کیږي. همدارنګه د ورته والي بل اړخ یې دادی، چې په مشروطه شاهي رژیم کې پارلمان موجود وي او په اسلامي نظام کې هم شورا موجوده وي نو په همدې اساس دغه دواړه نظامونه سره ورته والی لري.

ځیني لویدیځ پوهان وایي، چې اسلام دارستو کراسۍ یو ډول دی او یا اسلام همداسې یو نظام غواړي چې هلته قدرت د اشرافو یا ځیني مذهبي مشرانو سره وي لکه چې په ارستوکراسۍ کې قدرت د اشرافو او روحانیونو سره وي. ځیني نور پوهان وایي چې اسلامي حکومت یو ډول جمهوري حکومت دی؛ دا ځکه چې په جمهوري نظام کې جمهور رئیس د خلکو لخوا د ټاکنو په ترڅ کې ټاکل کیږي او په اسلامي نظام کې خلیفه د مسلمانانو بیعت ته اړتیا لري او بل دا چې په دواړو نظامونو کې شورا ځانګړې ارزښت لري او شتون یې اړین دی.

ځیني نور پوهان بیا وایي، چې اسلامي نظام کوم ځانګړې بڼه نلري او نه هم د حکومت د جوړښت لپاره کوم ځانګړې اصول لري؛ بلکې هر ډول حکومت چې پکښې حاکم سې همغه ډول حکومت د اسلامي

حکومت ډول دی. البته پورته آندونو ته که په دقیق ډول ځیر سو، ټول غیري ریښتني آندونه دي او واقیعت داسي نه دی؛ بلکي اسلام ځانته ځانګړی سیاسي نظام لري، چې پر ځو اکمنو اصولو او ټینګو قوانینو ولاړ دی، چې پدې اړه دلودیځ پوهانو د ډلي څخه "ډاکتر شاخت" داسي وایي ((اسلام یو نظام دی چې قانوني او سیاسي احکامو ته شامل دی په لنډ ډول ویلي سو چې اسلام دیو کامل هر اړخیز نظام نوم دی چې دین او حکومت دواړو ته شاملېږي)). استاد "مګدونالد" وایي ((دلته په مدینه کي د اسلامي حکومت دبنسټ ډبره کښیښودل سوه او د اسلامي قانون اصول او اساسات وټاکل سوه))، استاد "استروثمن" هم پدې اړه خپل نظر داسي څرګند وي، چې اسلام یو سیاسي او دیني حقیقت دی داځکه چې د اسلام بنسټ ایښودونکي محمد صلی الله علیه وسلم حکیم سیاسي لاربښود او پیغمبر دی.

**دوهم جز- اسلامي پوهان:**

د اسلامي حکومت د ټینګښت په اړوند شیخ الاسلام ابن تیمیه رح ویلي دي ((اسلامي حکومت او زعامت د دین یوه لویه فریضه ده او جوړښت یې واجب دی حقیقت دا دی چې له هغه نه پرته دین نسي قایمیدی)). علامه ابولشکور سالمي داسي ویلي دي(( خلافت او امارت د شریعت په اساس ثابت دی او جوړښت یې په خلکو واجب دی تر څو د خپل ځان لپاره یو شخص د حکمران په حیث وګماري چې دلیل یې قران، سنت او اجماع ده)).

علامه علاو الدین الحصکفي (رح) فرمایي ((د عادل حکمران ټاکل د دین مهمه فریضه ده همدا علت دی چې صحابو کرامو (رض) د امیر ټاکل د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د تدفین څخه تر مخه تر سره کړل)).

ابو الحسن الماوردي د اسلامي حکومت په اړه داسي وايي ((اسلامي حکومت یو ډول قیادت دی چې د دین په حفاظت او د دنیا په سیاست بنا دی)).

علامه شاه ولي الله محدث دهلوي لیکي ((تر قیامته پوري په مسلمانانو د اکفایي فرض دی چې داسي یو خلیفه وټاکي چې په هغه کی د خلافت شرایط موجود وي)).

نو د پورته آندونو څخه داسي جوتیږي، چې د اسلامي خلافت جوړښت او ټینګښت یو لازمي امر دی او د مسلمانانو دابرو، حیثیت او وقار د ساتلو لپاره یو اغني وسیله ګڼل کیږي. دا چې خلافت ځانته ځني اصول قواعد او ځانګړې بڼې او لاري لري نو په لاندې ډول پري رڼا اچوو:

**اسلامي خلافت**:

دیني سیاست پوه او ستر مفکر سید ابو الا علی مودودي فرمایي چې ((اسلامي خلافت دیني حکومت دی او یو ممتاز او ځانګړي نظام دی. او یا هم د دین او دنیاوي چارو سمبالول د شریعت په چوکاټ کي عبارت د خلافت څخه دی)) نو د موضوع د ښه روښانتیا لپاره د لاندې جزیاتو په ضمن کي خلافت تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی جز**: **د خلافت لغوی او اصطلاحي پیژندنه**:

د خلافت د کلمي مانا وروستی یا بیا راتلونکي نسل دی. په قرانکریم کي خلف په همدې مانا په (۲۲) ځایونو کي راغلي دی لکه:

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ. یاني الله (ج) پوهیږي په هغه څه چې د دوی

ځکه مخکې وه او هغه څه چې د دوي څخه وروسته راځي[1].

ځرنګه چې نائب د وخت او رتبې په لحاظ د منوب عنه یانې د چا چې نائب وي له هغه نه وروسته وي نو په همدې اساس د خلافت مانا هم نیابت دی او همدا رنګه نیابتي حکومت ته هم خلافت ویل کیږي.

اسلامي سیاست پوهانو د خلافت په اړه فني تعریفات کړي دي چې څو نموني یې په لنډ ډول یادوو:

امام ابولحسن الماوردي (رح) فرمایي ((اسلامي حکومت د دې لپاره جوړیږي، چې د اسلام د سپیڅلي دین د ساتنې او د دنیا د نظم او نسق په چلولو کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نیابت وکړي. ابن عابدین شامي حنفي (رح) وایي ((هغه عمومي ریاست چې په دیني او دنیا وي چارو کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په نیابت کار کوي عبارت د خلافت څخه دی)). شاه ولي الله دهلوي محدث فرمایي ((خلافت عبارت له هغه عمومي ریاست څخه دی چې عملاً د دین د اقامې په لور متوجه وي))[2].

د پورته تعریفاتو لنډیز دا دی، چې خلافت هغه عمومي ریاست دی چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په نیابت کې د دین کار کوي همدا رنګه د دیني او دنیاوي چارو سمبالول د شریعت په چوکاټ کې عبارت د خلافت څخه دی.

---

[1]- مولانا ګوهر الرحمن، ژباړن: قریب الرحمن، اسلامي سیاست، پیغام نشراتي مرکز، ۱۳۸۳ هـ ش کال. مخ ۹۰.

[2]- د مولانا ګوهر الرحمن همدا اثر، مخ ۹۳.

**دوهم جز- د خلافت حکم**: دا چې خلافت د مسلمانانو لپاره څه حکم لري تول پوهان لکه اهل سنت او اهل تشیع پدې متفق دي چې د مسلمانانو لپاره د اسلامي خلافت جوړول د فرض حکم لري، چې د فرضیت حکم یې په لاندې مبارک ایات ثابت دی

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا

ژباړه: ای مومنانو د الله او دهغه د رسول او دهغه د حاکمانو طاعت وکړي، چې له تاسو څخه د امر او واک خاوندان دي بیا که ستاسي ترمنځ په کومه چاره کي شخړه پیښه سي نو هغه د الله او رسول لوري ته محول کړي که تاسي په رښتیا سره په الله او د قیامت په ورځ ایمان لري همدا کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده[1].

امام ابن جریر د صحابه کرامو (رض) او تابعینو څخه د (اولي الامر) د تفسیر په اړه دوه بیانونه رانقل کړي دي. لومړی دا چې د مسلمانانو حکمرانان او امیران ترینه مقصد دی او دهغوي د اطاعت کولو حکم سوي دی، او دوهم دا چې اولی الامر فقهاء او دیني مشران دي او په اخر کي وایي غوره وینا دهغه خلکو ده چې وایي ددې څخه مقصد امرا او حکام دي[2].

نو په پایله کي ویلای سو، چې د خلافت جوړول فرض دی او مسلمانانو ته اړینه ده، چې د خپلو چارو د اجرا لپاره د اسي امیر وټاکي چې د خلافت او مشرتوب بشپړې ځانګړنې ولري.

1- د مولانا ګوهر الرحمن همدا اثر، مخ ۱۰۱.
2- د مولانا ګوهر الرحمن همدا اثر، مخ ۱۰۲.

**دریم جز: دخلافت په اړه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ویناوې:**

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دخلافت په اړه مخکې له مخکې وینا کړې ده، چې خلافت اسلامي حکومت دی او جوړول یې پر مسلمانانو لازمي دي. اسلامي حکومت ته په فقه او احادیثو کې بیلابیل نومونه ذکر سوي دي خو دټولو مفهوم یو دی چې خلافت ورته ویل کیږي او همدا یې نامتو نوم هم دی. پدې اړه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه زیات احادیث رانقل سوي دي چې په لاندې ډول یې رڼا اچوو:

خلافت دخدای (ج) رحمت دی: دخذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي(( چې ستاسي ترمنځ به نبوت تر هغه پورې روان وي تر څو چې خدای تعالی غوښتي وي او کله چې خدای وغواړي پای ته به یې ورسوي ددې وروسته به دنبوت په څیر خلافت رامنځته سي تر څو چې خدای غوښتي وي هغه به موجود وي او کله چې خدای وغواړ ي پای ته به یې ورسوي او بیا به چیچونکې پاچاهي جوړه سي او تر هغې به دوام وکړي چې خدای غوښتي وي او دا به هم پای ته ورسیږي او بیا به دظلم او تشدد شاهي دوره پیل سي او کله چې خدای وغواړي دا به هم پای ته ورسیږي او ددې نه وروسته به دنبوت په څیر خلافت رامنځته سي )) او بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چپ سو چې ددې حدیث مبارک څخه معلومیږ ي هغه حکومت چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په تګ لاره باندې نه ځي هغه به ظالم او غوځوونکي حکومت وي[1].

همدا راز د حضرت سفینه (رض) څخه روایت دی، چې رسوال الله (ص)

[1]- پوهندوی محمد شریف رحماني ، سیاست او اقتصاد د اسلام په رڼا کې، پیغام خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ هـ ش کال.مخ ۱۲۲-۱۲۳.

فرمايي (( زما په امت کي به د نبوت په څېر خلافت تر د پرشو کالو پورې وي، او له هغه وروسته به بادشاهي رامنځته سي ))[1]. همدرانګه خليفه به د قيامت په ورځ د عرش تر سيوري لاندې وي، نو په پايله کي د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وېناوو څخه د خلافت ثبوت ښه ترسترګو کيږي.

## درېيم بحث- د اسلامي خلافت بنسټونه:

اسلامي نظام د خپل جوړښت لپاره ځيني مهم اصول لري، چې د هغو پر بنسټ اسلامي حکومت رامنځته کيداى سي، چې په لاندې ډول پرې رڼا اچوو:

## لومړى اصل- الهي واکمني (پياوړى ځواک):

په سياسي اصطلاح کي پياوړى ځواک يا بشپړ واک ته حاکميت(واکمني) ويل کيږي، نو پر دې بنسټ هغه څوک چې اراده او خوښه يې د قانون سرچينه وي، د ځواک خاوند او لوى واکمن ورته ويل کيږي او د اسلامي حکومتي نظام او شرعي سياست لومړى اصل دادى، چې حاکميت او لوړ اقتدار د مخلوقاتو د څښتن يو لوى صفت دى او د قانون سرچينه انساني عقل نه، بلکې الهي وحې ده[2].

1- د محمد شريف رحماني، همدا اثر، مخ ۱۲۲.

2= د محمد شريف رحماني، همدا اثر، مخ ۱۹.

د الهي حاکمیت ثبوت د قرآن، سنتو، راشدینو خلفاوو د کړنلارې، د امت د اجماع، عقل او قیاس ټولو څخه کیږي، چې په لاندې ډول رڼا پر اچوو:

د حاکم ماخذ حکم دی، چې معنا یې پرېکړه او فرمان ورکول دي، همدرانګه هدف ورڅخه د امر او نهي قانون هم دی او شرعی حکم د الله جل جلاله هغه فرمان دی، چې د هغه په واسطه د بنده ګانو لپاره ځینې افعال واجب یا مستحب ګرځول سوي دي او ځینې نور پرې حرام دي، چې د غو الهي احکامو ته شرعی احکام او یا شریعت هم ویل کیږي، په قرآن کریم کي د الهي حاکمیت او قانون جوړونې په اړه ګڼ شمېر ایاتونه راغلي دي، لکه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ

ژباړه: ((او کوم خلک چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه فیصله و نه کړي، هم هغوی کافران دي)) په بل ځای کي فرمایي ((هغوی فاسقان دي)) او همدا رنګه ((هغوی ظالمان دي))[1]. نو که چېرې څوک د الله جل جلاله په حاکمیت او قانون ایمان و نه لري، هغه کافر دی او که څوک پرې ایمان هم ولري، ولې هغه نه عملي کوي، نو هغه عملي کافر دی، نو له دې ځایه معلومېږي، چې د خدای پاک حاکمیت او پاک قانون چې اسلامي دین دی، د انسان د فطرت او طبیعي غوښتنو سره سم هر اړخیز اصول، نه بدلېدونکي، تلپاتې او د ژوند د ټولو اړخونو لپاره لارښوونې او قوانین لري، چې د انسان غوره کړنو او ځانګړنو ته وده او پراختیا ورکوي، او په مادي او معنوي لحاظ انسان هغه لوري ته سوق کوي، چې د انسان د شان سره وړ او مناسب وي. نو پس انسان باید

[1]- د مولانا ګوهر الرحمن همغه اثر، مخ ۲۱۷-۲۲۰.

یوازینی خالق، مالک او مقتدر ذات ته سر ټیټ کړي او د هغه حاکمیت او قانون په ورین تندي ومني او جهالت او سرکښۍ څخه ځان وژغوري، ځکه د طاغوت څخه انکار د الله جل جلاله د رالېږلي قانون عملي کول او د هغه د حاکمیت منل دي، لکه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (البقرة: ٢٥٦)

ژباړه: ((او هر څوک چې له طاغوت څخه منکر سو، په خدای یې ایمان راووړ، نو په تحقیق سره یې د خدای په ټینګې رسۍ منګولې ولګولې، چې هېڅکله شلېدونکې نه ده او خدای په هر څه پوه او اورېدونکی دی))[1]. نو له دې ځای څخه څرګندېږي، چې د حکم ورکولو او قانون جوړولو واک او اختیار د طاغوت لپاره نه دی؛ بلکې اعلی حاکمیت یوازې د الله تعالي لپاره دی او د مسلمانانو د پاره اړین دی، چې د طاغوت د نظام له حاکمیت څخه ځان وژغوري؛ ځکه که چېرې موږ د (رب) کلیمې ته پاملرنه وکړو، نو په قرآن کریم کې یې درې ډوله معنا راغلې، چې مالک، پرودګار، حاکم او پادشاه ده او مفسرین د دې معناګانو سپړنه داډول کوي: (رب) چې بېلګه یې تر ټولو لوړه ده، حاکم او پادشاه دی او د هغه په سیادت او حاکمیت کې هېڅوک له هغه سره مشابه او برابر نه دی. د خپل مخلوق د حالت ښه کوونکی دی او ټول هغه نعمتونه یې چې دوی ته رالېږلي دي، د هغه مالک دی، چې په دې سره د الهي حاکمیت ثبوت په ښه توګه کېدای

[1]- ابو محمد ګل الرحمان حقاني، معراج الاسلام، مکتبه فاروقیه، محله جنګي، قصه خواني پېښور. مخ ۱۳۹-۱۴۰.

سي[1].

نو لنډه دا چې اسلامي حکومت د خپل واک او اقتدار خپل ژوند او فعال قوت، خپل مذهبي تشکيل او تنظيم او د خپلې ښېرازه بندۍ په لحاظ د لوی عرش د فرمان روا حکومت دی. چې د لوړ او برلاسي حکومت په څېر د الهي حکومت په نوم ياد سوی دی. نو بالاخره حکومت يو لوړ رتبه الهي حق دی او د نړۍ د انسانانو په راټولېدو سره يوه ډېره ښه ټولنه منځته راوړي. چې د خدای برلاسی حکومت په هغه باندې حکومت کوي، چې د غه حکومت الله عزوجل يو چاته ورکولی سي او بېرته يې ترې اخيستلای سي.

## دوهم اصل- شورا:

د اسلامي حکومتي نظام او د اسلامي سياست دوهم اصل شورا ده، يانې د اسلامي رياست مشر به هم د مسلمانانو د باوري وکيلانو د تشکيل سوې شورا لخوا ټاکل کيږي او له ټاکلو څخه وروسته به ټولې مهمې او ارزښتناکې پرېکړې هم د دې مجلس له تايئد نه وروسته صورت نيسي، مسلمان سياستپوهان شورايت ته اسلامي جمهوريت وايي چې د غلبې او اکثريت په معنا استعمال سوی دی. د اسلامي حکومت شورا ته د شورا قرآني اصطلاح استعمالېږي، چې په لغت کي د يو ښکلی او ښايسته شی رايستو ته چې په يوې محدودوده کي نغښتی وي شورا وايي[2].او په اصطلاح کي شورا د رايې ښکاره کول دي، لکه امام راغب اصفهاني په دې اړه وايي چې د شورا مفهوم د

---

[1]- د مولانا ګوهر الرحمن همغه اثر، مخ ۲۲۲-۲۳۰.

[2]- د مولانا ګوهر الرحمن همغه اثر، مخ ۲۷۳.

رایو حاصلول دي، همدارنګه د ټولنې په افرادو کي هر فرد د خپل علم او قابلیت سره سم خپله رایه او خیالات وړاندې کوي، نظریې یو له بل سره یو کیږي او په پایله کي یوه ښه پرېکړه منځته راځي، نو په دې اساس شورا د اسلامي حکومت اړینه ځانګړنه ده، بلکې شورا په خپله حکومت دی، همدارنګه شورا د خدای عزوجل لخوا د کایئناتو سردار حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته حکم دی، او دا حکم د نړۍ هغه عظیم الشان نړیوال قوم لپاره دی، چې د ستر عرش څښتن له لوري د خیرالملل خطاب ورکړل سوی دی، چې په دې سره د شورا قانونیت رامنځته کیږي. اسلامي قانونپوهانو په روښانه توګه هغه قانوني موخي چې د شورا څخه رامنځته کیږي داسې ښودلي دي:

الف: عامه رایه یا ټولپوښتنه په شورا کي ښه څرګند یږي.

ب: د شورا په پریکړو سره د عامه خلکو رایه ښه ډاډه کیږي.

ج: د شورا پریکړه د امت لپاره واجب التعمیل ده.

د: په شورا سره حکومت ته ډېرې ښې لارښوونې لاسته راځي.

هـ: په شورا سره د کړنو پایلي مثبتي وي.

لکه څرنګه چې په پورته ډول سره د شورا موخې ذکر سوې له دې څخه معلومیږي، چې شورا په اسلامي حکومت کي خورا ارزښت لري؛ ځکه کله چې یو پرمختللی حکومت د خپل ولس لپاره د امن، ټینګښت، نېکمرغۍ، برې او سوکاله ژوند غواړي، د شورا په پلي کولو سره د خپلو ستونزو د حل کولو او د خپلو فردي او ټولنیزو ګټو په لاسته راوړلو سره بري ته رسیږي، له همدې کبله د اسلام سپېڅلی نظام د شورا اصل ته زیات ارزښت ورکوي، د همدې ارزښت له مخې د قرآن کریم یو سورت د شورا په نوم نومول سوی دی. لکه چې الله ج فرمایي

((وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ)) ((د دوی سره په کارو کي مشوره کوه )). د پورته
ایت په اړه مفسرین استدلال کوي، چې د ((وشاورهم)) کلیمه د امر صیغه ده، د مشورې حکم ورکوي او دا حکم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ځکه ورکړل سوی چې امت ته د شورا یت سلسله امانت پاتې سي، تر څو راتلوونکي نسلونه د امریت په لاره ولاړ نسي او د شورایت په شرعی قاعده باندې ټېنګ او مستحکم اوسي، نو هر کله چې خدای تعالی خپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته د خپلو ملګرو سره د مشورې حکم ورکوي، نو د اسلامي حکومت د نورو حاکمانو په اړه شورا تر ټولو ستره فریضه او و جیبه تشکیلوي، قرآن کریم کي الله پاک د مشورې اخیستلو حکم د لمانځه د اقامې سره څنګ په څنګ ذکر کړی دی، دا ددې خبرې څرګند دلیل دی، چې د شورا حکم د لمانځه په شان الهي فریضه او غوڅ حکم دی.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ارامه او سوکاله ژوند د تر سره کولو لپاره درې شیان ډېر ارزښتناکه ښودلي دي، همدغه درې شیان د اسلامي ریاست او سالمې ټولنې بنسټیز شرطونه دي، چې هغه صالح قیادت، د غریبانو کفالت او شورایت دی.

په نبوي دور کي شورا خورا اوږد تاریخ لري او هم د اسلام د وخت څخه د شورا خورا مهم مثالونه موجود دي، چې د نمونې په ډول یې یوازې نومونه ذکر کوو، مثلاً د اذان شورا، د بدر کبرا شورا، د بدر د بندیانو شورا، د احد شورا، د خندق شورا، د افک شورا او د حدیبې شورا او داسې نور...

**درېیم اصل- عدالت:**

د اسلامي حکومت دریېم اصل عدالت، برابري او مساوات دی، دا ځکه چې د اسلام مبارک دین ټول بشریت د اهل په لحاظ په خپلو کې سره مساوي بولي، یوازې د نېک عمل په کولو سره د دوی تر منځ په فضیلت او بهترۍ قایل دي، همدا د اسلام مبارک دین دی، چې د برابرۍ او عدالت لحاظ یې ساتلی دی، د بشر هوا او هوس او نفسي غوښتنې ددې اجازه نه ورکوي، چې خلک له خپل قام، کورنۍ او ډلې سره برابر اوسي، ولې اسلام داسې اصول وضعه کړي، چې انصاف او برابري پکښې ساتل سوي وي، په همدې اساس حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي (( ټول خلک د ږمنځې د غاښونو په څېر دي او یوازېنی معیار چې دوی ته فضیلت ورپه برخه کوي، هغه د الهي احکامو او اوامرو تطبیق او له ګناهونو څخه ځان ساتل دي )) نور معیارونه لکه نژاد، جنیست، قام، جغرافیوي محیط، ټولنیز او اقتصادي حالت ته د تفوق په لحاظ په اسلام کي هېڅ ارزښت نه ستهه، همدا علت و، چې د اسلام د عدل نظام د اصحابو کرامو ترمنځ په اسلامي ټولنه کي حاکم وګرځېده، لکه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په خپله لومړۍ خطبه کي فرمایي (( ای خلکو ! زه ستاسې مشر وټاکل سوم، خو له تاسې څخه غوره نه یم، که چېرته مې په نېکۍ لاس پورې کړ، نو زما مرسته وکړئ او که مې بدو ته اقدام وکړ، نو زما مخه ونیسئ، چې ددې څخه خپله د عدل، انصاف او برابرۍ هغه واقعي شکل راترسترګو کیږي، چې عدل خپله د حق مطابق پرېکړې ته وا یي، یانې د عدل مانا داده، چې هر چاته خپل حق ورسېږي، لکه امام راغب اصفهاني داسې فرمایي (( په مکافاتو کي د برابرۍ لحاظ ساتل عدل دی، د نیکۍ بدله نېکي او د بدۍ بدله بدي ده، )) نو د اسلامي نظام د ټینګښت لپاره

عدالت یو ضروري او لازمي امر دی، دا ځکه چې د قانون پر وړاندې دمساوات تطبیق خلکو کې خوښي پیدا کوي او په خپلو حقوقو یې ډاډه ګرځوي او د خپل حکومت د بقا احساس یې ژوندی کیږي او دهغه څخه په دفاع کولو کې ځان نه سپموي، هغه دولتونه چې عدل او انصاف چلوي، د پاتې کیدو وړ دي، که څه هم کافر دي او هغه دولتونه چې په ظلم لاس پورې کوي، د پاینښت وړ نه دي، که څه هم ښایي مسلمان اوسي.

**څلورم اصل- طاعت** :

د یو اسلامي ټینګ دولت له موجودیت او د حاکمه نظام د عدل او انصاف او د وخت د اوامراؤ د طاعت او د حاکمانو او راعیت د شورایي نظام څخه پرته د یو سالم نظام رامنځته کیدل د امکان څخه وتلې خبره ده، اسلامي نصوص څرګندوي چې په مسلمانانو باندې د خپلو امیرانو او اسلامي اومراؤ طاعت او تابعداري فرض ده، لکه چې قرآن کریم فرمایي

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ

ژباړه: (( ای مؤمنانو ! د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او د هغو مشرانو اطاعت وکړئ چې د تاسې څخه دي )) په دې ایات کریمه کي د خدای تعالی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د اسلامي ټولنې د چارواکو لکه خلفاء، امیران، قائدین، والیان، قاضیان، ریئسان او هر هغه څوک چې هغوی ته د مسلمانانو کارونه سپارل کیږي، امر منل یې واجب دي، د قرآن کریم لارښوونې او هدایات عملي کول د خدای طاعت دی، نبوي سنت په عملي ژوندانه کي تطبیق او نبوي اومرو ته

غـاړه ایښـودل د حضـرت محمـد صلی الله علیه وسلم طاعـت دی، د اسـلامي دولت پر وړاندې د خلکو منښت او طاعت باید د خلکو په خوښه وي.
دا رنګه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمـایي (( هـر چـا چې زمـا اطاعـت وکړ، په یقیني ډول یې د الله اطاعـت وکـړ، او هـر چـا چې زمـا نافرمـاني وکړه، نو بې شکه د الله عزوجل نافرماني یې وکړه، او هر چا چې د امیـر اطاعت وکړ، په حقیقت کي زمـا اطاعـت یې وکړ او هـر چـا چې د امیـر څخه سـرغړونه وکـړه، نـو بې شـکه یـې لـه مانـه سـر غړولـی دی. )) ددې علت ځرګند دی، ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د الهي احکامو د تطبیق نمایـنده دی، د هغـه هـره خبـره الهـي پیغـام دی او د الهـي پیغـام څخـه اطاعـت د الله جل جلاله د امـر منلـو تـه غـاړه ایښـودل دي، همدا نګـه امیـر د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر ځای سیاسي مشـري کـوي، حضرت عمـر رضی الله تعالی عنه د اطاعـت او منلـو ارزښـت د خپلې وینـا پـه تـرڅ کـي داسې بیـان کـړی دی (( لا اسـلام بلاجماعـة ولا جماعـة بـلا امیـر ولاامیـر بـلا طاعة )) د اسلام وجود له یو جماعت څخه پرته او جماعت له امیر څخه بغیر او د امیر امارت له طاعت نه پرته نسي رامنځتـه کیدای، نـو ددې لپـاره چې پـه اسلامي امت کي استقرار امـن، سوکالي وي، اسـلامي شریعت له استثنایي تنګو حالاتو پرته تل مسـلمانان د امیـر اطاعـت تـه رابللي دي.

**پنځم اصل- وزارتونه:**

د اسلام د سیاسي نظام بل اصل وزارتونـه دي، د وزارتونـو جـوړول پـه هغه وخت کي د دولت رئیس ته روا دي، چې پخپله امـام د امـت د چـارو له کولو څخه د ډیرو الي له امله عـاجز وي. د وزیر مانـا ده، مرسـتندویه، ملاتړ کوونکی، د بار او پیټي وړونکی او پـه سیاسي اصطلاح کي یې

تعریف داسي دی (( وزیر هغه نارینه دی، چې د دولت رئیس یې د د ولتي چارو د پرمخ بیولو لپاره ټاکي تر څو دده د اوږو څخه بار سپک کړي او مرسته ورسره وکړي )).

د اسلامي سیاسي نظام د وزیر لپاره شرطونه:

لاندي شرطونه د اسلامي سیاسي نظام د وزیر لپاره ټاکل سوي دي:
۱- اسلام، ۲- بلوغ، ۳- عقل، ۴- نارینتوب، ۵- حریت، ۶- علم، ۷- عدالت، ۸- د دولت د اسرارو ساتونکی، ۹- اهلیت او کفائیت[1]. او یو شمېر نور هم ټاکل سوي دي.

## شپږم اصل- قضا:

د اسلامي حکومت شپږم اصل قضا ده، قضا یوه عربي کلمه ده، چې زیاتې ماناګانې لري، یوه مانا یې حکم کول دي. په اصطلاح کي فقهاوو قضا داسي تعریف کړیده (( قضا د شخړو او اختلافونو ختمولو ته ویل کیږي، یانې د شرعي حکم پر بنسټ د شخړو او اختلافونو پایته رسولو ته ویل کیږي ))[2].

[1] - زاهدي احمدزی، د اسلامي حکومت بنسټونه، مخ ۱۳۷-۱۳۸.

[2] - زاهدي احمدزی، د اسلامي حکومت بنسټونه، مخ ۱۴۰.

# امپریالیزم[1]

د امپریـالیزم اصـطلاح د لاتینــي ژبــي د (امپریـا[2]) څخـه، چــي د امپراتورۍ مانا ورکوي اخیستل سویده. نو امپریـالیزم هغه حکومت تـه ویـل کیـږي، چـي د لـوی امپراتـورۍ خاونـد وي یـانې پـر بـل هېـواد باندي د یوه هېواد هر ډول واکمني او برلاسي د امپریالیزم څخه عبارت دی. ځیني اسـیایي لیکوالان بیـا یـوازي پـر بـل هېـواد بانـدي سیاسـي واکمني امپریالیزم بولي. یانې کله چي یو هېواد د بل هېـواد سیاسـي واک د زور د لاري په لاس کي واخلي، د هغه هېواد سیاسي خپلواکي او ملي واکمنـي لـه منځه یوسي او هېـواد یـې د خپـل هېـواد یـوه برخـه وګڼـي دا ډول کړنــي تــه امپریــالیزم ویــل کیــږي؛ نــو هغــه سیاســت او تلنلاره، چي موخه یې د یوي لوی امپراتـورۍ جوړول وي او د هېـواد د پولو څخه بهر وګړي تر خپل مرکزي حکومت لاندي راولي امپریالیزم دی.

کله چي یو حکومت د یوي لوی امپراتورۍ جوړول پیل کړي او د خپلـو پولو هاخوا زیاتي مځکي، قبیلي او وګړي ترخپـل واک لانـدي راولـي، دا یوه منل سوي خبره ده، چي بهرني وګړي پر خپل ځان پردی واکمن نه

[1] Imperialism

[2] - Imperia

مني؛ نو ځکه د غبرګون لامل ګرځي او امپریالیستي سیاست د وګړو د زیاتو سربښندونو لامل ګرځي. پـر همدي بنسټ امپریالیسـتي سیاست په اخلاقي ډول نیمګړی پیژندل سوی دی.

د هر هېواد ښکاره یا پټ سیاسي، مالي، اقتصادي، فني او کلتوري هڅي په بل هېواد کي شوني ده، چي ځیني وختونه یوازي دوستانه اړخ ولري او ځیني وختونه بیا د پردي هېواد د کنټرولولو موخي هم پکښي نغښتي وي[1].

## د امپریالیزم ځانګړني:

یـو شـمېر پوهـان پـدي آنـد دي، چـي امپریـالیزم د سـرمایه داری وروستی پړاو دی، چي د نولسمي پیړی د پای او د شلمي پیړی د پیـل څخه راپیلیږي. لینن د امپریالیزم لپاره لاندي پنځـه ځـانګړني پـه ګوتـه کړي دي:

۱–د پـانګي او تولیـد تمرکز دي حد تـه رسـیږي، چـي انحصـارات پـه اقتصاد کي ټینګه برخه واخلي.

۲- د صنعتي پانګي ترڅنګ بانکي پانګي هم منځته راځي او د بانکي او صنعتي پانګو د یوالي له امله د مالي اولیګارشي منځته راځي.

۳- د صنعتي توکو او مـوادو د صـادرولو ترڅنـګ د پـانګي صـادرولو ته زیات ارزښت ورکول کیږي.

۴- د پانګوالي انحصاراتو ترمنځ د نړۍ مځکي ویشل کیږي.

---

[1]- دکتر بهاوالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، انتشارات اقبال ۱۳۴۴ل، ص۲۸

**۵**- پانگوا اله هېوادونه د نړۍ د مځکو ویش پای ته رسوي او بیرته یې د سرڅخه پیلوي[1].

### د امپریالیزم اندونه:

د امپریالیزم په اړه د بېلابېلو پوهانو لخوا آندونه او نظریات وړکړل سوي دي، چې په ټولیز ډول یې پر پخوانیو او اوسنیو باندي ویشو:

### الف- پخواني اندونه:

امپریالیزم پخوانۍ سیاسي مکتب دی او په اړه یې زیات آندونه شتون لري. یوه ډله خلک امپریالیزم د انسان د بې پایه حرص پایله بولي؛ ځکه چي دا د انسان په خټه کي اخښل سوي دي، چي خپل واک پراخه او پرنورو باندي خپله اراده وتپي. دا ډله پوهان پدي آند دي، چي انسان باید پر نورو انسانانو باندي خپل واک وچلوي او د خپلي واکمنۍ لمنه پراخه کړي. بله ډله پوهان، چي د هندوستان پخواني لیکوالان هم پکښي شامل دي د امپریالیزم بریالیتوب د فوځي سیاست پایله ګڼي. دوی پدي آند دي، چي سیال هېوادونه باید د فوځي او نظامي سیاست د لاري خپل سیال د ځان تابع کړي؛ ځکه چي سیالان او د ښمنان یوازي د زور او ټکولو د لاري سولي ته غاړه ایږدي. دا ډول عقایدو د پارسیانو (هغه خلک، چي د پارس خلیج په شاوخوا کي یې ژوند کاوه) په منځ کي هم شتون درلود.

د ارسطو په آند یرغلیزه (تیری کونکي) جګړه باید یوازي د هغو وګړو پر وړاندي وسي، چي د غلامۍ لپاره پیدا سوي وي. یاني ټولواک

[1]- امیر نیک ائین، واژه های سیاسي و اجتماعي، ص ۱۹-۲۰

(امپراتور) یوازي باید غلامان د فوځ او زور د لاري ترخپل واک لاندي راولي. ارسطو بیله دي حالت څخه امپراتوري نه خوښول؛ ځکه چي د ده په آند امپراتوري د ښاریانو اخلاق فاسدوي. دی زیاتوي، چي امپراتوري د امپراتور هېواد د خپلواکۍ لپاره هم خطر دی؛ ځکه کله، چي یو دولت د بل دولت د وګړو پر وړاندي ظلم او استبداد روا وګڼي نو د خپلو خلکو لپاره هم سوله او امنیت نسي ساتلی.
د لرغوني یونان د امپراتورۍ په وروستیو کي فیلسوفانو د نړیوالي ټولني ارمان د برابرۍ پر بنسټ منځته راوړ او وروسته یې په بشر دوستۍ باندي خپل ارمان بدل کړ. خو دا مفهوم هیڅکله د لرغوني یونان په سیاسي ډګر کي پلي نه کړای سو، بلکي وروسته د لرغوني روم د امپراتورۍ په واسطه د عمل ډګر ته راووتی.

**ب- اوسني اندونه:**

د امپریالیزم د تاریخ په اوږدو کي د امپریالیزم په بڼي او منطق کي داسي آندونه منځته نه دي راغلي، چي پخواني آندونو ته بدلون ورکړي، بلکي نوو پوهانو پر پخوانیو آندونو د شرایطو د غوښتني او جوړراتلني پربنسټ نوې معلومات ور ډیر کړي دي. د امپریالیزم په اړه د نوو پوهانو آندونه په لاندي برخو کي ډلبندي کولای سو:

**۱. اقتصادي اندونه:**

د امپریالیزم په اړه د اقتصادي آندونو په برخه کي لومړی پوښتنه داسي منخته راځي، چي آیا امپریالیزم زیات لګښت کونکی دی؟ هغه څوک، چي دي پوښتني ته مثبت ځواب وایې هغه پدي آند دي، چي

ټول انساني او مادي سرچینې د پانګې اچونې له برکته منځته راغلې دي او پانګه اچونه بیا د امپریالیزم له برکته پیاوړې سویده. خو ددې مخالفه ډله بیا پدې آند دي، چې امپریالیزم د یوې کوچنۍ ډلې په ګټه کار کوي خو په ټولیز ډول د ولس ګټې نسي خوندي کولای. که څه هم د امپریالیزم ملاتړ کونکې دا سیاسي مکتب په اقتصادي برخه کې هم ګټور ګڼي خو په ریښتني توګه امپریالیزم په اقتصادي برخه کې انحصاري واکمن دی، انحصارات په هره برخه کې د دولت سیاست او اقتصاد په خپله غېږه کې نېسي او خپلواکې سیالۍ له منځه وړي. پر اقتصادي ژوند باندې د انحصاراتو واکمنتوب د سیاسي ځواک د زیاتیدو سره مل زیاتیدونکی دی، ترڅو دولتي دستګاه ترخپل واک لاندې راولي او د خپلو ګټو په موخه یې وکاروي. د انحصاراتو پدې لړ کې د انحصاري امپراتورانو واک د ټولنیز ژوند هرې برخې ته ور اوړي.

**۲. د انسان او انساني ډلو د پیدایښت په اړه اندونه**:

یو شمېر سیاسي شخصیتونه لکه (ماکیاولي)، (سرفرانسس بیکن) او (اودلف هټلر) د بیلابیلو دلایلو په وړاندې کولو سره دې پایلې ته رسیدلي دي، چې امپریالیزم د وګړو د طبیعي خوځښت او ژوندون لپاره اړین دی، طبیعت انسانان ټول یو ډول نه دي پیدا کړي؛ نو ځکه هغه څوک، چې تر نورو وګړو د غوره ځانګړنو لرونکی دی د هغه امر منل باید وسي. خو منطقیان بیا دا ډول عقاید او دلایل نه مني او وایې، چې دا غیري منطقي دلایل دي ددې د ثبوت لپاره داسې کوم ځانګړی دلیل شتون نلري.

### ۳. د ستراتیژۍ او امنیت په اړه اندونه:

د دي آند پلویان پدي باور دي، چي د ولسونو ترمنځ د نښلونکو کرښو کنټرول اړین دی؛ ښایي امنیتي دلایل او یا د پردیو هېوادونو لاسوهني دیته زمینه برابره کړي، چي ولسونه د ستراتیژیکو چارو او د دولتونو ترمنځ د پولو د ټاکلو څخه بي برخي سي. هغه ځوک چي د امپریالیزم دا موخي او ارزښت نه مني هغه پدي آند دي، چي امنیت پدي ډول لاسته نه راځي، بلکي دا د نا امنیو لامل ګرځي، دوی دا دلیل وړاندي کوي؛ کله چي د یوه هېواد وګړي د خپلو پولو څخه بهر پر نورو وګړو باندي ځارنه کوي، نو لومړی د هغو خلکو سره په ټکر کي راځي او وروسته د نا امنیو لامل ګرځي. د امپریالیزم د امنیت په اړوند بحث کي دا هم ویل کیږي، کله چي پر ولسونو باندي تیری وسي نو ولسونه خپل ارزښت او حیثیت په نظر کي نیسي او پر وړاندي یې کلکه مبارزه کوي.

### ۴. د اخلاقي بنسټونو په اړه اندونه:

د دي آند پربنسټ امپریالیزم داسي وسیله ده، چي د ظالمو او زورورو حکومتونو څخه د ولسونو خپلواکي لاسته راوړي او دا د دي لامل ګرځي، چي پر یوي سیمي غوره پرمختللی او عصري تمدن وغوړیږي. خو د دي آند مخالفه ډله پوهان بیا وایي، چي دا تش په نامه تبلیغات دي ترڅو امپریالیستان خپلي تلنلاري ته مشروعیت ورکړي، د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي او د اخپله یو ډول امپریالیستي سیاست دی[1].

---

[1]- فرشید اقبال، مکتب های سیاسي، تهران: چاپ سوم ۱۳۸۷ ، ص ۷۳- ۷۲

**د امپریالیزم مخینه:**

امپریالیزم د لرغوني یونان له وخته خپل تاریخ را پیلوي او د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې یې بیلابیلې بڼې د ځان کړي دي. د تاریخ په هر پړاو کې یې دا هڅه کړېده، چې خپله پاملرنه او څارنه پر نورو باندې جاري وساتي.

په زړې نړۍ کې امپریالیزم خپل ځان د ډیرو غټو امپراتوریو په بڼه ځرګند کړی دی او تل یې د یو داسې چا تلنلاره غوره کړېده، چې ځان یې د یو مذهب یا تمدن استازی ګڼلی او نور خلک یې تر خپل واک لاندې راوستي دي، چې غوره بیلګه یې د لرغوني روم د مقدوني سکندر (۳۳۰ مخکې ترزیږدیز) لویه امپراتوري وه.

په منځنیو پیړیو کې د اروپا امپریالیزم(۱۴۰۰-۱۷۵۰ز) هم د یادوني وړ دی، چې یو پراخه غځیدلی ښکیلاک یې رامنځته کړ. پدې وخت کې ددې پر ځای، چې یو هېواد نړۍ راغونډه کړي، بلکې څو هېوادونو لاسونه سره ورکړه او یو ګډ سیاسي نفوذ یې د اسیا پر سویل او سویل لویدیځو سیمو او نوې نړۍ باندې خپور کړ. د امپریالیزم مکتب د مرکانتیالیزم ددوکتورینو پرمټ چمتو سو هڅه داسې چې هرې امپراتورۍ هڅه کول، چې د خپلو ښکیلاکونو سوداګري په خپل لاس کې ونیسي او ګټې یې خپلو جیبونو ته واچوي.

د (۱۹ز) پیړۍ په منځ کې د امپریالیزم د خپلواکې سوداګرۍ (فري ټریډ[1]) بڼې سر ښکاره کړ، پدې وخت کې د امپریالیزم دې بڼې رواج وموندی که څه هم مرکانتیالیزم ورسره مخالفت ځرګند کړ. د امپریالیزم د خپلواکې سوداګرۍ بڼې ډیر لنډ ژوند وکړ. څنګه چې (۱۹ز) پیړۍ

[1] - Free Trade

پـای تـه ورسـیـدل سمد سـتي اروپـایي هېوادونـو پـر زیـاتو اسـیایي او اروپایي هېوادونو خپـل د زبیښـاک لـړۍ پیـل کـړه، پـه اروپـا کـي ډیـرو هېوادونـو پــه ځــانګړي ډول انګلســتان د ځــانګړو ډیپلومــاتیکو او اقتصادي بنسټونو پـر بنسـټ خپـل د واک پـولي پـه غیـري قـانوني ډول پراخه کړي او پـر خپلو ښکیلاکي هېوادونو باندي پـه غیـري قـانوني ډول خپل امرونه ومنل.

د دوهمـي نړیـوالي جګـړي څخـه وروسـته د امپراتوریـو لمـن راټولـه سول، خو یوه نوې اقتصادي امپراتوري راڅرګنده سول، چي ښه بیلګـه یې په اوسني وخت کي پر دریمي نړۍ د امریکا د نفوذ خپریدل دي.

له تاریخي اړخه امپریالیزم د لاندي لاملونو پربنسټ سر راپورته کړی دی:

## الف- اقتصادي خوځښت:

امپریالیزم د اقتصادي اړتیاوو پربنسټ زیات غورځنګونه کړي دي، د اقتصادي غورځنګ غوښتنه داوه، چي نور هېوادونه تر خپل واک او کنټرول لاندي راولي ترڅو خام مواد لاسته راوړي، د خپلو سوداګریزو توکو لپاره اقتصادي بازار پیدا کړي او خپـل اقتصـاد پیـاوړی کـړي. د امپریـالیزم او کاپیټـالیزم زیـات اقتصـادي بنســټونه د(مـارکس) پـر آندونو ولاړ دي.

## ب- سیاسي خوځښت:

په ناچارۍ سره ځیني سیاسي فشـارونه د امپریـالیزم د خپریـدو لامـل سویدي، ترڅو د نورو هېوادونو سره د سیالۍ پـر بنسـټ خپـل ځـواک، حیثیت، امنیت او ډیپلوماټیکي ګټي پراخه کړي. د همدي غوښتنو پـر

بنسټ په (۱۹ز) پیړۍ کي فرانسي غوښتل، چي په نړیوا له کچه خپل شتون او اغیز وساتي.

## ج- فکري خوځښت:

د امپریالیزم د خپراوي دریم لامل فکري خوځښت دی د دي آند پر بنسټ د یوه هېواد سیاسي، کلتوري او مذهبي واک هم کیدای سي، چي د امپریالیزم مفکوره را پیدا کړي. یو وخت د لویې بریټانیا یو امپراتور پدي موخه امپراتوري جوړول غوښتل، چي دا د سپین پوستو دنده ده، چي د نړۍ په وروسته پاته خلکو کي تمدن وغوړوي. همدارنګه د هټلر تر مشرۍ لاندي د جرمني حکومت هم پدي موخه نړۍ نیول، چي د جرمني نژاد او کلتور تر نورو غوره والی لري. د امریکا دا هیله، چي( نړۍ خپلوا که وساتي)، د پخوانۍ روسي دا هیله، چي د(لوید یځي اروپا او دریمي نړۍ خلک باید خپلواکي ترلاسه کړي) دا ټولي هیلي د امپریالیزم د فکري خوځښت نموني دي.

## د- غبرګوني خوځښت:

ځیني وخت امپریالیزم پداسي بڼه سره منځته راځي، چي زبر ځواک هېوادونه نه غواړي، چي د واک لمن پراخه کړي، خو په سیمه کي کله، چي د کمزورو هېوادونو سیاسي حالات ګډوډ سي؛ نو دا زبر ځواک هېوادونه د سیمي د ټیکاو لپاره کمزوري هېوادونه تر خپل واک لاندي راولي. په (۱۹ز) پیړۍ کي د هندوستان د هېواد د انګلستان لخو نیول

او د منځنۍ اسیا هېوادونه د روسي لخوا نیول د غبرګوني امپـریـالیزم پخوانۍ بیلګې دي[1].

[1] - English Wikipedia

# انارشیزم[1]

د آرش ویې (لغت) په یوناني ژبه کې د حکومت په مانا دی، انارشي بیا د آرش سرچپه مانا لري او د بې حکومتۍ (بې مشره) په مانا ده یا د انارشیستانو په آند د ټولنیزو بدبختیو څخه د خلاصون په مانا ده؛ ځکه چې د انارشیزم په مسلک کې حکومت د ټولنیزو بدبختیو سرچینه ګڼل کیږي او هر سیاسي واک په ټولنه کې د ظلم او استبداد لامل ګرځي؛ نو ځکه د دوی په آند د حکومت او دولت شتون اړین ندی. د دې سیاسي مکتب ملاتړي پدې آند دي، چې ټولنه باید بیله حکومته او قانون څخه خپلې چارې پر مخ بوزي. همدارنګه وګړې کولای سي، چې د ټولنیزو تړونونو پر مټ ښه منظم ژوند ولري او کله چې په یوه ټولنه کې ټولنیز تړونونه پلي سي نو پولیس، زندان، محکمې او ځواک ته اړتیا نه پیدا کیږي. د دوی په ګروهه (عقیده) خلک کولای سي، چې لاسونه سره ورکړي او کارځایونه، کرهڼه، پلورنځایونه او نور اړین مرکزونه په خپلواکه توګه او په پوره همږغۍ سره اداره کړي.

انارشیستان حکومت یوازې د بې عدالتۍ د له منځه وړلو لپاره څه ناڅه اړین ګڼي، نه د ټولنیز نظم د راوستلو لپاره. د دوی په آند دولت او سیاسي واک د انسان شخصیت تر پښو لاندې کوي او د بشري ودې

---

[1] - Anarchism

خنډ ګرځي. دوی پدې تمه دي، چې ټول هغه ټولنیز ترونونه، چې د سیاسي واک لپاره لاسلیک سوي وي له منځه ولاړ سي او بیله دولتي ملاتړ څخه عادل او برابر ټولنیز ترونونه منځته راسي، چې ټول وګړي یې په خپله خوښه ومني[1].

د انارشیستانو په آند انسان ښه دی او په ذاتي ډول ښه پیدا سوی دی. کیدای سي، چې بیله حکومته پر هغه باندې باور وسي یالږ تر لږه بیله حکومته انسان د ډیرو لږو بدو کارونو لامل سي. انارشیستان صنعتي ټولنه د وګړو د ټولنیز ژوند د نظم لپاره اغیزناکه ګڼي، دوی وایې (صنعتي ټولنه کولای سي، چې د وګړو ترمنځ د ترونونو پر مټ ټولنه اداره کړي، تر څو وګړي په خپلواکه توګه د سیمي، ناحیې، تخصص او یابلې رشتې پر بنسټ سره یو سي). په همدې ډول انارشیستان د ټولني بنسټیز بدلون غواړي. دوی پدې آند دي، چې مالي او پوړیز امتیازات باید د وګړو ترمنځ لغوه سي تر څو هغو توپیرونو ته لاره هواره سي، چې د شخصیت پر بنسټ منځته راځي او په خپله خوښه د خلکو په منځونو کې منل کیږي.

که څه هم زیات انارشیستان ځانونه سوسالیستان ګڼي، خو د حکومت، مقننې قوې یا په ټولیز ډول د سیاسي واک په نه منلو سره د لیبرالانو، سوسالیستانو او نورو سره توپیر لري. انارشیستان ډیر هڅاند دي او هڅه کوي، چې د خپلې عقیدې د خپراوي لپاره د تبلیغاتو، بیانیو، مظاهرو، اعتصابونو او نورو سیاسي لارو او هڅو څخه ګټه واخلي.

---

[1]- دکتر بهاوالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، انتشارات اقبال ۱۳۴۴ل، ص ۳۳

همدارنګه زیات وخت انارشیستان ځانونه انقلابیان هم بولي، خو د دوی په منځونو کي د تلنلارو د پلي کولو پر سر باندي یو شمېر بنسټیز ټکرونه شتون لري. یانې یو شمېر انارشیستان سوله غوښتونکې دي، دا ډله کسان غواړي، چي خپلي هڅي د تشویق، سوله ییزو لارو چارو او بیله تندلاري غبرګون څخه پلي کړي. خو بله ډله بیا غواړي، چي خپلي هڅي د فوځي عملیاتو او تندلارۍ په بڼه پلي کړي.

یوه ډله انارشیستان پدي آند دي، چي په ټولنه کي باید د کارګرو ټولني رامنځته سي، چي دي ډلي ته (سنډیکایې) انارشیستان ویل کیږي، د دوی په آند د کارګرو دا ډلي کولای سي، چي بیله دولته په ټولنه کي نظم راولي او د یوي داسي ټولني لپاره مبارزه وکړي، چي په صنفي ډول د کارګرو لخوا اداره کیږي. همدارنګه کارګر باید د ټولو تولیدي بنسټونو چوپړ پر خپله غاړه واخلي، تر څو د شخصي مالکانو د لاسه ووځي او کارګران باید پخپله تولیدي صنعتي موسسي اداره کړي. په هرکلي او ښارکښي باید د سنډیکایانو د استازو جرګي جوړې سي ترڅو د سیمي د سیاست پر بنسټ اقتصادي همږغي رامنځته سي.

انارشیستان په هر ډول ټولنیزو شرایطو کي د دولت شتون او ګوندي مشرتوب نه مني، سره د دي چي د دولت شتون نه مني د هر ډول ټولنیز او دیني سازمان په خلاف هم دي. دوی د دي دلیل پر بنسټ، چي انسانان خپلواک دي؛ نو د هر ډول غورځنګ، یوالي او د ملي موخو لپاره د هڅو پر وړاندي دریږي او تر ډلیز کار وګړیز(انفرادي) کار ته غوره والی ورکوي.

انارشیستان سره د دي، چي دولت او سیاسي واک نه مني خو بیا هم بي نظمه ټولنه نه غواړي. دوی د داسي نظام په لټه کي دي، چي د وګړو

خپلواکي وساتي او په ټولنه کي نظم راولي. د دوی په آند انسان په بنسټیز او ذاتي ډول خپلواک پیدا سوی دی او باید په یوي داسي بې قانونه او بې دولته ټولنه کي ژوند وکړي، چي خپلي خپلواکۍ وساتي. سربېره پردي وګړي په خپلواکه ټولنه کي اقتصادي پرمختګ هم کولای سي. همدارنګه هغه څه چي نن یې دولت په زور سرته رسوي هغه وګړي کولای سي، چي په خپله خوښه (په داوطلبانه) توګه سرته ورسوي. انارشیستان ځیني فرعي څانګي هم لري خو ټوله د دولت په نه شتون سره همږغي دي. دوی د هر ډول دولت په خلاف دي او ډیموکراسي د اکثریت استبداد ګڼي[1].

**د انارشیزم تاریخ**:

د انارشیزم د مکتب تاریخي ریښي د یونان نامتو فیلسوف (زنو) ته رسیږي؛ ځکه نو دا مکتب د لرغونو سیاسي مکتبونو څخه ګڼلای سو او په لومړي ځل په لرغوني یونان کي د دي مکتب آندونه څرګند سوي دي. انارشیزم په لومړیو کي د لرغوني یونان د فلسفي او سیاسي مکتبونو څخه ګڼل کیدی، خو د مسیحت د پیل سره سم د انارشیزم آندونه او عقاید په هغه کي هم وبریښیدل. همدارنګه په معاصر وخت کي د انګلستان په (پروټستانټ) مذهب کي یې هم لاره پیدا کړه او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د دي مذهب په کوچنیو ډلګیو کي د دي سیاسي مکتب آندونه او تلنلاري خپري سولي.

په (۱۸ز) پیړۍ کي د انارشیزم ګروهه (عقیده) د دو فرانسوي لیکوالانو په واسطه، چي (رابله) او (فنلون) نومیدل وسپړل او بیان سول او رون آندو ته وروپیژندل سول. د انارشیزم تر ټولو مهم او

[1]- فرشید اقبال، مکتب های سیاسي، ۱۳۸۷ش، ص ۵۹-۶۰

لومړنی سپړنه (تفسير) يوه انګريزي ليکوال (ويليام ګدوين) په خپل کتاب (د سياسي عدالت د آرونو په اړه څېړنه) کي وړاندي کړه. که څه هم ګدوين پدي کتاب کي د انارشيزم اصطلاح نده کارولي، خو د بې دولته ټولني څخه، چي د کوچنيو ټولنيزو جوړښتونو څخه جوړه سوي وي ملاتړ يې کړی، چي پدي ټولنو کي به مال د هغه چا په برخه کيږي، چي اړتيا ورته لري. د دي سياسي سپړني اغيزناکه ټکی داو، چي پر کارګرو او ګډ کار باندي يې زيات ټينګار کړی دی[1].

د انارشيزم د سياسي مسلک يو بل ستر مخکښ، چي د نوي انارشيزم د پلار په نامه هم يادېږي (جوزوف پروډن) دی. د نولسمي پيړۍ د انارشيزم دوره د پروډن ترلارښونو لاندي په ساده بڼه څرګنده سول. دی د انارشيزم د پلار په نامه هم وپيژندل سو. د فرانسي په هغه سوسياليستي خوځښت کي چي په (۱۸۴۸ز) کال کي پيښ سو ده ډيري افراطي خپروني او هڅي د خلکو د (اواز) په نامه وکړي.

د (۱۹ز) پيړۍ په پای او د (۲۰ز) پيړۍ په سرکښي زيات شمېر افراطي انارشيستي عقايد پيدا سول او د واکمنانو او جنرالانو د پټو وژنو (ترور) تلنلاره يې ومنل، له همدي کبله وروسته د اولس په ژبه دغه مسلک ته د اړودوړ او وژنو مسلک وويل سو. خو په حقيقت کي دغه سياسي تلنلاره سرکښه او بي فلسفي تلنلاره نده.

انارشيزم له سياسي او اقتصادي اړخه پر (سنډيکاليزم) باندي هم اغيزښيندلی دی، چي يو شمېر څېړونکي ورته (انارکو سنډيکاليزم) وايي. د ځينو ليکوالانو په آند د روسي نامتو شاعر (تولستوي) هم د انارشيزم تلنلاره خوښول، خو د انارشيزم د تندلارۍ سره يې نه لګيدل.

---

[1]- فرشيد اقبال، مکتب های سياسي، ۱۳۸۷ش، ص۲۱

خو سنډیکالیزم بیا د انارشیزم تندلاري منلې وه او د خپلي پالیسۍ یوه برخه یې ګرځولې وه.
د انګلستان نامتو فیلسوف (هارولډ لاسکي) په خپل پلورالیزم فرضیه کي د اصلاحاتو غوښتونکی و. ده په ټولیز ډول د فردیت سپړنه وکړه او د ده دا سپړنه په مشروطه انارشیزم باندي وپیژندل سول.
د انارشیزم په تاریخ کي څو واره انارشیستان او کمونیستان په انقلابونو او کورنیو جګړو کي سره یو سوي دي، خو په پای کي یې په د ښمنۍ سره هغه یوالې ته د پای ټکی ایښی دی. د بیلګي په توګه په (۱۹۱۸ز) کال کي په مسکو کي د (تروتسکي) په امر باندي د انارشیستانو ټول امرورکونکي مرکزونه تر یرغل لاندي راغله او د انارشیستانو ټولي هڅي یې له منځه یوړلې. په (۱۹۳۶-۳۹ز) کلونو کي د اسپانیا په کورنیو جګړو کي انارشیستان او کمونیستان دواړه د ښورښیانو پر وړاندي د (جنرال فرانسیسکو فرانکو) په ملاتړ یوموټې سول او د اسپانیا د حکومت څخه یې ملاتړ وکړ. خو په پای کي د دوی په منځونو کي د ښمنیو سر راپورته کړ او د انارشیستانو په ټکولو باندي دا یوالی هم پای ته ورسیدی او د دي یوالي نه شتون د فرانکو د بریالیتوب لوی لامل وګرځیدی.
که څه هم انارشیزم د سیاسي خوځښت له مخي د شلمي پیړۍ په نیمایې کي د پښو څخه ولویدی، خو د هغه معنوي اغیز په غیري مستقیم ډول سره ادامه پیدا کړه. د (۱۹۵۰ز) کلونو په پای کي انارشیستانو د خپلو عقایدو د خپراوي لپاره د انساني هڅو ټولي

برخي تر فشار لاندي راوستلي، چي په همدي وخت کي د پلوراليزم د پلويانو سره يې سياسي پيوستون پيدا کړ[1].

[1]- دکتر بهاالدين پازرگا، مکتب هاى سياسي، ۱۳۴۴ش، ص ۳۳-۳۴.

# انټرنیشنلیزم[1]

انټرنیشنلیزم هغه سیاسي فرضیه او تلنلاره ده، چې غواړي د نړۍ د نورو ولسونو په منځ کې د خپل ولس ګټې وساتي، دوی د هغو وګړو په خلاف دي، چې د نړۍ د ولسونو ترمنځ پولې له منځه وړي او نړۍ په کلي باندې بدلوي[2].

د انټر نیشنلیزم سیاسي تلنلاره د نیشنلیزم پر وړاندې دریځ لري او د نړیوال دولت د جوړیدو پر آندونو باندې ولاړه ده. د دې سیاسي مکتب پر بنسټ ولسونه باید په نړیواله کچه سره همغاړې سي ترڅو د ټول بشریت ښیګڼې او سوکالی وساتل سي.

انټرنیشنلستان پدې آند دي، چې د یو لوی نړیوال دولت باید جوړ سي او د نړۍ ټول کوچني دولتونه به بیله دي، چې حقوقي شخصیت او یا هم خپلواکۍ یې ترپښو لاندې سي، د دې لوی دولت غړیتوب ولري او دا دولت به پر ټولو دولتونو باندې واکمن وي. پدې وروستیو پیړیو کې د داډول دولت د جوړیدو لپاره زیات وړاندیزونه سوي دي، چې غوره بیلګه یې د ملګرو ملتونو سازمان او هم د ناټو تړون دی.

---

[1] - Internationalism.

[2] - امیر مسعود خدایار، فرهنګ واژه های مکتبهای (سیاسي، فرهنګي، مذهبي، فلسفي، هنري) انتشارات: محمد حسن/کابل، ۱۳۲۷ش، ص **۵۷**.

انټرنیشنلیستان د نړیوال دولت د جوړیدو لپاره داسي دلیل وړاندي کوي، چي ننۍ نړۍ په یوه کلي باندي بدلیدونکي ده او د لیرډ د زیاتو وسایلو د شتون له امله د نړۍ ولسونه ډیر سره نیژدي سویدي، له همدي کبله باید د ټولو انسانانو لپاره هم یو نړیوال دولت شتون ولري. خو د انټرنیشنلیستانو ددي ارمان په مخکي پراته خنډونه بیا تر اوسه ډیر پیاوړي دي، دا خنډونه عبارت دي له: په ولسونو کي د ملي ګټو د پیاوړتیا روحیه، سیاسي او اقتصادي ګټي او نظامي غوښتني، د نړۍ د ولسونو د پرمختګ د تناسب نشتوالی، یاني د نړۍ یو شمېر ولسونه زیات پرمختللي دي او ځیني نور یې بیا په علمي ،فني، اقتصادي او صنعتي برخه کي ډیر شاته پاته دي او همدارنګه په نړیواله کچه د بیلابیلو سیاسي مکتبونو او فلسفو شتون لکه د ایټالیا ، جرمني او اسپانیا فاشیزم، د امریکا او انګلستان ډیموکراسي، دروسي کمونیزم... او داسي نور[1].

## د کارګرانو انټرنیشنلیزم:

د کارګرانو انټرنیشنلیزم د (۱۹ز) پیړۍ په پای او د (۲۰ز) پیړۍ په لومړیو کي رامنځته سو. دا انټرنیشنلیزم په نړیواله کچه د کارګرانو لخوا د مارکسیزم پر بنسټ راپورته سو. دا انټر نیشنلیزم په درو بیلابیلو پړاونو کي رامنځته سو ، چي په لاندي ډول یې هر پړاو په لنډ ډول لولو:

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا ، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴کال، ص ۳۵

**الف- لومړی پړاو:**

د کارګرانو لومړی انټر نیشنلیزم د کارل مارکس لخوا په (۱۸۶۴ د سپتامبر پر ۲۸ نیټه) جوړ سو. دا په داسي حال کي جوړ سو، چي مارکس او انګلز د کلونو راهیسي د کارګرانو د انقلاب او بریا د پاره مبارزه کول، چي دا انټرنیشنلیزم د دوی د مبارزي مهمه لاسته راوړنه وه.

د (۱۹ز) پیړۍ په دوهمه نیمایې کي پانګوالي نظام زیات پرمختګ وکړ، دا پرمختګ د دي لامل سو، چي کارګران لاسونه سره ورکړي او د خپلو حقوقو د ساتني د پاره د پانګوالي نظام پر وړاندي مبارزه پیل کړي. همغه و، چي د کارګرانو د انټرنیشنلیزم د پاره د مارکس او انګلز هڅو دا پایله ورکړه، چي کارګران سره راټول کړي او د لومړی پړاو بنسټ کښېږدي، د دي پړاو اعلامیه مارکس ولیکل، چي په همدي پیړۍ کي په کارګري (پرولتاریایې) انقلاب باندي بدل سو، چي موخه یې د پانګوالي نظام نړول او د کارګرانو د نظام جوړول وه.

د کارګرانو د انټرنیشنلیزم په همدي لومړی پړاو کي زیات شمېر کارګري ګوندونه د نړۍ په بیلابیلو هېوادونو کي د دي انټرنیشنلیزم د څانګو په بڼه رامنځته سول او د دوو (۲) کلونو څخه په لږ وخت کي پنځه ویشت (۲۵) کارګري سازمانونه په اروپا او په نورو لویو وچو کي رامنځته سول.

مارکس د همدي لومړی پړاو په ټول وخت کي د کارګرانو د انټر نیشنلیزم د عمومي شورا غړی و او د انګلز سره یوځای یې د بورژوازي پر وړاندي سخته مبارزه کول.

د لومړی انټرنیشنلیزم مهمي غونډي د (۱۸۶۶ز) کال څخه وروسته په کال کي یوار په ژنیوا، لوزان، بروکسل او بازل ښارونو کي جوړیدلي.
په پاریس کي د کارګرانو د مبارزي د ماتي څخه وروسته د کارګرانو د انټر نیشنلیزم لومړی پړاو هم د خنډونو سره مخ سو، همغه و، چي نور یې په اروپا کي د مرکز د پاره ځای نه و، له همدي کبله په (۱۸۷۲ز) کال کي داسي پریکړه وسوه، چي د دي انټرنیشنلیزم مرکز به نیویارک ښار ته لیږدول کیږي، چي په نیویارک کي د څلورو کلونو څخه وروسته په رسمي ډول دا لومړی پړاو منحل سو.

## ب- دوهم پړاو:

لکه مخکي، چي مو وویل د انټر نیشنلیزم په لومړي پړاو کي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د کارګرانو ګوندونه او سازمانونه رامنځته سول، چي د مارکسیستي او سوسیالیستي عقایدو پر بنسټ یې هڅي کولي.
کله چي د کارګرانو د انټرنیشنلیزم لومړی پړاو په نیویارک کي پای ته ورسیدی، د یوڅه وخت د پاره دوی سره تیت او پرک سول او ددوی سازمانونو او ګوندونو په نړیواله کچه لاس نه و سره ورکړی، خو په (۱۸۸۹ز) کال کي یوار بیا د نړۍ سوسیالیستي ګوندونه سره راټول سول او په پاریس کي یې لویه غونډه وکړه، چي د نړۍ ټولو سوسیالیستي ګوندونو پکښي ګډون کړی و. همغه و، چي یو ځل بیا یې د کارګرانو د انټرنیشنلیزم لپاره بنسټ کښېښودی او د دي انټرنیشنلیزم دوهم پړاو پیل سو.
د انټر نیشنلیزم د دوهم پړاو مشري انګلز کول او شپږ کاله یې مشري پر غاړه وه، چي بنسټ یې پر مارکسیستي عقایدو باندي ولاړ و. دي

دوهم پړاو د نړۍ د سوسیالیستي ګوندونو په پیاوړتیا کې زیاته مرسته وکړه او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې سوسیالیستي ګوندونو وده وکړه.

کله چې انګلز مړ سو، دده د مرګ څخه وروسته ددې بنسټ مشري اپورچینیستانو په غاړه واخیستل، چې کرار کرار یې دې بنسټ ته د بورژوازۍ آندونه هم ورننویستل. همغه و، چې د بورژوازۍ د آندونو په ننوتلو سره د دوهم انټر نیشنلیزم هڅې او فعالیتونه د ننګونو سره مخ سول او کرار سول، خو بیا هم یو شمېر ګوندونه لکه د روسي بلشویک ګوند مارکسیستي تلنلارو ته وفاداره پاته سول او د اپورچینیستانو سره یې سخته مبارزه وکړه. همدا مبارزه ددې لامل سول، چې پدې غورځنګ کې درې ډوله ډلې رامنځته سولې لکه ښۍ لاسي ډله (سوسیال شوئینستان)، منځلارې ډله او کیڼ لاسي ډله (انټرنیشنلیستان).

لومړۍ نړیواله جګړه، د دوهم انټرنیشنلیزم د مشرانو خیانت او د رفورمیستانو د مشرانو لخوا ددې غورځنګ د آرونو تر پښو لاندې کول، ددې لامل سول، چې دوهم انټرنیشنلیزم وپاشل سي او پر زیاتو ټولنو او ګوندونو باندې وویشل سي. همغه و، چې په (۱۹۱۵ز) کال کې په سویس کې د انټرنیشنلیزم ټولنه رامنځته سول، چې مشري یې لینن کول، چې په پایله کې یې په (۱۹۱۷ز) کال کې د روسي لوی انقلاب رامنځته کړ او د انقلاب څخه وروسته یې د کمونیزم نوم ځانته غوره کړ.

## ج- دریم پړاو:

د انټرنیشـنلیزم دریـم پـړاو پـه کمونیسـتي انټـر نیشـنلیزم بانـدي هـم پیژندل کیږي، چي د دوهم انټرنیشنلیزم د پاته سوو انقلابي ګوندونو څخه جوړ سو او د (۱۹۱۹ز) څخه بیا تر (۱۹۴۳ز) کال پوري یې دوام وکړ. ددي پړاو لومړی غونډه په (۱۹۱۹) کال کي وسوه، چي د نړۍ د دیرشو (۳۰) هېوادونو کمونیستي ګوندونو برخه پکښي درلوده. که څه هم ددي غونډي څخه مخکي د همدي کال د جون پر اتمه نیټه د لینن په مشری د اتو هېوادونو په ګډون جوړه سوي وه، چي د نړۍ ټول کارګري ګوندونه یې د واک اخیستلو ته وهڅول، خو رسمي او لویه غونډه یې د جون پر اتمه نیټه باندي وه[1].

## د انټر نیشنلیزم مخینه:

انټرنیشـنلیزم ډیـري لرغـوني ریښـي لـري، چـي د لرغـوني یونـان د فیلسوفانو او پوهانو لخوا ډیري اشاري ورته سویدي. د تاریخ پـه پـاڼو کي د انټر نیشنلیزم لومړی نښي د لرغوني یونان د رواقیـانو فلسـفي تـه رسیږي. د رواقیانو نامتو مخکښانو (زنو) او (کریس یوس) به ویـل ((د نړۍ وګړي د یوي نړیوالي ټولني غړي دي او همدي نړیـوالي ټـولني تـه مسولیت لري، ددي نړیوالي ټولني قوانین طبیعي قوانین دي، چي امر منل یې اړین دی او دا نړیواله ټولنه پر ټولو وګړو باندي واکمنه ده)).

رواقیان د نیشنلیزم مخالف وه او ویل یې ((د هري ټولني قانون باید د بشري ټولني د عمومي قانون او طبیعي قانون سره ورتـه والـی ولـري)).

---

[1]- امیرنیک ائین، واژه های سیاسي و اجتماعي، ص ۲۲-۳۰

دوی د بشري ټولني عمومي قانون او طبیعي قانون ته نړیوال قوانین ویل. همدارنګه د نړیوال تابعت د اصطلاح رامنځته کونکي هم دوی وه او د یوه ځانګړې هېواد د تابعیت سره مخالف وه، ټول خلک یې یو د بل ورونه او په حقوقو کي سره مساوي ګڼل.

پر رواقیانو سربیره اپیکوریانو هم د بشر د ورورګلوۍ پر آر باندي باور درلودی، خو ددوی باور د رواقیانو په څیر افراطي نه و.

همدارنګه سیسرو د زیږدیز کال څخه یوه پیړۍ مخکې خلک د نړیوالي ټولني غړیتوب ته راوبلل، ده ددي دپاره د (کامنولټ) ځانګړي اصطلاح وکارول. ده ویل خلک په حقوقو، پوهه او عقل کي سره مساوي دي، هر وګړی یې ددوو ټولنو لومړی دولت او دوهم نړیواله ټولني، غړی بلی. همدارنګه ده په یوه وخت کي وګړي ددوه ډوله قوانینو تابع ګڼل، چي لومړی یې د دولت قانون او دوهم یې د نړۍ قانون دی، ده د نړۍ قانون د دولت پر قانون باندي لوړ ګڼی او د دولت قانون یې نیمګړی ګڼي.

په پنځمه زیږدیزه پیړۍ کي (سن اګوسټین) پر نړیوال عدالت او نظم باندي باور درلودی، چي هغه ته یې (د خدای اراده) ویل او خلک یې ددي ډول نړیوال نظم منلو ته رابلل. ده ویل نړیواله ټولنه پر دولت باندي غوره ده او د دولتونو څخه جوړه ده، نړیواله ټولنه کُل ده او دولت جز دی. خلک باید د دولتونو سره اړیکې وشکوي او د نړیوالې ټولني سره اړیکې پیدا کړي همدارنګه د نړۍ ټول خلک سره ورونه دي او په سوله کي باید ژوند وکړي.

په منځنیو پیړیو کي کله چي پاپان پر اروپا باندي واکمن وه، خلک یې دیته نه پرېښول، چي د نړۍ په اړه فکر وکړي، دوی یوازي خلک

د خپلو امرونو په منلو باندي اړ کول، پدي وخت په اروپا کي د جهالت توري تیاري خپري وي. خو کله چي د اسلام مبارک دین پر نړۍ باندي خپور سو، وګړي یې ورورولئ او یوالي ته راوبلل، د تاوتریخوالي پر وړاندي یې ټینګه مبارزه وکړه او د نړۍ ټول مسلمانان یې ورونه وبلل. پدي وخت کي د اسلامي انټرنیشنلیزم لړۍ د نړۍ د اسلامي هېوادونو ترمنځ ټینګه سول او ټولو مسلمانانو ځانونه ورونه بلل.

کله چي په اروپا کي د پاپانو د حکومت پر وړاندي خلک راپورته سول او نور یې ددوی د جهالت تر سیوري لاندي ژوند نسو کولای، پدي وخت کي یو شمېر پوهانو او فیلسوفانو ته د خپلو افکارو او آندونو د ځرګندولو زمینه برابره سول. همغه و، چي په اولسمه پیړۍ کي د زیات شمېر پوهانو لخوا د اروپا د فدریشن د جوړولو د پاره لوی پلان جوړ سو. همدارنګه په (۱۲۴۸ز) کال کي د نړیوالو حقوقو بنسټ کښېښنودل سو او (کروشیوس) په خپل کتاب کي د نړیوالو سازمانونو د جوړولو وړاندیز وکړ.

په (۱۸ز) پیړۍ کي په اروپا کي د واکونو د برابروالي پر اصل او د سلاوو د یوشانته والي پر اصل باندي هوکړه وسول. همدارنګه په همدي پیړۍ کي د خلکو د حقوقو اعلامیه د (د هر ولس ګټي د بشري عمومي ګټو تر اغیز لاندي) تر عنوان لاندي خپره سول او زیات شمېر پوهانو لکه کانټ، هولباخ او نورو د عمومي سولي د ساتلو غوښتنه وکړه. او په (۱۹ز) پیړۍ کي د مارکس هڅي او د کمونیزم پراختیا هم د انټرنیشنلیزم د جوړولو موخه درلوده[1].

[1]- امیرنیک ائین، واژه های سیاسي و اجتماعي، ص ۳۲-۳۹

د نړیوالي ټولني د جوړیدو آندونه هغه وخت د خلکو لخوا زیات ومنل سول، کله چي په شلمه پیړۍ کي لومړی او دوهمه نړیوالي جګړي وسولي، دي جګړو بشریت ته ډیر مادي او ځاني زیانونه ورسول او د نړۍ ټول وګړي یې دیته اړ کړل، چي د یوه داسي اورګان د جوړولو دپاره هڅي وکړي، چي پر ټولي نړۍ باندي واکمن وي او پریکړي یې ټولو ته منلي وي، همغه و، چي د لومړی نړیوالي جګړي څخه وروسته زیات شمېر دولتونه د ملتونو پر ټولني باندي سلا سول. کله چي د ملتونو ټولنه جوړه سول، یو شمېر ځانپاله او واک غوښتونکو دولتونو هڅه کول، چي دا ټولنه تر خپل اغیز لاندي راولي، همغه و، چي د دوی ځانغوښتني او ځانپالني ډیر ژر دا ټولنه د ناکامۍ سره مخ کړه او دوهمي نړیوالي جګړي خو بیخي له منځه یوړل. خو کله چي دوهمه نړیواله جګړه تیره سول او یو ځل بیا بشریت ستر مالي او ځاني زیانونه ولیدل، دا ځل یې دداسي ټولني دپاره ټینګه ملاوتړل، چي د ټولو وګړو لپاره منلي وي او ټینګ بنسټ ولري. همغه و چي د (۱۹۴۵ز) کال د اکتوبر پر (۲۴) نیټه د یو شمېر هېوادونو لخوا ملګرو ملتونو منشور لاسلیک سو او اوس د نړۍ زیات او کم (۱۹۴) هېوادونه یې غړیتوب لري، چي پریکړي یې د ټولو هېوادونو لخوا د منلو وړ دي او د نړیوالي سولي او ټیکاو د ساتلو غوره سرچینه ده.

د ملګرو ملتونو پر ټولني سربیره د انټرنیشنیلیزم نوري بیلګي هم تر سترګو کیږي، چي غوره بیلګه یې په لوید یځ کي د ناټو سازمان دی، همدارنګه نن ورځ په نړیواله کچه په سلګونو سازمانونه د نړۍ دهېوادونو لخوا جوړ سویدي، ترڅو په نړیواله کچه خپلي ګټي او نړیواله سول او ټیکاو وساتي.

# انټرریګنم[1]

دا اصطلاح د لاتیني ژبې څخه اخیستل سوې ده، چې د دوو برخو لرونکې ده، یانې (انټر) د منځ په مانا او (ریګنم) د عصر، دورې، پاچاهۍ، واکمنۍ او حکومت په مانا دی. نو انټر ریګنم (انټرینا ) د هغه واټن د سیاسي سیستم لپاره کارول کیږي، چې یو واکمن یا پاچا واک پرېږدي او بل واکمن یا پاچا د واک پر ګدۍ باندې کښېني؛ نو د دې زاړه او نوې پاچا ترمنځ چې کوم واټن دی، د دې سیاسي سیستم لپاره د انټریګنم اصطلاح کارول کیږي.

دا اصطلاح په پارلماني ډیموکراسۍ کې د حکومت په ټاکنه کې د زاړه پارلمان او نوې پارلمان د ټاکنو ترمنځ د واټن لپاره هم کارول کیږي[2].

د انټر ریګنم حکومت (واټن) په یو شمېر هېوادونو لکه انګلستان، کاناډا، استرالیا او نورو کې ډېر کم وي، خو په یو شمېر نورو هېوادونو کې بیا زیات وي. په دې واټن کې د انټر ریګنم حکومت یوازې د څارونکي او پالونکي په بڼه شتون لري. د نړۍ په سیاسي تاریخ کې د انټر ریګنم د حکومت زیاتې بېلګې سته، چې یو څو یې په دې ډول

---

1 - Interregnum.
2 - English Social Wikipedia.

پیژنو : په چین کې د زیږدیز کال څخه ۲۰۲-۲۰۲ کلونو په منځ کې د (قین) امپراتور د مرګ څخه وروسته انتهر ریګنم رامنځته سو، همدارنګه د لومبارډو په شاهي نظام کي د(۵۷۵-۵۸۵)کلونو پوري د انتهرریګنم حکومت رامنځته سو.

په یو شمېر سلطنتونو لکه د انګلستان په سلطنت کي د انتهر ریګنم د له منځه وړلو په موخه دا ډول اصول شتون لري (د پاچا یا ملکي د مرګ څخه وروسته سمدستي ددوی ځای ناستی ددوی میراث خور دی)، چي پدي سره کیدای سي، چي تر زیاته بریده د انتهر ریګنم مخه ونیول سي. پدي سلطنتونو کي د پاچا یا ملکي د مرګ څخه وروسته سمدستي ددوی میراث خور د یوشمېر دودیزو مراسمو پربنسټ د پاچاهۍ پر چوکۍ باندي کښېنول کیږي.

په یو شمېر نورو هېوادونو کي لکه د پولینډ-لیتوانیا په ګډو ګټهو هېوادونو کي بیا پاچا د ټاکنو د لاري ټاکل کیږي، پدي هېوادونو کي د انتهر ریګنم دوره زیاته وي، خو پدي وخت کي د پولینډ ستر پادري د انتهر ریګنم مشرتوب په غاړه اخلي او د واکمن پاچا په څیر قانون پلی کوي[1].

انتهر ریګنم یوازي په سیاسي چوکیو کي نه رامنځته کیږي، بلکي په مذهبي، کلتوري، اقتصادي او نورو برخو کي هم د انتهر ریګنم دوره رامنځته کیږي، دبېلګي په توګه کله چي د عیسویانو پاپ مړ سي، نو تر هغه مهاله، چي د پاپ ټاکونکي ډلي لخوا چي نوی پاپ ټاکل کیږي، تر هغه په مذهبي څوکۍ کي د انتهر ریګنم دوره رامنځته کیږي.

[1] English Social Wikipedia.

# انډویډوالیزم[1]

دا اصطلاح په اوسني وخت کې د سیاست او اقتصاد په ډګر کې د زیات ارزښت لرونکې ده، د دې تلنلاري بنسټ وګړ پالنه ده، چې د ټولنپالنې په خلاف منځته راغلې ده. د دې فلسفې پربنسټ هر څوک حق لري، چې د خپل ځان لپاره فکر او کار وکړي او هرڅوک د خپلو ګټو او ښېګڼو تر ټولو غوره قاضي دی. په ټولیزه توګه وګړپالنه (شخص پالنه) د ټولنې پرځای وګړو ته زیات ارزښت ورکوي او وګړی د بنسټیز واحد په څیر پېژني. د دې تلنلاري پربنسټ که چیرې د وګړې ګټې او وګړیزه خپلواکې په ټولنه کې وساتل سي؛ نو دا به د دې لامل سي، چې ټولنیزې ګټې پخپله وساتل سي. د وګړپالنې فلسفه د وګړو د ځاني شتمنۍ او ګټو ساتل ډیر اړین ګڼي او په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې د حکومت د لاسوهنې مخه نیسي. یوازې په هغه حالت کې د حکومت لاسوهنه روا ګڼي چې د وګړو د خپلواکیو د ساتلو په موخه وي.

د انډویډوالیزم اصطلاح تر ډیره بریده د لیبرالیزم سره ورته والی لري، چې دا دواړې اصطلاحګانې پر وګړیز ارزښت باندې راڅرخي. خو

---

[1] - Individualism

د لیبرالیزم د آند پر بنسټ وګړیزه خپلواکي باید د دولت تر څارنې لاندې وي. خو انډویډوالیزم بیا د وګړو پر خپلسرو خپلواکیو باندې ټینګار کوي.

نن ورځ د وګړیزو خپلواکیو آرونو د یوې ځانګړې فلسفي بڼه غوره کړې ده، چې د انسانانو طبیعي ارزښت او د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او مذهبي نظامونو پر وړاندې د انسانانو تلنلاره څیړي، چې ددې ډول فلسفي سیستم ارزښت کولای سو په لاندې درو ټکو کې څرګند کړو:

الف- ټول ارزښتونه د انسان چاپیره راڅرخي، پدې مانا، چې ټول ارزښتونه د انسانانو لخوا تجربه سویدي (خو دانسانانو لخوا منځته ندي راغلي).

ب- فرد په خپل نفس کې یو ځانګړی ارزښت او پیدا ښت دی او ټولنه یوازې د وګړو د غوښتنو او موخو د پوره کولو آله ده.

ج- ټول وګړي له اخلاقي اړخه برابر دي، چې دا مفهوم پدې جمله کې ښه تر سترګو کیږي ((هیڅ انسان باید د بل انسان څخه د خپلې ښېګڼې په موخه ګټه وانخلي)).

انډویډوالیستي آندونه پر انساني طبیعت باندې ولاړ دي، او هڅه یې داده، چې بالغ انسان ته هغه ګټې او خپلواکۍ، چې طبیعت ورکړې دي لاسته راوړي. همدارنګه هر وګړی دا دنده لري، چې خپلې موخې و ټاکي او د هغو په لاسته راوړنه کې زیار وباسي.

د وګړیزو خپلواکیو آرونه د نورو وګړو ارزښت او درنښت ته په کتو سره د یو ځانګړي امر بڼه لري. د وګړي د خپلواکیو آرونه پر وګړو د هر ډول واکمنتوب او اختیاراتو سره مخالفت لري که څه هم دا کنټرول او

ځارنــه ددولــت لخــوا رامنځتــه کیــږي. انډویــډوالیزم د پرمختــګ وړاندوینه کوي او ورته د ارزښت په سترګه ګوري. همدارنګه د وګړو په حقوقو کي توپیر، سیالي او لوړوالی او کښته والی مني او دا هرڅه د وګړو د موخو د لاسته راوړلو وسایل ګڼي.

انډویــډوالیزم د لیبــرال ډیموکراســۍ، د حکومــت د ځــانګړې بڼــي او دوګــړو پــه ژونــد کــي دنــه لاســوهني د سیاســت غوښــتونکی دی. پــه انډویډوالیزم کي د وګړو د افراطي خپلواکیو ملاتړ کونکي انارشـي پلوه عقاید لري، خو زیات پدي باور دي، چي حکومت باید د انسـانانو په ژوند کي ډیره کمه لاسوهنه وکړي او یوازي خپل واک د قـانون پر ساتنه او د ټولیز نظم په رامنځته کولو کي را لنډ کړي. همدارنګه وګړي د نـورو پــه کــارونو کي د خپلســري لاســوهني حــق نلــري او بایــد هغــو ترونونو ته، چي په خپله خوښه رامنځته سوي وي، درنـاوی وسـي. ټول وګړي باید یو برابر امکانات ولري، چي ددولت د هڅو د ځینو پټو لارو چارو او د وګړو پر عقایدو د نفوذ پر بنسټ کنټرول او وټاکل سي.

### د انډویډوالیزم تاریخ:

د انډویــډوالیزم رامنځتــه کــونکي د زیږدیــز کــال څخــه څلــور او پنځــه پیــړۍ مخکــي سوفســتایي (سوفیســت) فیلســوفان دي، دوی پــدي آنــد وه، چــي وګــړی کــولای ســي د ټــولني د بنــد څخــه ځــان خــلاص کــړي او د ټولني پر روانو حالاتو باندي نیوکي وکړي. دوی د وګړي خپلواکـي تـر هرڅه ارزښتناکه ګڼي. سـقراط هـم ویـل، چـي د وګړپـالني تلـنلاره غـوره ده، خو باید د دولت تر قانون او ځارني لاندي تر سره سي. اپیکور هـم دا عقیده منلې وه دده په آند وګړی د ټـولني بنسـټ دی او نـه یـوازي داچـي

ټولنه څانګیز(فرعي) اړخ لري، بلکې د دي لپاره، چې وګړی خپله خپلواکي او پېژندنه تر لاسه کړي نو تر ډېره بریده د سیاست پرېښودلو او د ځان پوره والي ته هڅول کېږي. همدارنګه د اپیکور په آند عدالت د تړون یا کنوانسیون پر مټ ټینګښت پیدا کوي او د هغه پایښت د وګړي ملاتړ ته اړتیا لري.

د اپیکور افکار د لرغوني روم او ارسطو څخه وروسته په پراخه کچه ومنل سول، خو د خلکو پر افکارو د رواقیونو مکتب تر وګړپالني زیاته واکمني پیدا کړه. رواقیونو یو برابر اخلاقي آند وړاندي کړ، نو ځکه رواقیون په دې نړۍ کې د بشپړ عدالت غوښتونکي وه او د طبیعي عدالت یا طبیعي قانون پلي کېدل یې د دولت طبیعي دنده ګڼل. رواقیونو د بشپړ عدالت او د وګړو د خپلواکیو پر بنسټ د اپیکور په بشپړ انډویډوالیزم کې زیات سمون راوستی.

مسیحت، چې بنسټ یې د یهودیت پر پخوانیو آندونو ولاړ دی، ودي فلسفي ته یې پر فرد باندي بشپړ باور هم دننه کړ، چې دا په لرغونو یونانیانو کې نه و.

که څه هم انډویډوالیزم د لرغوني روم د امپراتورۍ په وخت کې لوړ ارزښت درلودی، خو په منځنیو پېړیو کې یو څه کمزوری سو. په لومړنیو پېړیو کې انډویډوالیزم یو مرکزیت درلودی او ورځ تر بلې یې دولت واک موندی نو پدي وخت کې د فیوډالیزم سیاسي ټولنه کمزوري سول او د انډویډوالیزم د نوي ژوند لپاره یې لاره هواره کړل، دا لاره ډېره پیچلې وه او د ژوند نوي بڼې یې د نوي روحي پر بنسټ توپیر وموند، چې پر نفس او فردي خپلواکۍ باندي یې باور و.

د انډویډوالیزم د تاریخي شالید څخه داسي څرګندیږي، چي په انګلستان کي یې بشپړتیا حالت تر سره کړی دی. داځکه، چي په انګلستان کي د کاتولیک مذهب کمزوری و او د لرغوني روم سره یې اړیکي سستي وي، پدي وخت کي د انګلستان امنیتي حالت سم و او ټولنه په ارام حالت کي وه، چي هر وګړي په اسانۍ سره کولای سول خپلي غوښتني او آندونه د ټولو په مخ کي وړاندي کړي. د اولسمي پیړۍ په نیمایي کي (توماس هابس) د اپیکوري فلسفي او عقیدي پر بنسټ انډویډوالیزم وړاندي کړ، چي په سیاسي برخه کي د ظلم او استبداد ملاتړی و. دده هم مهالي (جان لیل برن) د اقتصادي مساوات آند دنوي ډموکراټیکي فلسفي پر بنسټ وړاندي کړ او ټینګار یې پر دي و، چي ټول وګړي یو شان طبیعي سیاسي حقوق لري.

دا آندونه د (جان لاک) لخوا په همغه پیړۍ کي ډلبندي سول او په اتلسمه پیړۍ کي یې په لویه بریټانیا، شمالي امریکا او فرانسي کي ملاتړي پیدا کړه. په همدي وخت کي د فرانسي لوی انقلاب په زیاتو ملي احساساتو باندي بدرګه سو، ترڅو د فردي خپلواکیو آرونه بیا په بریټانیا کي د (ادم سمیت)، (جرمي بنتام) او ددوی د پیروانو د سیاسي او اقتصادي آندونو پربنسټ په نولسمه پیړۍ کي د نوي انډویډوالیزم بڼه غوره کړه[1].

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴ش، ص ۴۲-۴۳.

# انوکراسي[1]

انوکراسي هغه سیاسي رژیم دی، چې سیاسي قدرت په دولتي بنسټونو او ورګانونو کي نه وي، بلکي په غیري دولتي بنسټونو کي ویشل سوی وي. یانې سیاسي قدرت د ټولني د مخکښانو یا ولسي مشرانو په لاسونو کي وي، چې تل د سیالیو او رقابت لپاره همدا قدرت کاروي.

د دي ډول حکومت بېلګي په افریقا کي د سومالیا، کینیا او زمبابیو په هېوادونو کي لیدل کیږي. انوکراسي د تیوکراسۍ او ډیموکراسۍ ترمنځ سیاسي رژیم دی، یانې نه بشپړه ډیموکراسي ده او نه هم بشپړه تیوکراسي ده، بلکي د همدي دواړو سیاسي رژیمونو ترمنځ دریځ لري.

انوکراسي د حکومتونو په ډلبندۍ کي د هغو حکومتونو د جملي څخه ګڼل کیږي، چې نه د ډیموکراسۍ حد ته رسیدلی وي او نه هم د تیوکراسۍ په پړاو کي وي. یانې پدي حکومت هغه اصول او آرونه چې په ډیموکراتیک نظام کي پلي کیږي، نه پلي کیږي او نه هم د تیوکراسۍ اصول او آرونه پکښې په بشپړ ډول پلي کیږي.

[1] -Anocracy.

انوکراسـۍ د سـړي جګـړې څخـه وروسـته پـه نړیوالـه کچـه ډیـري سویدي، پدي رژیم کي تاکلی او پیاوړی سیاسي قدرت شتون نلري او نه هم ثابت اقتصادي سیستم شتون لري.

# اوکلوکراسي[1]

اوکلوکراسي د دوو یوناني کلمو څخه جوړه سویده، چې (اوکلوس[2]) د رزیل، احمق او فاسق په مانا ده او کراسي دحکومت او قدرت په مانا ده. نو اوکلوکراسي د هغو خلکو حکومت ته ویل کیږي، چې د زور او تشدد د لارې واک ته رسیدل غواړي او بېله رزالته او حماقته بل څه نه کوي، یانې د ټولني لپاره کار نه کوي، بلکې یوازې د منفورو کارونو لپاره سیاسي قدرت په لاس کې اخیستل غواړي. اوکلوکراسي زیاتره وخت د موبو کراسۍ سره په ورته ډول کارول کیږي.

کله چې ډیموکراسي خپل ارزښت د لاسه ورکړي او بې فرهنګه سي نو پدې ډول رژیم باندې بدلیږي، په لرغوني یونان کې کله چې ډیموکراسۍ خپل ارزښت د لاسه ورکړ، نو دا ډول احمق خلک پر ټولنه باندې واکمن سول او د اجرایي جرګو کړني کمزوري سولې. په آتن کې چې سیاسي قدرت ددې ډول خلکو لاسته ولویدی، نو د آتن ډیموکراسۍ زیات زیان ولیدی، زیاتره پوهان، فیلسوفان، هنرمندان

---

[1] -Ochlocracy.
[2] -Oclos

او نور پوه خلک ازار سول او یا هم د آتن څخه وشړل سول. همدا حالت و ، چې سقراط محکمه سو او د شکران زهر یې وچیښل.

په لرغوني یونان کي حکومتونه پر(( ښه )) او ((بد )) باندي ویشل سوي وه ، ښه حکومتونه یې هغو ته ویل چي کړنې یې د ټولني په خیر وي او د عمومي ګټو ساتونکي وه ، خو بد حکومتونه یې بیا هغو ته ویل چي کړنې یې یوازي د یوي ډلي او یو کس په ګټه وي، بلکي د عمومي ګټو او ارزښتونو ساتونکي نه وه ، نو اوکلوکراسي هم د بدو حکومتونو څخه وه ، چې احمق او رزیل خلک به پر سر د قدرت سول او بیا به یې د حکومت کړني یوازي ددوی په ګټه تر سره کولي.

ددي ډول حکومت پر بنسټ ډیرکیو نسوه کولای، چې د عوامفریبانو او احمقانو پر وړاندي راپورته سي او هغه د واکه و غورځوي او هم زیاتره کړنې د لږکیو په خوښه ترسره کیدي، یانې د ډیموکراسۍ په خلاف ډیرکیو کم واک او لږکیو ډیر واک درلودی[1].

زیاتره اوکلوکراټیک حکومتونه لنډمهاله وه ، زیاتره وخت کله چې په واکمن ډیر ظالم و او استبدادي واکمني یې پلي کول، نو د ټولني خلک به راپورته سول او دی به یې د پښو وغورځوی، خو کله چې به واک عوامو ته په لاس ورغلی نو داسي کړنې به یې کولي چې د عامه ګټو په خلاف وي، خو وروسته به یې بیا هم همدا ډله د پښو وغورځول او واک به سم واکمن ته ورکول سو ، نو اوکلوکراټیک حکومتونو زیاتره وخت کم حکومت کړی دی.

---

[1] English Social wikipeia. (انګریزي ټولنیز پوهنغونډ)

# اولیگارشي[1]

الیګارشي د څو نفرو حکومت ته ویل کیږي، د دي حکومت واک د څو نفرو په لاس کي وي اودا نفر واک او حکومت د خپلو ګټو او موخو لپاره کاروي. افلاطون د دي حکومت په اړه وايي "الیګارشي (د څو نفرو حکومت) هغه وخت پیدا کیږي چي ساتونکي یي د مال په شوق وي، دا ډول حکومت هم تموکراسۍ ته ورته دی اماد یوه مشر پرځای څو تنه مشران لري، ياني د ښاري دولت مشرتابه د یوه داسي مدیره هیئات له لوري منځ ته راغلی وي، چي هغوی د خپلو مالونو او شتمنیو د ډیرولو او ساتلو په هڅه کي وي". ارسطو بیا الیګارشي د څو بدو او ناوړو اشخاصو حکومت ته وايي، د ارسطو د دي تعبیر څخه معلومیږي چي الیګارشي د ارستوکراسۍ (د اشرافو حکومت) یو افراطي شکل دی او تموکراسۍ (د شتمنو حکومت) ته ورته دی.
د پخوانیو الیګارشي حکومتونو څخه دا معلومیږي، چي د واک واګي به تل د ټولني د ځانګړو پوړونو او ډلو په لاس کي وي لکه: مذهبي کړۍ، د غوره نژاده خلکو ډلي، سرمایه دارانو او د ځانګړو ژبو خلکو، دوی به هم هغه څوک په خپل واک کي راګرځول چي د پورته

[1] - Oligarchy.

رشــتو څخــه بــه د یــوي پربنســټ یــې د دوی ســره اړیکــي درلــودلي. همدارنګه دي کوچنۍ ډلي به تل واک د خپلو ګټو لپاره کاروی ترڅو خپل نفوذ او کنټرول پـه ټولنـه کي وساتي، نوځکه ځینو پوهانو دا حکومت د ناکارو او بدو خلکو حکومت ګڼلی دی. په الیګارشۍ کي د خلکو حقوقو تـه درنـاوی نـه کیـدی، یوازي د واکمنې کوچنۍ ډلـي حقوقو او ارزښت ته درناوی کیدی او بیت المال به ددوی ترکورنیو او خپلوانو قرباني کیدی.

دا یوه تکراري او عامه مفکوره ده چي د حکومت اخرنۍ تحلیل د څو نفرو پر واک باندي خلاصه کیږي، که په ټولنه کي حکومت رسمي بڼه ولري، یا د سلطان تر واک لاندي حکومت وي او یا هم د دیکتاتور حکومت وي خو باید د ټولني اصلي او حقیقي څار د شتمنو خلکو په لاس کي وي. په همدي اساس مارکس او انګلز کاپیټالیزم (د شتمنو حکومت) الیګارشۍ ته ورته حکومت بولي او دوی پدي آند دي، چي په کاپیټالیزم کي اصلي څارنه د شتمنو خلکو وي، او شتمن هڅه کوي تر څو د خپلو ګټو د ساتلو په موخه په حکومت کي یوه اجرایوي کمیټه جوړه کړي. همدارنګه یوه ایټالوي ساستپوه ( "لاګیټانو موسکا " ) هم د حکومت الیګارشي کنټرول منلی دی او دی پدي آند دی، چي واکمنه ډلـه تـل غـواړي پـه ټولنـه کـي الیګارشـیک کنټـرول ولـري. (ویلفریدو فریټو ) فرانسوي سیاستپوه هم په خپلو دوکتورینو کي د څونفرو د حکومت په اړه آندونه ورکړي دي او دا مفکوره یي پیاوړي کړه، (فریټو ) وایي چي دا د معاصري نړۍ غوښتنه ده چي د واک بنسټونه باید د څو نفرو ترمنځ وویشل سي، خو مارکس او انګلز بیا د څو پوه او هوښیارانو کمونستانو واکمني پر ټولنه غواړي او وایي چي په یوه

ګـارګره ټولنـه کـي بایـد واک د څـو کمونسـتانو پـه لاس کـي وي ترڅـو د ټولني چاري کنټرول کړي.

د الیګارشۍ معاصره کارونه په "د الیګارشۍ اوسپنیز قـانون[1] "کـي څرګنـدیږي، دا قـانون یـا څیړنیـزه رسـاله د جرمنـي ټولنپـوه ( "رابـرت مایکـل " ) لخـوا پـدي موخـه وضـع سـوه ترڅـو سیاسـي ګوندونـه او سوداګریزي ټولني مرکزي، محافظه کاري او یو موټي سي. (مایکـل ) د اګالیتاریانو (هغه ډله خلک چي پدي آند دي چي د ټولـو خلکـو حقـوق سره مسـاوي دي ) او راډیکالیـانو (هغـه ډلـه چي پـه سیاسي چـارو کـي بدلون غواړي ) پر وړاندي دریځ غـوره کـړی دی او وایـي چي هـره ټولنـه باید یوه مرکزي قوه ولري، پدي مرکزي قـوي کـي بایـد واک د څو نفـرو پـه لاس کـي وي ترڅـو د یـوه اورګـان (ټـولني ) چـاري پـه ښـه توګـه اداره سي، پدي ډول سیسـتم کـي هرڅـه بایـد د یـوي اجرائیـوي کمیټـي لخـوا ترسره سي او د یوه سازمان یا ټولني د ژوندي پاتي کیدو لپاره باید یوه امرکوونکي منبع وجود ولري، ترڅو نوموړي ټولنه یا سازمان د بهرنیـو او کورنیو ننګونو څخه خوندي وساتي. کـه څـه هم پـدي وروسـتیو کـي ځینو لیکوالانو غوښتل چي د (مایکل ) د الیګارشۍ د اوسـپنیز قـانون څیړنیزه رساله په حقوقي، مذهبي او نورو برخو کي پراخه کـړي خو دي رسالي تر اوسه نړیواله ښه نده خپله کړي.

شاید دا هم مبالغه نه وي چي ټول حکومتونـه پـه اصـل کـي الیګارشـي (د څونفرو حکومتونـه ) دي، خو پـه حقیقـت کـي ټـول سـازمانونه پـردي ټینګار کوي ترڅو د حکومت لپاره د واک مرکزي هسته رامنځ ته کـړي، هغه داسي چي په مرکزي هسـته کـي بـه څو نفره واک اداره کـوي. د نـوو

[1] -Iron Law of Oligarchy

سیاسي او ټولنیزو څیړنو پربنسټ دواک او ثار منابع بیلا بیلي ښودل سـویدي،او د ثـارنو او واکمنـو ډلـو تـرمنځ یـي توپیرونـه رامـنځ تـه کړیدي.

# اينتنوکراسي[1]

اينتنوکراسي د حکومت هغه ډول دی، چې واک يوازې د يوې ځانګړې قومي ډلې د استازو په لاس کې وي. په اينتنوکراسۍ کې ببله دې، چې په هېواد کې د موجوده قومونو تناسب په نظر کې ونيول سي، حکومت او حکومتي چوکۍ يوازې يو قوم په لاس کې اخلي او همدا يو قوم د هېواد پر نورو قومونو باندې واک پلی کوي، چې زياتې پريکړې هم د همدې قوم په ګټه باندې کېږي.
د حکومت پدې بڼه کې د لږکيو سره ظلم کېږي او د تبعيض پر بنسټ ورسره چلن کېږي، د لږکيو حقوق تر پښو لاندې کېږي، دوی تر زيات فشار لاندې ژوند کوي او د بشري حقوقو څخه بې برخې کېږي. خو د دې پر وړاندې بيا هغه قوم او ډله چې واک په لاس کې لري د هر اړخېزو حقوقو څخه برخمن وي.
د اينتنوکراسۍ د سياسي رژيم بنسټ همدا اسې د ځانګړو ډلو پر ګټو باندې ولاړ دی، چې د قومي، ژبني، مذهبي او نورو رشتو پربنسټ د

---

[1] - Ethnocracy.

یوي ډلي ګټي ساتل کیږي او حکومت یوازي د واکمن پوړ د ګټو پر ساتلو باندي اړ ګڼل کیږي.
د اینتوکراټیک حکومت بنسټیزه تلنلاره د هغه واک ساتل دي، چي د یوي ځانګړي ډلي په لاس کي وي. اینتوکراټیک حکومتونه د خپلو واکمنیو پر بنسټ بیلابیلي بڼي لرلي همدارنګه د دوی حقوقي بنسټ هم پر دي ولاړ دی، چي د واکمنې ډلي واک او ګټي وساتي. شوني ده، چي دا ډول حکومتونه په ځینو حالاتو او برخو کي د زیات تبعیض او زور څخه کار واخلي او په ځینو حالاتو کي بیا د کمو دا ډول کړونو څخه کار واخلي، چي دا ډول کړني او تلنلاري د دوی په موخو او جوړښت پوري اړه لري.
د دي ډول سیاسي رژیم بیلګي په بشري تاریخ کي زیاتي لیدل کیږي او په اوسنیو وختونو کي هم یو شمېر سیاسي رژیمونه د اینتوکراسۍ پر بنسټ ولاړ دي، د بیلګي په توګه په اسرایلو کي د یهودي ملایانو اینتوکراسي شتون لري، چي دوی په خپله ملي ټرمینالوژۍ کي ورته (قومي ډیموکراسي) کاروي. په (۲۰۱۰ز) کال کي (ګاډوین لیوي[1]) په خپل یوه وړاندیز کي، چي د (یهودو د وفادارۍ سوګند) په نامه یادیدی دا خبره وکړه، چي (نن ورځ یاد لرئ، دا هغه ورځ ده، چي اسرایل خپل کرکټر او تلنلاره بدلوي او له دي څخه وروسته به موږ په یوه اینتوکراټیک، تیوکراټیک، نیشنلیست او نژادي هېواد کي اوسیږو).

---
1 - Gideon Levy.

دا ډول ایډیالوژي پر اسرایلو سربیره په لیتویا، لیتوانیا، مالیزیا، افریقا، یوګاندا او د کاناډا د (کیوبیک[1]) په ایالت کي هم شتون لري[2].

[1] - Quebec.
[2] - English Wikipedia(انګلیسي پوهنغونډ) and Britanica Encyclopedia (د انګلستان دایرة المعارف)

# ایزو کراسي[1]

ایزو کراسي د لرغوني یوناني ژبې څخه اخیستل سوي اصطلاح ده، چي ددو برخو لرونکي ده،لومړی (ایزو ) د مساوي، برابر او یوشان په مانا ده او دوهم (کراسي ) د واک یا واکمنی په مانا ده؛ نو ایزو کراسي د حکومت هغه ډول دی، چي په ټولو برخو کي د وګړو لپاره د یوشان واک او حقوقو غوښتنه کوي.
ایزو کراسي د وګړو لپاره د ټولني په هره برخه هغه که سیاسي، اقتصادي، ټولنیزه یا بله وي مساوي حقوق او واک غواړي، په ځانګړي توګه په سیاست کي خو د وګړو لپاره تل یو شان سیاسي ځواک غواړي. ددي سیاسي سیستم د پلویانو په آند وګړو ته باید د حقوقو څخه نیولي بیا تر سیاسي واک پوري مساوات ورکړل سي، دا سیاسي مکتب د وګړو ترمنځ هیڅ ډول توپیر نه مني.
ایزو کراسي د خپلو ادعاوو او ارمانونو د پوره کولو لپاره دوه اړخېزه تلنلاره یاني لیبرال حقوق او ډیموکراټیکه واکمني ټاکلې ده او ددي دواړو تلنلارو ملاتړ کوي. همدارنګه د ایزو کراسۍ د سیاسي واکمنۍ

[1] - Isocracy

او جوړښت تاریخ ته په کتو سره، د ځانې ملکیت او د ملکیت د طبیعي بڼو دواړو ملاتړ کوي.

سربیره پردې ایږوکراسي د ډیموکراسۍ هغه تلنلاره، چې حکومت د عامه خلکو تر نیوکو لاندې راولې، نه منې بلکې د اساسي قانون پربنسټ ایږوکراسي د دې ډول نیوکو مخه نیسي او د عامه خلکو د لاسوهنو څخه د حکومت ساتنه کوي. ایږو کراسي دا ډول ساتنه په هر اړخ کې کوي، یانې د عامه واکمنۍ ساحه په عامه کړۍ کې او د ځاني (شخصي) واکمنۍ ساحه په ځانې کړۍ کې محدودوي.

ایـږو کراسـي پـه عقیـدوي او تـر یـو بریـده پـه سیاسـي اړخ کـې د سیکولاریزم پلوې کوي او سیاسي رژیـم یـې پـر جمهوریت باندې ولاړ دی، خو د وګړو ترمنځ د جنسي یا نژادي توپیر پر آندونو باندې باور نلري، لکه مخکې چې مو اشاره وکړه، ایږو کراسي په ټولو برخو کې د وګړو ترمنځ مساوات او ددوی لپاره د مساوي حقوقو غوښتونکې ده.
همدارنګه ایږو کراسۍ د خپل عملې سیاست په وخت کې د فدرالي سیاسي رژیم ملاتړ کاوه او دوه اړخیزه اقتصادي سیستم یې لرلو. ددې سیاسي سیسـتم پلویـانو ویـل، چـې پـولیس او پـوځ د واکمنـۍ مټ (بازو) دی. پردې سربیره ایږوکراسۍ د عامه سولې پر ټینګښت باندې زیات ټینګار کاوه او د عامه دفاع او بیړنې حالت په وخت کې یې پر ملیشو (سیمه ییزو) پولیسو باندې هم باور درلودی.

ایږو کراسي د خپل ځانګړي جوړښت پـه لرلـو سـره، ددې لامـل سـول، چې پـه را وروسـته کـې د معاصـرو لیبرالیـزم، سوسـیالیزم او فاشـیزم آنـدونو تخـم وکـړې او ددې سیاسـي مکتبونـو پیاوړتیـا تـه لاره هـواره کړې.

د تاریخ په پاڼو کې د دې اصطلاح لومړنی کارونکی (سیډني سمیت) دی، چې په (۱۸۴۵ز) کال کې یې دا اصطلاح وکاروله. ده د دې اصطلاح په کارونې سره خپلو ټولو مخالفینو ته د ټولنې په ټولو برخو کې د مساوي واکمنۍ سپارښتنه وکړه، که څه هم (سمیت) په خپلو خبرو کې دا وېلي دي، چې ځوانان باید تر زړو خلکو زیات واکونه ونلري، خو بیا هم ده خپل ټول پلویان د ښځو په ملاتړ د رایو راټولولو ته وهڅول؛ ځکه چې ښځې په هغه وخت کې د ټیټ پوړ په توګه پېژندل کې دلې.

د (سمیت) څخه وروسته د دې اصطلاح بل کارونکی (ګرنټ الن) دی، چې د کارګرانو د خپلواک ګوند (ټولنې) د جوړېدو پر مهال یې د ټولو ښاریانو لپاره برابر حقوق وغوښتل.

که د لیبرالیزم، مارکسیستي سوسیالیزم او یو شمېر نورو د ګډو هڅو ټولنو تاریخ ته وکتل سي نو دوی دا غوښتنه کوي، چې (موږ د خلکو پر ځواک باندې باور لرو؛ نو د هغه حکومت ملاتړ کوو، چې د خلکو لخوا، پر خلکو باندې د خلکو لپاره وي) دا ډول مساوات پخپله د اېزو کراسۍ مانا ورکوي.

د اېزو کراسۍ ملاتړې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تر سترګو کېږي، چې غوره بېلګې یې په استرالیا کې د اېزوکراسۍ شبکه او په کاناډا کې د اېزوکراټیک ګوند و، چې تر یو وخته پورې یې فعالیت کاوه[1].

---

[1] -English Social Wikipedia.

# ايډياليزم[1]

ايډياليزم د رياليزم د مکتب پر وړاندي باندي دی، کوم خلک، چي د ايډياليزم عقيده لري هغو ته ايډياليستان ويل کيږي. په سياسي چارو کي د ايډياليستانو عقيده پر دي ولاړه ده، چي سياست بايد د انسانا د خيال(ايډيال) پر بنسټ وټاکل سي.

ډيری فيلسوفان په خيالي او ايډيالي عالم کي ددولتونو او هېوادونو د ډول او څرنګوالې په اړه ږغيدلي او وړانديزونه يې وړاندي کړي دي. ددوی په ذهن کي د بشر د پرمختګ او هوسايني کړنلاره جوړيده، دبېلګي په توګه افلاطون د لرغوني يونان فيلسوف، سن اګوستين او توماس مور په خپلو ليکنو کي ايډيالي او خيالي ټولني او حکومتونه جوړ او انځور کړي دي.

د افلاطون د (جمهوريت)، د سن اګوستين د (نړۍ ښار)، د توماس مور د(يوتوپيا) کتابونه د يادولو وړ دي. همداسي فارابي مسلمان فيلسوف د (مديني فاضلي) طرحه وړاندي کړيده.

د ډيرو ايډياليستانو اندونه په خپل ذات کي د بشر د مادي او معنوي ښيګڼو او خير لپاره ويل سوي وه، خو هغه اندونه او وړانديزونه، چي

---

[1] - Idealism

د ډیرو عواملو له کبله چې د پاچاهانو، دیکتاتورانو، د هغوی کورنیو، غټو مامورینو، لویو شتمنو او یا د کوم ځانګړي ګوند د ګټو پر وړاندي دریدل، یا داچي د ټولني د ذهنیت، عرف او عاداتو سره یې سمون نه درلود په هغه وخت کي نسوای پلي کیدای[1].

[1]- محمد نادر ایوبي، سیاسي نظریات، ۱۴۲۹ق، مخ ۵۲۷.

# بانکوکراسي[1]

بانکوکراسي د انګلیسي او یوناني ژبې ددوو ویو څخه جوړه سوي اصطلاح ده، چې بانکي حکومت یا دبانکونو حکومت ته ویل کیږي، دیته په یونانۍ ژبه کې ترافیزوکراسي هم ویل کیږي، چې (ترافیزو) په یونانۍ ژبه کې د بانک او کراسي د حکومت په مانا ده. دا ډول سیاسي رژیم د بانکونو ترواک او اغیز لاندې وي، همدارنګه هغه ټولنه چې په هغه کې مالي قوانینو واک په لاس کې اخیستئ وي هغې ته هم بانکوکراسي ویل کیږي.

د بانکوکراسۍ لومړی کارونکی دانګلستان د پارلمان غړی ویلیم فولارټون (۱۷۵۴-۱۸۰۸ز) دی، چې ده په (۱۷۷۹ز) کال کې د پارلماني مبارزي پر مهال دا سکالو روښانه کړ، چې د انګلستان د بانک د انحصار په اړه هڅې تر هغه ډیري اړینې دي، چې د فرانسې او انګلستان ترمنځ د جګړې لپاره کیږي.

د امریکا یو سناتور رابرت جې واکر په (۱۸۴۰ز) کال کې دامریکا د بانک لخوا پر کاغذي پیسو باندي نیوکې وکړې او داسې یې اټکل کړه، چې دا پیسې به د امریکا د وګړو حقوق تر پښو لاندې کړي او بانکوکراسۍ ته به لاره هواره کړي، همدارنګه دا به تر هغه ډیر

[1] Bankocracy.

خطرناکه وي، کوم چي بشپړو او ظالمو پاچاهیو په خپلو ټولنو کي زیان اړولی دی.

د بانکوکراسۍ اصطلاح د مارکس لخوا هم کارول سویده، چي مارکس زیاتره وخت دا اصطلاح د مالي کاپیټالیزم لپاره کارول، همدارنګه د ځینو نړیوالو ژورنالیستانو لخوا بیا دا اصطلاح زیات وخت د نړیوال مالي بحران پر مهال باندي کارول کیږي.

# بیوریوکراسي[1]

د بیوریوکراسي اصطلاح د دوو ویو (لغـاتو) څخه جوړه سویده، چي (بیوریو[2]) د میز او دفتر پـه مانا ده او (کراسي) دواک او حکومت پـه مانـا دی، نـو بیوریوکراسـي هغـه سیاسـي او اداري سیسـتم تـه ویـل کیږي، چي یو ګڼ شمېر مامورین تـر سـختو او دقیقـو قوانینو لاندي د معلوماتو په راغونډولو او اداري کارونو باندي بوخت وي او مامورین اړ دي، چي یوازي تر هغو قوانینو لاندي کار وکړي، چي ددوی لپاره د لوړو مقاماتو لخوا ټاکل سوي وي[3].

بیوریوکراسي هغه سیاسي او اداري سیسـتم تـه ویـل کیـږي، چي یـوه ډله ناټاکل سوي مامورین تر ټاکلو قوانینو لاندي کـار کـوي او دوی پـر ټولنـه بانـدي واک پلـی کـوي او دخپلـو قوانینـو سـره سـم چلنـد کـوي. بیوروکراسـي هغـه حکومـت تـه هـم ویـل کیـږي، کـوم چـي د کوچنیـو دفترونو، ادارو او کارګرو ډلو څخه جوړ وي.

پـه بیوروکراسـۍ کـي ټـول مـادي او بشـري وسـایل د اداري د موخـو د لاسته راوړلو په موخه پـه مـنظم ډول کـارول کیـږي او هڅـه کیـږي، چي

---

[1] -Bureaucracy.
[2] -Bureau.
[3] -Cambridge Dictionary.

اداري څارنه او نظم په ښه ډول ټينګ سي. هګل، بيوروکراسي د دولت روح ګڼي او مارکس بيوروکراسي د فشار د آلي په څير ګڼي چي واکمن پوړ يې د خپل واک د پايښت لپاره کاروي. ماکس وبر، بيا بيوروکراسي هغي دستګاه ته وايې، چي د ټاکلو قوانينو او قواعدو پر بنسټ ولاړه وي او د کارګرانو اړيکي يو دبل سره د ټاکلو اصولو پر بنسټ اداره کيږي، چي په اوسني وخت کي د سياسي، اقتصادي او نورو موخو د لاسته راوړلو لپاره ډيره اغيزمنه ګڼل کيږي. همدارنګه دى وايي په بيوروکراسۍ کي مامورين بايد خپل ځان په اداري کي حل کړي، ياني يوازي د اداري د موخو د لاسته راوړلو لپاره کار وکړي. پدي نظام کي واک د لوړي خوا څخه د امرونو په بڼه پر کښتو مامورينو باندي پلى کيږي[1].

بيوروکراسي کولاى سي، چي په هره ټولنه کي حکومتي واک د ټولني د ګټو په موخه و کاروي او بشري ځواک تر ټاکلو قواعدو لاندي کنټرول کړي. خو داسي هم کيداى سي، چي د ټولني د ګټو پر وړاندي دريغ ونيسي او تخريبي بڼه واخلي. خو بيورو کراسي کيداى سي، چي د ولس او دولت ترمنځ د پل په څير کار وکړي، لکه څرنګه چي ولس د بيلابيلو ډلو څخه جوړ دى او هره ډله ځانته ځانګړې ګټي لري، چي دولت هم د همدغو ډلو د ګټو پر ساتلو مکلف دى، نو ځکه بيوروکراسي تر ټاکلو قواعدو لاندي همدا ګټي ساتي.

داچي بيروکراسي د ولس ګټي ساتي او که يوازي د واکمن پوړ ګټي ساتي، پدي اړه د هګل او مارکس د آندونو ترمنځ ټکر شتون لري، هګل پدي آند دى چي بيوروکراسي د ولس د بېلابېلو ډلو ګټي په ملي

---

[1]- مينو افشاري راد و علي اقا بخشي، فرهنګ علوم سياسي، ص ۷۳

ګټو بانـدي بـدلوي او همـدا ملـي ګټـي سـاتي، خو مـارکس بیـا دا خبـره ردوي او وايې، چي بیوروکراسي یوازي د واکمن پوړ د ګټو ساتونکې ده.

د امریکایې ټولنپوه جوبرګ په‌آند بیوروکراسي یوه داسي وسیله ده، چي واکمـن پـوړ د خپلـو ګټـو د سـاتلو پـه مخـه کښـته پـوړ کنټـرول او څاري. د هغو څیړنکو په‌آند چي بیوروکراسۍ ته په مثبت نظر ګوري، بیوروکراسي داسي نظام دی، چي په هغه کي ټول کارکونکي پـه مـنظم ډول ترتیـب سـوي وي او د اداري د موخـو د لاسـته راوړلـو لپـاره کـار کوي.

د ماکس وبر په‌آند بیوروکراسي لاندي ځانګړتیاوي لري:

۱-پـه بیوروکراټیکـه اداره کـي کارونـه د مـامورینو د تخصـص او مسلک پر بنسټ ویشل کیږي.

۲- د کارکونکو او مامورینو تـرمنځ اړیکـې د ټاکلو قواعـدو پربنسـټ وي.

۳- د اداري فعالیتونه د لیکلو مقرراتو او امرونو پربنسټ اجرا کیږي.

۴- د هـر کـارکونکې فعالیـت د اداري منطـق پربنسـټ نـه د شخصـي منطق پر بنسټ سرته رسیږي، یـانې پـه اداري کـارونو کـي د مـامورینو شخصي آندونو ته ارزښت نه ورکول کیږي.

۵- وړتیا او تخصص د مـامورینو د ګمـارلو او لـوړوالې یـوازني لامـل وي[1].

کله چي بیوروکراسي د ولـس ګټـي پـه نظر کـي ونـه نیسـي او یـوازي دواکمن پوړ د ګټو لپاره کار وکړي، نو دیتـه بیـا (بیـوروکراټیزم) ویـل

1- غلامرضا علي بابايي، فرهنګ سیاسي آرش، ص ۱۳۸-۱۴۰

کیږي، یانې کله چې اداري تشریفات د افراط تر بریده ورسیږي او حکومت د خلکو افکارو او غوښتنو ته پاملرنه ونه کړي نو دیته بیوروکراټیزم ویل کیږي. په بیوروکراټیزم کي حکومت د داسي ډلي په لاس کي وي، چې د خلکو په منځ کي ځای نلري او یوازي د خپل واک د ساتلو په موخه منظم اداري تشکیلات لري او ټولنه په منظم ډول کنټرولوي.

دیته ورته په بیوروکراټیزم کي هرڅه یوازي د کاغذونو پر مخ باندي اجرا کیږي او په عمل کي هیڅ هم نه وي، همدارنګه د کاغذونو پرمخ باندي ډیر څه سوي وي خو په عملي ډګر کي هیڅ نه وي اجرا سوي.

# پاترياړشي[1]

پاتریارشي د یونانۍ ژبې د (پاتر) یانې پلار او (ارشي) یانې حکومت څخه جوړه سویده او هغې سیاسي او ټولنیزي تلنلارې ته ویل کیږي، چې واک د نارینه وو، په ځانګړې توګه د پلار په لاس کي وي او پلار په کورنۍ او سیاسي برخه دواړو کي بشپړ واک په لاس کي لري. په پښتو ژبه کي پاټریارشۍ ته (پلارواکي یا پلارواکمني) هم ویلای سو.
پاټریارشي هغه سیاسي رژیم ته هم ویل کیږي، چې ټول واک یوازي د بالغو نارینه وو په لاس کي وي، یانې واک یوازي نارینه وګړې پر ټولني باندي پلی کوي[2].
پلارواکي نه یوازي په سیاسي برخه کي شتون لري، بلکي په ټولنیزو او په ځانګړې توګه په کورنیو کي زیاته پلي کیږي، همدارنګه د دولت د پیدا ښت په اړه هم د پلارواکۍ آند د زیات ارزښت وړ دی، زیاتره پوهان پدې آند دي، چې لومړنۍ ټولني پلارواکي وي او پلار په طبیعي ډول د کورنۍ، قبیلي او کلان رمشر و. په پلارواکۍ باندي د

---
[1] -Patriarchy.
[2] - English Social Wikipedia.

ښي پوهېدني لپاره به د دولت په اړه د پلارواکی آند هم په لنډه توګه تر څېړني لاندي ونیسو:

**د دولت د پلارواکی اند**:

د دي آند پربنسټ دولت د کورنیو د طبیعي پراختیا څخه زیږیدلی دی، چي په هغه کي نسل په نارینه انسانانو پوري اړوند ګڼل کیدی او زوړ یا د زیات عمر خاوند نر به مطلق واک درلودی. لومړنی ټولنیز واحد کورنۍ وه. د (مک آیور) په آند په ټولو کورنیو کي اړیکي او واکونه موجود وه چي د حکومت د جوړښت لامل وګرځیدل. د هغه اړتیاوو پر بنسټ چي کورنۍ جوړه سوي وه، همغو اړتیاوو یو ډول مقررات او قواعد هم زیږولي وه. په کورنۍ کي مخکي له مخکي څخه حکومت په کوچنی بڼه سره شتون درلودی. (هنري ماین) د لرغونو رومي، سلاوي او هندو قوانینو د څېړنو څخه وروسته داسي وایي چي په لومړنیو ټولنو کي د کورنیو تر ټولو زوړ سړي مطلق واک درلودی او د اولادونو او غلامانو د مرګ او ژوند واک یې هم درلودی. دده د (لرغونی قانون) په کتاب کي راغلي دي((په کورنۍ کي تر ټولو زاړه سړي د کورنی پر ټولو غړو باندي مطلق واک درلودی. دی نه یوازي د کورنۍ د شتمنۍ مالک و بلکي د خپلو اولادونو د ارادو واک هم ورسره و)). کله چي به یې زامنو ودونه کول نو په طبیعي توګه سره یې کورنۍ پراخه کیدلي، خو د لومړنۍ کورنۍ د رئیس واکمني به ټولو نسلونو منل. د کورنۍ د رئیس په مرګ سره به دده واک دده د نسل تر ټولو زاړه نر ته لیږدیدی.

د هغو کورنیو زیاتوالی چې د یوه رئیس تر واک لاندې وي د قبیلو د پیداکیدو لامل وګرځیدی. د وخت په تیریدو سره به د یوې قبیلې زیات غړي د هغې قبیلې څخه بیل سول او په نورو ځایونو کې به یې واړول، چې دا بیلوالی د نورو کوچنیو قبیلو د زیږیدو لامل سو. دا قبیلې چې د وینې پر بنسټ یې اړیکې سره لرلې، د ګډو موخو لپاره او په ځانګړې ډول د بهرني د ښمن د یرغل پرمهال به سره یو کیدلې او په ګډه به یې د فاع کول، چې دې کار پخپله د دوی د یوالي او ګډ واک څرګندویې کول. وروسته د دې قبیلو غړي سره یوځای سول او یوه لویه سیاسي ټولنه (دولت) یې منځته راوړ. د (ماین) په آند ((کورنۍ غوره ټولنه ده چې د هغې ترڅن د کورنۍ په نارینه مشر پوري اړوند و. د کورنۍ په پراختیا سره نسب او خاندان منځته راغلی. همدارنګه د کورنیو پراختیا قبیلې منځته راوړې او د قبیلو په لویوالي سره د ګډو ګټو ټولنه[دولت] جوړ سو)). دده په آند په لومړنیو ټولنو کې ټولنه د وګړو مجموعه نه وه بلکې د کورنیو مجموعه وه او د ټولنې بنسټیز واحد هم کورنۍ وه.

پدې وروستیو وختونو کې فرانسوي حقوقپوه (دوګي) د پلاواکی د آند څخه ملاتړ وکړ. دده په خبره((د کورنۍ پلار طبیعي رئیس دی او د دولت واکمنان د کورنیو د همدې مشران تر واک لاندې دي. لرغوني ښارونه یوازې د کورنیو مجموعه وه چې په هغه کې واک د کورنۍ په پلار پوري اړوندو)). د دولت د پلارواکی آند د دریو فرضیو پربنسټ ولاړ دی:

۱- په لومړنیو ټولنو کې واده په تلپاتي بڼه د پلاروالی پر بنسټ منل سوی و.

۲- د نسل زیاتوالی یوازي د نارینه خلکو له لوري ترسره کیدی او هیڅ ښځینه اولاد د نسل په زیاتوالي کي نه ګڼل کیدی.
۳- د کورنۍ ټول واک د کورنۍ د نارینه مشر په لاس کي و چي پر نورو غړو باندي یې مطلق واک درلودی.
(هنري ماین) د خپل آند څخه په ملاتړ کي د عبرانیانو، یونانیانو او رومیانو د کورنیو تاریخ ته ګوته نیسي. دده په آند په عبري کورنیو کي تر ټولو زاړه سړي د کورنۍ پر غړو باندي استبدادي واک چلوی. په نورو ټولنو کي هم د کورنیو واک د زړو خلکو په لاسونو کي و. پدي ډول دی په لومړنیو ټولنو کي د پلارواکۍ د آند لپاره د نارینه اولادونو خوښونه، تلپاتی واده او د پلار د واک ځانګړني په ګوته کوي او پدي آند دی چي د کورنیو د پراختیا په پایله کي مدني ټولنه منځته راغلي ده او د کورنیو رئیس د پاچا په بڼه څرګند سو.
د پلارواکۍ آند د بیلابیلو اړخونو څخه تر نیوکي لاندي راغلی دی. مکلنان، مورګان او جنکس چي د لومړنیو ټولنو په اړه یې لوستني کړیدي، دي پایلي ته رسیدلي دي چي (هنري ماین) د دي آند لپاره هیڅ تاریخي دلیل نلري. د دوی په آند په لومړنیو ټولنو کي د کورنیو واک د پلار یا د کورنۍ د مشر نارینه په لاس کي نه و، بلکي مورواکي کورنۍ چي کورنی اړیکي یې د مور پر بنسټ څرګند یدلي، د لومړنیو ټولنوبنسټیز واحدونه وه. دا ځکه چي په لومړنیو ټولنو کي د څومړونو رواج شتون درلودی، نسب د مور لخوا ټاکل کیدی او پلارنۍ نسب به د اټکل او ګمان له لاري ټاکل کیدی. د ښځو لخوا به د نارینه اولادونو د نسل ټاکل د ډیرو ستونزو او نیمګړتیاوو سره مخ و. همدارنګه داسي هم ویل سویدي، لکه ماین، چي وایي د کورنیو بدلیدل په طایفو او د

طایفو بدلیدل په قبیلو باندي کوم تاریخي ثبوت نلري. د (جنکس) په آند د لومړنیو ټولنو بنسټیز واحد قبیله وه نه کورنۍ. هره قبیله پر طایفو ویشل سوې وه او طایفې بیا د خاندانونو څخه جوړې سوې وې او خاندانونه بیا د کورنیو څخه جوړ سوي وه. همدارنګه په لومړنیو ټولنو کي واده هم په تلپاتي بڼه نه و.

که څه هم د دولت د پلارواکی پر آند باندي نیوکي سوي دي خو بیا یې هم د دولت په پیاوړتیا او تکامل کي اغیزمن رول لوبولی دی. د دې آند پلویان پر دې باور دي چي په هره کورنۍ کي ځواکمن او کمزوري غړي شتون لري، نولکه څرنګه چي په کورنۍ کي پلار ځواکمن دی، نو ځکه پر خپلو اولادونو او د کورنۍ پر غړو باندي واکمن هم دی[1].

---

[1]- فرهاد داوري، سیاست پوهنه، ۱۳۹۱ل، ص ۱۸۹-۱۹۲.

# پارتیکراسي(1)

پارتیکراسي هغه سیاسي سیستم ته ویل کیږي، چې سیاسي قدرت د یوه یا څو سیاسي ګوندونو په لاس کې وي. پدې سیستم کې خلک په ګوندونو کې سره منظم سوي وي او د سیاسي قدرت پر سر د سیاسي ګونـدونو تـرمنځ سـیالي کیـږي(2). پـه پارتیکراسـي بانـدې د ښـې پوهېدنې لپاره ګوندي نظامونه په لنډ ډول لولو:

## ګوندي نظامونه:

پـه بیلابیلو هیوادونـو کې بیلابیـل ګونـدي نظامونـه لکـه څوګونـدي، دوه ګوندي او یوګوندي سته، چې هریو به په لاندې ډول ولولو:

### ١ . څوګوندي نظام:

د اروپا د لویې وچې په هیوادونو کې څوګوندي نظامونه رواج دي. پـه فرانســه کـې یـو وخـت دا ډول نظـام موجـود و او د ګونـدونو شـمیر یـې شلو(٢٠ ) ته رسیدی. همدارنګه په آلمان، ایټالیا او سویس کې هم څو ګونـدي نظـامونو شـتون لـري. پـه ټـولیز ډول پـه څوګونـدي نظـامونو کې کابینه(وزیران ) په ائتلافي بڼه ټاکـل کیـږي، ځکـه چې هیـڅ ګوندنسـي کولای، چې اکثریت ترلاسه کړي. بلکې څو ګوندونه یا څو ډلـې لاسـونه

---

1 - Particracy.

2 - English Wikipedia ( article under the content of Particracy).

سره ورکوي چې اکثریت په لاس راوړي. پر همدې بنسټ دا ډول ګوندي حکومتونه پـه هغوګونـدونو او ډلـو پـوري تړلـي دي، چـې د ائـتلاف او یوالي د لاري وکولای سي، اکثریت په لاس راوړي. که چیـري ګوندونـه همداسي خپل یوالی وساتي نو حکومت به هم ټینګ او باثباته وي، خو که چیري د ګوندونو یوالی له منځه ولاړی نو بل حکومت به په نوې بڼې سره منځتـه راسي. پـدې ډول حکومتونـو کـې هر وزیـر ځان راتلـونکی لومړی وزیر ګڼي.

## الف- د څوګوندي نظام ښیګڼې:

سربیره پردې چې څو ګوندي نظام خپل ارزښت د لاسه ورکړی دی، خو بیا هم د ځینو ښېګڼو لرونکـی دی. پـه حقیقت کـې د دوه ګونـدي نظـام بدګڼې د څوګوندي نظام ښیګڼې دي: د دې نظام یوه ښـیګڼه دا ده چـې د حکومت د دیکتاتورۍ او استبداد مخه نیسي، یانې کله چې حکومت په ائتلافي بڼه د څو ګوندونو څخه جوړسوی وي، نو پدې وخت کـې پـه دیکتاتور او استبدادي حکومت بانـدې نسـي بدلیـدای. همدارنګـه پـه څو ګوندي نظام کـې د وګـړو د ټاکلو سـاحه پراخـه ده. کـه چیـري پـه یـوه هیـواد کـې څـو ګـوندونـه شـتون ولـري، نـو د بیلابیلـو ډلـو، پوړونـو او اړخونو ګټې ساتل کیږي؛ ځکه چې هر ګونـد د یـوې ډلـې او یـو پـوړ پـه استازیتوب کـار کـوي او د هغـو ګټـې سـاتي. همدارنګـه وګـړي کـولای سي چې خپله پیژندنه وساتي او هر ګونـد چـې یـې زړه وغـواړي پـه هغـه کې شمولیت اخیستلای سي.

### ب- د څوګوندي نظام بدګڼې:

پر پورته ښېګڼو سربېره څو ګوندي نظامونه تر زیاتو نیوکو لاندې راغلي دي. څو ګوندي نظام د هېواد مقننه قوه د اړودوړ او د سیسو سره مخ کوي، په څو ګوندي نظام کې د حکومت بې ثباتي تل موجوده وي، یانې کله چې کابینه د څوګوندونو تر اداري لاندې کارکوي،نو د دې لامل ګرځي، چې حکومت کمزوری او بې ثباته سي، د حکومت بې ثباتي د حکومت پر کاري میکانیزم باندې اغېزښندي او د حکومت کړنې د ننګونو سره مخ کوي. که چېرې په یوه هېواد کې زیات ګوندونه شتون ولري او هېڅ یو ونسي کولای، چې اکثریت تر لاسه کړي، نو پدې وخت کې سالم اپوزیسیون چې د پارلماني ډیموکراسۍ لپاره ډېر اړین دی، نسي کولای چې فعالیت وکړي. همدارنګه حکومت د واک غوښتونکو ډلو ترمنځ ویشل کیږي او حکومت په خپلو کړنو کې پاته راځي.

### ۲. دوه ګوندي نظام:

دوه ګوندي نظام لومړی په انګلستان کې څرګند سو. په انګلستان کې د کورنیو جګړو پر وخت د توري او ویګ، وروسته لیبرال او محافظه کار او اوس د کارګر او محافظه کارګوندونو تاریخ ته په کتو سره داسې معلومیږي چې د دې ډول نظام لومړنۍ ریښې په انګلستان کې دي. په دوه ګوندي نظام کې سربېره پردې چې د دوګوندونو څخه یو ګوند واک په لاس کې اخلي، ځینې کوچنې ائتلافونه او ډلې هم شتون لري، د بېلګې په توګه په انګلستان کې پر کارګر او محافظه کار ګوندونو سربېره لیبرال ګوند هم شتون لري، خو په ولسي جرګه کې

دومره ارزښت نلري. د امریکا په متحده ایالاتو کې ډموکراټان او جمهوریت غوښتونکي دوه اصلي ګوندونه دي، چې د امریکا حکومت ور باندې ولاړدی، پداسي حال کي چي ځيني نور کوچني ګوندونه او ډلي هم سته چي دومره ارزښت نلري.

### الف- د دوه ګوندي نظام ښيګڼې:

په دوه ګوندي نظام کي کابینه(وزیران) د هغه ګوند څخه ټاکل کیږي، چي اکثریت یې ګټلی وي، پر همدې بنسټ کابینه (حکومت) باثباته کیږي او د هیواد سیاست دوام او ټینګښت پیدا کوي. په حقیقت کي ډموکراټیک حکومت منځته راځي او مخالف ګوند هم ځانګړی رول لوبوي. (لاسکي) د دوه ګوندي نظام ښیګڼې په ښه ډول رالنډې کړي دي (د خلکو لخواد استازي حکومت د ټاکلو لپاره دوه ګوندي نظام غوره لارده. دا نظام حکومت پدې باندې توانوي چې خپل سیاست په قانوني بڼه څرګند کړي او د ناکامه کیدو اغیزې یې په ښکاره ډول ووینې. دوه ګوندي نظام ډیر ژر خپل ځای ناستی حکومت منځته راوړي).

### ب- د دوه ګوندي نظام نیمګړتیاوي:

د دوه ګوندي نظام نیمګړتیاوي پدې ډول دي: دوه ګوندي نظام د مقنني قوي ارزښت کموي او اجرایه قوه پر هغې باندې واکمنه کیږي، د رایه ورکونکو ټاکنه یوازې په دوه ګوندونو پوري تړل کیږي، ټولنه پر دوو ګوندونو باندې ویشل کیږي او دا دوه ګوندونه نسي کولای چي د ټولني د ټولو پوړونو او اړخونو ګټې وساتي، په دوه ګوندي نظام کي

د مشــر تیاکــل د لیاقــت او اســتعداد پــر بنســټ نــه کیــږي، بلکــي د شوا ړیکو، درنښت او نورو ارزښتونو پر بنسټ کیږي، چي دا پخپله یو بې ارزښته ټاکنه ده.

## ۳. یو ګوندي نظام:

یو ګوندي نظام (د ګوندونو ګډه ټلواله) پـه هغـو هیوادونـو کـي شـتون لــري، چــي د کمونیســتي ایــډیالوژۍ لرونکــي وي. سو سیالیســتي شوروي اتحاد یوازنی هیواد و چي د کمونیست واکمن ګوند پـه وخـت کي یي یو ګوندي نظـام وټـاکی. کمـونیسـت ګونـد د ټولـو سـازمانونو د لارښود هسته وګڼل سول او هم د کـارګرانو او خواریکښـانو د مخکښ لارښـود پـه بڼـه یـي کارکـاوه. پـر همـدي بنسـټ د دي ډول نظـام تـاریخي ریښـه پـه شلمه پیړۍ کي شتون لـري، چـي د لـومړۍ ځل لپـاره د سـرمایه داري او بورژوازي پوړ پر وړاندي د مبارزي پـه تـرڅ کـي څرګنـد سـو. پـه روســیه کــي د کمونیســت ګونــد لــومړنی لارښــود او مشــر (لیــنن) و، ده یو کتاب د (څه باید وکړو !) په نامه ولیکی چي د کمونیست ګونـد تخـم یي په روسیه کي وکری. د ده څخه وروسته (ستالین) واک پـه لاس کـي واخیسـتی او د ده پـه وخـت کـي د اساسـي قـانون او قانونیـت پـه لـوري ګامونه واخیستل سول. (ستالین) ویل (یوازي د پرولتاریا کمونیسـت ګوند د دولت او د پرولتاریا دیکتاتورۍ مشرتوب پـه لاس کـي لـري، او نه غواړي چي په همدي مشرتوب کـي د نـورو سـره ګډ سـي). همدارنګـه چــین، یوګوســلاویا، چکســلواکیا، لهســتان (پولینــډ)، رومــاني، بلغاریــا، مجارســتان او یــو شــمیر نــورو هیوادونــو یــو ګونــدي سوسیالیسـتي نظـام (د ګونـدونو ګـډه ټلوالـه) د کمونیسـت ګونـد پـه

مشرتوب باندي ومنل. د لومړۍ نړیوالي جګړې څخه وروسته ایټالیا، ترکــي، آلمــان، اســپانیا، پرتقــال او یو شــمیر نــورو هیوادونــو هــم یــو ګوندي نظام ومنی.

یو ګوندي نظام د ډموکراسۍ سره بنسټیز او ایډیالوژیک توپیرونه لري، خو د دوه ګوندي او څو ګوندي نظامونو سره دومره توپیرنلري. د ډموکراسۍ بنسټیز ارزښت یانې سیاسي سیالي په یو ګوندي نظام کي نشــته او هــم پــه ځینــو یوګونــدي نظــامونوکي یــوازي یــوه ګونــد تــه د فعالیت اجازه ورکـول سویده او نـورو ګوندونـه پـه قـانوني بڼـه نسـي کـولای، چـي فعالیـت وکـړي او یـا هـم د سیاسـي واک لپـاره خپلواکـه سیاسي سیالي وکړي. پر همدي بنسټ یو ګوندي نظام خپل سیالان ځنګ ته کوي او یایي هم له منځه وړي.

د شــوروي د کمونیســت ګونــد، چــي د یــو ګونــدي نظــام بنســټ یــي کېښېښــودی د (لیــنن) پــر افکــارو او تلــنلارو بانــدي ولاړ و. کلــه چــي پــه شوروي کي کمونیست ګوند بریـالی سو او واک یي په خپـل لاس کـي واخیســتی نــو د دي دلیــل پــر بنســټ یــي د شــوروي پــر پــوړیزي ټــولني یوازي واکمني په لاس کي واخیستل، چي د کمونیست ګوند د ټولني د اکثریت غـړو څخـه جوړ و او بایـد یـوازي پـر ټولنـه بانـدي حکومـت وکړي ترڅو پوړیزه ټولنه په نـا پـوړیزي ټـولني بانـدي واړوي. پـر همـدي بنســټ د شــوروي د کمونیســت ګوند پــه(۱۹۱۷ز) کــال کــي جوړســو او زیاتو نورو هیوادونو یي په تقلید سره پیروي کول.

پر یو ګوندي نظام باندي زیاتي نیوکي ستــه، چي پــه لانــدي ډول یــي د یو څو یادونه کوو:

**لومړی**: د ګوندونو په جوړښت او بنسټ کې سیالي او رقابت شتون لري. پداسي حال کي چي په یو ګوندي نظام کي ایډیالوژیکه سیالي شتون نلري، یاني د سیاسي واک د لاسته راوړلو لپاره د ګوندونو ترمنځ د ډموکراتیک حکومت په څیر خپلواکه سیالي شتون نلري، که څه هم د ګوند په دننه کي څه ناڅه سیالي شتون ولري، خو هغه د ډموکراسۍ د سیالیو په څیر ندي.

**دوهم**: د ګوندونو مهمه دنده داده چي، لومړی د سیاسي واک د لاسته راوړلو لپاره غوره مشر او نوماند وټاکي او وروسته د سیاسي واک لپاره سوله ییز هڅي پیل کړي او دا واک بیله اړودوړاو زورزیاتي څخه په لاس راوړي. پداسي حال کي چي په یو ګوندي نظام کي واک یوازي د یوه ګوند په لاس کي وي او د هغه ګوند په منځ کي واکمنان بدلیږي او بلي ډلي ته واک نه سپاري، نو ځکه پدي ډول نظام کي واک سوله ییزه بڼه نلري او بالاخره دا نظام په کودتاګانو او انقلابونو باندي بدلیږي.

په پای کي باید ووایو چي یو ګوندي نظام د جوړښت له مخي نه بلکي د واکمنتوب له مخي د ویشلو وړتیا لري. ځیني یو ګوندي نظامونه داسي وي چي واک یوازي د یوه ګوند په لاس کي وي او نور ګوندونه د قانون له مخي د فعالیت اجازه نلري، خو ځیني یو ګوندي نظامونه بیا داسي وي چي نور ګوندونه د فعالیت اجازه لري خو په عملي توګه دا چانس نسي تر لاسه کولای چي واک په لاس کي واخلي؛ ځکه چي یو ګوند د ټولني پر سیاسي ژوند باندي بشپړه واکمني لري. خو په ځینو نورو حالاتو کي بیا داسي وي چي ګوندونه په مساوي ډول د فعالیت او سیالۍ اجازه لري خو یو ګوند تر مخکي کیږي او د زیات وخت لپاره

پـر تېـولني بانـدي واکمنـي کـوي. د بیلګـي پـه توګـه پـه سـوئډن کـي د سوسیال ډموکراټ ګونداو په هندوستان کي د کنګري ګونـد دی، چـي د زیاتو وختونو راهیسي د واک پر ګدۍ باندي ناست دي. د یـوه ګونـد دا ډول واکمني نسو کولای چي غیري ډموکراټیکه یي وبولو؛ ځکه چي دا ګونـد ځـواکمن دی او د خپـل ځـواک پـر بنسـټ د وختونـو راهیسـي واکمني کوي. همدارنګه دي ګوندونو د ډموکراټیکو لارو چارو څخه ګټـه اخیسـتي ده او د قـانون پـر بنسـټ واک تـه رسـیدلي دي او داډول واکمني هیڅکله غیـري ډموکراټیکـه نـده بلکـي ډموکراټیکـه واکمنـي ده[1].

## د ګوندي نظام ښېګڼې او بدګڼې:

دا جوته ده چي د سیاسي ګوندونو شتون د نوي ډموکراټیک حکومت لپـاره اړیـن دی. ګوندونــه د ډموکراسـۍ د ملاتیـر دی. همدارنګــه د ګونـدونو بنسـټیزه دنـده د واک لپـاره سـوله ییـزه مبـارزه او د ملـي ګټـو ساتل دي، دا هـم غـوره خبـره ده چي واک پـه سـوله ییـزډول د خپلواکـو سیالیو په پایله کي د یوي ډلي څخه بلي ډلي ته انتقال سي. پـه عمـومي ډول کولای سو، چي د ګوندي نظام ښیګڼي او بدګڼي پدي ډول په ګوته کړو:

### لومړی- دګوندي نظام ښیګڼي:

ګوندي نظـام خلـک سیاسي بهیرونـو تـه اچـوي او د سیاسـي قـدرت د لاسـته راوړلـو لپـاره هسـتي جـوړوي، ترڅـو د همـدي هسـتو د لاري

[1] -دولت دولتیار، آموزش دانش سیاسي، ص ۴۱۸-۴۲۰

سیاسي قدرت لاسته راوړي او پر ټولني یې پلی کړي، پـه ټولیز ډول د ګوندي نظام ښېګڼې عبارت دي له:
- د سیاسي ګوندونو شتون د انسان د طبیعت سره همږغي ده؛
- د ډموکراسی بریا یوازي په سیاسي ګوندونو کې ده؛
- هیوادونه د اړودوړ څخه راګرځوي؛
- د خپلسرو قوانینو مخه نیسي؛
- ګوند د اجرایوي قوي استبداد مهاروي؛
- د مقنني قوي ارزښت زیاتوي؛
- ټاکني اسانه کوي؛
- د حکومت د اورګانونو ترمنځ همږغي منځته راوړي؛
- پوړیز حکومت د خلکو په حکومت باندي بدلیږي؛
- پوهه بشپړ ارزښت پیدا کوي؛
- او د ډسپلین روحیه رواجیږي.

## دوهم ـ د ګوندي نظام بدګڼې:

پر پورته ټولو ښېګڼو سربیره زیاتو پوهانو سیاسي ګوندونه تر نیوکو لاندي راوستي دي، په عمومي ډول ګوندي نظام تر ډیرو ټینګو نیوکو لاندي راغلی دی. (روسو) پـدي آند و پـه هغـه هیـواد کـي چـي سیاسـي ګوندونه فعاله وي، عامه افکار نسي کولای چي په ښـه ډول وغـوړیږي. په لاندي ډول پر ګوندي نظام باندي نیوکي راټولو و:
۱. د عمـومي افکـارو لـه مخـي سیاسـي ګوندونـه د ټـولني د بیلتـون او نفاق لامل ګرځیدلي دي، نه د یوالي او ملي تړون لامل؛

۲. سیاسي ګوندونه د واک د لاسته راوړلو په وخت کي اخلاقي آرونه تر پښولاندي کوي؛

۳. ټاکلي پروګرامونه او داسي ریښتني تلنلارې چي وکولای سي د ټولني اقتصادي، ټولنیزي او کلتوري ستونزي حل کړي، نه لري؛

۴. پخپله په ځاني او ډله ییز فساد کي ډوب دي، او د ګوند د غړو ترمنځ د مالي فساد او ناوړه ګټي اخیستني له امله پر ګوندونو د خلکو باور کم سوی دی؛

۵. د خلکو پر وړاندي یي خپل شخصیت د لاسه ورکړی دی او د ټاکنیزو سیالیو په وخت کي د بازارموندني په شان د خلکو د ملاتړ د پیداکولو لپاره هڅي کوي؛

۶. ګوندي مشرتوب خپل محبوبیت د لاسه ورکړی دی، ځکه چي دوی یوازي د ځاني ګټو په لټه کي دي؛

همدارنګه زیاتي نوري نیوکي هم سته چي په لاندي ډول یي لولو:

- سیاسي ګوندونه په ټولنه کي ډله او ډل بازي رواجوي؛
- د ګوند د مخالفو وګړو استعداد ته درناوی نه کوي؛
- د ګوند ګټي تر ولسي ګټو لوړي ګڼل کیږي؛
- ریاکاري او دوه مخي نوره هم زیاتوي؛
- فردیت او د انسان پیژندنه کم ارزښته کوي؛
- غړي تنګ نظره کوي؛
- په پای کي د ځاني ګټو په لاس کي لویږي؛
- خلک نیمګړي سیاسي پوهه ترلاسه کوي؛
- پر سیمه ییز ژوند باندي سرچپه اغیز لري؛
- حکومت بي ثباته کوي؛

ـ لنډ مهاله ټولنيز-سياسي جوړښت دی؛

ـ د هغو اړتياوو د پوره کولو لپاره چي پرغاړه يې لري، کمزوری دی[1].

دا ټولي هغه نيوکي وي، چي د ګوند د پيدا ايښت څخه بياتر اوسه د نيوکه کونکو ترمنځ موجودي وي، خو کيدای سي چي ځيني نيوکي يې د حقيقت څخه ليري وي.

[1]- دولت دولتيار، آموزش دانش سياسي، ص ۴۰۸-۴۱۱

# پانارچيزم[1]

پانارچيزم داسي سياسي فلسفه ده، چې هر وګړې ته دا حق ورکوي، په کوم حکومت او سياسي ټولني کي چې ګډون کوي، کولای سي، پدي سياسي فلسفه کي وګړو ته زيات واک او اختيار ورکول کيږي، حتا کولای سي، چې د هر حکومت غړيتوب واخلي. وګړې کولای سي، چې د غړيتوب لپاره د حکومت ټاکنه په خپله خوښه وکړي، نه د زور او اکراه له لاري.

د پانارچۍ اصطلاح د بلجيمي اقتصاد پوه پودت لخوا په ۱۸۶۰ز کال کي په هغي مقالي کی نشر سوه، چې د (پانارچيزم) تر عنوان لاندي يې ليکلي وه. وروسته د پانارچۍ اصطلاح د پانارچيزم څخه په بېله مانا باندي وکارول سول، ياني ددي دوو اصطلاحاتو د تعريف او پيژندني تر منځ زيات توپير موجود سو.

پودت د ازاد اقتصاد پلوی وه او په اقتصادي سيستم کي يې د ليسه فير فرضي ملاتړ کاوه، دده په آند د دولتونو ترمنځ ازادي سيالۍ ديته زمينه برابروي، چې دوی د خپلو ځانونو لپاره سيستمونه وټاکي، که چيري د دولتونو ترمنځ ازادي سيالۍ شتون ولري، نو دوی په خپله

[1] -Panarchism

خوښه کولای سي، چې د خپلو موخو د لاسته راوړلو او بریاوو لپاره ځانګړې سیستمونه وټاکي. کله چې دولتونه د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره په خپلو اکه توګه مبارزه کوي، نو پدي وخت کي کولای سي، چې د ځان لپاره داسي غوره سیستم وټاکي چې د همغي ټولني او موخو سره ورتـه والـی ولـري، همدارنګـه ددي ډول د سیسـتمونو د کارونې په ډول باندي هم همغه دولت ښه پوهیږي او د کار ډول یې د همغه دولت لخوا ټاکل کیږي.

همدارنګه ډیویډ ایم هارټ لیکي، چې دولت کولای سي چې په سیاسي کلیسا باندي بدل سي او د خپلو غړو په اړه د عدالت او قضاوت پریکړه هم کولای سي، یانې دولت پدي برخه کي بشپړ واک او صلاحیت لري، چې د خپلو ټاکلو غړو په اړه پریکړه وکړي.

نو په پای کي ویلای سو، چې پانارچیزم له یوي خوا وګړو تـه دا واک او اختیار ورکوي، چې په خپله خوښه د ځان لپاره حکومت وټاکي، هر حکومـت چـي دده حقـوق او ازادۍ سـاتلای سـي، د همغـه حکومـت تابعیت تر لاسه کولای سي او له بلي خوا حکومتونو ته په اقتصادي برخو کي د ازادو سیالیو اجازه ورکوي، چې په پایله کي هر حکومت د ځان لپاره ځانګړی اقتصادي سیستم ټاکلای سي.

د پانارچیزم آندونه پدي وروستیو کي د ځېنو انډویډاولیستانو او سوسیالستانو لخوا منل سوي دي[1].

[1] English Wikipedia (article under the content of Panarchism).

# پانتیسوکراسي[1]

دا اصطلاح د یونانی ژبې د "πάν" او "ισοκρατία" څخه اخیستل سویده، چې د مساوي یا برابر حکومت په مانا ده[2]. نو پانتیسوکراسي هغه ټولنیز او سیاسي سازمان ته ویل کیږي، چې ټول وګړي پکښې مساوي ونډه لري، یا په بل عبارت هغه حکومت ته ویل کیږي، چې د ټولو وګړو لپاره برابر امتیازات او مکلفیتونه وي. پدې سیاسي مکتب کې د ټولو وګړو لپاره مساوي چانسونه شتون لري او د ټولو وګړو د ژوند کچه هم مساوي وي، یو پر بل باندې لوړوالی نلري او نه هم یو پر بل باندې د ځانګړې امتیاز او مقام له اړخه د غوره والي غوښتنه کولای سي[3].

دا اصطلاح په ۱۷۹۵ز کال کې د دوو انګریزي شاعرانو او روڼ آندانو کالیریج[4] او ساتي[5] لخوا د داسي ټولني لپاره د یو خیال او تصور په بڼه وړاندې سول، چې د ټولو لپاره برابره واکمني او امر منل موجود وي. په لومړیو کې دا خیالي طرحه د نوموړو دوو شاعرانو لخوا په

---

[1] Pantisocracy.
[2] - English Wikipedia ( article under the content of Pantisocracy)
[3]- علي اقا بخشي، مینو افشاري راد، فرهنګ علوم سیاسی، ص ۴۸۸.
[4] - Samuel Taylor Coleridge.
[5] - Robert Southey

امریکا کي د سسکیهنا د سیند پر غاړه باندي د دولت د جوړېدو لپاره وړاندي سوي وه، خو وروسته د ساتي لخوا د ځېنو د لایلو لخوا والس ته انتقال سول.

نوموړو دوو تنو د حکومت د روانو کړنو او سیاستونو څخه سرټکوی او ویل یې چې حکومت یوازي د غلامۍ د ټینګښت او د ځانې ملکیت د ډېروالي لپاره کار کوي، نوځکه باید داسي حکومت او سیاسي ټولنه رامنځته سي، چې د ټولو لپاره برابر کار وکړي او ټولو ته په مساوي ډول حقوق او امتیازات ورکړي. له همدي کبله پانټیسوکراسي باید پلي سي چې د خلکو لپاره مساوي او برابر خدمات وړاندي کړي.

د دي سیاسي ټولني د جوړېدو لپاره په لومړیو کي کالیریج او ساتي دوه اصله وړاندي کړل. لومړی پانټیسوکراسي (د ټولو لپاره برابر حکومت)، دوهم اسپیټیریزم[1] (اشتراکي یا ګډ ملکیت). دا طرحه د داسي یوي کوچنۍ ټولني لپاره جوړه سوي وه، چې ټولو وګړو یې زده کړه کړې وي او ټول وګړي که خان وي که کارګر باید خپل ملکیتونه او شتمنۍ د عامه ګټو لپاره حکومت ته ور وسپاري. همدارنګه د دي حکومت د چارو واک هم د قانونپوهانو او علمي اشخاصو په لاس کي وي او پریکړي باید د برابر او مساوي اصل پر بنسټ وسي.

کالیریج داسي خیال او تصور کاوه، چې پانټیسوکراسي به د خلکو ترمنځ حرص کم کړي. سربېره پر دي کالیریج او ساتي دواړو داسي خیال کاوه، چې په انګلستان کي د مستریح ژوند لپاره زمینه مساعده کړي او خلک به په ورځ کي یوازي دوه یا دري ساعته کار کوي او نور ژوند به په میلو او چړچو تیروي.

---

[1] Aspheterism

همدارنګه پانټیسوکراسي نه یوازي د فردي ژوند د سوکالی او ارامۍ لپاره طرحي درلودي بلکي دوی غوښتل چي د انګلستان په حالت کي هم بدلون راولي.
پانټیسوکراسي د نورو ایوتوپیایي ټولنو په شان خیالي او تصوري طرحه ده، چې د کالیریج او ساتي لخوا وړاندي سول، خو ددي طرحي ریښي د افلاطون د جمهوري کتاب په عامه ملکیت په فرضیه کي، د توماس مور په ایوتوپیا کتاب، د فرانسیس باکون په نیو اتلانتیس او نورو کتابونو او فرضیو کي لیدلای سو.
په ۱۷۹۳ز کال کي کالیریج په امریکا کي د یوتوپیا د ټولني جوړول تصور کړه، وروسته اکسفورډ ته ولاړی هلته یې ساتي چې زده کونکی او شاعرو، ولیدی د هغه سره یې د زیاتو خبرو او بحثونو څخه وروسته د پانټیسوکراسۍ طرحه او پلان جوړ کړی. وروسته دوی د زیاتو خبرو او مباحثو لپاره د پانټیسوکراسۍ د ټولني د جوړیدو وړاندیز وکړ او زیات نور ملګري یې پیدا کړه[1].

[1] - English Wikipedia ( article under the content of Pantisocracy).

# پسي فیزم[1]

پسي فیزم دا سي سیاسي سیستم دی، چې سولې ته پر جګړې باندې لوړوالی او غوراوی ورکوي او خلک د جګړې د مخنیوي لپاره هڅوي. ددې سیاسي تلنلارې د پلویانو په آند ټولې نړیوالې شخړې باید د خبرو د لارې حل سي، هر ډول سیاسي او اقتصادي جګړې باید ورکې سي او خلک باید د سوله ییزو او علمي لارو څخه خپلو موخو ته ورسیږي.

پسي فیزم د جګړې او تاوتریخوالي ضد مفکوره ده، ددې سیاسي مفکورې غورځنګونه کله کله په انفرادي ډول د خلکو لخوا او کله کله بیا په ډلیزه توګه د لویو ډلو لخوا رامنځته کیږي. دا ډول مفکورې په ټولیز ډول په هغو سیمو کې راپورته کیږي، کومې سیمې چې د جګړې او تاوتریخوالي څخه ډیر په تنګ سوې وي او د جګړې په زیان باندې پوهېدلې وي.

دا فلسفه پر فضلیت، الهي حقوقو، ټولنیزو او اقتصادي همکاریو باندې ولاړه ده، پر دې سربیره ددې فلسفې ځانګړې موخه د جګړې

---

[1] - Pacifism.

مخنيوی دی. ددې فلسفي لپاره څېني اړونه ښودل سوي دي، چي په لاندي ډول يې لنډه يادونه کوو:

الف- د ژوند په ټولو برخو کي بايد سوله ييزه فضا خپره سي.

ب- خپلواکي اقتصادي سيالۍ بايد رامنځته سي.

ج- يوه واکمنه ټولنه بايد رامنځته سي.

د- د بهرنۍ لاسوهني مخه بايد ونيول سي.

ددي سياسي مکتب ملاتړې د يوه هېواد په چارو کي د بل هېواد او ډلې لاسوهنه نه مني او دهغوی مخنيوی غواړي. همدارنګه د جګړې په وخت کي د دوو هېوادونو ترمنځ د منځګړېتوب، روغې جوړي او د محکمي د لارې حل غواړي. دا فلسفه د تاريخ په اوږدو کي د څېنو روڼ آندو په مغزو کي پاته سويده او عملي ډګر ته نده راوتلې، خو يوازي د (۲۰ز) پيړۍ په پيل کي دخپلې ځوانۍ ثمر ته رسيدلې ده.

د پيسي فيزم د ډولونو څخه يو هم بشپړ پسي فيزم دی، دا ډول پسي فيزم په ټوليز ډول د جګړې ضد دريځ لري، هيڅ ډول جګړه او تاوتريخوالی نه مني او پردي ټينګار کوي، چي د يوه انسان ژوند بايد د بل انسان په لاس وانه خيستل سي. د بشپړ پسي فيزم ملاتړې زياتره مذهبي کړۍ او غړي دي، دوی پدي آند دي، چي موږ کولای سو، چي د ميني او عدم تشدُد د تلنلارو له لاري خلک سوله ييز ژوند ته رامات کړو او دخلکو په منځونو کي د جګړې په اړه نفرت را وپاروو.

دا ډول عقايد د مذهبي کړيو په شاليد کي زياته اوږده مخينه لري د بيلګي په توګه د بوديزم، عيسويت او کنفوسيوس پلويانو د جګړې پر وړاندي مبارزه کړيده. په بشپړ پيسي فيزم کي پردي ټينګار کيږي، چي سيالي بايد د اخلاقي چلن او استدلال پر بنسټ وسي نه د جګړې

او تاوتريخوالي پر بنسټ. دوی خلکو ته دا سپارښتنه کوي، چې خپلې ټولنيزي شخړې د اخلاقي او انساني چلن پر بنسټ حل کړي. د دې څانګې معاصر ملاتړ کونکي د نظامي ځواک پر وړاندې روحي او وجداني واک ته غوراوی ورکوي.

پسي فيزم له تاريخي اړخه تر نورو سياسي مکتبونو زياته اوږده مخينه لري، په لرغونو ټولنو کې جګړې د خلکو ترمنځ يو ډول مشروع بڼه د ځان کړې وه او د جګړې د لارې برياليتوب د خلکو په عامه افکارو کې منل سوی و، خو دې جګړې د خلکو پر ژوند باندې ډير منفي اغيزې ښيندلې و او خلکو ته په ډير لوی زيان تماميدله، جګړې به په هرې ټولني کې ژوند د سختو ګواښونو او ننګونو سره مخ کړ. له همدې کبله د جګړې پر وړاندې ډير ژر د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خلکو غبرګونونه را وپاريدل او ډير ژر يې پر وړاندې مبارزه پيل کړه. دا مبارزه تر زياته بريده په علمي ډول وه او پوهانو د جګړې د زيانونو په اړه بيلابيل آندونه ورکړه، چې د همدې آندونو له امله د پسي فيزم سياسي او ټولنيز خوځښت رامنځته سو. د دې ډلې پوهانو څخه چې د پسي فيسټ غورځنګ يې رامنځته کړ يو هم د بودايزم د مذهب پوهان وه. د بودايزم مذهب مشر خپلو ټولو پيروانو ته وويل، چې د نورو انسانانو پر وړآندې د جګړې او تاوتريخوالي څخه ډډه وکړي. همدا رنګه د دې مذهب يو بل نامتو مشر (اشوکا پاچا) د زيږديز کال څخه د رې پيړۍ مخکې خلک د جګړې څخه منعه کړيدي، خو ده د فکري جګړې ملاتړ کاوه. د دې مذهب پلويانو ونسوه کولای، چې په خپل وخت کې د دوی تر نفوذ لاندې سيمو کې مشران د جګړې څخه منعه کړي.

خو د جګړې د مخنیوي لپاره غوره لاربښوني او بنسټیز اصول د اسلام پـه مبـارک دیـن کـي پـه ښـه ډول شـتون لـري، د اسـلام مبـارک دیـن د مسلمانانو ترمنځ هیڅ ډول جګړه او شخړه نه غواړي او مسـلمانانو تـه د وروري او میني ژوند غواړي. د اسلام په مبارک دین کي وینه تویـنه او پر ناحقه د مسلمان وژنه ډیره غندل سویده، یانې که یو مسلمان د بـل مسلمان وینه پر ناحقه باندي توی کړي یانې مړ یې کړي هغه دومره لوی مجرم ګڼل کیږي، لکه ټوله نړۍ چي یې وژلي وي او ددي پـه مقابـل کـي که یو مسـلمان بـل مسـلمان د مـرګ څخـه وژغـوري بیـا دومـره مکافـات ورکول کیږي، لکه ټوله نړۍ چي یې د مرګ څخه ژغورلي وي. نو ویلای سـو، چـي د اسـلام پـه مبـارک دیـن کـي د جګـړي او تـاوتریخوالي پـر وړاندي ډیر غوره او منلي اصول شتون لري.

په لرغونو زمانو کي د پسي فیزم مفکوره یوازي د ځینو روڼ آندو سره په خیالونو او آندونو کي پاته سویده او عملي ډګر ته نده راوتلي، چي مهمه بیلګه یې د لرغـوني یونـان د سـولي وړانـدیزو، چـي رواقیـانو هـم پکښې ګډون درلودی، دوی انفرادي سولي ته زیات ارزښت ورکوی او تر انفرادي سولي وروسته یې ډلـه ییـزه سـوله غوښـتل. پـه لرغـوني روم کي سوله د سلطنتونو ترمنځ د تړونلیک پر بنسټ رامنځته کیدل، چي دي تړونلیـک بـه د دوی تـرمنځ د دوه اړخیـزه درنـاوي او عـادلانـه لارې شرایط برابر کړل. دا تړونلیک بـه یـوازي د پرمختللو هېوادونو تـرمنځ لاسلیک کیدی او یوازي په متمدني نړۍ کي د پلي کیدو وړ و.

په پسي فیزم پوري اړوند آندونه پـه تـاریخ پـه بیلابیلو پړاوونو کـي د خلکو پـه فکرونـو کـي پیـدا سـویدي، خـو تـر (۱۹ز) پیـړۍ پـوري یـې د عمل جامه نده وراغوستي.

د جګړې د مخنیوي لپاره معاصري هڅي د منځنیو پیړیو د پایته رسیدو څخه وروسته د ولسونو د واک سره سمي پیل سوي. په (۱۴ز) پیړۍ کي (ډانتې) د نړیوالي امپراتورۍ څخه د جګړې د مخنیوي په اړوند غوښتنه وکړه. په (۱۵ز) پیړۍ کي د بومیا پاچا د نړیوال پارلمان د جوړولو غوښتنه وکړه، په (۱۲ز) پیړۍ کي د فرانسي پاچا څلورم هنري هم دیته ورته غوښتنه وکړه، په (۱۷ز) پیړۍ کي یوه انګریزي لیکوال د اروپا د اوسنۍ او راتلونکي سولي په اړه یوه مقاله ولیکل، او په (۱۸ز) پیړۍ کي فرانسوي لیکوال (چارلس ایرني کاسټل) خلک د تلپاتي سولي د ساتني لپاره راوبلل.

له تاریخي اړخه لومړنی سوله ییزه ټولنه د امریکا په نیویارک ښار کي د یوه سوداګر (ډیویډ لو جاج) لخوا په (۱۸۱۵ز) کال کي جوړه سوه او بلــه ټولنــه د (نوحــه ورسیســـټر) لخـــوا پـــه همـــدي کـــال کـــي پـــه (مساکوسیټس) کي رامنځته سول. دا دواړي ټولني د امریکا یې پسي فیسټ (ویلیم لیډ) لخوا په (۱۸۲۸ز) کال کي د امریکا د سولي ټولني سره همغاړي سوي. له دي څخه وروسته د سولي نوري ټولني پدي وروستیو پیړیو کي په اروپا کي هم جوړي سوي.

په (۱۸۴۸ز) کال کي یوه امریکایي ژبپوه (الیهو بوریټ) د نړیوالي وروګلوۍ د ټولني بنسټ کښیښود، دي نړیوالي ټولني خپلي څانګي ځینو هېوادونو لکه انګلستان، فرانسي او هالنډ ته هم وغځولي. دي ټولني په لومړیو کي د جګړې د مخنیوي لپاره کوم ځانګړی پلان نه درلودی، خو کله چي دي ټولني ته د امریکا په کورنیو جګړو کي زیان ورسیدی وروسته د دي ټولني غړو د خپل یوالي لپاره هڅه وکړه او د غلامۍ پر وړاندي یې مبارزه پیل کړه.

د (۱۹ز) پيړۍ تر پايه پورې زياتې نوې ټولنې او ډلې په نړيواله کچه رامنځته سولې لکه د کارګرو نړيواله ټولنه، چې د کارګرانو پر وړاندې يې د تاوتريخوالي او جګړې د مخنيوي لپاره هلې ځلې کولې او د نړيوالې سولې اداره، چې موخه يې د بيلابيلو هېوادونو ترمنځ د سوله ييزو هڅو همږغي کول وه، ترڅو داسې غونډې او ټولنې رامنځته کړي، چې سوله وساتي او د جګړې پر وړاندې مبارزه پيل کړي. همدارنګه دوی سولې ته د خلکو د هڅولو لپاره د نوبل د سولې نړيواله جايزه هم وټاکل. خو د سويلي افريقا جګړې، د امريکا او اسپانيا جګړو او په ځانګړې توګه لومړۍ نړيوالې جګړې د سولې دا ټول غورځنګونه له منځه يوړل.

په معاصره نړۍ کې هم د پسې فيستانو هڅې د يادونې وړ دي، کله چې لومړۍ نړيواله جګړه پای ته ورسيدل نو پسې فيستانو د نړيوالې سولې او ټوليز ټيکاو لپاره ليڅې را ونغښتلې، ددوی د هڅو په پايله کې د اولسونو (ملتونو) ټولنه رامنځته سول خو دا ټولنه د نړيوالې سولې په راوستلو او د جګړې په مخنيوي کې پاتې راغله. کله چې دوهمه نړيواله جګړه لا روانه وه او د نړۍ اولسونه نور د جګړې څخه ډير ستړي سوي وه هغه وخت لا د ملګرو ملتونو د ټولنې د جوړيدو لپاره هڅې پيل سوې ترڅو په نړيواله کچه د جګړې مخنيوی وکړي او سوله وساتي. پدې وخت کې په نړيواله کچه ځيني کوچني سازمانونه هم رامنځته سول ترڅو سوله وساتي، خو د دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروسته هغه ستر لامل، چې د پسې فيزم آندونه يې په نړيواله کچه د عمل ډګر ته ورسول هغه د آټومي وسلو پياوړتيا وه. کله چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د آټومي وسلو توليد زيات سو، نو په نړيواله

کچه يو لړ تړونونه رامنځته سول، ترڅو ددي وسلو مخنيوی وکړي او د سولي ريښتي ټينګي کړي.

# پــلاتـونیزم[1]

پلاتـونیزم د افلاطـون مکتـب او فلسـفي تـه ویـل کیـږي، چـي پـه خپـل جمهـوري کتـاب کـي یـي یادونـه کړیـده. افلاطـون پـدي کتـاب کـي د میتافزیک د علومو د فلسفي او سیاست په اړه خبري کړیدي، چـي پـه لاندي ډول به دده سیاسي ارونه په لنډ ډول ولولو:

## ۱. د دولت واک:

د دولــت واک د هــر هېــواد د وګــړو د اطاعــت پــه انــدازه دی، یــانې هرڅومره چي وګړي د دولـت قـوانین او امرونـه ومنـي پـه هغـه انـدازه بـه دولت واکمن وي.

## ۲. د دولت عدالت:

د دولـت عـدالت یـوازي د واک پـه سـاتلو پـوري اړونـد دی. همدارنګـه عدالت په ټولنیز نظم پوري اړه لري، چي د هر هېواد د وګړو، وخت او ځای تابع دی.

## ۳. ملیت:

هر انسان په دولت کي په یوي کوچنۍ ټولنـي پـوري اړونـد دی، چـي د هغـي ټولني د هویـت پـر بنسـټ ژونـد کـوي. هـر وګـړی پـه خپـلي همـدي

[1] -Platonism.

کوچنۍ ټولني پوري اړوند دی، نه په نړیوالي او یابلي ټولني پوري، خو د دولت د قوانینو تابع دی.

**۴. جګړه:**

جګړه د حکومت د زیږیدو لامل دی او حکومت د دولت بنسټ دی. بېله جګړې څخه د انسان قریحه وده نسي کولای، که څه هم جګړه ښه نده خو شونې ده. جګړه د اړتیاو او غوښتنو له امله منځته راځي.

**۵. د دولت لپاره نفوس:**

د دولت د جوړیدو د پاره یوازي (**۵۰۴۰**)[1] کورنۍ اړیني دي.

**۶. د نړۍ هیوادونه:**

د نړۍ ټول هیوادونه باید یو د بل څخه بېل وه اوسي او په خپلو منځونو کي هیڅ ډول تماس ونلري، چي په همدي ډول به د یرغل او ټکر مخه ونیول سي[2].

[1]- افلاطون (**۵۰۴۰**) عدد د یوه څخه بیا تر اوو پوري د ضرب د حاصل څخه په لاس راوړی دی.

[2]- دکتر بهاالدین پازرگا، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴ش، ص ۲۰-۲۱.

# پلوټوکراسي[1]

هغه حکومت چې د شتمنو په واسطه پرمخ بیول کیږي او دواک حدود د شتمنیو پر بنسټ ټاکل سوي وي، عبارت د پلوټوکراسي څخه ده، کیدای سي دي ډول حکومت ته د شتمنو حکومت هم وویل سي، دا اصطلاح ځیني وختونه د ټولني د شتمن پوړ لپاره هم کارول کیږي، د پلوټوکراسۍ او الیګارشۍ ګډو اصطلاحاتو ته پلوټارشي ویل کیږي.
د پلوټوکراسۍ اصطلاح د معاصري یوناني ژبي اوښتې لغت دی، چې د پخواني یوناني ژبي د (پلوټوس[2]) شتمني او (کراټوس[3]) خلکو څخه اخیستل سویدی. یانې د شتمنو خلکو حکومت.
د پلوټوکراسۍ اصطلاح په دوو مفهومونو سره کارول کیږي: یوه یې تاریخي کارونه او بله یې معاصره سیاسي کارونه ده، د تاریخي کاروني پر بنسټ یو حکومت باید د الیګارشۍ په واسطه کنټرول سي، لکه د روم جمهوریت، د یونان ښاري دولتونه، د ایټالیا ښاري دولتونه یا د سوداګرو جمهوریت او د جاپان امپراتوري او داسي نور.

[1] - Plutocracy.
[2] - Ploutos
[3] - Kratos

د وګړو د مساوي حقوق او د دوی د رایو د مساویوالي غورځنګ چي په(۲۰م) پیړۍ کي منځ ته راغلي، ددي ترمخه د ټولو وګړو رایې مساوي نه وي، په ځینو هېوادونو کي داسي سیستم موجود و، چي بډایو خلکو ترغریبو خلکو زیاتي رایې درلودي، د یوي فابریکې خاوند شاید(۲۰۰۰)رایې درلودي پداسي حال کي چي یوه عادي کارکونکې به یوه رایه درلوده، او که چیري به یو څوک ډیر غریب و نو هغه به درایي ورکولو حق نه درلودی.

د پلوټوکراسۍ معاصره بیلګه د لندن ښار دی (د لندن ټول ښار نه بلکې د لندن د ښار هغه پخوانۍ ښاري بڼه) پدي ځای کي یو ځانګړی ټاکنیز سیستم موجود و. ددي ځای زیات رایه ورکونکې به د سوداګرو استازي وه او یا به هم هغه خلک وه چي زیات ملکیتونه یې درلودل.د دي ښار پخوانۍ ټاکنیز سیستم غیري مساویانه و یانې دخان او د غریب درایو ارزښت توپیر درلودي.

د پلوټوکراسۍ په معاصره دوره کي شتمنو لړکیو د خپل واک د ساتلو په موخه زیاتي لاري چاري وکارولي، زیاترو لویدیځو ډیموکراسیو ګوندونه او داسي بنسټونه رامنځ ته کړل، چي په هغوکې عامه خلکو هم کولای سول چي غړیتوب یې ترلاسه کړي. دوی به د خپلو ګوندونو د غړو څخه د پیسو په راټولولو سره خپل سیاست پرمخ بیوی، چي دا پیسي به په مستقیم ډول د وګړو لخوا ورکول کیدي او یا هم د اتحادیو لخوا به تادیه کیدلي. د پیسو دا ډول ورکړه د دي لامل سول چي د شتمنو او غریبو ترمنځ لیري واټن رالنډ کړي هغه داسي چي د غړو د پیسو ورکړو به د خانانو لپاره یو ډول د دوستۍ او انډیوالۍ فضا رامنځ ته کول او دوی به د حکومت د ښه پرمختګ او کامیابی

لپاره سره راغونډېدل. وروسته به بسپنه ورکوونکو پر نوماندانو او خپلو استازو باندې یو ډول شرطونه کېښېښول، چې کله چیرې تاسو زموږ غوښتنې پوره کړی نو موږ به تاسو ته خپلې پیسې درکړو او ستاسو ملاتړ به وکړو، دې حالت تر هغه وخته پورې دوام وکړ ترکومه چې (دکوېډ پرو کو[1])تړون رامنځ ته سو، دا تړون د سیاستوالو او بسپنه ورکوونکو ترمنځ یو حقوقي تړون و چې د دې پربنسټ د بسپنه ورکوونکو حقوق او د دوی د غوښتنو شخه یې ملا تړ کاوه. لیکن په ځینو وختونو کې به شتمنو سیاستوالو خپل کمپاین په خپله سرمایه پرمخ بیوه. زیاتو اتحادیو او بسپنه ورکونکو هڅه کول چې د بسپنې په ورکولو سره د خپلو استازو او سیاستوالو سره اړیکې ښې او ټینګې وساتي، همدارنګه د رسنیو ټولنو به هم هڅه کول چې عامه نظرونه او حساسیتونه راټول کړي او د سیاستوالو سره یې شریک کړي. د وخت په تیریدو کله چې شخصي سکتور وده وکړه نو د بسپنه ورکونکې سیستم څه ناڅه ګډوډ سو بالاخره د وخت په تیریدو سره دا حالت اصلاح سو، او دا ډول پریکړه وسوه چې د ټاکنیز کمپاین پیسې باید شخصي ورکړل سي چې دې ډول سیستم ته رون ټاکنیز سیستم هم ویل کیده[2].

پلوټوکراسي (د شتمنو حکومت) د شتمنۍ پر بنسټ د خلکو اړیکې تنظیموي، په دولتي چارو کې هغه څوک ګډون کولای سي، چې ډیره شتمني ولري، لکه مخکې چې مو وویل ترزیاته وخته پورې هغه چاچې پیسې نه درلودې د رایې ورکولو حق یې نه درلودی. دا حکومت د وګړو

[1] -quid pro quo
[2] - English Wikipedia

معنوي ارزښت ته نه ګوري یوازي هغه څوک د زیات ارزښت لرونکې دي چې تر نورو یې زیاته سرمایه لرل. یانې پدي حکومت کې د خلکو د ارزښت معیار سرمایه او شتمني ده. پداسي حال کي چې په ټولنه کې د خلکو د ښه والي او ارزښت معیار یوازي شتمني نسي کیدای.

# پلوراليزم[1]

پلوراليزم (د ډيرو مسلک ) هغو آندونو ته ويل کيږي، چي بنسټ يې د وګړو پر اړيکو باندي ولاړ وي. د دوی په آند هر وګړی د ټولنيزو، اقتصادي او سياسي اړيکو څښتن دی او حکومت بايد د وګړو دا اړيکې په پام کي ونيسي. دوی دولت ته دا سپارښتنه کوي، چي د بيلابيلو ګوندونو، وګړو او کړيو عقايد او غوښتني بايد وپيژني او د هغوی په درناوي کي تر خپله وسه کوښښ وکړي. د دي مکتب پر بنسټ وګړی بايد يوازي په سياست او دولت پوري ونه تړل سي، بلکي وګړی د اقتصادي، مذهبي او نورو برخو سره هم علاقي لري؛ نو دولت بايد د ټولني په سياسي چارو کي دا ټولي علاقي او غوښتني په پام کي ونيسي.

د پلوراليزم مسلک د مونيزم[2] پر وړاندي دريځ لري، د مونيزم د مسلک د يوي فرضي پر بنسټ دولت د واکمنۍ حق لري او ټول موسسات او وګړي بايد د دولت شتون ومني او امرونو ته يې غاړه کښيږدي. پداسي حال کي، چي پلوراليزم د دي فرضي پر وړاندي ولاړ

[1] - Pluralism
[2] - Monism

دی او دولت ته د وګړو په اړیکو کې د لاسوهنې حق نه ورکوي او هم د هغو په ساتنه کې دولت ته سپارښتنه کوي.

د پلورالیزم د آرونو پربنسټ په هره ټولنه کې باید حکومتي ځواک د ټولنې د مذهبي، ټولنیزو او اقتصادي بنسټونو ترمنځ وویشل سي. ددې عقیدې پلویان پدې آند دي، چې دا ټولنیز بنسټونه هغومره ارزښت لري لکه څومره چې دولت یې لري او ځینې بنسټونه خو تر دولت هم ارزښتناکه دي لکه کلیسا؛ ځکه چې دا ډول بنسټونه وفاداره او آرونو ته سپارل سوي غړي لري، نو پردې بنسټ دا بنسټونه باید ځانګړی واک او حکومت ولري. ددې عقیدې پلویان پر درو برخو باندې ویشل سوي دي:

الف- افراطیان: دا ډله ټولنیز بنسټونه پر دولت باندې لوړ ګڼي.

ب- تفریطیان: دا ډله ټولنیز بنسټونه د دولت تابع ګڼي.

ج- منځلاري: دا ډله دولت او ټولنیز بنسټونه مساوي ګڼي.

پورتني عقاید په پخوانیو فلسفو کې د (سیسرو) او (سن اګوستین) په آندونو کې زیات تر سترګو کیږي، خو دې ډول عقایدو د مونتسکیو په وخت کې بنسټیزه وده وکړه او وروسته د امریکا د خپلواکۍ څخه د اساسي قانون بنسټ ایښودونکو دا آندونه پر پښو ودرول، چې نن ورځ دا آندونه په امریکا کې تر بل هر هېواد زیات منل سوي دي؛ نو ځکه په امریکا کې ټولنیزو بنسټونو ودې او خپلواکۍ ته زیاته پاملرنه سوېده.

# پولیټي[1]

ارسطو د حکومتونو په ډلبندۍ کي پولیټي د حکومتونو غوره بڼه ګڼلې ده، دده په آند معتدله ډیموکراسي یا هغه حکومت چي د منځني پوړ لخوا د ټولو وګړو په ګټه باندي اداره کیږي عبارت د پولیټي څخه ده. همدارنګه دی پولیټي د ډیموکرسۍ پر مختللې او غوره بڼه بولي، پداسي حال کي چي ډیموکراسي بیا د بېوزلو او فقیرو خلکو حکومت بولي او د حکومت فاسده بڼه یې ګڼي.

ارسطو د حکومتونو په ډلبندۍ کي د حکومتونو غوره بڼې پاچاهي، اریستوکراسي او پولیټي ګڼي او ددي حکومتونو فاسدي بڼې بیا تېراني، اولیګارشي او ډیموکراسي بولي. دده په اند که چیري حکومت د بېوزلو، بې هنره او نا پوه خلکو په لاس کي ولویږي هغه ته ډیموکراسي او که چیري د منځني پوړ لخوا د ټولني د ټولو پوړونو په ګټه اداره سي هغه ته بیا پولیټي ویل کیږي.

د ارسطو په وخت کي ډیموکراسۍ دومره وده او پرمختګ نه و کړی کیدای سي، چي د نن ورځي ډیموکراسي د ارسطو پولیټي وبولو؛ ځکه چي نن ډیموکراسي یوازي د ټولني د بېوزلو خلکو لخوا نه اداره

[1] - Polity.

کيږي، بلکي د ټولني ټول پوړونه په سياسي چارو کي برخه لري او هر وګړی چي د دولت تابعيت ولري او قانوني موانع ونلري کولای سي، چي رايه ورکړي او خپل سياسي مشر وټاکي[1].

---

1- د عبدالرسول بيات او دکتربهاالدين پازرګا کتابونه.

# پوليسي دولت[1]

هغه دولت چې چارې يې د قضايي او قانوني اورګانونو د لارې نه بلکې، د پټو او ښکاره پوليسي اورګانونو د لارې سرته رسيږي، دا اصطلاح زياتره وخت د د يکتاتوريو لپاره کارول کيږي، چې په هغو کې پوليس په پټ يا ښکاره ډول د دولتي چارو کنټرول او څارنه په غاړه لري. په دې دولت کې پوليس د ټولني پر ټولو برخو باندې بشپړ کنټرول لري، يانې پوليس د وګړو پر سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او نورو برخو باندې څارنه کوي.

د پوليسي دولت اصطلاح د لومړي ځل د پاره په (**۱۸۵۱**ز) کال کې په استراليا کې د ملي پوليسو د ځواک لپاره وکارول سول. چې وروسته د **۱۹** او **۲۰** پيړيو په دوران کې د زياتو حکومتونو لپاره کارول کيدل.

همدا رنګه پدې سياسي رژيم کې، چې بنسټ يې پر ديکتاتورۍ باندې ولاړ دی، د دولت مخالفين د پوليسو لخوا نيول کيږي او يوازې د همدې سياسي ناخوښۍ له امله زندانونو ته ليږدول کيږي. په پوليسي دولت کې د قانون واکمني کمزورې ده او د اجرايوي ځواک هره کړنه د قانون په بڼه ګڼل کيږي.

---

[1] -Police State.

په دې دولت کې د پولیسو پر رول باندې زیات ټینګار کیږي او د پولیسو څارنه او کنټرول ډیر اړین ګڼل کیږي، همدارنګه پولیس په کور دننه او بهر کې د دولت پر چارو باندې بشپړه څارنه لري، چې زیاتره وخت په بهرنیو چارو کې هم په پټ او یا ښکاره ډول رول لري.

که څه هم د پولیسي دولت اصطلاح زیاتره وخت د یکتاتوریو ته کارول کیږي، خو کله چې په ټولنه کې د پولیسو رول اړین وګڼل سي او پولیس د دولت چارې په خپله غاړه واخلي، بیا هغه حالت ته هم پولیسي دولت اصطلاح کارول کیږي. خو زیاتره وخت د دیکتاتوري رژیمونو لپاره کارول کیږي، لکه په سویلي افریقا کې د آپارتهید د سیاست پر مهال چې د سویلي افریقا حکومت د پولیسو پر رول باندې زیات ټینګار کاوه، ترڅو سپین پوستي پر سر د قدرت سي او تورپوستي د دولت واکه لیري وساتي، یا لکه د جرمني نازي حکومت چې د نفوس کنټرول د پولیسو په لاس کې و، چې دې حکومت د لومړۍ نړیوالي جګړې څخه وروسته په جرمني کې واک تر لاسه کړ، او یا هم لکه د شوروي اتحاد او کیوبا حکومتونه.

خو په انګریزي ژبه کې د پولیسي دولت اصطلاح هغه وخت وکارول سول، کله چې په آلمان کې نازي ګوند واک په لاس کې واخیستی او ټولې دولتي چارې په بشپړ ډول د پولیسو لاسته ولویدلې[1].

[1]- انګریزي پوهنغونډ او فرهنګ علوم سیاسي.

# پولي کراسي[1]

پولي کراسي د دوو یوناني کلمو څخه ترکیب سوېده، چې (پـولي[2]) د زیات او کراسي د حکومت او قدرت پـه مانـا ده، نـو پـولي کراسي هغـه حکومت تـه ویـل کیـږي، چې زیـات ګوندونـه او ډلـي پـه حکومت کـي شاملي وي او ددوی ګټي یو د بل سره مختلفي وي.

پـولي کراسـۍ تـه پولیارشـي هـم ویـل کیـږي، دا د مونـو کراسـۍ پـر وړاندي هغه سیاسي رژیم دی، چې واک د یوه نفري یا یوي ډلي پر ځای د زیاتو ډلو په لاس کي وي او ددوی ترمنځ زیاتره وخت د ګټو ټکر وي. د اوسنۍ نړۍ زیاتره سیاسي رژیمونه پـولي کـراټ دي، ځکـه نـن ورځ د نړۍ په هر ګوټ کي واک د زیاتو سیاسي ډلو ترمنځ ویشل سوی دی او هم د حکومت په دننه کـي د واک د ویشـلو لپـاره زیـات بنسـټونه شـتون لـري، د بېلګـي پـه توګـه نـن ورځ پـه هـر دولـت کـي پارلمـان، ګوندونـه، اتحـادیي او نـور هغـه بنسـټونه شـتون لـري، چې د سیاسـي قـدرت یـوه برخه پلي کوي[3].

---

[1] -Polycracy.
[2] Poly.
[3] English Social wikipeidia.

په پولي کراسۍ کې زياتې سياسي ډلې هڅه کوي، چې د بېلابېلو لارو څخه په ګټنې سياسي قدرت لاسته راوړي او مقابل لوري ته په سياسي ډول ماتې ورکړي، د بېلګې په توګه په پوليکراتيک دولت کې سياسي ګوندونه، قومي جوړښتونه، پارلماني بنسټونه او داسې نور هغه څه دي، چې د سياسي قدرت د لاسته راوړلو پر سر يو د بل سره مبارزه کوي او د بېلابېلو لارو، لکه رسنۍ، سپورټي محفلونو او اتلانو، ټولنو او فشار ډلو څخه په ګټنه غواړي، چې خپلو موخو ته ورسيږي.

د دې ډول سياسي رژيمونو بېلګې په اوسنۍ نړۍ کې زياتې دي، نن ورځ د نړۍ په زياترو سياسي رژيمونو کې د سياسي قدرت پر سر باندې داسې مبارزه روانه ده او زياتې سياسي ډلې شتون لري، چې يو د بل په مقابل کې د زياتو لارو څخه ګټنه کوي، ترڅو خپلو موخو ته ځانونه ورسوي. خو شوني ده، چې داسې قدرت بيا د شخصي ګټو لپاره وکارول سي او د ملي ګټو او ولسي ښېګڼو لپاره کم وکارول سي، ځکه چې دا ډول قدرت زياتره وخت د خپلو سيالانو د ټکولو او کمزوري کولو په موخه لاسته راوړل کيږي، خو که چيرې دا قدرت په مثبته توګه د ولسي ښېګڼو او ملي ګټو لپاره و کارول سي او سيالي ډلې هم د خپلو سياليو مرکزي ټکی ملي ګټې او ملي خدمت وټاکي په هغه وخت کې بيا دا ډول سياسي رژيم د ولس په خير دی.

# تامیزم[1]

ددي سیاسي سیستم بنسټ ایښودنکی نامتو ایټالوی سکالسټیک فیلسوف توماس داکوین (۱۲۲۵-۱۲۷۳ز) دی، نوموړی د لرغوني روم د کاتولیک کلیسا یو پیژندل سوی فعال و. ده د ارسطو او اګوسټین فلسفي سره ګډې کړې او وروسته یې دې ګډې فلسفي د تامیست (ټامیزم) په نامه شهرت وموندی، څرنګه، چې دا فلسفه د توماس په واسطه رامنځته سوې وه؛ نوځکه ددې مسلک نوم هم ده منسوبیږي. پدې مسلک کې د توماس د سیاسي عقایدو ارونه په لاندې ډول سپړو:

۱. انسان سیاسي او ټولنیز موجود دی.

۲. ددولت یوازنۍ موخه د ټولني د ښېګڼو او ګټو ساتنه ده او ددولت تر سیوري لاندې دا ټولیز یوالی ددښمن څخه په ساتنه کې ګټوره تمامیږي.

۳. د حکومت پیل د الله تعالی د لورې دی.

۴. حکومت باید پر خپلو خلکو باندې ظلم ونکړي او د حکومت مشر باید ظالم نه وي.

---

[1] - Thomism

۵. د حکومت غوره بڼه مونارشي (سلطنت) دی پدي شرط، چي قانون مرکزي رول ولري.
۶. د حکومت پر وړآندي باید د خلکو لخوا پاڅون ونسي او په حکومت کي هر ډول بدلون باید د قانوني، حقوقي او قضايي ارونو پر بنسټ راسي؛ ځکه چي د حکومت پیل الهي او اسماني دی. که چیري یو وګړی خپل حقوق د حکومت څخه د قانوني او حقوقي لارو چارو په واسطه وانخلي نو حکومت دي خدای ته پریږدي.
۷. کلیسا پر دولت باندي لوړوالی لري او د دولت رئیس بایډ د کلیسا د رئیس د امرونو منونکی وي.
۸. په طبیعت کي فطري حقوق یا د عالم قانون او الهي حکمت شتون لري، چي ټول عالم پر همغه مدار باندي را څرخي او پدي فطري قانون کي د بشر ښیګڼه، هوساینه او د شر څخه را ګرځول شتون لري، چي دا د بشر تر واک لوړه خبره ده.
۹. جګړه پر حق ده، خو په جګړه کي درواغ، ژمنه ماتول او د ښځو او کوچنیانو وژنه منعه ده.

ددي سیاسي مکتب پر بنسټ انسان ټولنیز او سیاسي موجود دی او د دولت دنده د ټولني د ګټو ساتل دي، همدارنګه د دولت منشا او سرچینه د الله تعالي له خوا څخه ده. ددي سیاسي مکتب ملاتړي دولت ته دا اجازه نه ورکوي چي د خپلو وګړو او ولس پر وړاندي د ظلم او ستم څخه کار واخلي، بلکي دولت باید تر ډیره بریده هڅه وکړي، چي ملي ګټي وساتي او ولس ته په هره برخه کي اسانتیاوي رامنځته کړي، ددوی په آند د حکومتونو په غوره رژیم کي یو هم سلطنتي رژیم دی، چي کولای سي، د خلکو ګټي او د ټولني ښېګڼي وساتي، نو سلطنتي

رژيم بايد پر ټولن باندي پلی سي. خو پر دي سربېره دا سياسي مکتب بيا د دولت لپاره ځينې شرايط هم ټاکي، يانې دوی وايې چې دولت بايد د قانون پر بنسټ په ټولنه کې واکمني وکړي او قانون بايد مرکزي رول ولري، همدارنګه کليسا بايد پر دولت باندي لوړوالی ولري، وګړي بايد د قانوني حکومت پر وړاندي شورش او غبرګون ونکړي، پر دي سربېره دوی جګړه پر حق ګڼې او د جګړې ټول اصول او قواعد بايد د روم د کاتوليک کليسا د اصولو او اوامرو پر بنسټ وي[1].

[1]- غلامرضا علی بابايی، فرهنګ سياسي آرش، ص ۱۸۰.

# تيراني[1]

تيراني د ظلم او زور حکومت ته ويل کيږي، په تيراني کي نه يوازي واکمنان سياسي واک په لاس کي لري، بلکي د وګړو پر روحي او مالي برخه باندي هم واکمن وي، دوی د خلکو ټول مال او شتمني په خپلو لاسونو کي نيسي. پدي سياسي سيستم کي واک د يوه يا څو تنو په لاس کي وي، چي د زور او ظلم پر بنسټ واک پلی کوي.

د تيراني پلويان پدي آند دي، چي وګړي بايد داسي و بيرول سي چي ساری يې نه وي، او ددي بيري او ترس پر بنسټ بايد دوی اطاعت او امر منلو ته اړ ايستل سي. دا سياسي تلنلاره د لرغوني يونان دور ته رسيږي او په هغه وخت کي د ډيرو فيلسوفانو او سياستوالو لخوا منل سوي وه، خو اوس په ډيموکراټيکه نړۍ کي پلويان نلري، له همدي کبله اوس رواج نلري. نن ورځ تيراني د يوه سياسي مکتب په څير نه بلکي د ځيني حکومتونو لپاره د ځانګړني په بڼه کارول کيږي.

تيراني ته ورته بله اصطلاح تيرانيسيد[2] ده، چي دا اصطلاح بيا د وژنو او قتل لپاره کارول کيږي، ياني پدي باندي باور او عقيده

---

[1] - Tyrany.
[2] - Tyrannicide.

درلودل، چې ظالم واکمنان او نور وګړي باید په پټ ډول ترور او ووژل سي. دا اصطلاح د تزاري روسي یو لوړ پوړي چارواکي د لومړۍ ځل لپاره و کارول، چې وروسته یې سیاسي رواج پیدا کړ او په مسکو کې د امریکا لوی سفیر (ویلیام بللیټ) په خپل کتاب کې ددي اصطلاح لپاره یو ځانګړی بڅرکی بېل کړی دی. پدي کتاب کې د نومړي روسي چارواکي د خولې څخه لیکل سوي دي، چې (د استبداد او ظلم مزاج یوازي د تروریزم او زور وژني پربنسټ معتدل کیدای سي)[1].

لکه مخکې چې مو وویل په تیراني کې واک د یوه ظالم او مستبد پاچا په لاس کې وي او پر ټولني باندي د زورزیاتي واکمني پلي کوي، د افلاطون په آند تیراني هغه وخت منځته راځي کله چې ډیموکراسي خپل ارزښت د لاسه ورکړي او ډیموکراسي ناوړه بڼه ځانته غوره کړي، یانې کله چې ډیموکراسي د لویدو په حال کې وي بیا نو تیراني منځته راځي چې په پایله کې یو ظالم او مستبد شخص واک په لاس کې اخلي او د ټولني ټول اړخونه د زور او ظلم پر بنسټ کنټرولوي.

د بشر په تاریخ کې زیاتره واکمنان په لومړیو کې ملي مشران وي او ملي ګټو ته ژمن وي، خو کله چې واک ته ورسیږي او واک پر ټولنه باندي پلي کوي، بیانو ظالم او مستبد مشران ځېني جوړ سي. یانې دوی د ټولني د اړودوړ او کشمکشونو د له منځه وړلو په موخه استبداد او ظلم ته مخه کړي. افلاطون د هر ظالم حکومت لپاره لومړنی ځانګړنه داسي تاکلې ده، چې کله حکومت شخصي سي او سیاسي قدرت د شخصي ګټو لپاره وکارول سي نو د ظلم او استبداد بنسټ هم ایښودل کیږي. دده په آند پداسي حکومت کې ټول واکونه او

[1]- فرهنګ واژه ها و فرهنګ علوم سیاسي.

اختیارات د یوه نفر په لاس کې وي او دده اراده معیار ګڼل کیږي، چې پر ټولنه باندې هر ډول واکمني کوي، کوم قانوني محدودیت شتون نه ورته لري. همدارنګه افلاطون د ظالم حکومت لپاره دوهمه ځانګړنه داسې ټاکي چې ظالم حکومت خپل ځان په خپله تباه کوي، یانې کله چې واک د یوه ظالم او مستبد شخص په لاس کې ولویدی، نو هغه د خپل سیاسي قدرت د پایښت لپاره په ټولنه کې ټول مخکښان، پوهان، روڼ آندان او علمي اشخاص له منځه وړي، یانې په ټولیز ډول هغه وګړي چې دی یې خپل سیالان بولي او د خپل سیاسي قدرت لپاره یې خطر ګڼي له منځه وړي، چې په پایله کې واک ناپوهو او نا اهله کسانو ته ورکول کیږي، چې د هېواد چارې کمزورې کیږي او ټول هېواد د جهالت او ناپوهۍ په کندې کې لویږي، چې دا پخپله د خپل ځان تباه کول دي.

ددې ترڅنګ د ظالم حکومت مشر د خپل حکومت د نیمګړتیاوو د پټولو لپاره او د خلکو د غولولو لپاره تل بهرنیو جګړو ته وردانګي ترڅو د خلکو افکار د بهرنیو جګړو پر لورې ور مات کړي او د حکومت نیمګړتیاووې او ستونزې یې له یاده ووځي[1].

---

[1]- مینو ا فشاري راد و علی اقا بخشی، فرهنګ علوم سیاسی، ص ۲۹۷-۲۹۸.

# تيوکراسي[1]

تيوکراسي د يوناني ژبې د دو کلمو څخه جوړه سويده، چې (تيوس[2]) د خدای او (کراتين[3]) د حکومت يا واکمنۍ مانا لري. نو تيوکراسي د خدای د حکومت په مانا کارول کيږي.

د تيوکراسۍ په سياسي رژيم کې د حکومت لوړ پوړي مشران او رسمي مامورين په ټوليز ډول روحاني مشران او مذهبي مخکښان وي او پر وګړو باندي سياست او مذهب دواړه د يوي سرچيني څخه پلي کيږي. پدې سياسي رژيم کې سياست او مذهب سره ګډ وي په يوه وخت کې چارواکي هم مذهبي چاري سرته رسوي او هم سياسي چاري په حقيقت کې دوی همدا سياسي چاري د يو شمېر مذهبي او ديني تلنلارو پر بنسټ پلي کوي. دې ډول حکومت ته ځيني وخت مذهبي

1 - Theocracy.
2 - Theos.
3 - Kratein.

حکومت هم ویل کیږي او تل واک د هغه چا په لاس کي وي چي سپیڅلي[1] کارونه تر سره کوي.

ددي سیاسي مکتب بنسټیز آند او پالیسي داده، چي الله تعالی پخپله د حکومت چاري پرمخ بیایي او د واک یوازنی سرچینه الله تعالی دی. الله تعالي واک د مځکي پرمخ پاپانو ته سپارلی دی، ترڅو د الله تعالي په استازیتوب پر وګړو باندي واک پلی کړي او وګړو ته لارښوني وکړي. له همدي کبله پدي سیاسي رژیم کي پاپان داسي ادعا کوي، چي الله تعالي موږ ته واک سپارلی دی او موږ د انسانانو د لارښونو او څارلو مسؤلیت په غاړه لرو. نوځکه دوی خپل سیاسي مکتب ته تیوکراسي (دخدای حکومت) وایي.

تیوکراسي یو لړ اداري لړۍ لري، چي د مذهبي قواعدو پر بنسټ اداره کیږي او دوه بنسټونه لري، چي یو یې دولت او بل یې مذهب دی. له همدي کبله تیوکراسي نه یوازي پر وګړو باندي سیاسي واکمني لري بلکي مذهبي او ټولنیزه واکمني هم لري او وګړي په هره برخه کي تر خپل اغیز او واک لاندي راولي.

تیوکراسي پر مذهبي او اخلاقي قواعدو باندي ولاړه ده او د نورو سیکولر سیاسي رژیمونو سره زیات توپیر لري، همدارنګه دوی پدي آند دي، چي پاچا د الله تعالي د لوري ساتل کیږي او الله تعالي د پاچا سره د سیاسي چارو په سرته رسولو کي مرسته کوي. دوی پدي آند دي، که چا د پاچا پر وړآندي پاڅون وکړ او یا یې د پاچا سره مخالفت

---

[1]- پدي سیاسي رژیم کي سپیڅلي کارونه دیني کارونو ته ویل کیږي او مذهبي مخکښان ځکه د سیاستوالو دنده اجرا کوي، چي دوی سپیڅلي خلک دي او سپیڅلي کارونه تر سره کوي.

وکړ دا به پدي مانا وي، چې دوی د الله تعالی سره مخالفت کوي؛ نو ځکه دوی د وګړو سپیڅلوالی او پاکي د خپل پاچا په اطاعت او امرمنني کي ګڼي.

دا اصطلاح په لومړي ځل د (جوزپوس فلیویس[1]) لخوا د لرغوني اسرایلي حکومت د بڼي د پیژندني لپاره و کارول سول. فلیویس پدي آند و، کله چي لرغونو یونانیانو د حکومت دري بڼي لکه مونارشي، اریستوکراسي او انارشي و پیژندلې پدي وخت کي په اسرایلو کي یو بل ډول سیاسي رژیم واکمن و، چي د یونانیانو د سیاسي رژیمونو سره یې بشپړ توپیر درلودی، دا سیاسي رژیم تیوکراسي وه، چي پر اسرایلو باند الله تعالي او د هغه قوانینو واکمنې درلوده. د فلیویس دا ډول آندونه د تیوکراسۍ په وخت کي منل کیدل او کله چي په اروپا کي د رونسانتیا دوره راغله په ځانګړي توګه کله چي د هګل آندونه و غوړیدل دا ډول آندونو خپل ارزښت دلاسه ورکړ او نور د خلکو په عامه افکارو کي نه منل کیدل.

د فلیویس څخه وروسته د تیوکراسۍ لپاره لومړی انګلیسي تعریف په (۱۶۲۲ز) کال کي پدي ډول وړاندي سو (تیوکراسي د پاپانو هغه حکومت دی، چي دالهي قوانینو څخه الهام اخلي). همدارنګه بل تعریف په (۱۸۲۵ز) کال کي داسي وسو (د هغه ملا یا مذهبي مخکښ حکومت چي سیاسي واک په ښه مهارت سره اداره کوي د تیوکراسۍ پـــــــــــــه نامــــــــــــــه یـــــــــــــــادیږي)[2].

---

[1] - Josephus Flavius.
[2] - English Social Wikipedea and Encarta.

# ټکنوکراسي[1]

د ټکنوکراسۍ اصطلاح د لرغوني یوناني ژبې د دو ویو څخه جوړه سویده، چې (ټکني[2]) دهنر، فن، او کسب په مانا ده او (کراسي) د واک او حکومت په مانا ده، نو ټکنوکراسي هغه حکومت دی، چې واک د مسلکي خلکو په لاس کې وي، خو په عامه مانا سره ټکنوکراسي هغه حکومت ته ویل کیږي، چې واک د ساینسپوهانو او انجینرانو په لاس کې وي. د حکومتونو پدې ډول کې واک د سیاستپوهانو او اقتصادپوهانو پر ځای د ساینسپوهانو او انجینرانو په لاسونو کې وي او د ټولنیزو ستونزو د حل په موخه ساینس کارول کیږي. په ټکنوکراسۍ کې واکمنان په هره برخه کې د خپلې وړتیا، پوهې او تجربې پربنسټ ټاکل کیږي.

ټکنوکراسي په حقیقت کې د هغه وړاندیز لپاره وکارول سول، کله چې د ساینس په پرمختګ سره ساینسپوهانو داسې وړاندیز وکړ، چې د سیاست، اقتصاد او نورو ټولنیزو علومو پر ځای باید د ساینس څخه د ټولنیزو ستونزو دهوارۍ لپاره ګټنه واخیستل سي. نو له همدې کبله ساینسپوهانو د بشري ټولني د چارو په کنټرول کې اخلاقي

[1] -Technocracy.
[2] -Tekhne.

معیارونه او سیاسي او فلسفي اصول تر پښو لاندي کول وغوښتل او هرڅه یې د ساینس په واک کي ورکول وغوښتل.

په ټکنوکراسۍ کي زیاته تکیه پر صنعتي او ساینسي وسایلو باندي کیږي، دوی د صنعتي سرچینو او شتمنیو پر بنسټ د هېواد راتلونکی انځوروي. همدارنګه دوی د ډیموکراسۍ پر خلاف په هر بست کي چارواکي د خپلو وړتیاوو او تجربې پر بنسټ ټاکي.

یو شمېر پوهان ټکنوکراسي د میریټوکراسۍ، سره چې واک د پوهو او با استعداده خلکو په لاس ونو کي وي، سره یو شان ګڼې، خو ځیني نور بیا وایې، چې ټکنوکراسي یو ډول ساینسي اولیګارشي ده، چې واک د ساینسپوهانو د یوې ډلې سره وي. د ټکنوکراسۍ اصطلاح د هغې اداري لپاره هم کارول کیږي، چې واک د تجربه کارو او مسلکي اشخاصو په لاسونو کي وي، همدارنګه د (ټکنوکراټیک) اصطلاح هم د هغه حکومت د پاره کارول کیږي، په کوم کي، چې لوړرتبه چارواکي لکه وزیران په ټاکنیز ډول نه وي، بلکې د خپلو تجربو او مسلکي پوهې پر بنسټ ټاکل سوي وي.

ټکنوکراسي هغه ته هم ویل کیږي، چې د داسي وزیر یا ولسمشر پر ځای، چې هغه ټاکنیز وي، انتصابي څوک وټاکل سي، یانې پر انتخابي چوکۍ باندي د انتصابي شخص ټاکلو ته هم ټکنوکراسي ویل کیږي.

خو په ټولیز ډول ټیکنوکراسي سیاسي قدرت د هغه چا په لاس کي ورکوي، چې د فن یا مسلک خاوند وي، تر څو د هغه مسلک پر بنسټ سیاسي قدرت په ټولنه کي پلی کړي، له همدي کبله پدي سیاسي رژیم کي د واکمنانو په ټاکنه کي مسلک او فن ته زیاته پاملرنه کیږي.

همدارنګه دیته ورته یوه بله اصطلاح د ټکنوکراټیزم ده، ددي اصطلاح پر بنسټ د دولت واګي باید د متخصصینو په لاس کي ورکول سي، ترڅو د دولت دستګاه ثابته پاته سي او دولتي چاري په ثابت ډول پر مخ ولاړي سي[1].

## د ټکنوکراسۍ شالید:

د ټکنوکراسۍ اصطلاح یوه کالیفورنیایي انجینر (ویلیم هنري سمیت) په (۱۹۱۹ز) کال کي د هغه حکومت لپاره وکارول، په کوم کي چي واک د انجینرانو او ساینسپوهانو په لاسونو کي وي. که څه هم دا اصطلاح تر مخه څو واره په بېلابېلو بڼو سره کارول سویده. خو سمیت په همدي کال کي په خپلي یوي مقالي کي روښانه کړل او د صنعتي ډیموکراسۍ لپاره یې وکارول. د سمیت په آند ټکنوکراسي مانا د تخنیکي خلکو په لاس باندي حکومت ورکول ، یاني هغه حکومت چي پر تخنیک باندي ولاړ وي عبارت د ټکنوکراسۍ څخه دی.

د ټکنوکراسۍ د غوړېدو څخه مخکي هم دیته ورته آندونه د زیاتو پوهانو لخوا ورکول سوي وه، د بېلګي په توګه سوسیالیست تیولوژیست سان سیمون هم پدي آند و، چي د حکومت چاري باید ساینسپوهانو ته وروسپارل سي. دیته ورته نورو سوسیالیستي پوهانو هم داسي آندونه ورکړیدي، چي واک باید ساینسپوهانو ته ورکول سي او داسي حکومت باید د ټولني ټول تولیدات تر خپلي ولکي لاندي راولي.

[1]-امیر مسعود خدایار، فرهنگ واژه های مکتبها، ص۱۰۷.

ټکنوکراټان زیاتره ظالم وي او د ساینسي لارو څخه ټولنیزي ستونزي حلـوي، دوی پــه ټــولنیزو موضــوعاتو کــي عقلــي دلایــل نــه منــي. د ټکنوکراسۍ معاصره بېلګه په پخواني شوروي اتحاد کي د برژنیف دوره ده، چــي پــه (۱۹۹۲ز) کــال کــي د (پولیــټ بــورو[1]) ۸۹٪ غــړي انجینران وه.

په اروپا کي هم بېلابېل ټکنوکراټیک حکومتونه رامنځته سویدي، چــي د (۱۹۹۰ز) کــال راپــدیخوا پــه ایټالیــا کــي څــو ټکنوکراټیــک حکومتونــو واکــی پــه لاس کــي اخیســتئ دی او پــه ځــانګړي بڼــه د اقتصادي بحرانونو پرمهال خو زیاتره لوړ پوړي چارواکي په مسلکي ډول په انتصابي بڼه ټاکل کیږي[2].

[1] -Politburo.
[2] - English Social Wikipedia and Britanica Encyclopedia.

# ټيمارشي[1] (تيموکراسي)

ټيمارشي د يوناني ژبې د (ټايم يا ټيمه[2]) څخه اخيستل سويده، چې د عزت، شرف او ابرو په مانا ده. دا اصطلاح د لومړي ځل د پاره افلاطون په خپل کتاب (جمهوريت) کې د هغه حکومت د پاره کارولې ده، چې په هغه کې واک د هغو خلکو په لاس کې وي، چې يوازې د شرف، عزت او وياړ د پاره کار کوي نه د قضاوت، عدالت او نورو د پاره. دا اصطلاح مسلمان عالم فارابي د (کرامتي ښار) په بڼه کارولې ده. افلاطون دا اصطلاح د لرغونې سپارتي حکومت د پاره کارولې ده او ټيمارشي يې د سپارتي حکومت يوه ځانګړنه بللې ده، په حقيقت کې د افلاطون خيالي ټيمارشي هم د سپارتي حکومت سره ورته والی لري.

په سپارت کې يوه ډله خلک د (هلوت) په نامه په کر کيله باندې بوخت وه، چې يوازې د خپلو سپارتي مشرانو په چوپړ کې وه او د هيڅ ډول حقوقو څخه برخمن نه وه. په ټوليز ډول سپارتيانو داسې ژوند تاکلی و، چې د دښمن څخه بايد دفاع وسي او وګړيزي سوکالي خوندي سي او پدې آند وه، چې وګړيزي خپلواکۍ يوازې د دښمن څخه د ښې دفاع په پايله کې خوندي کيدای سي.

[1] -Timarchy or Timocracy.
[2] -Time.

# جمهوریت[1]

جمهوریت د حکومت هغه ډول دي چي په هغه کي د دولت رئیس په ارثي ډول نه وي ټاکل سوي بلکي د خلکو د عمومي رایو پربنسټ ټاکل سوي وي. په جمهوریت کي د دولت د رئیس د مشرتوب دوره معلومه وي او د خلکو لخوا په مستقیم او یا غیري مستقیم ډول ټاکل کیږي. په عام مفهوم جمهوریت هغه حکومت ته ویلاي سو چي د عمومي غوښتنو پر بنسټ ولاړ وي[2]. جمهوریت زیاتره وخت پارلماني ډیموکراټیک رژیم ته ویل کیږي- که څه هم په ځینو هېوادونو کي سربېره پر دي چي جمهوري رژیم لري خو پارلماني ډیموکراسي پکښي نه رعایتیږي.

د لرغوني روم او یونان جمهوریتونه د اوسني جمهوریتونو سره زیات توپیر لري. د لرغوني یونان جمهوریت د زیاتو پوهانو او فیلسوفانو لخوا منل سوی و او واکمنان یوازي د اشرافو او لوړو پوړونو څخه ټاکل کیدل.

اوسنی جمهوریت د یوه هېواد هغه حکومت ته ویل کیږي، چي ډیموکراسي او یا هم غیري سلطنتي دیکتاتوري وي. جمهوریت د

[1] -Republic

[2]: فرشید اقبال، مکتب های سیاسی، انتشارات: سبکباران، چاپ ۱۳۸۷، ص۸۵

ډیموکراسۍ په مانا ندی، بلکي داسي یو رژیم دی چي د واکمن واک محدودوي او ګوندونو او پارلمان ته د فعالیت اجازه ورکوي[1].

په جمهوري حکومتونو کي واک د خلکو لخوا په مستقیم او یا غیري مستقیم ډول اداره کیږي او دولتي جوړښت یي د سلطنتي او پادشاهي په څیر نه وي. جمهوري حکومتونه کیدای سي چي پر درو برخوو ویشو:

الف- لویدیځ ډیموکراټیک جمهوریتونه؛ چي ریښي یي د اتلسمي او نولسمي پیړیو د انقلابونو څخه سرچینه اخلي او بل هغه هېوادونه دې چي د جمهوریت سیاسي رژیم یي وروسته منلي وي، پدي هېوادونو کي د سیاسي ګوندونو او رسنیو ازادي موجوده ده.

ب- هغه هېوادونه چي رسماً جمهوري نومول کیږي لیکن په عمل کي نظامي او پولیسي رژیمونه پر دوي حکومت کوي.

ج- نوي ډیموکراټیک جمهوریتونه؛ دا په اروپا او ختیځه اسیا کي موجود دي چي رسمي نوم یي(پرولتاریا دکتاتوري) ده او په دي هېوادونو کي یو ګوندي حکومتونه موجود دي[2].

کله ناکله د یو شمېر نورو حکومتونو لپاره هم د جمهوري اصطلاح کارول کیږي، چي په لاندي ډول یې د ځینو یادونه کوو:

الف- اشرافي جمهوریت: دا هغه جمهوریت دی چي واکمن پوړ یوازي د اشرافو څخه تاکل کیږي. خو که چیري د وګړو ترمنځ دا امتیاز نه وي هغه ته ډیموکراټیک جمهوریت یا ملي جمهوریت ویل کیږي.

ب- د واسطي جمهوریت: دا هغه جمهوریت دی چي اولس د خپلو ځانګړو استازو په واسطه د واکمنۍ حق اعمال کوي.

---

1- غلامرضا علي بابایي، فرهنګ سیاسي آرش، ص ۲۱۲

2: بشیر اخګر، دموکراسي، ۲۰۰۸ کال، ص ۷۳-۷۴

ج- بي واسطي جمهوریت: دا هغه جمهوریت دي چي اولس بېله خپلو استازو څخه د واکمنۍ حق(د قانون جوړول، د لوړپوړو چارواکو لکه وزیران او نورو ټاکني، پر حکومتي چارو څارنه... ) اعمال کوي.

د- سلطنتي جمهوریت: پدي ډول رژیم کي د جمهور رئیس د مړګ څخه وروسته لکه په سلطنتي نظام کي دده زوی دده ځای ناستی ټاکل کیږي. لکه په سوریه کي چي د حافظ اسد څخه وروسته دده زوی بشر الاسد دده ځای ناستی و ګڼل سو[1].

1- غلامرضا علي بابایی، فرهنګ سیاسي آرش، ص ۲۱۳

# جنیوکراسي[1]

جنیوکراسـي د دوو ویـو څخـه جـوړه ده، چـې (جېـنس[2]) د نابغــه او کراسي د حکومت یا واکمنۍ په مانا ده، نو جنیوکراسي هغه حکومـت ته ویل کېږي، چې واک د نابغه ګانو په لاس کې وي.

په جنیوکراسۍ کې هغه خلک د حکومت کولو لپاره ټاکل کېږي، چې یا نابغه وي او یا هم د هیواد د ستونزو د حل لپاره ځانګړي وړتیا او استعداد ولري. د جنیوکراسۍ ټاکني د لیبرال ډیموکراسۍ د ټاکنو سره توپیر لري، په لیبرال ډیموکراسۍ کې د خلکو حکومت کونکو استعداد او هوښیارتیا ته دومره پاملرنه نه کېږي، یوازي هغه خلک حکومت کوي، چې د ولس د اکثریت ملاتړ ولري او د ولس لخوا ټاکل سوي وي، خو په جنیوکراسۍ کې بیا د حکومت کولو لپاره هغه خلک ټاکل کېږي، چې د ښې وړتیا او نبوغ خاوندان وي.

جنیوکراسي د ډیموکراسۍ پر ټاکنیز بهیر باندي نیوکه کوي، چې په ډیموکراسۍ کې خلک احساساتي کېږي او د مهمو سیاسي مسایلو په اړه د خلکو د احساساتو څخه ګټه اخیستل کېږي، ددوی په آند سیاسي مسایل ډیر مهم دي خلک باید یوازي د احساساتو او جذباتو

[1] - Geniocracy.
[2] Genius.

پر بنسټ پريکړه ونکړې بلکې پدې برخه کې ژور فکر پکار دی، له همدې کبله جينوکراسي د ډيموکراسۍ ټاکنيز بهير تر نيوکو لاندې راولي. له همدې کبله جنيوکراسي ليبرال ډيموکراسي د ميډيوکراسۍ يوه بڼه بولي.

د جنيوکراسۍ ځينې آندونه د نړيوال حکومت ملاتړ کوي، ددوی په آند د دولتونو سيستمونه بايد د نړيوال معيار سره برابر سي، يانې دولتونه بايد په خپلو سياسي، اقتصادي او نورو برخو کې بدلون راولي او په ټولنه کې بشري حقوق او ټولنيز عدالت وساتي.

جنيوکراسي پر اوسني ټاکنيزو سيستمونو باندې نيوکې کوي، دوی وايې چې اوسنۍ ټاکنيز بهير په ټولنه کې د خلکو ترمنځ تبعيض کوي، يانې په ټاکنو کې سخت شرايط ددې لامل ګرځي چې د ټولنې ځينې افراد رايه ورکولو څخه بې برخې پاته سي، په ټاکنو کې داسې شرايط ټاکل سوي دي، چې ماشوم، غير حاضر، بنديان او نور خلک نسي کولای چې رايه ورکړي، پداسې حال کې چې رايه د وګړې حق دی او هر وګړی د رايې ورکولو حق لري.

په جنيوکراسۍ کې د حکومت کونکو استعداد (اي قيو) او عاطفي دواړو ته ارزښت ورکول کيږي، حکومت کونکي بايد لومړی د ښه وړتيا او استعداد خاوندان وي او دوهم بايد غوره بشري عاطفه ولري، تر څو د ټولنې د ټولو وګړو په منځ کې د بشري عاطفې پر بنسټ چلن وکړي[1].

---

[1] English Wikipedea.

# جيرنټوکراسي[1]

جيرنټوکراسي يو داسي سياسي رژيم دی، چي واک زړو خلکو يا مشرانو ته ورکوي او په ټولنه کي هغه چاته زيات واک ورکول کيږي، چي ترنورو يې عمر زيات وي. پدي سياسي رژيم کي واکمن پوړ د عمر پر بنسټ ټاکل کيږي، نه د ځانې وړتيا پربنسټ.
په جيرنټوکراسۍ کي د وګړو ځاني تجربو ته زيات ارزښت ورکول کيږي او د زيات عمر خلک په ټولنه کي د خپل ځانګړي نفوذ پر بنسټ ځانګړی واک لري او ددوی سپارښتني په قانوني بڼه منل کيږي. همدارنګه په ټولنه کي زيات وخت د دا ډول زړو خلکو لارښونو ته په ډير درنښت کتل کيږي او په زياتو چارو کي ددوی مشوري اړيني ګڼل کيږي. که څه هم زيات وخت دا ډول مشران په رسمي بستونو کي نه ګمارل کيږي خو ددوی د ځانګړي نفوذ پر بنسټ ځانګړی واک لري.
جيرنټوکراسي زيات وخت په کمونيستي ټولنو او حکومتونو کي تر سترګو کيږي. پدي ډول ټولنو کي د يو چا ځانې زياتي تجربي ته کتل کيږي او هغه څوک چي تر نورو په ژوند کي زياته تجربه ولري هغه د

---

[1] -Gerontocracy.

ځـانګړي درنښــت او واک لرونکــی دی. همدرانګــه پــه سیاســي او حکومتي برخه کي هغه څوک پر یوي چوکۍ باندي ګمارل کیږي، چي پدي برخه او اړونده رشته کي تر نورو زیاته تجربه ولري او زیات وخت یې کار کړی وي. د بیلګي په توګه د چین د کمونیست ګوند د (ایټ انکارټلس[1]) په وخت کي دا ار (اصل) رواج و، چي د اتیا (۸۰) کلنو خلکو ډلې به د اویا(۷۰) کلنو خلکو ډله راغوښتل، ترڅو د شپیته(۶۰) کلنو مامورینو د تقاعد په اړه پریکړه وکړي. د همدي ګوند مشر (ماو زیډینګ[2])، چي کله مړ سو د دوه اتیا (۸۲) کالو و او کله چي (ډینګ زیاوپینګ[3]) واک تر لاسه کړ پدي وخت کي نوي (۹۰) کلنۍ ته رسیدلی و.

جیرنټوکراسي په هغو هېوادونو کي هم رواج ده، چي سیاسي واک یې د تیوکراسۍ پر بنسټ ولاړ وي، یانې واک د مذهبي مشرانو په لاسونو کي وي لکه په ایران او واتیکان کي. په ایران کي کله چي لوی مذهبي مشر پارلمان ته نوماند کیږي نو عمر یې باید د پنځه اویا کلونو څخه کم نه وي.[4]

همدارنګه په ډیموکراسۍ کي هم همدا ډول نښي تر سترګو کیږي، د بیلګي په توګه په امریکا کي د مشرانو جرګي زیات غړې د ډیر عمر لرونکښي وي همدارنګه په افغانستان کي هم د مشرانو جرګي غړې د ډیر عمر خاوندان دي. په زیات ټولنو کي په ځانګړي ډول د حقوقي او قانون جوړوني د برخي غړې د زیات عمر لرونکې خلک ټاکل کیږي.

---

[1] - Eight Incartals.
[2] - Mao Zedang.
[3] - Deng Xiaoping.
[4] - Encarta and Wikipedea.

کـه چیـري د افغانسـتان کلتـوري ارزښـتونو تـه وکتـل سـي، نـو د جیرنتهوکراسۍ زیاتي نښي پکښي تر سترګو کیـږي، د بیلګـي پـه توګـه په جرګو او مرکو کي هغه څوک مشـر ټاکـل کیـږي، چـي تـر نـورو سـپین ږیری وي او زیات عمر ولري لکه د افغانسـتان پـه لویـه جرګـه کـي مشـر سړی د جرګي مشر کیږي، همدارنګه په ټولنیز ژونـد کـي هـم تـر نـورو د زیـات عمـر لرونکـي تـن تـه درنښـت کیـږي او زیـات وخـت پـه مرکـو او پریکړو کي دداسي تن خبره منل کیږي.

# د خیر ښیګڼې دولت[1]

د خیر ښیګڼې دولت اند پر دي ولاړ دی، چې دولت د وګړو د سوکالۍ او د هغوی ترمنځ د همږغۍ د راوستلو لپاره دی. نو د خیر ښیګڼې دولت موخه د وګړو هوساینه، پرمختګ او سوکالي ده، چې ټولې هڅې یې د عمومي ښیګڼو لپاره دي. (کول) لیکلي (د خیرښیګڼې دولت هغه ټولنه ده، چې په هغه کې لږ ترلږه د ټولو وګړو د ژوند کچه ښه او د ژوند اسانتیاوې یې زیاتې وي). (ارتوشلزینګر) د خیر ښیګڼې دولت داسې تعریف کړ دی ((هغه نظام، چې په هغه کې حکومت دیته ژمن وي، چې د وګړو لپاره کار، عاید، زده کړه، مرستې، ټولنیز ثبات او د اوسیدو لپاره شرایط برابر کړي)). د (هربرټ لهمن) په اند ((د خیر ښیګڼې دولت هغه دی، چې په هغه کې وګړي په خپلو اکه توګه خپل استعدادونه روزلی او ښکاره کولای سي، د ستونزو او خنډونو پروړاندې ښیله دي، چې وبیریږي مبارزه کولای سي او د هر ډول نژادي، قومي، مذهبي او نورو تبعیضونو څخه خلاص وي)). د (کنت) په خبره ((د خیر ښېګڼې دولت هغه دی، چې د خپلو خلکو لپاره پراخه ټولنیز چوپړونه چمتو کوي)). د (ابرهام) په باور ((د خیر ښیګڼې دولت هغه

[1] - Welfare State.

ټولنه ده، چې په هغه کې دولتي واک د عادي کار د اقتصادي ځواک پر بنسټ په سنجول سوي بڼه پلی سي او لږ تر لږه د دې جوګه سي، چې د ټولو وګړو لپاره ټاکلي شتمني او عاید چمتو کړي)).

(مارشال) د خیر ښېګڼې دولت ځانګړنې دوه اړخیزه بولي، د یوې خوا د خیرښېګڼې دولت وګړپاله دی او د بلې خوا ټولپاله دی، دا په دې مانا، چې د خیر ښېګڼې دولت لومړی د وګړي ملاتړ کوي، چې هر وګړی خپلو غوښتونو او هیلو ته ورسېږي او له بل پلوه د ټولو او عمومي ګټو د پاره کار کوي، چې هغه د هر وګړي د ځانې ګټو څخه لوړې دي.

(پیت تئونس) پدې آند و، چې د خیر ښیګڼې دولت د ټولنې نوې بڼه ده، چې د لیبرالي او سوسیالیستي دولتونو سره توپیر لري. خو کولای سو، چې د یو شمېر ځانګړنو پر بنسټ لکه ډیموکرټیکو او له دې امله چې پر ټولپالنې باندې باور لري کمونیستي او فاشیستي یې وګڼو. یانې تئونس هم د مارشال په څیر د خیر ښېګڼې دولت نیمه سوسیالیسي او لیبرالیستي ګڼي.

د پورته پیژندونو څخه داسې پایله تر لاسه کیږي، چې د خیر ښېګڼې دولت لاندې ځانګړنې لري:

۱– په خیر ښیګڼې دولت کې (وګړی) محوري ځای لري؛

۲- د خپلو خلکو د پاره بیله کوم نژادي، عقیدوي، قومي... توپیرونو څخه لږ ترلږه د ژوند کولو اسانتیا او چانسونه چمتو کوي؛

۳- پراخه ټولنیز چوپړونه د خپلو خلکو لپاره چمتو کوي؛

۴- د خپل ټول اولس د پاره برابر سړي سر عاید ټاکي؛

په اوسنیو پیړیو کې د خیر ښېگڼې دولت زیات ګرانښت تر لاسه کړی دی. یو شمېر شاته پاته ډیموکراسیو او مخ پر ودې هېوادونو هم دا د خیر ښېگڼې دولت د خپل پرمختګ تلنلاره ټاکلې ده. پر همدې بنسټ (آرنولډ توینبي) د اوسنیو پیړیو نامتو تاریخپوه داسې وړاندوینه کړېده، چې ((د اوس څخه دری پیړۍ وروسته به هم شلمه پیړۍ د خلکو په یادونو کې پاته وي هغه ددې له امله نه، چې په شلمه پیړۍ کې جګړې، وژنې او جرمونه وسول، بلکې ددې له امله چې دا پیړۍ په تاریخ کې لومړنۍ دوره وه، چې خلکو ددې جرات پیدا کړ، چې ددې په اړه فکر وکړي، چې د اوسني پرمختګ او تمدن څخه د ټول بشریت لپاره ګټه اخیستل شونې ده)).

## د خیر ښېگڼې دولت دندې:

د خیر ښېگڼې دولت نه یوازې ملاتړی دی، بلکې پر ټولو هغو کارونو باندې ټینګار کوي، چې ټولګټې وي او د عامه خلکو د سوکالۍ او ښیګڼو د پاره کیږي. د خیر ښېگڼې دولت د پولیس په څیر په ټولنه کې رول نه لوبوي، بلکې د یوه فزیکپوه، انجینر، رنځپوه او ښوونکې په بڼه چوپړونه کوي.

## د خیر ښېگڼې دولت کار ډول:

### الف- د ملاتړي په بڼه

۱. د کورني اړودوړ او بهرني یرغل پر وړاندې د ملي واکمنۍ ساتنه؛

۲. د ټیکاو د ټینګښت، د ملي واکمنۍ د ساتنې او د خلکو د ملاتړ د زیاتوالي په موخه د قوانینو پلي کول؛

۳. د یو شمیر بنسټونو لخوا کورنۍ او شتمنۍ ساتنه؛

۴. د اړیکنیزو وسایلو تنظیم، د ساختمانونو جوړول او د لارو ساتنه، او د عایداتو په اندازه د مخابراتي چوپړونو چمتو کول؛

۵. په بازارونو او مارکیټونو کي تنظیم؛

۶. د نورو دولتونو سره د ډیپلوماټیکو اړیکو ساتل؛

۷. د مالیاتو راټولونه او د سرغړونکو د پاره د مجازاتو ټاکل؛

**ب- د سوکالۍ او هوساینې د چمتووالي په بڼه:**

نوې د خیر ښېګڼې دولتونه خپله دنده یوازې د مالیاتو راټولونه نه ګڼي، بلکې ټولنیزې سوکالۍ هم پیاوړې کوي. (رابون) د خیر ښېګڼې دولت د سوکالۍ د کار ډول په اړوند داسې آند وړاندي کوي ((تر نورو ټولو چوپړونو ټولنیز عامه چوپړونه ډیر اړین دي؛ ځکه چې دا چوپړونه د ټولني د ټولو وګړو د پاره دي)). دا ډول دولت د سوکالۍ او هوساینې په بڼه لاندي چوپړونه سرته رسوي:

۱. **وګړیز شخصیت پیاوړی کوي:**

لکه څرنګه چې وویل سول د خیر ښېګڼې دولت د وګړو د شخصیتونو د همږغۍ د پاره کار کوي. دا دولت یا حکومت ټولو وګړو ته په یوه سترګه ګوري او د ټولو وګړو د پاره برابر چوپړونه او چانسونه چمتو کوي او د دوی د پرمختګ په لار کي هیڅ ډول خنډونه نه منل کیږي. همدارنګه د کمزورو خلکو د چوپړو د پاره هم زیاته پاملرنه کوي.

۲. **ټول وګړي د بنسټیزو خپلواکیو لرونکي دي:**

ټول وګړي دا واک لري چې د بنسټیزو خپلواکیو لکه د عقیدې خپلواکي، د خبرو خپلوکي او نورو خپلواکیو څخه په برابره توګه ګټه

واخلي، د دا ډول خپلواکیو څخه په برابره توګه ګټه اخیستل ددي لامل ګرځي، چې عامه قضاوتونه او کړنې د عمومي ګټو د پاره په کار واچول سي.

د خیر ښېګڼې دولت عمومي کار ډول په لاندي ډول را لنډولای سو:

۱. **د روغتیا ساتني پیاوړتیا:**

دا ډول دولت د وګړو د روغتیا د پاره مخکې له مخکې کوټلي ګامونه اخلي، ورځ تر بلې دا خبره روښانه کیږي، چې روغ او سالم وګړو کولای سي، چې خپل دولت او ټولنې ته په ښه ډول چوپړ وکړي. له همدي کبله د روغتیا وزیران هڅه کوي، چې د ناروغیو او میکروبونو مخه ونیسي او پر وړاندي یې سخته مبارزه وکړي. همدارنګه دا دولت پدي هڅه کې هم دی، چې د درونو کارونو او نورو لارو څخه وګړو ته زیان ونه رسیږي؛ نو ځکه د ماشومانو پر کار ګمارل نه مني او په قانوني بڼه د کوچنیانو کارونه یې منع کړي دي.

۲. **د ښوونې او روزنې پراختیا:**

د خیر ښېګڼې دولت هڅه کوي، چې زده کړه او پوهه د ټولو وګړو په لاس کې ورکړي او هر وګړی باید د پوهې د لاسته راوړلو چانس ولري. پدي دولت کې پوهه یوازي د شتمنو کورنیو په واک کې نده. په ټولیز ډول ټول وګړي د لومړنیو زده کړو څخه برخمن کیږي، خو لوړي زده کړي بیا هغه ځوک کولای سي، چې فکري چمتووالی ورته ولري. همدارنګه وړ او لایقو کسانو ته د بهرنیو هېوادونو د زده کړي چانسونه ورکول کیږي، ترڅو په ښه ډول زده کړه ترلاسه کړي.

دا خبره نن ټولو ته منلې ده، چې بېله پوهې او علم څخه وګړي شاته پاته کیږي او د دوی شخصیت نور هم کمزوری کیږي. له همدي کبله د

خیر ښېګڼې دولت د هېواد د ښوونې او روزنې د نظام د پاره داسې قواعد او تلنلاري ټاکلي دي، چې ټول وګړي په پوهې او علم باندې سمبال سي.

**۳. اقتصادي ټيکاو:**

که چیري د وګړو اقتصادي حالت پیاوړی نسي، نو د خیر ښېګڼې دولت به په یو خیال او خوب باندي بدل سي. په ټولنه کي باید د شتمنو او بیوزلو ترمنځ تو پیرونه له منځه ولاړ سي او د ټولو وګړو د پاره باید د اوسیدلو ځای، خوراکي توکي، لباس او نور چمتو سي. بیوزلي او فقر باید له منځه ولاړ سي. د (رابون) په خبره ((د خیر ښېګڼې دولت بنسټيزه موخه د بیوزلۍ د منځه وړل دي او هر دولت، چې د بیوزلۍ د له منځه وړلو توان ولري او دا کار نکوي، دا دولت د خیر ښېګڼې دولت په خیر نه ګڼل کیږي)). همدارنګه بیکاري باید د منځه یوړل سي، د کارکولو ساعتونه تر یوبریده راکم سي او د کارګرانو معاش هم په مناسبه اندازه وټاکل سي، د شتمنو او سوداګرو لخوا باید د کارګرانو د پوړ زبیښناک له منځه ولاړ سي او د لړکیو استراحت او د ډیرکیو خواري هم باید پای ومومي. (هاکرس) د خیر ښېګڼې دولت د کار ډول په اړه وایي ((د خیر ښېګڼې دولت د سوسیالیزم او کاپیټالیزم ترمنځ ځای نیولی دی)).

**۴. ټولنیز چوپړونه:**

د مناسبو ټولنیزو چوپړونو(خدمتونو) شرط د خیر ښېګڼې دولت د بنسټيزو موخو او تلنلارو څخه دی. لویدیځو هېوادونو دا شرط پلی کړی دی او بیلګې یې وړاندي کړي دي. فرانسه او المان د هغو لویو هېوادونو څخه دي، چې دولتي زده کړه او پیاوړتیا یې پلي کړیده او

انګلستان د هغو خیر ښېګڼو دولتونو څخه دی چې ملي بیمه یې اجباري کړېده، دا بیمه د هغو بېوزلو او بیکارو خلکو د پاره ده، چې په انګلستان کې اوسېږي.

نن ورځ د خیر ښېګڼې دولت په نړیواله کچه زیات پرمختګ کړی دی او دعلم او پوهې ترڅنګ یې هنر، ادبیاتو، فن او لوبو ته زیاته پراختیا ورکړېده. د خیر ښېګڼې دولت نه یوازې د پرمختګ د ملاتړي دنده په غاړه لري، بلکې پخپله د روغتیا، ښوونې، ټیکاو او نظم په ټینګښت کې رغنده رول لري. د خیر ښېګڼې دولت بنسټیره دنده داده، چې وګړي د ریښتنو خپلواکیو څخه برخمن کړي.

د خیر ښېګڼې دولت د هڅو پر وړاندې یو شمېر خنډونه هم سته د بېلګې په توګه د ملي تولید د کچې کمښت، د نفوسو زیاتوالی، د مالیاتو پر وخت نه ورکول او دبشپړ ملاتړ نه شتون.

یو شمېر خلکو پر خیر ښېګڼې دولت باندې نیوکې هم کړېدي، ددوی په اند د خیر ښېګڼې دولت د بېوزلو هېوادونو د پاره مناسب ندی؛ ځکه چې ددولت او حکومت د پاره ډېر لګښت کوي[1].

---

[1]- عبدالرحمن عالم، بنیادهای علم سیاست، ص ۳۷۲-۳۸۰

# دیارشي[1]

دیارشي د یوناني ژبې د دوو کلمو څخه جوړه سویده، چې (دی[2]) د دوو او (ارشي[3]) د حکومت مانا لري. نو دیارشي هغه سیاسي رژیم ته ویل کیږي، چې د پریکړو او امرچلولو دوې مرجع ولري، چې هره مرجع د واک د پلي کولو او حکومت کولو حق لري.

په سیاسي عُرف کې دیارشي د مشترک حکومت په مانا کارول کیږي.

دیارشي د لومړي ځل لپاره د انګلستان په امپراتورۍ کې و کارول سول، پدې مانا چې دولت د یوه قلمرو د اداري لپاره هغه پر دوو برخو باندې ویشی، چې یوه برخه به یې د هغو واکمنانو لخوا اداره کیدی، چې د سلطنتي مقاماتو لخوا به ټاکل کیدی او د پارلمان پر وړاندې به یې مسؤلیت درلودی او بله برخه به د وزیرانو لخوا اداره کیدل، چې د مقنني قوې لخوا به ځای ورته ټاکل کیدی او خپلې اړوندې اداري ته یې مسؤلیت درلودی[4].

---

[1] Diarchy
[2] -Di
[3] -Archy

[4]- غلام رضا علی بابایی، فرهنګ سیاسي آرش، ص۲۹۲.

# ديکتاتوري[1]

ديکتـاتوري د لاتينـي ژبـي د ديکتـي د کلمـي فاعـل اسم دي، چـي پـه لغوي لحاظ د ديکتاتور څخه مطلب ديکته کوونکی يانې امر کوونکی دی او احکـام او قـوانين خلکـو تـه ديکتـه کـوي، خـو پـه عامـه مانـا ديکتاري هغه نظام ته ويل کيږي چي واک پـه بشـپړه توګه د يوه نفر پـه لاس کي وي، دا واک هيڅ قانوني او حقوقي پوله نلري، ديکتـاتور بيـا هغـه چا تـه ويـل کيـږي چي پـر يوه هېـواد يـا ټولنه باندي د بشـپړ واک څښتن وي، کيدای سي چي ديکتاتور د نوموړي هېـواد د سرنوشت پـه اړه هر ډول پريکړه وکړي يانې ديکتاتور قـانون، خلکـو او يـابلي مرجع ته مسوليت نلري.

ديکتاتوري د لرغوني روم او يونان پـه ښـآري دولتونوکي هم شـتون درلودی. پـه لرغوني يونان کي مطلق واک (سينيسينتاتوس) ته ورکول سوی و، ترڅو دولت د بحران او اړودوړ څخه وژغـوري. پـدي وخت کـي دده څخــه هــرډول قــانوني بنديزونــه اوځنځيرونــه ليــري ســوي وه. پــه

---

[1] Dictatorship

لرغوني روم کې د سولا، ژولیوس، سزار او اوګوستوس دیکتاتورۍ د یادوني وړدي. په انګلستان کې (کرامول) په ریښتني ډول یو دیکتاتور و. همدارنګه ناپلیون چې فرانسې ته یې ژغورنه ورکړه لومړنی مُدرن دیکتاتور دی.

په شلمه پیړۍ کې په ځانګړي ډول د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته دیکتاتوریو پراختیا پیدا کړه. په شوروي اتحاد کې د پرولتاریا دیکتاتوري په(۱۹۱۷ز) کال کې ټینګه سول او په ترکیې کې کمال اتاتورک د دیکتاتور په څیر څرګند سو. په اسپانیا، پرتقال او څو نورو هېوادونو کې دولتې دیکتاتوریاني ټینګې سولې، خو د آلمان او ایټالیاد دیکتاتوریانو په پرتله کم ارزښته وي. په شلمه پیړۍ کې درې ډوله دیکتاتوریانې څرګندې سوي: ۱) په آلمان، ایټالیا، اسپانیا او پرتقال کې فاشیستې دیکتاتورۍ، ۲) د اسیا، افریقا او لاتین امریکا په ځینو برخو کې نظامي دیکتاتورۍ او، ۳) په شوروي اتحاد او چین کې ګوندي دیکتاتورۍ.

د دیکتاتورۍ په اړه زیاتو پوهانو آندونه ورکړیدي. د (فورډ) په آند ((د دولت د مشر لخوا تر قانون لوړواک په لاس کې اخیستل دیکتاتوري ده). د (الفرډ کوبان) په خبره دیکتاتوري یو نفري حکومت دی، چې واک یې په ارثي ډول لاسته نه وي راوړی، بلکې د زور، خوښی او یا بلې لارې څخه یې ترلاسه کړی وي. دیکتاتورد بشپړې واکمنۍ لرونکی دی، یانې ټول سیاسي واک د ده د ارادې څخه زیږي او واک یې نامحدوده دی. همدارنګه دیکتاتور په خپله خوښه فرمان ورکوي، نه د قانون پر بنسټ. د دیکتاتور واک د هیڅ ځواک اړوند (تابع) ندی؛ ځکه چې دا تابعت بیا دده د واک د بشپړوالي سره سمون نه خوري. د

(کوبــان) د څیړنـــې څخــه دا ســـې څرګنــدیږي، چـــې د یــوه شـــخص دیکتــاتوري دا ځــانګړني لــري: ۱) د یــوه نفــر واکمنـــې ده، ۲) د زور، خونبې یادوا ړو پر بنسټ ده، ۳) بل هیڅ ځواک ته مسوله نده، ۴) د دیکتاتور واکونه او صلاحیتونه بشپړ دي، ۵) بیله قانون څخه فرمان ورکوي او ۷) د دیکتاتور د واکمنۍ دوره ټاکلې نده. دا ډول ځانګړني د نــاپلیون او اتــاتورک پــه دیکتــاتوریو کــې څرګنــدیږي. خــو نــوې دیکتاتوري د ګوند په ملاتړ پوري تړلې دي.

نـوي دیکتاتوریـاني د لـومړۍ نړیـوالي جګـړي څخـه وروسـته د ملـي انقلابونو پـه وخت کـې څرګندې سوې. دې جګړې دا آند بې ارزښته کړی و، چې ډیموکراسي سوله ټینګولای سي. د (مک ایور) په خبره (د اروپاد جګړې بحران پر هغو هېوادونو چې د ډیموکراسۍ په برخه کې بـې تجربـې وه، ډیـر ژر دیکتــاتوري واکمنــه کــړه). پـدې وخـت کــې ډیموکراسیو د بیارغونو، د بیکاریو په له منځه وړلو او پرمختـګ پـه برخه کې زیات کار ونکړ او پاته راغلې. همدرانګه پارلمان هم د فسـاد یوه حجره وګڼل سول. پـه عمـومي ډول د نـوې دیکتـاتورۍ ځـانګړني پـه لاندي ډول پیژندلای سو:

## د نوې دیکتاتورۍ ځانګړني:

دیکتاتوري، که څه هم پر ټولنه د دیکتاتور لخوا خپلسری امـر چلـول دي، خو بیا هم د یو شمېر ځانګړنو لرونکی نظام دی، ددې ځـانګړنو پـر بنسټ د بشر په تاریخ کې واک ته رسیدلی دی:

**۱. د توتالیترحکومت واکمن کیدل**:

نــوې دیکتـــاتوري د توتـــالیتر د حکومـــت د ټینګښـــت او واکمـــن کیدولامل سوه. لکه په لرغوني یونان کې چې د دولـت او ټولنې تـرمنځ

توپیر نه کیدی، همدارنګه په نویو دیکتاتوریو کي هم د دي دواړو ترمنځ توپیر نه کیدی او دوی د ټولنیزژوند د ټولو اړخونو د تنظیمولو مسولیت د ځان ګڼي.

**۲ . د زور کارول**:

نوې دیکتاتوري په کوردننه او بهرکې د زور پر کاروني باندي باور لري. نو ځکه هټلر او موسوليني د جګړې لاره وټاکل او داسي به یې ویل، چي(جګړه پر نر باندي داسي ده لکه د ښځي لپاره چي مورکیدل اړینه ده).

**۳ . د یوه ګوند واکمنې**:

نوې دیکتاتوري د یوه ګوند پر واکمنۍ باندي باور لري او په ناخوښۍ او مخالفت باندي سرنه ګرځوي.

**۴ . انحصارول**:

توتالیتر حکومت واک انحصاروي. دوی د یوې ژبې، توکم، مذهب او یوې ډلي ټینګه پیروي کوي. همدارنګه پر خپل اقتصادي پوره والي باندي باور لري او ځیني وختونه تر نورو د ښه والي په فکرونو کي وي.

**۵ . د انټرنیشنلیزم سره مخالفت**:

نوې دیکتاتوري د مځکي پر پراخوالي باندي باور لري. همدارنګه سوله غوښتنه نه مني او د دوی په آند انټرنیشنلیزم یوفریب دی.

**د دیکتاتوریو ځواکمنتیا**:

هغه ځواکمنتیاوي او توانايي چي د نوې دیکتاتورۍ لپاره په ګوته سوي دي په لاندي ډول دي:

۱ . **د پیاوړي حکومت جوړول**:

په عمومي ډول دیکتاتوریاني د کار وړ او پیاوړی حکومت جوړوي. د دوی په آند دیکتاتوریاني خپل وخت پربې مانا خبرو باندې نه تیروي او په فوري ډول عمل کوي. موسولیني به ویل (زماکار عمل دی، نه خبري کول). هټلر هم پر عمل باندي باور درلودی. لینن او ستالین هم د روسي لپاره کاروکړاو په ډیرلږوخت کي یې روسیه د نړۍ یو پیاوړی ځواک وګرځول.

۲ . **د اړتیاوو سره فوري چلن**:

دیکتاتوریاني د فوري پریکړي او چټک غبرګون پربنسټ کولای سي، چې ټولنیزجوړښتونه د خطر څخه وساتي. هټلر په ډیري ځواکمنتیا سره د آلمان اقتصاد د بحران څخه وژغوری. پداسي حال کي چي ډیموکراتیک حکومتونه نسي کولای چي د پیښو په اړه چټک غبرګون وښئ؛ ځکه چي دوی زیات وخت په خبرو باندي تیروي.

۳ . **د هېواد د ارزښت لوړتیا**:

موسولیني او هټلر خپل نژاد او هېواد تر نورو لوړ ګڼی، د همدي شعارونو پر بنسټ یې په اروپا کي ډیر لوی واکونه ترلاسه کړل.

۴ . **د استعدادونو پېژندنه**:

دیکتاتوری پردي آرونو باندي باور لري، چې هرڅوک د هېواد مشرتوب په لاس کي نسي اخیستلای. بلکي یوه کوچنۍ هوښیاره ډله کولای سي چي د هېواد مشرتوب په لاس کي واخلي. د دوی په آند ټول اولس باید همدي هوښیاري ډلي امر ومني او یوازي د دوی په لارښونو باندي ژوند وکړي.

**۵ . د اقتصادي پرمختګ او بریا ساتل:**

دیکتاتوري رژیمونه اقتصادي بریا او اغیزناکه هراړخیز پرمختګ د خپلو هېوادونو لپاره ساتي. په ایټالیا کې د موسولیني په وخت کې بودیجه باثباته سول او د اقتصادي پرمختیا لپاره کار وسو. په المان کې هټلر حکومتي فساد له منځه یوړ او هراړخیز پرمختګ یې منځته راوړ.

**د دیکتاتورۍ نیمګړتیاوي:**

دیکتاتوري پر پورتنیو ښېګڼو سربېره زیاتي نیمګړتیاوي هم لري، چي په لاندي ډول به یې یادونه وکړو:

**۱ . د انسان شخصیت وده نه کوي:**

که څه هم دیکتاتوري ځواکمن حکومت منځته راوړي او د خلکو لپاره اقتصادي ټیکاو (امنیت) ساتي، خو دا خلکو ته په ډېره لوړه بیه تمامیږي. پدي کې د وګړو شخصیت خرابیږي، د بیان د خپلواکیو او ټولنیزو خوځښتونو مخه نیول کیږي. (هټلر) رسنۍ خفه کړي او د خلکو اواز یې بند کړ. همدرانګه موسولیني د خلکو پر اراواوو باندي حکومت کوی. پدي ډول رژیم کې د خلکو فردي ابتکار له منځه ځي او د انسان پیاوړې روحیه کمزوري کیږي.

**۲ . دولت په موخه بدلیږي:**

په اوسني وخت کې دولت د خلکو د هوساینې او ښېګڼې یوه آله ده او د خلکو لپاره کارکوي. پداسي حال کې چي په دیکتاتورۍ کې بیا دولت د ځانګړو موخو لپاره کارول کیږي او د یوي الي په بڼه ګڼل کیږي. نوځکه وګړي د دولت د موخو په لاره کې قربانیږي او په

دیکتاتورۍ کي وګړي یوازي د واک د پراخوالي او ساتلو لپاره شتون لري.

**۳ . د زور کارونه:**

دیکتاتوري د زور لار نیسي او د زورزیاتي د لاري واک ته رسیږي؛ نو ځکه د زور او واک له لاري ساتل کیږي. د (دوبنوا ) په آند شوني ده چي دیکتاتوري د خوښۍ له لاري هم منځته راسي، خو د خلکو د ټکولو او کرارولو وروسته بیرته پر زور باندي دریږي. دیکتاتور ډیر بي رحمه دی او په ډیر ظلم د خپلو مخالفینو پر وړاندي عمل کوي.

**۴ . د لویوالي سیاست:**

دیکتاتوران د لویوالي او ځانښودني پر سیاست باندي باور لري. دوی خپل وطنوال په مرګ باندي تهدیدوي. د دوی دا ډول کارونه د دي ښکارندی دي، چي د خپلو خلکو پروا نلري او یوازي خپلو موخو ته ځان رسول غواړي.

**۵ . د خلکو بي حسي:**

دیکتاتوران خپل ځانونه ډیر لوی ګڼي او کله چي دوی خبري کوي، نو د خلکو خولي باید وازي نسي. دوی د خلکو سره د پسو د رمي په شان چلن کوي. خلک هم یو په بل پسي بي احساسه کیږي. همدرانګه دیکتاتوري عامه افکار او د ټولني معنوي ژوند له منځه وړي. خلک پدي پوهیږي چي که هرڅومره زیار وباسي، خو بیا هم کاریي د ستایلو ندی.

**۶ . د انټرنیشنلیزم سره مخالفت:**

ننۍ وخت د نړیوالو اړیکو او پراخو تماسونو وخت دي، نړۍ په کلي باندي بدلیدونکي ده، د نړۍ ټول وګړي غواړي چي په یوه نړیواله

ټولنه کي ژوندو کړي، په خپلو منځونو کي ګډي اړیکې ولري او لاس تر غاړي وه او سیږي. پداسي حال کي چي دیکتاتوري پر بشپړي واکمنۍ باندي باور لري او نه غواړي چي نړۍ په یوه کلي باندي بدله سي، دوی په ځینو وختونو کي داسي سیاستونه پلي کوي، چي په بشپړ ډول د انټرنیشنلیزم سره مخالف وي، د بیلګي په توګه هټلرپدي آند و چي د آلمان توکم تر نورو توکمنو لوړوالی لري، نو باید د نړۍ ټول وګړي د المان د خلکو تر واکمنۍ لاندي راسي. همدارنګه دیکتاتوران پدي اند دي چي انټرنیشنلیزم وګړي تیرباسي، چي موږ به خپل ټکرونه د سولي او خبرو د لاري حل کړو او انټرنیشنلیزم یوډول ټګماري او فریب دی. دیکتاتوري سوله ییزي لاري چاري هم فریب ګڼي او سولي ته ګروهه (عقیده) نلري، نوځکه دوی د جګړي او وینې تویولو لاره غوره ګڼي همدارنګه دوی نړیوالو حقوقو او نړیوالو سازمانونو ته هم عقیده نلري.

۷. **کمزوری ځای ناستی**:

دیکتاتوران بشپړ واک غواړي او هرهغه څوک چي دده سره سیالي کوي، هغه له منځه وړي. دیکتاتور داسي واکمني غواړي چي دی هرڅه وایه هغه منل کیږي. باید هیڅوک دده د نیمګړتیاو پر وړاندي راپورته نسي، پر همدي بنسټ دیکتاتور هرهغه څوک چي د ځان لپاره یې خطر ګڼي له منځه وړي. دا کار ددي لامل ګرځي چي کله دی مړسي نو دده ځای ناستی داسي څوک سي چي د واکمنۍ وړتیا نلري؛ نوځکه دیکتاتوري زیات وخت د دیکتاتور په مړیني سره مړي کیږي او له منځه ځي.

**۸ . د حکومت بې ثباتي:**

دیکتاتور خپل حکومت د توري په زور ټینګ ساتي، د دیکتاتور ټول توره پـه لاس کـي وي او د مخالفینو سرونه غوڅوي. پداسي حال کي چـي هیڅکلـه حکومـت ټینګښـت پـه تـوري سـره نـه کیـږي. نـوو ډیموکراټیکو حکومتونو ښودلې ده چي د حکومت ټینګښت یوازي د خلکو پـه ملاتړ سره کیـږي او د خلکو ملاتړ د توري اووحشت د لاري نسي خپلیدای. پر همدي بنسټ د دیکتاتورۍ ثبات تر هغه وخته پوري وي ترڅو چي د دیکتاتور توره پر مځکه باندي غورځیږي[1].

د بشـر د نـاورینو ډک تـاریخ د دیکتـاتورانو او د هغـو د کورنیـو او ملګـرو د ظلـم، اسـتبداد او تیریـو څخـه ډک دی، پاچاهـان زیـاتره دیکتاتوران وه، ملکونه یې په خوښه یا پـه زور سره ویشلي وه، ټولـو خلکو نرو او ښځو لکه نوکران په پټو سترګو اجباراً د دوی امرونه منل. پـه پخوانیـو وختونـو کـي دیکتـاتوران مرستـه کـوونکي وه، دوی پـه نظامي برخه کي هغه وخت راښکاره کیدل، کله چي بـه هېـواد د کـورنۍ یا بهرنۍ بحران سره مخ سو، نو پـه همدي ډول سره دیکتـاتوران بـه د بشپړ واک څخه برخمن سول او په زور او واک سره بـه د نوموړي بحـران مخ ته ورغلل. دي ډول دیکتاتورانو ته به یـي اجرایوي دیکتـاتوران هـم ویـل. دوی بـه شـپږ میاشـتي واک پـه لاس کـي اخیسـتی او واک بـه یـي محدود و. خو نـوو دیکتـاتورانو بیـا بشـپړ واک پـه لاس کـي اخیسـتی دی، هغه داسي کله چي به د یوه چانس له مخي واک پـه لاس ورغلـی نو دوی بـه د هغـه چـانس څخـه پـه ګټـه اخیسـتني واک پـه خپـل لاس کـي وسـاتی او د هـر ډول واک او زور څښـتنان بـه سـول؛ نو ځکـه بـه یـي پـر

[1]- عبدالرحمن عالم، بنیاد های علم سیاست، شلم چاپ، ص۲۸۴-۲۸۸

ټولنـــه بانـــدي اســـتبدادي واک چلـــوی، دي اوســـنیو دیکتـــاتوریو د پخوانیو دیکتاتوریو سره یو څه ورته والی درلودی،د بیلګـي پـه توګـه موسولیني او هټلر پدي پلمه واک په لاس کي واخیستی، چي د خلکو حقـــوق وســـاتي خـــو دوی د واک څخـــه نـــاوړه اســـتفاده وکـــړه او ډیموکراټیک موسسات یي د خپل استبدادي پالیسۍ قرباني کړه.

مســـــتبدو پاچاهـــانو، واک چلونکـــو، دیکتـــاتورانو او نـــورو بشـــپړوواکمنانو تـــر مختلفـــو نومونـــو او القـــابو لانـــدي لکـــه (پاچـــا، سـلطان، شاهنشـا، امیـر، امپراتـور اونـورو ) د میـراث، جنګـي قوتـو، نظـامي ډلـو، شـیطاني تـدبیرو، د حق نـه پیژنـدونو ظـالمو خپلوانـو او ملګرو او د سیسو په واسطه په وطنو کي لوړ مقامونه اشغال کـړي وه، د خلکو ژوند، خپلواکي، حیثیت او شتمنۍ یي پـه آسانۍ سره غصب او له منځه وړای سوای؛ ځکه چي د ټولني هـر غـړي او کـورنۍ د دوی د نظـامي، اداري او سیاسـي واکونـو پـه مـخ کـي بشـپړ بـي دفـاع او ځانګړي وو، د ټولني او افرادو قضا، شورا او حقوق د بي جلوه ظـالمو پاچهانو (دیکتاتورانو ) په سلطه کي وه.

د نړۍ ختیځ او لویدیځ تاریخونه د هغو په کرغیړنو، مسـتبدانه، غیـر حقوقي او غیر قانوني امرونو، پریکړو، نفسي او شـهواني اعمـالو ډک دي. دا مسـتبد پاچهـان او د هغـو کـورنۍ او ملګـري تـر عـادي غلـو، قاتلانو او لارو نیوونکو هم خطرناکه وه، نه و الهي قانون، نه د طبیعت قانون او نه یي و بشري قوانینو ته ارزښت ورکاوه، د مځکي پر مخ یـي بشري ټولني د ناوړو ټولنیزو نـاجوړیو چي تـر سـرطان، سـل او اوبـا هـم

بدتره، وژونکې او خطرناکې وي اخته کړل، چې د روغتیا لپاره یې وروزني ته پیړۍ پیړۍ وخت په کار دی[1].

[1]- محمدنادرایوبي(کندهاری)، سیاسي نظریات، دوهم چاپ ۱۴۲۹ هجري قمري کال، مخ ۵۷۱-۵۷۲

# ډسپوټیزم[1]

د ډسپوټیزم اصطلاح د یوناني ژبې د (ډیسپوټس[2]) څخه اخیستل سوېده، چې خپلسري او ظالم پاچا او واکمن ته ویل کیږي. نو ډسپوټیزم هم د حکومت هغې بڼې ته ویل کیږي، چې واک د یوې کوچنۍ هستي په لاس کي وي او د دې هستي واک بشپړ وي. دا هسته کیدای سي، چې یو نفري وي لکه اټوکراسي او هم کیدای سي، چې یوه ډله وي لکه الیګارشي. نو په لنډ ډول د ډسپوټیزم اصطلاح د ظالم او استبدادي حکومت مانا ورکوي هغه که یو نفري یا څو نفري وي.

دا اصطلاح په لومړي ځل د مصر د واکمنانو لپاره و کارول سول، چې د هغو نامحدوده او پیاوړی واک یې ښودی. په ټولیز ډول ډسپوټیزم په بیلابیلو ماناوو سره کارول سوی دی، کله د یوه قومي یا سیمه ییز مشر د ناپایه واک لپار کارو ل کیږي او کله هم د امپراتو او پاچا د واک لپاره کارول کیږي، له همدې کبله یو ځانګړی او ټولمنلی تعریف نلري. خو په ټولیز ډول ډسپوټ هغه واکمن ته ویل کیږي، چې خپل واک په منفي ډول یانې د خپلو خلکو د بیرولو او ټکولو لپاره کاروي او پر

---

[1] - Despotism.
[2] -Despotes.

خپلو خلکو باندې د ظلم پر بنسټ ولاړ حکومت چلوي، نو پدې مانا سره ډسپوټیزم تیراني او دیکتاتوري حکومتونو ته نیژدې کیږي.

د ډسپوټیزم لرغوني مخینې ته په کتو سره هغه حکومتو، چې یوه ظالم او مستبد تن به د حکومت واګې په لاس کې درلودې، چې د بشري تمدن په لومړنیو وختونو کې په همدې ډول سره کارول کیدې. خو نن ورځ ډسپوټیزم د تیراني سره په یوه مانا کارول کیږي، یانې واک په زور او اخطاري بڼه پلې کولو ته ډسپوټیزم ویل کیږي. یاهم ځینې وختونه د ابسولوټیزم او دیکتاتورۍ (هغه حکومتونه دي، چې واکمن په بشپړ ډول خپل واک پر ټولنه باندې پلې کوي او د هیڅ ډول قانون او مقام له لوري دده واک محدود نه وي) په بڼه هم کارول کیږي.

د دې سیاسي سیستم د پلویانو لکه مونتسکیو په اند ډسپوټیزم د لویو هېوادونو لپاره وړ سیاسي سیستم دی، لکه څرنګه چې جمهوریت د کوچنیو هېوادونو او مونارشي د منځنیو هېوادونو لپاره وړ سیاسي سیستمونه دي همداسې ډسپوټیزم هم د لویو هېوادونو لپاره وړ سیاسي سیستم دی. همدارنګه د مونتسکیو په اند د مونارشۍ او ډسپوټیزم ترمنځ توپیر پدې کې دی، چې په مونارشۍ کې یو لړ قوانین شتون لري خو په ډسپوټیزم کې هیڅ ډول قوانین شتون نلري او د واکمن هره خبره قانون او هره کړنه یې قانوني ده[1].

---

[1] - English Social Wikipedia.

# ډیمارشي[1]

ډیمارشي د دوو یوناني کلمو څخه جوړه سویده چې (ډیموس) د خلکو او (ارشین) د حکومت او واکمنۍ په مانا دي او ډیمارشي ته لوټوکراسي هم ویل کیږي، دا هغه سیاسي رژیم دی، چې واکمنان د خلکو د منځ څخه د پچې اچوني په بڼه په نا څاپه ډول ټاکل کیږي. نو هغه ډله واکمنان چي د خلکو د منځ څخه د پچې اچوني په بڼه و ټاکل سول، هغو ته بیا د (سیاست قاضیان)، (د عادلانه ښاریانو پلاوی) او یا هم (د اجماع کنفرانس) ویل کیږي. دا ډول واکمنان بیا د حکومت ټولي پریکړي کوي او سیاسي بهیر پر مخ بیا یي.

ډیمارشي له تیوریکي اړخه د ډیموکراسۍ سره زیات ورته والی لري، همدارنگه په ډیمارشۍ کي د واکمنانو ټاکنه ډیر اسانه وي خو کیدای سي، چې دا ډول ټاکنه حکومت د فاسد کیدو لوري ته بوزي. هغه کسان چې د پچې اچوني پر بنسټ ټاکل کیږي او سیاسي قدرت په لاس ورکول کیږي، زیاتره وخت شونې ده چې دوی د دي وړتیا ونلري او دوی ونسي کولای چي سیاسي قدرت د ټولني د گټو د لاسته راوړلو لپاره و کاروي.

1 - Demarchy.

دا ډول پچه اچونه د لرغوني یونان او آتن څخه سرچینه اخلي، کله چې په لرغوني یونان کې ډیموکراسي واکمنه وه، نو زیاتره وختونه به د لوړو حکومتي چوکیو لپاره کسان د ټاکنو پر ځای د پچې اچونې په بڼه ټاکل کېدل. په لرغوني یونان کې مستقیمه ډیموکراسي واکمنه وه، نو کله چې به د خلکو لویې غونډې را وبلل سولې، نو د هغو د منځ څخه به یې د ځینو حکومتي پوستونو لپاره خلک د پچې اچونې له لارې ټاکل، پداسې غونډو کې کوښښ کېدی چې خلک ګډون وکړي او هغو خلکو چې ددې غونډو د ګډون څخه یې ډډه کول هغو ته یې احمقان ویل.

د ډیمارشۍ اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۵ز کال کې د استرالیایي فیلسوف جان بورنهم لخوا د ګروپي او د ډلو ټپلو ډیموکراسۍ لپاره وکارول سول. دده په آند ډیمارشي هغه حکومت ته ویل کیږي، چې واکمنان د پچې اچونې پر بنسټ په ناڅاپي بڼه وټاکل سي او بیله سیاسي نظامه او بیروکراسۍ څخه واکمني وکړي. همدارنګه په اتریش کې د سیاسي او اقتصادي علومو استاد فریدریش اګوست فون هایک (۱۹۹۲-۱۸۹۹ز) بیا ډیمارشي د ډیموکراسۍ پر ځای وړاندیز کړه. ددې په وړ ډیمارشي پر دوو اصولو ولاړه ده، لومړی قانون چې د ټولني د روانو حالاتو لارښود ونکی دی او بل د حکومتي چارو لارښود چي روانو حکومتي چارو ته ترتیب ورکوي. دا پورته دواړه اصول باید د دوو جرګو لخوا ترتیب سي، لومړی د قانونګذارۍ جرګه ده چې د خلکو سیاسي حقوق تضمینوي، د ښځو او نارینه وو څخه چې عمرونه یې د څلویښتو او پنځوسو کلونو په شاوخوا کې وي د پنځلسو کلونو لپاره د خلکو لخوا ټاکل کیږي.

دده په آند هر فرد یوازي یوار کولای سي، چې په ژوند کي رایه ورکړي. دوهمه حکومتي جرګه ده، چې د اوسنیو پارلمانونو په څیر عمل کولای سي. د استازو په ټاکنه کي باید هغه څوک وټاکل سي، چې د دولت غړی او یا د دولت څخه مرسته اخیستونکی نه وي[1].

[1]- علي اقا بخشي، مینو افشاري راد، فرهنګ علوم سیاسي، ص ۱۷۰

# ډيموکراسي[1] (ولسواکي)

پــه پښــتو کــي د ډيموکراســی معــادل لغــت (ولســواکي) ده، د ډيموکراسی لغـت ددو يونـاني کليمـو څخـه ترکيـب سـوی دی، چـي (ډيمــوس[2]) د خلکــو او (کراټــوس[3]) د حکومــت پــه مانــا دی، نــو ډيموکراسي د خلکـو د حکومـت مانـا ورکـوي او هغـه حکومـت چـي د خلکـو لخـوا پرخلکـو بانـدي کيـږي عبـارت د ډيموکراسی څخـه دی. د ډيموکراسی پـه سياسـي رژيـم کـي حکومـت پـه خپلـه کړنلاره کـي د خلکو اندونه او د ټولني بنسټيزي اړتياوي د خلکو په غوښتنه او اراده سره پلي کوي. ډيموکراسي ډيره لرغـوني تـاريخي مخينـه لري، چـي پـه خپـل تـاريخي ژونـد کـي يـې د پرمختـګ زيـات پړاوونـه وهلـي دي، د ډيموکراسی په تاريخي ژوند کي زياتو پوهـانو هڅـه کړيـده چـي د دي سياسـي ايډيالوژی لپـاره پيژنـدني وړانـدي کـړي، خـو تـر ټولـو نـامتو پيژندنه يي داسي سويده ((هغه حکومـت چـي د خلکـو لخـوا، پـر خلکـو بانــدي، د خلکــو لپــاره کيــږي عبــارت د ډيموکراســی څخــه دی)).

---

[1] -Democracy

[2] -Demos

[3] - Kratos

همدا رنګه د ډیموکراسۍ یو لړ نوري پیژندني هم سویدي، چي په لاندي ډول یي رالنډولای سو:

۱. ډیموکراسي د حکومت هغه بڼه ده چي اصلي واک خلکو ته سپارل سوی وي او دا واک په مستقیم ډول د خلکو لخوا او یا د دوی د استازو لخوا اجراکیږي.

۲. ډیموکراسي د تاریخ په اوږدو کي د خپلواکۍ په اړه د خلکو د فکرونو، اندونو او اصولو مجموعه ده، چي د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کي یي د یوه سیاسي رژیم بڼه غوره کړیده.

۳. ډیموکراسي په لنډ ډول داسي تعریف کیدای سي، ټول هغه مسایل چي د خلکو پر ژوند اغیز کوي په هغو کي خلکو ته د ګډون حق ورکول عبارت د ډیموکراسۍ څخه ده، د ډیموکراسۍ خلاف ټکۍ "استبداد" دی، چي په هغه کي خلک د هیواد په سیاسي بهیرکي او د راتلونکي په اړه د پریکړو حق نلري. پدي پیژند (تعریف) کي مهم ټکی دادی، چي حکومت په خلکو پوري اړه لري نه دا چي خلک په حکومت پوري اړه ولري، نو ددي پیژند پر بنسټ حکومت د خلکو په چوپړ کي دی او د موجودیت فلسفه یي پدي کي ده چي د خلکو د غوښتنو استازیتوب او خدمت وکړي.

۴. ډیموکراسي یو داسي حکومت دی، چي د خلکو لخوا پر خلکو باندي اجراکیږي، یاني خلک د خپلو ځانونو په اړه پریکړي کوي، د خپلي خوښي نظام رامنځته کوي او په خپله خوښه حکومت کونکي ټاکي. او د حکومت کوونکو لپاره د واک د استعمال ټاکلي ساحه په لاس کي ورکوي او حکومت کونکي د همغي ټاکلي ساحي څخه تیری نسي کولای.

۵. ځینو څېړونکو ډیموکراسي د حکومت یوه بڼه او ځینو بیا د دولت بڼه ګڼلې ده او ځینو بیا د یوې پراخې ټولنیزې فلسفې په بڼه معرفي کړېده، چې د ټولنې پر سیاسي مسایلو سربېره اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري اړیکې هم تنظیموي.

د ډیموکراسۍ په سیاسي رژیم کې د خلکو خوښه او اراده په نظر کې نیول کېږي او د خلکو لخوا د واک کنټرول او اداره ترسره کېږي. په ډیموکراسۍ کې په عمومي ډول څلور بنسټیز عناصر د یادوني وړدي:

**الف-د حکومت ټاکنه د ازادو او عادلانه ټاکنو د لارې:**

د واک د لاسته راوړلو لپاره ډیموکراسي یو خپلواک سیالي کونکی سیستم دی، یانې د حکومت چارواکې د خلکو لخوا د خپلواکو او عادلانه ټاکنو د لارې ټاکل کېږي. په ډیموکراسۍ کې ریښتنی واک د خلکو سره دی او د ټاکنو د لارې واک د دوی استازو ته لیږل کېږي، چې دا واک د حکومت او استازو لپاره لنډمهاله بڼه لري. په ډیموکراسۍ کې هر وګړی حق لري چې پر خپلو استازو او حکومت باندې نیوکې وکړي. ټاکنې د قانون پر بنسټ په معلوم وخت کې ترسره کېږي، د ټاکنو لپاره باید بې طرفه، مسلکي او عادل هئیت وټاکل سي ترڅو د ټولو نوماندانو او ګوندونو ترمنځ عادلانه چلند وکړي. همدارنګه ټول نوماندان باید خپل پلانونه خلکو ته روښانه کړي. ددې لپاره چې ټاکنې په روڼ او شفاف ډول ترسره سي نو باید یو شمیر بهرنې او کورنې څارونکې موجود وي ترڅو ټاکنیز سیستم له نژدې وګوري او هم باید په هېواد کې یو قضا یي اورګان موجود وي تر څو په ټاکنو کې درغلي او فساد وڅېړي.

**ب- په سياسي او ملکي برخو کي د خلکو فعاله کېدون:**

د ډيموکراسۍ په سياسي رژيم کي د خلکو مهم رول دادی، چي دوی په سياسي او ملکي برخو کي فعاله ګډون وکړي. ټول وګړي حق لري چي د خپلو سياسي مشرانو د کړونو او د موجوده موضوعاتو څخه ځانونه خبر کړي، او د دوی په ټاکنه کي بايد خلک د ډير دقت څخه کار واخلي. د خلکو فعال ګډون يوازي په دي مانا ندی، چي خلک بايد رايه ورکړي بلکي هر وګړی حق لري چي په ټاکنيزو کمپاينونو، سياسي ګوندونو او سازمانونو کي برخه واخلي، يا د نوماندانو څخه ملاتړ اعلان کړي او يا هم خپل ځان نوماند کړي. په ډيموکراسۍ کي ټول وګړي مساوي حقوق لري، نو ځکه ښځي هم کولای سي چي په سياسي او ملکي برخو کي د نارينه وو په شان برخه واخلي.

**ج- د وګړو د بشري حقوقو ساتنه:**

په ډيموکراسۍ کي د ټولني هر وګړی ځانته ځانګړي او مشخص حقوق لري، چي د نړيوالو عمومي حقوقو پر بنسټ تضمين سويدي او دولت مکلف ګڼل کيږي چي د هغو حقوقو ساتنه وکړي. د وګړو حقوق عبارت دي له: د بيان خپلواکي، د فکر او عقيدي خپلواکي، سياسي حقوق لکه د رايي ورکولو حقوق، دولتي چوکي ته د نوماند کيدلو حقوق، د ګوندونو او ټولنو د جوړولو حقوق او داسي نور. په ډيموکراسۍ کي وګړو ته د قانون پر بنسټ حقوق او وجايب ځانګړي سويدي او د قانون په چوکاټ کي هر وګړی د خپلو حقوقو د غوښتلو دعوه کولای سي.

**د- د قانون پر وړاندي د وګړو مساوات:**

د ډیموکراسۍ په سیاسي رژیم کي قانون د حکومت د کړونو لارښونکی دی او د حکومت اساسي تګلاره د قانون پر بنسټ روښانه کیږي. په قانون کي د ټولو وګړو حقوق په نظر کې نیول سویدي او بیله کوم توپیره ټول وګړي د قانون پر وړاندي یو شان حقوق او وجایب لري.

**د ډیموکراسۍ ډولونه:**

ډیموکراسي په عمومي ډول پر دروو څانګو ویشل سویده، یانې مستقیمه، غیري مستقیمه او نیمه مستقیمه یا نیمه غیري مستقیمه ډیموکراسي چي هره څانګه به یي په لاندي ډول واضح کړو:

**الف: مستقیمه ډیموکراسي:**

مستقیمه ډیموکراسي هغه ده، چي ټول وګړي پکښي یو رکم په عامه پریکړو کې ګډون وکړي، دا ډول ډیموکراسي یوازي په کوچنیو ټولنو کي ممکنه ده د بیلګي په توګه په یو سیاسي یا ټولنیز سازمان کي، یا په قومي او سیمه ییزه شورا کي، او یا د کارګرانو په یوه کوچني کارځای کي، چي ټول غړي وکولای سي په اسانۍ سره راغونډ سي او پر موضوعاتو باندي بحث وکړي او وروسته یي تائید او یا رد کړي. د مستقیمي ډیموکراسۍ غوره نمونه پخوانۍ یونان دی او یا د ډیموکراسۍ اولنۍ شکل دی. پخوانیو یونانیانو وکولای سول، چي مستقیمه ډیموکراسي د خلکو د عمومي راټولیدني پر مټ عملي کړي او په هره راټولیدنه کي به د خلکو شمیر د (۵۰۰۰) څخه تر (۲۰۰۰) پوري و. دا ډول ډیموکراسي په آتن (لرغوني یونان) کي منځ ته راغله او په هغه کي ټولو ښاري او سیدونکو بغیر له ښځو او غلامانو څخه په مستقیم ډول په سیاسي فعالیتونو او د قوانینو په جوړولو کي ګډون

کاوه. د روم جمهوریت هم د ډیموکراسۍ سره اشنایي درلوده او هلته هم د ډیموکراسۍ ځیني برخي پلي کیدلي خو کله چي امپراتوري پیدا سول، ډیموکراسي له منځه ولاړل*.

په مستقیمه ډیموکراسۍ کي ټول خلک باید سره را غونډ سي او د قانون په جوړولو باندي لګیا سي او یو شمیر خلک په لنډ مهاله توګه سره د خلکو لخوا د چارو د اجرا لپاره مسول وټاکل سي. دا ډول ډیموکراسي په کوچنیو او کم نفوسه ټولنو کي پلي کیدای سي او په لویو ټولنو کي یي پلي کول ناشوني ښکاري، په اوسني وخت کي دا ډول ډیموکراسي نسته او یوازي په سویس کي دري ښارونه دا ډول ډیموکراسي لري. د سویس په دي ښارونو کي په کال کي یوار غونډه په هر ښار کي جوړیږي او خلک د هرښار د قوانینو په تصویبولو پیل کوي او هم د ښار اجرایوي او قضایي چارواکي ټاکي.

مستقیمه ډیموکراسي په اوسني وخت کي د ټولپوښتني (رفرانډوم) په واسطه په ځینو هیوادونو کي ترسره کیږي، دا ډیموکراسي د لومړۍ نړیوالي جګړي څخه وروسته یو ځل بیا راښکاره سول خو یوازي په شوروي اتحاد کي څه ناڅه عملي سول یاني د شوروي اتحاد د اساسي قانون پر اساس عالي شورا به د قانون اړوند مسایلو ته د ټولپوښتني له لاري رسیده ګي کول*.

*: بشیر اخګر، دموکراسي، ۲۰۰۸کال، ص۲۵۸

* عبدالرحمن عالم، بنیاد های علم سیاست، انتشارات: نشر نی، چاپ بیستم ۱۳۸۸ه، ش، ص۳۰۰

**ب- غيري مستقيمه ډيموکراسي:**

کومــه ډيموکراســي چــي نــن ورځ پــه نــړۍ کــي رواج لــري د غيــري مستقمي(استازولۍ) ډيموکراسۍ په نوم يادېږي، پدي ډيموکراسي کي د خپلواکو او عادلانه ټاکنو د لاري خلک خپل استازي ټاکي او وروسته پـه مقننـه قـوه کـي د اکثريت رايـه پـه نظر کـي نيـول کيـږي. د غيري مستقمي ډيموکراسۍ اصول دادي:

الف: ازادي ټاکني ترسره کيـږي، چـي پـه هغـه کـي ټـول وګـړي رايـي ورکـوي، او د ګونـدونو نوماندان کـه د واکمنـۍ مخـالف او يـا ملاتـړي وي د خلکو څخه په پټ ډول رايه تر لاسه کوي.

ب: دا ډول ټاکني خلکو ته د بريا چانس په لاس ورکوي يانې ټاکني پـه يـو ګونـد يـا کانديـد پـوري محـدودي نـه وي او کـه چيـري اولـس حـاکم چـارواکو تـه رايـه ورنکـړي نـو دا چـارواکي بـه حکومـت هغـه چاتـه پريږدي، څوک چي د حکومت کولو وړتيا ولري.

ج: د خلکو استازي کولای سي، چي د دولت د سياست په اړه او هم پـه اقتصادي، ټولنيزي، کلتوري او نظامي برخو کي رايه ورکړي او يا يي رد کړي.

داچي نن ورځ بشري ټولني زياتي پراخي سويدي او دا امکان نلري چي د يوه هېواد ټول وګړي دي په يوه ځاي او يوه وخت کي سره راټول سي نو ځکه نن ورځ غيري مستقيمه ډيموکراسي منل سويده.

**ج- نيمه مستقيمه ډيموکراسي:**

داډول ډيموکراسـي د لـومړۍ او دوهـم ډول ډيموکراسـيو څخـه جـوړه سـويده، يـانې پـدي کـي هـم د مسـتقيمي ډيموکراسۍ او هـم د غيـري مســتقيمي ډيموکراســۍ نښــي ليــدل کيــږي. پــه نيمــه مســتقيمه

ډیموکراسی کي سیاسي واک په دوو موازي بڼو سره پلی کیږي یانې هم د خلکو لخوا پــه مســتقیم ډول او هــم د دوی د اســتازو لخــوا پلــی کیږي. پدي ډیموکراسی کي د اولس رایه پردوه ډوله اخیستل کیږي:

الف- په مستقیم ډول د ولس د ګډون پر بنسټ؛ دا ډول رایـه اخیسـتنه زیات وخت د قـانون جوړني پرمهـال اخیسـتل کیـږي چي بیـا هم پـردوه ډوله ده:

۱. ځیني وختونه خلک دا لازم وګڼي چي پـه یـوه سـاحه کـي قـانون تـه اړتیا لیـدل کیـږي، نـو خلـک راټـولیږي چي د دولـت پـه ځـانګړي ډول د پارلمان څخه غوښتنه وکړي چي د همغي ساحي لپاره قانون جوړ کړي.

۲. کله کله بیا پـه یـوه سـاحه کـي ولـس نیمګړتیـا ووینـي، نـو دوی حق لـري چي د هغـي سـاحي لپـاره د قـانون خاکـه او مسـوده جـوړه کـړي او پارلمان یابلي صلاحیت لرونکي مرجع ته وړاندي کړي.

ب- د رفرنډم (ټولپوښتني) پر بنسټ؛ د رفرانډم اصطلاح د (مراجعـه) کولـو پـه مانـاده. نـو رفرانـډم هغـه تګـلاره ده چي د هغـه پـه واسطه پـه مستقیم ډول خلکو تـه مراجعـه وکړي او د دوی عقایـد معلـوم کـړي. یـا هغه تلنلاره چي د خلکو دریځ د روان سیاسي بهیر یا قانون جوړوني پـه اړه معلوم کړي. د (بورګس) پـه خبـره (پـه رفرانـډم کـي رایـه ورکـونکي کـولای سي چي د قـانون جوړونکو هغـه کړنـه چي مـخ کـي یـي کړیـده رد کړي).

د رفرنـډم (ټولپوښـتني) اصـطلاح د لـومړي ځـل لپـاره پـه شپاړلسـمه پیـړۍ کـي پـه سـویس کـي د هېـواد د مهمـو مسـایلو پـه اړه د خلکـو د اندونو د معلومولو لپاره وکارول سول. همدارنګـه د اساسـي قـانون پـه اړه د دي اصطلاح کارول لومړی پـه امریکـا او وروسـته پـه سـویس کـي

رواج سول. خو د عادي قوانینو په اړه د ټولپوښتني څخه ګټه اخیستل لا تراوسه پدې دواړو هېوادونو کي نوې خبره ده.

رفرنډم دوه ډولـه دی:۱) اجبـاري یـاحتمي او ۲) اختیـاري یاټـاکنیز. رفرنډم هغه وخت اجباري ګڼل کیږي، کله چي ټول قوانین مخکې لـه دي څخه چي پـه قوانینو بانـدي بـدل سي لومړی بایـد د خلکـو لخـوا رد یـا ومنل سي. اجباري رفرنډم د ډیموکراټیک رژیـم ښکارندوی دی، څکـه چي مخکې لـه دي څخه چي قـوانین جوړسي د خلکـو لخـوا بایـد ومنـل سي یـا هـم رد کـړل سي. پـه سویس او استرالیـاکې پـه اساسـي قـانون پوري اړوند د ټولو رفورمونو لپاره د اجباري رفرنډم څخه کاراخیستـل کیـږي. د سـویس پـه یوشـمیر ښـارونو (کـانتونونو) کـي د معمـولي لایحوپه اړه لا د اجباري رفرنډم څخه کاراخیستل کیږي.

خو هرکله چي د مقنني قوي لخوا د تصویب سوي قانون لپاره یوشمیر ښاروندي غوښتنه وکړي او هغـه قـانون خلکـو تـه د اندونو د اخیستلو لپـاره وسپـارل سـي دیتـه (اختیـاري رفرنـډم) وایـي. کـه چیـري ډیرکیـو وګړو هغه ته مثبته رایه ورکړه نو په قانون باندي بدلیدلای سي خو کـه چیـري یـې منفـي رایـه ورکـړه بیـانو د مقننـي قـوي پریکـړه بـې ارزښـته کیـږي. پـه سـویس کـي دیـرش زره (۳۰۰۰۰) ښـاروندي او یـاهم د اتـو ښارونو مقنني قوي دا ډول غوښتنه کولای سي، خو دا غوښتنه یې هغـه وخت منـل کیـږي کلـه چـي د سـویس فـدرالي غونـډه یـې پـه بیړنـۍ بڼـه اعلان کړي.

د رفرنډم ګټـې (سـترانګ) داسـي پـه ګوتـه کړیـدي: لـومړی، رفرنـډم د مقنني قوي نیمګړتیاوي اصلاح کولای سي، یانې که چیري مقننه قـوه پرفساد اوښتي وه او یاهم یې د خپلو واکونو څخه پښـي غځـولي وي،

نو د رفرنډم د لارې اصلاح کیدای سي. دوهم، د ټاکل سوو استازو و ټاکونکو ترمنځ ښې اړېکې ټینګیږي، او دریم، رفرنډم ښئ چې هرهغه قانون چې د عامه افکارو سره په ټکر کې وي باید هیڅکله لاسلیک نسي.

همدارنګه د رفرنډم نیمګړتیاوې بیاپدې ډول په ګوته کولای سو: د مقنني قوې دریځ او واک نیمګړی کوي، هغو خلکو ته واک ورکوي، چې د رایې ورکولو په وخت کې د فکرکولو او پوهې څخه د کار اخیستنې لپاره شرایط نه وي ورته چمتو او خلک نسي کولای، چې په ښه ډول خپل اندونه څرګند کړي، هغه خلک چې په رفرنډم کې یې ګډون زیات وخت کم وي، اړین او بنسټیز موضوعات بیله کوم دلیله ځنډیږي، چې د زیات تاوان لرونکې دي، له اخلاقي اړخه هم کومه ګټه نلري، د خلکو ګډون زیات وخت منفي اغیزې لري نه مثبتې، ګوندي نظام کمزوری کوي، د خلکو ریښتنی فکر نسي ترلاسه کیدای، د لګښتنه ډکه لار ده او د پراخو هېوادونو لپاره ناشونې ده[1].

د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته او د سړې جګړې په پیل کې دوه ډوله ډیموکراسیو د خلکو په منځ کې ځای درلود:

الف: لیبرال ډیموکراسي: دا ډول ډیموکراسي په غربي هېوادونو او په ځانګړي ډول په سرمایه داري نظامونو کې رواج وه.

ب: راډیکال ډیموکراسي: دا ډول ډیموکراسي په ختیځه اروپا او د سوسیالیستي هېوادونو په نظامونو کې موجوده وه.

---

1- عبدالرحمن عالم، بنیادهای علم سیاست، شلم چاپ ۱۳۸۸ کال، ص ۳۱۷-۳۱۸

د سرې جګړې څخه وروسته د ډیموکراسی نور ډولونه هم منځ ته راغلل یانې ډیموکراسي په مختلفو بڼو سره د هېوادونو سیاسي نظامونو او ایډیالوژیو ته ورننوتل. چي په لاندي ډول یې یادونه کوو:

۱ . **مشروطه ډیموکراسي**:

لکه څرنګه چي ډیموکراسي بیله اساسي قانون څخه امکان نلري نو ځکه ځینو هېوادونو ډیموکراسي په خپلو سیاسي ژیمونو کي د مشروطي ډیموکراسي په بڼه د مطلق العنان دیکتاتوري نظامونو پر ځاي وکارول. د بلي خوا د اساسي قانون په جوړښت کي باید لاندي دري عامله شتون ولري:

الف: د خلکو سیاسي او اقتصادي فکري ملاتړ.

ب: تاریخي تجربي.

ج: د اساسي قانون د تدوین شرایط.

۲ . **سوسیال ډیموکراسي**:

سوسیال ډیموکراسي د سوسیالیستي او کارګري خوځښتونو یوه ځانګه ده او دوی ډیموکراسي د ټولنیزو اصلاح کوونکو اصولو پر بنسټ مني ، نه دا چي په ټولنه کي انقلاب او اوښتون راولي. د سوسیال ډیموکراسی اصطلاح هغه وخت وکارول سول کله، چي د روسي د کمونیست ګوند نومول کیدی، او دا اصطلاح د دي ګوند د ځانګړي مفهوم لپاره کارول کیده. د (۱۹۱۷ز) د لوی انقلاب څخه وروسته سوسیال ډیموکراسي د کمونیستي ګوندونو، کمونیزم او کیڼ اړخه سیوسیالیستي ګوندونو پر وړاندي ودریدل او د منځلاره سوسیالیزم بڼه یې غوره کړه. سوسیوال ډیموکراسي د سوسیالیستي

خوځښتونو هغه ځانګه ده چې د دولت ډیموکراتیک جوړښت مني او ټولنیز بدلونونه د اصلاحاتو او ریفورم د لاري غواړي.
د روسي د (۱۹۱۷ز) کال د انقلاب څخه وروسته سوسیال ډیموکراسي او انقلابي کمونیزم سره جلا سول او په ځینو برخو کي یو د بل پر وړاندي ودریدل، د دوهمي نړیوالې جګړي څخه وروسته سوسیوال ډیموکراسي لویدیځي اروپا ته هم ننوتل خو په ختیځه اروپا کي د ماتي سره مخ سول. سوسیال ډیموکراسي د سرمایه داری او خصوصي ملکیت سره په خلاف کي ده او هم سوسیال ډیموکراسي د اشتراکي ملکیت غوښتونکي ده همدارنګه سوسیال ډیموکراسي پر سوسیالیستي اصولو باندي باورلري. سوسیال ډیموکراسي د ټولني پر ټولو برخو باندي د دولت واکمني نه غواړي بلکي دولت باید د افرادو په خصوصي ژوند کي مداخله ونکړي او هم ځیني خصوصي ملکیتونه هم باید د ټولني وګړو ته ورکول سي د بیلګي په توګه د کرهڼي، لاسي صنایعو، سوداګری او سپکو صنایعو په برخه کي باید د افرادو سره مرسته او همکاري وسي ترڅو په تولیداتو کي زیاتوالی راسي او د خلکو ژوند سم سي.

**۳ . لیبرال ډیموکراسي:**

په لیبرال ډیموکراسۍ کي د خلکو د حقوقو مساوات په نظر کي نیول سویدی او د ټولني د ټولو وګړو حقوق په سیاسي، اقتصادي او قضایي برخو کي مساوي غواړي، خو د لیبرال ډیموکراسۍ ځیني مخالفین بیا وایي چي لیبرال ډیموکراسي په اقتصادي برخه کي د خلکو حقوق تر پښو لاندي کوي او مساوات په نظر کي نه نیسي. (کارل مارکس) لیبرال ډیموکراسي د بورژوازۍ دکتاتوري ګڼلي ده.

اوس دا ادعا کیږي چې اقتصادي لیبرالیزم د ډیموکراسۍ سره په ګډه د نورو ایډیالوژیو سره د مبارزي په ډګر کې بریالی سوی، په لیبرال ډیموکراسی کي تر ډیره بریده واک پر اقتصادي توان باندي راګرځي، او په لیبرال ډیموکراسۍ کي د واک د لاسته راوړلو او ساتلو لپاره اقتصاد مهم شرط ګڼل کیږي.

**۴ . مختلطه ډیموکراسي:**

د واک جریــان تــه اچــول پــه مســتقیم ډول ســاده کــار نــدی او پــه اوسنیو ټولنو کي د نفوسو د زیاتوالي له امله ناشونی دی، او د واک عملي کول په غیري مستقیم ډول سره دا عیب لري که چیري استازو په صحیح ډول سره خپلي دندي ترسره نکړي نو خلک بیا د هغو شتون په پارلمان کي نسي زغملای او ولس مجبور دی، چي د دوی واکمنۍ ته د پــای ټکــی کښېښــږدي. پــه ځینــو ډیموکراټیکــو نظــامونو کــي پــه مسـتقیم او غیـري مسـقتیم ډول سـره پـر مـخ بیـول کیـږي او دري د حل لاري پکښــي شــتون لــري (د قــانون وضــع کــول پــه مســتقیم ډول، ټولپوښتنه او د استازیتوب لغوه کول) چي د دي دریو لارو په واسطه د واک عملي کول په مستقیم او غیري مستقیم ډول سره صورت نیسي چي دیته مختلطه ډیموکراسي وايي.

**۵ . ملي ډیموکراسي:**

د ملي ډیموکراسۍ اصطلاح د شلمي پیړۍ په شپږمه لسیزه کي منځ تــه راغلــي، او د یــوه داســي رژیــم غوښــتون کــې ده چــي د ملــي ډیمــوکراټي کـې ټلـوالي پـه واسـطه رامـنځ تـه سوي وي، چي پـه دي ډیمــوکراټي کــې ټلــوالي کــي بــه د کــارګرو، کرونــدګرو، کوچنیــو بورژوازیــو او روڼ آنــدو پوړونــو اســتازي موجــود وي. د ملــي

ډیموکراسۍ ځانګړني دادي چي باید د سرمایه داري بلوک سره هیڅ تړاو ونلري او هم د امپرالیزم سره باید هیڅ اقتصادي اړیکې ونلري، همدارنګه مترقي سیاسي ګوندونه باید په ټولنه کي خپلواک وي. د ملي ډیموکراسۍ سیاسي رژیم بنسټیزي ریښي د ملي مترقي ګوندونو په مرامنامو کي تر سترګو کیږي.

۲ . **انقلابي ډیموکراسي**:

د انقلابي ډیموکراسۍ اصطلاح پخوا د هغو روسي انقلابیونو لپاره کارول کیده چي د تزاري روسي پر ضد یي مبارزه کول، او وروسته د هغو انقلابي او ملي غورځنګونو او شخصیتونو لپاره وکارول سول، چي په امریکایي، افریقایي او لاتین امریکا کي یي دامپریالیستي سیاست ضد مبارزه کول. انقلابي ډیموکراسي د کروندګرو، علمي طبقي، ښاري بورژوازیو او ملي روشنفکرانو د سیاست څخه ملاتړ کاوه، او دوی ټول د سرمایه داري، فئوډالیزم او استعمار(ښکیلاک) پر وړاندي سره متحد سوي وه. د انقلابي ډیموکراسۍ بنسټیز اندونه عبارت دي: د علمي سوسیالیزم اندونه او کلتوري ارزښتونه، مذهبي عقاید او روڼآندو پخواني اقتصادي او سیاسي اندونه او د دوی ناسیونالیستي غوښتني.

**د ډیموکراټیک (ولسواک) حکومت بنسټونه**

۱: **پارلمان**:

پارلمان په هغو سیاسي نظامونو کي چي د خلکو په رایه ټاکل کیږي یوه ځانګړي ښه ده، پارلمان د خلکو د استازو څخه جوړ سوی دی، چي دا استازي د خلکو لخوا د چارو د پر مخ بیولو په موخه ټاکل کیږي او تر یوي ځانګړي مودي پوري کار کوي. پر ډیموکراټیکو اصولو باندي

ولاړ سياسي نظامونه په خپل جوړښت کي د قواوو بيلتون لري او هره قوه د واک يوه برخه عملي کوي، چي د دي دري ګونو قواوو څخه يوه هم مقننه قوه (پارلمان) ده، چي اساسي دنده يي د قوانينو تصويبول او د حکومت پر کړنو باندي ځارنه کول دي. حکومت (اجرايه قوه) د پارلمان (د خلکو کور) د پريکړو درناوی کوي او پارلمان دا حق لري چي د حکومت څخه پوښتنه وکړي او کابينه استيضاح کړي. د پارلمان شتون د دي لامل ګرځي چي واک د تمرکز څخه وساتي او موجوده نظام په دکتاتوري باندي بدل نسي.

۲: **د سياسي او مدني حقوقو خپلواکي**:

د ډيموکراټيکو دولتونو په اساسي قوانينو کي د ټولني د وګړو د حقوقو او ازاديو د ساتني لپاره لاندي قواعد او اصول شتون لري:

**الف- د خلکو ځواک**؛ خلک هغه وخت کولای سي چي پر خپل ځان باندي حکومت وکړي کله چي حاکم واک په دوی پوري اړه ولري، ياني د خلکو تر واک بايد لوړ واک شتون ونلري او هم د دوی د راتلونکي په اړه بيله دوی څخه بل څوک پريکړه ونکړي. کله چي واک د خلکو په لاس کي نه وي نو هرڅوک کولای سي، چي واک د زورد لاري غصب کړي او پر خلکو باندي استبداد وکړي او کله چي پر ټولنه باندي استبدادي حکومت حاکم وي، د خلکو حقوق او ازادۍ تر پښو لاندي کيږي او د استبداد کوونکو غوښتني او امرونه په ټولنه کي عملي کيږي.

**ب- د خلکو د خوښۍ اصل**؛ د حکومت واکمني بايد د خلکو د اساسي خوښيو او رضايت پر بنسټ وي، چي دا ډول حکومت يوازي د مشروع او قانوني لاري شوني دی او د خلکو ملاتړ تل د مشروع حکومت سره

وي. هغـه حکومـت چـي د جګړو اونظـامي کودتاګـانو لـه لاري مـنځ تـه راغلـی وي، د خلکـو ربښـتیني رضـایت نسـي تـر لاسـه کـولای او نـه هـم مشروعیت پیدا کـولای سي. هغـه حکومـت چي د خلکـو د رضـایت پـر خلاف منځ ته راځي هغـه پـه حقیقت کـي د ټولني د وګـړو د سیاسـي او مدني حقوقو غصب کـونکی دی. نوځکـه ولسـواک حکومـت د خلکـو د رضایت پر اصل باندي تکیه لري او په دي حالت کي حکومـت د خلکـو د ټینګ ملاتړ څخه برخمن وي.

تر څو چي واک د خلکو لاس ته ونه لویږي تر هغه به د خلکـو د رضـایت اصل ته درنـاوی ناشـونی وي، کـه چیـري حکومـت د خلکـو د رضـایت د اصل پر اساس نه وي نو د هغه چا د رضایت پر اساس به وي، څوک چـي د زور او توپک د لاري واک ته رسیدلی دي. په عمومي ډول دکتـاتوري او اسـتبدادي حکومتونـه د خلکـو د رضـایت اصـل نـه مراعتـوي او پـه خپل جوړښت کي د خلکو ارادي او حقوق په نظر کي نه نیسي.

**ج- د ډیر کیو (اکثریت) حکومت**؛ ولسواکه واکمنـي د ټولني د اکثریـت وګړو د رایو او رضـایت پـر بنسـټ مـنځ تـه راځـي، او د واک چـاري هغـه څوک په لاس کي اخلي چي د خلکو د اکثریت رایه او ملاتړ ورسره وي. په ولسواکی کي د اکثریت حکومت ته د خلکو حکومت ویـل کیـږي او د اکثریت حکومت هغه وخت منځ تـه راځـي کلـه چـي د ټولني هـر وګـړی بیله کوم توپیره د رایي ورکولو حق ولري، هغـه څـوک چـي واک تـه ځـان رسوي هغه باید د خلکو په منځ کي ځای ولري او د زیـاتو خلکـو ملاتـړ ورسره وي.

**د- د لږکيو (اقليت) حقوق**؛ د ولسواکو دولتونو اساسي قوانين چې په حقيقت کې د خلکو د حقوقو ساتندويه دي، حکومت اکثريت ته ورسپاري، ليکن د لږکيو د حقوقو ساتنه هم کوي.

**هـ - د بشر حقوق**؛ ولسواک سياسي نظامونه د بشر د حقوقو د ساتني او درناوي ضمانت کوي. د بشر حقوق عبارت دي له: د بيان ازادي، د فکر او عقيدي ازادي، د رسنيو ازادي، د ټولنو او اتحاديو جوړولو ازادي او د هر ډول قومي، مذهبي او ژبني تعصبونو له منځه وړل.

**و- ازادي او عادلانه ټاکني**؛ خپلواکې او عادلانه ټاکني په حقيقت کې واک د خلکو لاسته اچوي او واکمنۍ ته مشروعيت ورکوي. خلک يوازې د عادلانه او ازادو ټاکنو د لارې کولای سي چې خپل سياسي حق وکاروي او سياسي واک لاسته راوړي. خلک چې حاکم واک په لاس کې لري کولای سي، چې د ازادو ټاکنو د لارې د حکومت په جوړښت کې بدلون راولي او د خپلو منځو څخه حکومت کوونکي وټاکي.

**ز- د قانون پر وړاندي مساوات**؛ د ولسواک حکومت اساسي قانون د هر وګړي حقوق د ټولني د يو انسان په حيث او د يوې کورنۍ د غړي په حيث ساتي. اساسي قانون د انسانانو تر منځ د مساوات پر اصل تکيه لري او په ټولنه کې د هر ډول ژبني، مذهبي، نژادي، جنسي او قبيلوي توپير مخنيوی کوي.

۳: **اساسي قانون**:

قوانين د بشري ټولني د ودې او تکامل سره سم منځ ته راغلي دي او د هرې ټولني لپاره ځانګړي قوانين د تاريخ په اوږدو کې وضع سوي دي.

د هري ټولني د قوانینو څخه دا جوتیږي چي ټولنه په کوم ټولنیز پوړ کي ځای لري او د کوم سیاسي رژیم څخه پیروي کوي.

ډیموکراسي هم داسي سیاسي نظام دی، چي عملي تګلاره یې د قانون پر بنسټ ټاکل کیږي، په ډیموکراسۍ کي قوانین د خلکو لخوا جوړیږي او وروسته یې د عملي کولو څارنه هم د خلکو او استازو په غاړه وي. پر دي بنسټ په ډیموکراسۍ کي د سیاسي واک لپاره دري اصله په نظر کي نیول کیږي:

الــف: د خلکــو واک، ب- د قــانون واک، ج- حکومــت د خلکــو پــه استازیتوب او د قانون مطابق عمل کوي.

په سیاست کي یوه اصطلاح ده چي وایي خپله خلک په قانون پوري وتړۍ ترڅو ازاد ژوند وکړي. دلته خلک په هغو قوانینو پوري تړل کیږي، کوم چي د دوي په واسطه جوړ سوي وي او هغه قوانین چي خلکو جوړ کړي دي هغه د دوی غوښتنو ته هم ځواب ویونکي وي. په ډیموکراسۍ سیاسي نظام کي یوازي خلک د قانون د وضع کولو حق لري او په استبدادي او دکتاتوري سیاسي رژیمونو کي خلک د دي حق څخه بي برخي وي.

په لنډ ډول ویلای سو، چي قانون د ټولو بنسټیزو قواعدو او اصولو مجموعه ده چي د واکمنۍ په چوکاټ کي د واک پر بنسټ اړیکي تنظیموي نو ځکه قانون یوه هسته ده چي امر کونکي او لاربنونکي اصول لري.

**۴: جمهوریت:**

جمهوریت د حکومت هغه ډول دی، چي په هغه کي د دولت رئیس په ارثي ډول نه وي ټاکل سوی بلکي د خلکو د عمومي رایو پر بنسټ

ټاکل سوی وي. په جمهوریت کي د دولت د رئیس د مشرتوب دوره معلومه وي او د خلکو لخوا په مستقیم او یا غیري مستقیم ډول ټاکل کیږي. په عام مفهوم جمهوریت هغه حکومت ته ویلای سو، چي د عمومي غوښتنو پر بنسټ ولاړ وي[1]. په جمهوري حکومتونو کي واک د خلکو لخوا په مستقیم او یا غیري مستقیم ډول اداره کیږي او دولتي جوړښت یې د سلطنتي او پادشاهي په څیر نه وي. جمهوري حکومتونه کیدای سي چي پر درو برخو یې تقسیم کړو:

الف- غربي ډیموکراټیک جمهوریتونه چي ریښي یې د اتلسمي او نولسمي پیړیو د انقلابونو څخه سرچینه اخلي او بل هغه هېوادونه دي چې د جمهوریت سیاسي رژیم یې وروسته منلی وي، پدي هېوادونو کي د سیاسي ګوندونو او رسنیو ازادي موجوده ده.

ب- هغه هېوادونه چي رسماً جمهوري نومول کیږي لیکن په عمل کي نظامي او پولیسي رژیمونه پر دوی حکومت کوي.

ج- نوې ډیموکراټیک جمهوریتونه؛ دا په اروپا او ختیځه اسیا کي موجود دي چي رسمي نوم یې(پرولتاریا دکتاتوري) دي او په دي هېوادونو کي یو ګوندي حکومتونه موجود دي[2].

**۵: د قواوو بیلتون(تفکیک):**

د سیاسي خپلواکیو د ساتلو لپاره او د واک د تمرکز د مخنیوي لپاره لازمه ده چي دولت پر درو بنسټیزو څانګو باندي وویشل سي لکه، اجرایه څانګه، مقننه څانګه او قضایه څانګه. په دولت کي هره څانګه د واک یوه برخه عملي کوي او په خپله برخه کي ځانګړي دندي او

[1]: فرشید اقبال ،مکتب های سیاسی، انتشارات: سبکباران، چاپ ۱۳۸۷، ص۸۵
[2]: بشیر اخګر، ډیموکراسي، ، ۲۰۰۸کال،ص ۷۳-۷۴

مسولیتونه لري، لازمه داده چې هره څانګه باید د بلې څانګې په دندو او مسـولیتونو کـې لاسـوهنه ونکـړي او کیـدای سـې، چـې د اساسـي قانون پر بنسټ یوه څانګه د بلې څانګې د کارونو څارنه وکړي. د دولـت په دري ګونو قواوو(څانګو ) کې د هري قـوي کـارکوونکي ازاد دي او هیڅ یو کارکونکی نسي کولای، چې په یـوه وخت کـې پـه دوو قـواوو کې کار وکړي. پر همدې بنسټ یوه قـوه د بلـې قـوي څارنـه او کنټرول د اساسي قانون پر بنسټ کولای سي او هـیڅ څانګـه نسـي کـولای، چـې د دولت ټول واک په خپل لاس کې واخلي.

پورتني نظریه د قواوو د بیلتون(د دري ګونو قـواوو ) پـه نـوم یـادیږي، چـې د لـومړي ځـل لپـاره پـه اتلسـمه پیـړۍ کـې د (مونتسـکیو ) لخـوا روښـانه سول. دا نظریـه مونتسـکیو پـه خپـل نـامتو اثـر(روح القـوانین ) کې وړاندې کړیده چې بنسـټ یـې د واک پـر کنټرول او د اسـتبداد پـر مخنیوي ولاړ دی.

**۲**: **مدني ټولنه**:

پـه سیاسـي فلسـفه کـې د مـدني ټولنې پیدا ایښـت پـه لرغـوني یونـان پـوري تـړل کیـږي او تـر نـن ورځـې پـوري یـې بیلا بیـل تـاریخي پړاوونـه وهلي دي. پـه انګلیسـي کـې مـدني ټـولني تـه (سـیول سوسـایټي[1] )ویـل کیـږي، چـې د ارسـطو د (پولیټیـک کونینیـا ) سـره یوشـان مانـا لـري. ارسطو(پولیټیک کونینیا[2] ) هغې ټولني ته ویل چې د ټولـو پـر مختللو انسانانو پـواسطه رامنځ ته سوي وي تـر څـو د ښـاري ژونـد غوښـتني او اړتیاوي پوره کړي.

---

[1] - Civil Society

[2] -Politike Koinenia

د ځینو پوهانو په آند مدني ټولنه هغه کوي ترڅو حاکم نظام د سیاسي ټولنو (سیاسي ګوندونه، بنسټونه، ټولني، ډلي... ) په واسطه تر خپل اغیز لاندي راولي. یا په بل عبارت دا پوهانو د ټولو هغو خپلواکو ټولنو مجموعي ته مدني ټولنه وایي کوم چي د خلکو او حکومت ترمنځ قرار لري. مدني ټولنه په سیاسي ادبیاتو کي د پیل څخه تر اوسه په بیلا بیلو ماناوو سره کارول سویده. د بیلګي په توګه (آدم سمیت) مدني ټولنه پر اقتصادي محور باندي تعریفوي او (هګل) بیا مدني ټولنه د کورنۍ او دولت ترمنځ ګڼي. مدني ټولنه د لاندي ځانګړنو درلودونکي ده:

۱: مدني ټولنه عامه ده نه خاصه.

۲: مدني ټولنه تر دولت لوړه نده، بلکي د دولت یوه برخه ده.

۳: مدني ټولنه د زیاتو کوچنیو ټولنو لکه: ازادي رسنۍ، کلتوري ټولني او... څخه جوړه ده.

۴: مدني ټولنه بیلابیلي دندي لري لکه: د حکومت د واک محدودول، د ډیموکراسۍ پراخوالی، د سیاسي ګوندونو قوي کول او د بشري حقوقو او ازادو رسنیو څخه ملاتړ کول.

۵: په مدني ټولنه کي د ټولنیزو او اقتصادي اصلاحاتو په موخه د معلوماتو راغونډول او ویشل اړین ګڼل کیږي.

۷: **ټولنیز تړون**:

ټولنیز تړون په حقیقت کي د فرانسوي لیکوال (ژان ژاک روسو) د یوه مهم اثر نوم دی، خو د روسو څخه مخکي هابز او لاک هم د ټولنیزتړون په اړه څرګندوني لري. خو روسو په دي کتاب کي داسي نظریه وړاندي کړیده، چي هر سیاسي رژیم باید د خلکو د ازادي موافقي او تړون

په پایله کي منځ ته راسي. د ټولنیز تړون اصطلاح داسي مانا ورکوي چي انسانان د هېواد د اوسني حالت په اړوند یو د بل سره پیوند دي او د ټولنیز تړون سره سم مدني ټولنه او دولت منځ ته راغلی دی.

د ټولنیز تړون انـد د دولت د سیاسي فلسفي بنسټ بیانوي او د پاچاهانو د الهي واک د اصل پر ځای د خلکو د رضایت د اصل چي د عدالت او ډیموکراټیک قانون پر بنست ولاړ وي ملاتړ کوي.

۸: **د بشر حقوق**:

د زیاتو سیاستپوهانو په آند د بشر حقوق د رنسانس د دوري لاسته راوړنه ده او مخکي د دي څخه د ډیموکراسي دا اصل نه و موجود ، خو د بشر حقوق د ډیموکراسي د اساسي اصولو څخه ګڼل کیږي.

د بشر حقوق د ټولو هغو انساني حقوقو مجموعه ده، چي وګړي د انسانیت پر اساس د هغه څخه برخمن دي. دا اصطلاح په اولسمه پیړۍ کي د سیاست ډګر ته داخل سول او د طبیعي حقوقو ځای ئي ونیوی. د بشر حقوق داسي فلسفه ده چي د بحث موضوعات یې هغه غوښتني دي چي د طبیعت او د انساني ذات څخه را ولاړي سوي وي، یاني انسان باید د هر ډول تعقیب او زور زیاتي څخه خوندي وي او هم په ژوند کي باید خپله ازادي ولري. په عین حال کي د بشر حقوق د انسان لپاره مطلقه او بي قانونه ازادي نه خوښوي او انسان په دي مکلف ګڼي، چي د ټولني او نورو وګړو پر وړاندي باید خپل وجایب سرته ورسوي. په همدي اساس د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقوقو اعلامیه په (د ۱۹۲۸م کال د ډسمبر پر ۱۰) په تصویب ورسول.

۹: **د ټاکنو (استازیتوب) اصل:**

په حکومت کي د خلکو غیري مستقیم ګډون ته د استازیتوب اصل وایي. په ډیموکراسي کي ټول لوړ پوړي چارواکي د خلکو لخوا په مستقیم ډول نه ټاکل کیږي بلکي د هغو د ټاکلو استازو لخوا هم ټاکل کیږي.

۱۰: **د رضایت اصل:**

د ډیموکراسي په سیاسي فلسفه کي اساسي اصل د خلکو لخوا د سیاسي حاکیمت منل او د حکومت د قوانینو او مقرراتو اطاعت کول دي. د همدي اصل پر بنسټ د حکومت مشروعیت باید ریښتني وي او د عامه خلکو لخوا د نظام منلو ته مشروعیت ویل کیږي. د یوه نظام په منلو کي د عامه خلکو رضایت څرګندیږي او رضایت پر دوه ډوله دي چي یو یي مستقیم او بل یي غیري مستقیم دي. غیري مستقیم رضایت د ټاکنیز سیستم پر اساس د سیاسي واکمني څخه د خلکو خوښي معلوموي او د مستقیم رضایت په اړه زیاتو پوهانو نظریات ورکړي دي، جان لاک پدي آند دي هغه څوک چي په یوه هېواد کي اوسیږي او هغه هېواد نه پریږدي همدارنګه د هغه هېواد قوانین او قواعد مني دا پخپله د مستقیم رضایت مانا لري.

۱۱: **د مساوات اصل:**

د ولسواکو حکومتونو د بنسټیزو اصولو څخه یو هم د مساوات اصل دی د مساوات مفهوم دا دی، چي انسانان په خپلو منځونو کي هیڅ کوم توپیر نلري، د خپل ذاتي ارزښت پر بنسټ یو شان دي ، د قانون پر وړاندي کوم توپیر نلري او باید بشپړه ازادي ولري یاني هر وګړی باید خپلي ازادۍ لکه د بیان او عقیدي ازادي، سیاسي حقوق (د رایي

ورکولو حق، د وتي چوکیو ته د نوماند کیدلو حق... ) ولري. پـه سیاسـي لحاظ د انسانانو مساوات د قانونو پر وړاندې د دوی یو شـانتي والـي او د دوی د حقوقــو او ازادیــو مســاوات تــه ویــل کیــږي. دا مســاوات کیدای سي د سیاسي حدودو څخه بهر سي او د ژوند نـورو برخـو تـه هـم انتقـال سـي د بیلګـي پـه توګـه انسـانانو تـه پـه اقتصـادي، کلتـوري، ټولنیزو او د زده کړو په برخه کي د فرصتونو مساوات او داسي نور.

**۱۲: د خلکو د څارني اصل:**

لکه څرنګـه چـي د واک تمرکـز دیتـه زمینـه برابـروي چـي چـارواکي د واک څخه د شخصي ګټو لپاره کار واخلي، نو د دي د مخنیوي لپـاره د خلکو د څارني او کنټرول پر بنسټ کیدای سي چي د واک د تمرکز څخه مخنیـوی وکـړي او سیاسـتوال دیتـه اړ کـړي چـي واک د شخصـي ګټـو پرځای د عامه ګټو لپاره وکاروي.

**۱۳: د خلکو د واکمنتوب اصل:**

د خلکو واکمنتوب (واکمني) پـه ډیموکراسـۍ کـي یـو بنسـټیز اصـل دی او هغـه اساسـي تـوپیر چـي ډیموکراسـي د نـورو سیاسـي مکتبونـو څخه بیلوي هغه د خلکو د واکمنتوب اصل دی. د خلکو واکمنتـوب پـه دي مانـا دی، چـي حکومتونـه خپلـه بڼـه، موجودیت او واک د خلکـو د عامه رضایت پر بنسټ باندي ټاکي او د خلکو په خوښه د حکومت بڼـه او د واکمنۍ عناصر بدلیدای سي.

**۱۴: ډلیزي رسنۍ:**

د ډلیزو رسنیو ارزښت نن ورځ دومره زیات سوی دی، چـي د څلورمي قوي نوم ورباندي یادیږي او اغیز یي پر خلکو او دولت باندي زیـات تـر سترګو کیږي، په ځینو سیاسي رژیمونو کي پـر رسنیو بانـدي د دولـت

اغیز زیات وي او رسنۍ یې کنټرول کړي وي خو په ځینو هېوادونو کې بیا د دولت کنټرول محدود وي. رسنۍ په عمومي ډول د دولت او خلکو پر کړونو باندې کنټرول لري او په ډیموکراټیک نظام کې د بیان د ازادۍ د اصل سره سم د زیات ارزښت لرونکي دي.[1]

**د ډیموکراسۍ ښیګڼې:**

ډیموکراسۍ په نړۍ کې زیات ګرانښت او پراخوالی موندلی، د نړۍ زیاتو پر مختللو هېوادونو ډیموکراسي خوښه کړېده او سیاسي رژیمونه یې د ډیموکراسۍ پربنسټونو ولاړدي. دا چې اوس په نړۍ کې تر ټولو سیاسي رژیمونو ډیموکراسي مخکې ده نو دې سیاسي رژیم ځیني ښیګڼې به په لنډ ډول ولولو:

۱ . **د کاري وړتیا لرونکی حکومت لري**؛د حکومتونو د پیاوړتیا او کمزورتیا یوه اړینه ځانګړنه د کار کولو وړتیا ده. د حکومت د کار کولو وړتیا په عادي او بېړنیو شرایطو کې سنجول کېږي. نو ویلای سو ، چې عمومي ټاکني، عمومي کنټرول او عمومي مسولیت هغه څه دي چې د ډیموکراسۍ کاري وړتیا تر نورو نظامونو پیاوړې کوي. لکه څرنګه چې حکومت د خلکو رایو ته اړتیا لري، نو ځکه د خلکو لپاره کار کوي او د هغو خوښې د ځان کوي.

۲ . **وګړیزې خپلواکۍ پکښې ساتل کېږي**؛ ډیموکراسي یوازنی حکومت دی چې وګړیزې خپلواکۍ او حقوق د اساسي قانون پربنسټ ساتي. (جان سټوراټ میل) د همدې ځانګړني پر بنسټ د ډیموکراسۍ څخه ملاتړ وکړ. د عقیدې او بیان خپلواکي، رسنۍ او ټولنې د مدني حقوقو او خپلواکیو ښې بېلګې دي. ډیموکراسي وګړي ته ارزښت

[1]- بشیر اخګر، دموکراسي، ص۸۰-۱۱۰

ورکوي او دی پـدي بانـدي باوري کـوي چـي د ټـولني پـه پرمختـګ او پیاوړتیا کي به برخه ورکوي. د (لاول) په خبره په ډیموکراسۍ کي به هیڅ داسـي څـوک پیدانسـي چـي وایـي خبـره مـي اوریـدونکي نلـري. د(هرینشـاو) پـه خبـره ډیموکراسـي د هروګـړي سـره یـو عصـبي رشـته نښلوي، چي دارشته دده او مرکز ترمنځ اړیکې ټینګوي او د هروګړي آندونه د پاملرني وړګرځي.

۳ . **د مساوات** (**برابري**) **ساتل**؛ ډیموکراسي پـه دواړو اړخونـو یـانې اقتصـادي او سیاسـي برخـو کـي د وګـړو مسـاوات غـواړي او د رایـي ورکولو حق، د نیوکې حق او لوړو چوکیو تـه د نومانـد کیـدلو حق بیلـه کـوم ژبنـي، نـژادي او مـذهبي تـوپیر او تبعـیض څخـه منـي. ځـانګړي امتیازات نه مني. په اقتصادي برخه کي برابري او اقتصـادي امنیت د وګړو لپاره چمتوکوي. پـه یـوي ریښـتني ډیموکراسـۍ کـي هـر څـوک د ژوندد لومړنیو اړتیاوو او امنیت څخه برخمن دی.

۴ . **د خلکو لپاره زده کړه**؛ ډیموکراسـي د خلکـو لپـاره د عمـومي زده کړي زیاتـه تجربه لري. ټاکنیزي سیالۍ پـه حقیقت کـي د خلکـو لپـاره سیاسـي زده کـړه ده. پـه عمـومي ټـاکنو یـا هـرو ټـاکنو کـي نومانـدان عمومي مسایل سپړي او خلکو ته یي بیانوي. د روانـو سیاسـي حـالاتو په اړه بشپړ معلومات د خلکـو تـر غـوږو پـوري رسـیږي. همدارنګـه پـه سیاسي ټولنو او ګونـدونو کـي هـم د ګونـدونو لخـوا خپلـي تلـنلاري او موخي خلکوته ښودل کیږي او پر روانـو حـالاتو بانـدي خبـري کیـږي. لـه همـدي لارو څخـه خلکـو تـه سیاسـي پوهـه ورکـول کیـږي او د دوی رایـه ورکول هم د دي ښکاروندی دی، چي خلکو د کـوم سیاسـتوال سیاسـت خوښ کړی دی. دا ډول پوهه او ګډون د خلکو فکـري کچه لوړه بیـایي او

خلـک د هېـواد پــه سیاســي حـالاتو بانـدي پـوه کـوي. د (بـورنس) پــه خبره(ټول حکومتونه د زده کړي يوه لار لـري، خـو غـوره زده کـړه هغـه ده چـي خپـل ځـان وپيژنـي، او غـوره حکومـت هغـه دی چـي پـر خپـل ځـان بانـدي حکومـت وکـړي، چـي دا دواړي ځـانګړني پـه ډيموکراسـی کـي شتون لري).

**۵ د هېـواد پـالني د حـس پياوړتيـا**؛ ډيموکراسـي د وطـن پـالني او د هېواد سره د ميني احساس په خلکو کي پياوړی کوي. کلـه چـي خلکـو تـه د اسـتازو د ټـاکلو چـانس پـه لاس ورکـول کيـږي، خلـک داسـي فکـر کـوي چـي پـه خپـل هېـواد کـي ارزښت لـري او دا هېـواد د دوی دی. پـه فرانسـويانو کـي تـر (۱۷۸۹ز) کـال پـوري د خپـل هېواد سـره د مينـي احساس نه وروزل سوی.

۶ . **د حکومت ټينګښت**؛ ډيموکراسي د انقلابونو څخه خوندي ده، ځکه چـي ډيموکراسـي د خبـرو اتـرو او ټـاکنو حکومـت دی، کلـه چـي پـه ډيموکراسۍ کي د حکومت د کړنو څخه خلک ناخوښه سي نو د رايـو پر بنسټ کولای سي چي د حکومت مشر ليري کړي او بدلون پکښـي راولي، نو ځکه ديته اړتيا نه ليدل کيـږي چي انقلاب وکړي او يـا هم پـه تاوتريخوالي باندي لاس پوري کړي.

۷ . **نظم او پرمختګ**؛ ديکتاتوري هم نظم ساتي خو د پرمختـګ لپـاره لارنه هواروي يـانې پـه خلکـو کـي بيلـه پرمختګـه نظم راولـي. پداسـي حال کي چي ډيموکراسي د حکومت يـوازنۍ بڼه ده، چـي پـه ټولنـه کـي نظم او ډسپلين راولي او د خلکو لپاره د پرمختـګ لارپرانيـزي ترڅـو خلک ښه او پرمختللی ژوند ولري.

۸ . **د خلکو ارزښت**؛ ډیموکراسي د خلکو د ارزښت په منلو سره په خلکو کي ابتکار او استعداد تشویقوي او هم په دوی کي د مسولیت حس پیدا کوي. د (میل) په خبره (ډیموکراسي تر نورو حکومتو د ملي حس غوره بڼه منځته راوړي). همدارنګه خلکو ته د مدني او سیاسي حقوقو ورکول، پدي مانا دی، چي خلک په ډیموکراسی کي د زیات ارزښت لرونکي دي او په درنه سترګه ورته کتل کیږي. په ډیموکراسۍ کي خلک دیته هڅول کیږي، چي خپل شخصیتونه جوړ کړي او وروسته نورو کارونو ته وروړانګي. د حکومتونو په هیڅ ډولونو کي داسي حکومت نسته چي ځان جوړونه دي په هغه کي دومره اسانه وي.

۹ . **ډیموکراسي د کارپوهانو او د خلکو د استازو حکومت دی**؛ یوازي د کارپوهانو او متخصصانو حکومت کافي ندی، شوني ده چي کارپوهان داسي طرحي د واکمنو په مغزو کي ورکړي چي د خلکو د کلتور او ملي ارزښتونو سره په خلاف کي وي. زیات دیکتاتوري او استبدادی رژیمونه د خپلو ریښو د ټینګولو لپاره یوازي د کارپوهانو او متخصصانو څخه ګټه اخلي. همدارنګه په ډیموکراسی کي د کارپوهانو او متخصصانو آندونه اوریدل کیږي، خو ورستۍ پریکړه د خلکو د استازو په لاس کي ده. د هر وزارت کارکونکي د ولس د استازو لخوا ټاکلو سوو وزیرانو تر څارني لاندي کارکوي. دا ډول حالت دیته لارپرانیزي چي خلک د کارپوهانو د آندونو او کارونو څخه ګټه واخلي، خو وروستۍ پریکړه د هغو وزیرانو په لاس کي ده چي د خلکو د استازو لخوا ټاکل سوي وي او د خلکو په اندونو او ملي ارزښتونو باندي پوهیږي. پدي وخت کي د ولس او حکومت تر منځ ټینګي اړیکې منځته راځي.

**د ډیموکراسۍ نیمګړتیاوي:**

سربیره پردي چي د ډیموکراسی ښیګڼي د زیات ارزښت لرونکي دي او په نړیواله کچه نن ورځ ډیموکراسي ډیر ګرانښت لري، خو بیاهم د یولړ ستونزو او نیمګړتیاوو لرونکي ده. چي په لاندي ډول د یوځوي یادونه کوو:

١ . **د ناپوهو خلکو واکمني**؛ ارسطو، چي د سیاست د پلار په نامه یادیږي، ډیموکراسي د حکومت فاسده بڼه بولي. د ده په آند دا د بیوزلو، ناپوهو، شاته پاتو او خوار پوړ حکومت دی. افلاطون چي د ده ښوونکی و، ډیموکراسي د جهالت واکمني بولي.(لِکي) ډیموکراسي داسي راپیژني ((ډیموکراسي د ناپوهو، جاهلو، بیوزلو او نالایقو حکومت دی)). په ډیموکراسی کي رایي شمارل کیږي، تلل کیږي نه. یاني په ډیموکراسی کي د پوه او ناپوه رایي دواړي یوشان ارزښت لري. هغه څوک چي لیسانس، ماستري او دوکتورا لري، د هغه رایه د یو کلیوال بزګر د رایي سره چي هیڅ په سیاسي چارو باندي نه پوهیږي، یو شان ارزښت لري. یاني په ډیموکراسی کي د پوه او ناپوه ترمنځ توپیر نه کیږي. پر همدي بنسټ ناپوه خلک د نوماندانو پوهي ته نه ګوري، دوی هغه چاته رایه ورکوي چي د دوی د کلتور، ژبي، مذهب او رواجونو په ارزښت باندي پوهیږي، دوی د نوماند پوهي ته نه ګوري، دوی دیته نه پاملرنه نه کوي، چي نوماند په سیاسي چارو پوهیږي او که یوازي په خبرو کولو کي تکړه دی. نو پداسي حال کي شوني ده چي پوه خلک شاته سي او واک یوازي ناپوه او جاهل خلک په لاس کي واخلي. همدارنګه د خلکو هغه استازي چي د کلیوالو

بانډو څخه راوتي وي، هغه تجربه او پوهه نلري نو شاید حکومت پر منفي لوري باندي ګامونه واخلي.

۲ . **د شتمنۍ د زیاتوالي لپاره کارکول**؛ زیاتي نوي ډیموکراسۍ سرمایه داري دي. دا ډیموکراسی د شتمنو د پوړ څخه ملاتړ کوي. د تولید ټول وسایل د خلکو په لاس کي ورکول سوي وي او د ټولني د اړتیا وړ توکي هم د عامه خلکو لخوا برابریږي. نو شوني ده چي دا وسایل یوڅو شتمن وګړي په خپلو لاسونو کي واخلي. او په غیري مستقیم ډول حکومت تر خپل اغیزلاندي راولي. همدارنګه شتمن وګړي رسنۍ هم تر خپل اغیزلاندي راولي ترڅو د دوی ملاتړ وکړي او هم ګوندونو ته پیسي ورکوي چي د دوی په ګټه سیاستونه پرمخ بوزي. زیات سیاستوال د شتمنو خلکو د لاسونو آلي دي. (بریس) (په سیاست کي د پیسو ځواک) ته اشاره کوي او وایي چي پیسي د مقنني او اجرایي قوي د کارونو مخه خنډوي او ډیموکراسي فاسدوي. مارکسیستانو د امریکا ډیموکراسي د (ډالرو ډیموکراسي) ګڼلي ده. (لینن) په سرمایه داري ډیموکراسی کي د رایي ورکولو د حق په اړه داسي وایي(په پوړیزه ټولنه کي د رایي ورکولو پروسه غیري ریښتني ده، هغه څه چي ارزښت لري هغه پیسه او سرمایه ده. یا په بله مانا په ډیموکراسی کي د حکومت ظاهري بڼه ډیموکراتیک حکومت دی، خو په حقیقت کي هغه د شتمنو حکومت دی). د مارکسیستانو په آند ریښتني ډیموکراسي هغه وخت منځته راځي، کله چي سرمایه داري له منځه ولاړه سي او د بډای او بیوزلو ترمنځ توپیر نه وي.

۳ . **د ډیرکیو د حکومت نه شتون**؛ پر ډیموکراسی باندي زیات نیوکه کونکي پدي آند دي چي په ډیموکراسی کي د ډیرکیو حکومت شتون

نلري. ځيني وختونه هغه رايي چي واکمن ګوند يې په لاس راوړي، تر هغه کمي وي، کومي چي مخالف ګوند يې په لاس راوړي. سربېره پر هغه واک څو واکمنان او هستي پلي کوي، لکه د دولت مشر، د ګوند سياسي کميټه او داسي نور. پداسي حال کي چي د ګوند نور غړي يوازي د همدي څو مشرانو پر ګامونو باندي ګامونه ايږدي. (ګادوين) ډيموکراسي د چلبازانو، ګوندي فريبکارو مشرانو او غولونکو سياستوالو حکومت ګڼي. پر ډيموکراسی باندي يو نيوکه کونکی ډيموکراسي (د سياستوالو حکومت، د سياستوالو لخوو پر سياستوالو) باندي تعريفوي. د (رابرټ ميشلز) په خبره (ډيموکراسي د اوليګارشی د اوسپنيز قانون څخه پيروي کوي). (ميشلز) چي د سياسي ټولنپوهني د مخکښانو څخه دی، په خپله نامتو ليکنه کي د المان د سوسيال ډيموکراټ ګوند کورني سياست او ګوندونو په اړه د (اوليګارشی اوسپنيزقانون) اصطلاح کارولي ده. دا اصطلاح د ده د ټوليزي مفکوري منځپانګه ده، چي دی ټول جوړښتونه که هغه ټولني، ګوندونه يا نور جوړښتونه وي، په ذاتي ډول غيري ډيموکراټيک بولي. د دي دليل دا دی چي په ټولنه کي د اغيزناک عمل لپاره سازمان (جوړښت) اړين دی، چي دا جوړښت ناچاره په بوروکراسی باندي بدليږي او په بوروکراسی کي هم واک د څو نفرو په لاس کي لويږي. د ده په خبره ډيموکراسي بيله سازمان څخه پلي کيدای نسي نو ځکه اوليګارشي غوښتونکي يې په خپلو منګلوکې نيسي. پر همدي بنسټ هغه څوک چي د يوه جوړښت په سر کي وي، هغه حکومت کوي او د ډيرکيو د حکومت ادعا بې مانا ده.

۴ . **په ډیموکراسۍ کې د استازیتو د اصل نیمګړتیا؛** ډیموکراسي د هېواد د ټولو برخو څخه د ټاکل سوو استازو پر رول باندې باور لري. همدارنګه په یو شمیر ټاکنیزو سیستمونو کې داسې وي، چې په هره ټاکنیزه حوزه کې چې هر نوماند زیاتې رایې ترلاسه کړي هغه بریالی ګڼل کیږي. خو د ډیموکراسۍ دا ډول ټاکني نیمګړتیاوې لري، یانې نوموړی استازی نسي کولای چې د خپلې سیمې هر اړخیز استازی سي او د ژوند د ټولو برخو استازیتوب نسي کولای، دی یوازې کولای سي چې د خپل پوړ استازی سي. یوحقوقپوه څنګه کولای سي، چې د بزګرو، اهنګرانو، تخنیکارانو او نورو پوړونو استازی سي. کیدای سي چې نوموړی استازی د خپلې سیمې د خلکو د ژوندانه د ځینو برخو استازیتوب وکړي، خو د ژوند د ټولو اړخونو استازیتوب نسي کولای. نو ځکه ویلای سو چې وظیفوي استازیتوب باید د ویشونکې استازیتوب ځای ونیسي او د یوه پارلمان پر ځای باید څو پارلمانونه جوړ سي، تر څو هر پارلمان د خپل ځانګړي پوړ څخه استازیتوب وکړي.

۵ . **د برابرۍ د اصل څخه ناوړه ګټه اخیستنه؛** په ډیموکراسۍ کې پر دې د رواغجن اصل باندې ټینګار کیږي، چې وګړي ټول د حکومت په ټاکنه کې یوشان برخه اخیستلای سي. د دې اصل پر بنسټ د وګړو پوهه او ذهني پیاوړتیا تر پښو لاندې کیږي، یوازې دوی د خلکو رایې شمیري، بلکې د هغه وزن او درښت ته نه ګوري. پر همدې بنسټ ټولو ته د سیاستونو په ټاکنه کې یوشان حق ورکول سوی دی او د یوه رایه د بل تر رایې لوړوالی نلري. دا ډول برابري د دې لامل ګرځي چې حکومت

د ناپوهو او نالوستو کسانو په لاسونو کي ولویږي، چي دا خپله زده کړي او پوهي ته سپکاوی دی.

۶ . **خلکو ته غیري ریښتني زده کړه**؛ پر ډیموکراسی باندي نیوکه کونکي داسي وايي چي ډیموکراسي خلکو ته غیري ریښتني مدني زده کړه ورښئ. تاکنیزي سیالۍ یوازي د واک د لاسته راوړلو لپاره کمپاین دی، د خلکو څخه حقیقت پټیږي او یوازي خلکو ته د رواغجني وعدي ورکول کیږي. پدي ډول سیالیو کي تیرایستونکي او چالاکه خلک په خپلو غوړو خبرو سره خلک تیرباسي او حقیقت ورڅخه پټوي.

۷ . **د علمي، هنري او ادبي پرمختګ مخنیوی**؛ وګړي په عمومي ډول محافظه کارانه تلنلاري لري او د هیواد د چټک پر مختګ سره مخالف دي. وګړي د هنر، پوهي او ادب چټک او ژر پرمختګ نه غواړي، دوی تل خپل لرغوني او پخواني ملي ارزښتونه ساتي. د (بورنس) په خبره(هر پرمختګ او تمدن چي ډیموکراسي یي راولي، منځنی او ټکنی وي).

۸ . **د ډیموکراسۍ اخلاقي نیمګړتیا**؛ ډیموکراسي له اخلاقي اړخه د خلکو د کمزورتیا لامل ګرځي. هغه فریبکاره او غیري ریښتني سیالي چي د ګوندونو ترمنځ د واک پر سر باندي کیږي هغه نه یوازي د خلکو د اخلاقي نیمګړتیا لامل ګرځي بلکي په ټولنه کي فساد هم زیاتوي. ډیموکراسي واکمنان دیته هڅوي چي اخلاقي ارونه تر پښو لاندي کړي.

۹ . **د وګړیت او خپلواکۍ سره مخالفت**؛ ډیموکراسي د خلکو ریښتني فکري خپلواکي له منځه وړي او عقل بیځایه لګښتوي. په

ډيموکراټيکو ټولنو کي په ريښتني کارپوه او روڼ آندي باندي ملنډي وهل کيږي او خبره يې بې مانا ګڼل کيږي، يوازې هغه کارپوهان مختـه دي، چي بېځايه نيوکې کوي او د حکومت نيمګړتياوي پټوي. سقراط د خپلي ريښتنولۍ له امله د شکران د زهرو په څښلو باندي مجبور سو، ګاندي د خپلي ريښتني مبارزي لـه املـه د يـوه متعصب او نـاپوه هندي لخـوا تـرور سـو او خـان غفارخان(پاچاخـان) د خپـل اولـس د حقوقـو د غوښتلو او تاو تريخوالي پر وړاندي د مبارزي لـه املـه کلونـه د بند د تورو تمبو شاته غورځول سوى و.

۱۰ . **پر ملـي ګټـو بانـدي د سيمه ييزو ګټو لـوړوالى**؛ د واک د لاستـه راوړلو لپاره سيالۍ د اولس پر ژوند اوهوسايني باندي زيان رسونکى اغيزښندي. استازي د رايـو د لاسته راوړلـو پـه موخـه يـوازي پـه خپلـو ټاکنيزو ساحو کي سيالۍ کوي او پـر ملي ګټو باندي د خپلي سيمي ګټي لوړي ګڼي.

۱۱ . **د حکومت زيات لګښت**؛ داسي ويل کيږي چي ډيموکراسي د زيات لګښت کونکي حکومت لرونکي ده. حکومت زيـات لګښت پـر ټاکنو او تبليغـاتو بانـدي کـوي. پـه شـتمنو هېوادونـو لکـه امريکـا کـي پـه ميليونونو ډالر پر ولسمشرۍ او پارلماني ټاکنو باندي لګښت کيـږي. همدارنګه په مخ پر ودي هېوادونو کي هم همداسي لګښتونه کيـږي. د هغه پيسو څخه چي پـر ټاکنو او شعارونو بانـدي لګيـږي، کـولاى سـي چي د ملي توليد په زياتوالي کي زياته ګټه واخلي.

۱۲ . **د حکومت بې ثباتي**؛ ډيموکراسي تـر هغـه وختـه پـوري باثباتـه او ټينګه ده، تر څو چي د خلکو ملاتـړ ورسره وي. د عامـه خلکـو ذهنونـه شـوني ده، چي د حکومـت پـر وړانـدي ډيـر ژر د ځينـو مخـالفينو لخـوا

وښـورول سـي. زیـات ډیموکراټیـک حکومتونـه پـه ځـانګړي ډول ځـو ګونـدي نظامونـه پـه ناڅاپي بڼې سره بـدلون کـوي. داسي ویـل کیـږي چي(فرانسـویان چـي ځـومره ژر خپـل کـالي بـدلوي هغـومره ژر وزیـر بـدلوي). پـه فرانسـي کـي د وزیـر منځنـی عمرنهـه میاشـتي دی. (هنـري مـاین) پـدي انـد دي((کلـه چـي ډیموکراسـي غوړیـدلي ده، د حکومـت ټولي بڼي له پخوا څخه نا امنه سویدي)).

۱۳. **د پوړیزي مبارزي هڅونه**؛ کله چي شتمن او سرمایه داره خلـک د بیوزلو او سوالګرو خلکو پر وړاندي باندي پـه ټاکنو کـي ودریـږي نـو ټـاکني ګټـي. همدارنګـه کلـه چـي پـه واک کـي وي نـو داسـي قـوانین جوړوي چي د دوی د شتمنیو پـه ګټـه وي. د شتمنو د پـوړ پـه ګټـه دا ډول کړني د دي لامل ګرځي چي په ټولنه کي پوړیزي مبارزي پیـاوړي سـي. ډیموکراسي د بیوزلو وګړو پـه منځ کـي د ناخوښـی تخـم کـري او دا تخـم د دي لامل ګرځي چي دا نقلابونو په څیر پاڅون وسي.

۱۴. **د ګوندي سیاست زیانونه**؛ سیاسـي ګوندونـه د ډیموکراسـی لپـاره اړین دي. پداسي حـال کـي چـي سیاسـي ګوندونـه ډیـر بـد رول لوبـوي، یـانې کله چي هر ګوند واک تـه ورسـیږي، د بل ګـوند هـر ډول بـا اسـتعداده او وړ شخص تـه د سیاسـي واک یوه برخه پـه لاس نـه ورکـوي. دا تـور داغ چـي د ډیموکراسـی پـر لمـن بانـدي ټینـګ سـوی دی، ډیـر ژر د دي لامـل ګرځي چي د ډیموکراسی نظام له منځه یوسي. د (بریس) پـه آنـد سیاسـي ګوندونـه دوه مخـي او چاپلوسـي تشـویقوي او اخلاقـي معیارونـه لـه منځـه وړي. (میشـلز) بیـا پـدي انـد دی چـي ګوندونـه د اولیګارشـي او سپنیز قانون پلی کـوي، یـانې مشـران پریکـړه کـوي او غـړي یـي ځـان ورسپاري. ګوندي سیالۍ وګړي بي لاري کـوي، وګـړي اړ دي چـي د دو

ګوندونو د نوماندانو څخه ارومرو یو وټاکي. یانې که دا دوه یا دري نوماندان ناوړه او نالایقه هم وي، خو وګړي اړ دي چي د دوی د منځ څخه یو وټاکي، چي دا خپله د رایي ورکولو سیستم بې مانا کوي. د یو شمیر پوهانو په اند ډیموکراسي د حکومت هغه بڼه ده، چي پسونو ته د شپانه د ټاکلو حق ورکول کیږي او خلک بیا هم پسونه پاته کیږي.

۱۵ . **د پریکړو پیچلتیا**؛ ډیموکراسي د دري ګونو قواوو پر بیلتون او جلاوالي باندي باور لري، چي دا بیلتون د حکومت د پریکړو د ځنډیدو او پیچلتیا لامل ګرځي. هر کله چي حکومت د یوه کار په اړه مشوري پیل کړي،نو پریکړه یې زیات وخت وروسته لاسته راځي. پداسي حال کي چي په دیکتاتوري او نورو نظامونو کي بیا واک یوالی لري او هره پریکړه ډیر ژر کیږي.

(بریس) چي د نړۍ د ډیموکراسیو په اړه څیړنه کړیده، د ډیموکراسیو نیمګړتیاوي په لاندي ډول په ګوته کوي: ۱) د پیسو واک د مقننې او اجرایې قوي د کارونو د مخنیو لامل ګرځي، ۲) سیاست د ګټې د لاسته راوړلو لپاره په یوي الي باندي بدلیږي، ۳) د هېواد د ټولو د کتورینو څخه یوشان ګټه نه اخیستل کیږي.

د ډیموکراسی نیمګړتیاوو ته په کتو سره سړی داسي فکر کوي، چي ډیموکراسي لا تر اوسه د پیاوړتیا پولي ته نده رسیدلي.

**د ډیموکراسۍ تاریخ:**

د ډیموکراسۍ مخینه د بشر په تاریخ کي ډیري اوږدي ریښې لري، خو په اوسنۍ مانا سره د نولسمي او شلمي پیړیو لاسته راوړنه ده، په همدي پیړیو کي د حکومت په بڼه په اروپا ، امریکا ،اسیا او افریقا کي رامنځته سول.

که څه هم ولسواکي د سياسي فلسفي ډيره لرغوني اصطلاح ده، خو تراوسه يې خپل تازه والی د لاسه ندی ورکړی او حتا په ځېنو سيمو کي تازه سياسي ډګر ته ورننوتلي ده. د ډيموکراسۍ بهير په اوسنۍ نړۍ کي ډير ګرم دی او په هغو حکومتونو کي چي د دي ډول اصولو ملاتړي وي، ډير ارزښت لري، له همدي کبله د ډيموکراسۍ اصطلاح په سياسي فلسفه کي ډير ارزښت لري.

څيړونکو او پوهانو د ډيموکراسۍ تاريخ د لرغوني سومر په تاريخي مخېنه کي د زيږديز کال څخه مخکي لټوي، دوی داسي اسناد پيداکړيدي، چي د ډيموکراسۍ ځېني نښي په لرغونو ټولنو کي هم تر سترګو کيږي. (ياکوبسن) په خپل کتاب (د فلسفي څخه مخکنۍ عصر) کي ليکي ((د سومر په لرغوني ډيموکراسۍ کي لوړ سياسي قدرت د ښار د عمومي ټولني په لاس کي و، چي د ټولنو ازادو بالغو وګړو څخه جوړه وه. په ټوليز ډول د ښار ټول کارونه د اداري مامورينو لخوا اداره کيدل، همدارنګه د ښار ټول مهم کارونه هم د خلکو لخوا سرته رسيدل.

يو بل څيړونکی د سپنسر په نامه ليکي ((د سومر د ښار عمومي غونډه چي تاريخي ارزښت لري، د مشورو او مصلحت پر بنسټ ولاړه وه... دي ښاري ټولني سياسي قدرت محدود وی او داسي اصل شتون درلودی، ترڅو چي د ښاري ټولني لخوا کوم کار نه وي تايد سوی بايد اجرا نسي. سومريانو دا کار د فردي واکمنۍ پر وړاندي د ښاري خپلواکۍ ساتنه غوښتل.

د پورته څرګندونو څخه معلوميږي، چي ډيموکراسي خپل تاريخ د ډيرو لرغونو زمانو څخه راپيلوي، د سومريانو څخه وروسته په

لرغـوني یونـان کـې هـم د ډیموکراسۍ لپاره کار سویدی، پـه لرغـوني یونان کې د زیږدیز کال څخه مخکې د افلاطون او ارسطو پـه اندونو کې تر سترګو کیږي.

خو هغـه ډیموکراسي چې مـوږ یې پیژنـو د نولسـمې او شلمې پیـړۍ لاسته راوړنه ده، پـه اروپا کې د رنسانس څخه وروسته ډیموکراسي منظم شکل غوره کړ.

پـه لرغـوني یونـان کـې غیـري مسـتقیمه ډیموکراسي پلې کیـدل، پـه غیري مستقیمې ډیموکراسۍ کې د مهمو سیاسي موضوعاتو پـه اړه د خلکو ښکاره نظرونه کتل کیږي، خلک پـه یوه ځای کې راټولیږي او بیا د مهمو سیاسي موضوعاتو پـه اړه نظر ورکوي. پـه همغـو وختونـو کـې د ښارونو نفـوس کم و او کیـدای سـول، چې وګړي پـه یـوه ځای کـې سره راټول سي. خو کله چې نفـوس پـر زیاتیـدو سو بیـا نـو د یـوه ښـار یـا یـوه هېـواد د ټولـو خلکـو راټولـول ناشـوني خبـره وه، لـه همدې کبلـه غیـري مسـتقیمه ډیموکراسي پلې کیـدل. نـو پـه اوسنیو وختونـو کـې غیـري مسـتقیمه ډیموکراسي پلې کیـږي او د نـړۍ زیـاتره دولتونـه یـې پلـې کوي.

**پـه ډیموکراسۍ کې د اپوزیسیون ونډه**

پـه پارلماني ډیموکراسۍ کې اپوزیسیون ډیر اغیزناکـه رول لري او د واکمن ګوند د استبداد او خپلسري حکومت مخـه نیسـي. اپوزیسـیون هڅه کوي چې د واکمن ګوند واکونه پـه خپـل چوکاټ کې وساتي او د سرغړوني پـه صورت کې یې د خلکـو پـه منځ بربنډ کړي، همدارنګـه اپوزیسـیون پـه حکومـت کـې د ننـه نیمګړتیاوو تـه ګوتـه نیسـي او پـه حکومت کې اصلاحوالی منځته راوړي. پـه پارلماني ډیموکراسۍ کـې

مقننه قوه او اجرايه قوه د يوه ګوند تر اغيز لاندي وي ياني هغه ګوند چي په پارلماني ټاکنو کي اکثريت وګټي نو کابينه هم د هغه ګوند څخه ټاکل کيږي، خو کله چي د حکومت داسي قوانين مقنني قوي ته وړاندي کړي چي هغه د اولس په زيان او د واکمنو په ګټه وي، نو اپوزيسيون پدي وخت کي د دي ډول قوانينو مخه نيسي او پر وړاندي يي غبرګون ښئ. سربيره پردي که چيري اپوزيسيون په کابينه کي د واکمن ګوند د وزيرانو کمزوري او نيمګړتياوي په ګوته کړي نو واکمن ګوند نسي کولای، چي خپلسری حکومت وکړي. د اپوزيسيون مشر هم د واکمن لومړي وزير په شان او اپوزيسيون هم د واکمن حکومت ځای ناستی دي او د حکومت په شان دی.

په انګلستان کي د اپوزيسيون مشر د واکمني کابيني د يوه وزير په شان ارزښت لري او د ملي خزاني څخه اپوزيسيون ته حقوق او ونډه ورکول کيږي. په عمومي ډول لومړی وزير په مهمو کارونو کي د اپوزيسيون د مشر سره مشوره کوي. په لنډ ډول ويلای سو، چي سالم اپوزيسيون د ډيموکراسۍ روح دی، او دا ډول اپوزيسيون کولای سي، چي په ډيموکراسۍ کي کاروکړي.

په رياستي ډيموکراسۍ لکه امريکا کي هم اپوزيسيون کولای سي، چي د ولسمشر د خپلسرو پروازونو او کارونو مخه ونيسي او د ولسمشر د استبداد او خپلسرۍ پر وړاندي مبارزه وکړي. پر همدي بنسټ ويلای سو، چي که رياستي يا پارلماني ډيموکراسي وي، بيله اپوزيسيون څخه ژوند نسي کولای او هغه وخت د حکومت مشر د ډيموکراټ مشر په توګه کيدای سي، چي اپوزيسيون يې د توري په شان پر سر باندي راځوړند وي.

# راډیکالیزم[1]

د راډیکال ویې د (ریډیکس[2]) څخه اخیستل سوی ده، چې مانا یې ریښه او بنسټ ده، نو راډیکالیزم د هغه سیاسي مکتب نوم دی، چې په سیاسي او ټولنیزو چارو کي بنسټیز او ریښوي بدلون غواړي. دا ډول عقاید په هغو حالاتو کي ډیر جدي وي، چې ټولنه دا ډول بدلون ته بنسټیزه اړتیا ولري. د دي عقاید د پلویانو په اند د ټولني په هر اړخیزو چارو کي باید سمدستي او پریکړنده بدلون رامنځته کړل سي؛ ځکه چې په ټولنه کي اصلاحاتو ته اړتیا لري او د وخت په پام کي نیولو سره باید دریغ غوره کړي.

په پراخه مانا سره راډیکالیزم د هغو خلکو تګلاره ده، چې په هر اړخیزو چارو کي غوڅ او بنسټیز بدلون غواړي. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په (۱۹ز) پیړۍ کي د انګریزي لیبرالانو لخوا و کارول سول، ددوی موخه داوه، چې کلیسا باید بنسټیز او ریښتنی واک ولري او د اشرافو جرګي دي له منځه ولاړي سي. په یو شمیر اړخونو کي دوی د سلطنت له منځه وړل هم غوښتل. د (۱۹ز) پیړۍ په پای کي جمهوري

(1) - Radicalism

(2) -Radix

راډیکالیزم د انګریزانو په منځني پوړ (پاړکي) کي ځای پیدا کړ او دا اصطلا د پرمختللې سیاسي لیبرالیزم په اړه وکارول سول، چي هغه ته یې کیڼ اړخي ډله هم ویل.

ددې ترڅنګ د بورژوازۍ راډیکالیزم اصطلاح هم رواج پیدا کړ او د داسي سیاسي جوړښت په اړه یې اندونه وړاندي کړل، چي خپل ټول ډموکراټیکې هڅې د سرمایه دارۍ دوران په چوکاټ کي سرته ورسوي او د بورژوازۍ پوړ دګټو ساتندویه وي.

د راډیکال (راډیکالیست) اصطلاح د هغه چا لپاره کارول کیږي، چي د روانو ټولنیزو او سیاسي چارو څخه سرټکې وي او پدې برخوکې سمدستي او بنسټیز بدلون غواړي. د راډیکال په اند روانو حالاتو ته باید بدلون ورکړل سي او دا ټولنیزي چاري باید تر دې هم ښه سي. په یوې ټولنه کي هغه چاته راډیکال ویل کیږي، چي د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي حالاتو بنسټیزه اصلاح غواړي. راډیکالان په ټولیز ډول د بیوزله او ناتوانه پوړ په ملاتړ د شتمنو خلکو او چارواکو پر وړاندي مبارزه کوي. د نوې راډیکالیزم اصطلاح لومړی په (۱۸ز) پیړۍ کي په فرانسه کي او وروسته په بریټانیا کي دود سول او وروسته په امریکا کي (توماس پاین) ددې اندونو څخه ملاتړ وکړ.

په انګلستان کي لیبرال افراطیان چي د (جمز فاکس) تر مشرۍ لاندي یې هڅې کولې د راډیکال په نوم یاد سول، خو په امریکا کي نن ورځ دا اصطلاح د سوسالیستانو او کمونیستانو لپاره کارول کیږي. پداسي حال کي چي په اروپا کي دا اصطلاح د اصلاح غوښتونکو (رفورمیستانو) لپاره کارول کیده او اصلاح غوښتونکې په ټولیز ډول اعتدال غوښتونکې لیبرالانو وه، چي په منځني پوړ پوري یې اړه

درلوده لکه د فرانسي راډيکال سوسياليست ګوند او يا د انګلستان د لیبرال ګوند.

دا اصطلاح نن ورځ نه يوازي د سياست په ډګر کي کارول کیږي، بلکې په زياتو سيمو کي د افرطيانو لپاره هم کاريږي. ددي ترڅنګ د ډموکراټیک راډيکاليزم اصطلاح بيا د افراطي ډموکراسی لپاره کارول کيږي، دا دهغه غورځنګ نوم دی، چي په (۱۷ز) پيړۍ کي په انګلستان کي رامنځته سو او په پای کي د لولرانو په ګوند باندي وپيژندل سو.

# رياليزم[1]

د رياليزم د اصطلاح ريښه د (ريل[2]) څخه اخيستل سويده، چي د واقعيت او رښتيا مانا لري. دا اصطلاح په زياتو برخو کي د ايډياليزم پر وړاندي کارول کيږي[3]. رياليزم تل د وګړو ترمنځ ټولنيزي اړيکي او سياسي تلنلاري د واقعيت پر بنسټ لولي، نه دا سي چي بايد ((دا سي واى)). ياني په رياليزم کي هرهغه څه چي رښتيا وي او عملي بڼه ولري مطالعه کيږي. د رياليستانو په آند سياسي اړيکي بايد د رښتيا پر بنسټ ترسره سي. دوى د خيال او خيالي سياسي ژوند سره په ټکر کي دي، له همدي کبله د ايډياليستانو خيالونه او ايډيالونه د واقعيت څخه ليري ګڼي[4].

رياليزم د سياست ترڅنګ په هنر، ادب او فلسفي کي هم کارول کيږي، چي په ټولو برخو کي د رښتيا او واقعيت پلوي کوي. سياستوال زياتره وخت هغو خلکو ته رياليستان وايي، چي سياست

---

[1] - Realism.

[2] - Real.

[3]- عبدالرسول بيات و جمع نويسنده ګان، فرهنګ واژه ها ،۱۳۸۱ش، ص ۲۸۹

[4]- علي اقابخشي و مينو افشاري راد، فرهنګ علوم سياسى، ۱۳۸۲ش، ص۵۲۹

یـوازي د واک د لاسـته راوړلـو او سـاتلو پـه موخـه کـاروي. پـر همـدي بنسټ ریالیزم د ګټو په موخه کارول کیږي او ریښتنی کار او عمل هغـه دی، چې د ګټو دلاسته راوړلو په موخه تر سره سي، چې دا ډول تلنلاره پخپله د طبیعي قانون څخه سرچینه اخلي.

په معمولي ډول سیاسي ریالیستان د خیالي سیاستوالو پـر وړانـدي دریځ لـري او خیـالي سیاسـتوال اخـلاق او الهـي قـوانین تـر واک او سیاست لوړ ګڼي[1].

د ریالیستانو په آند دولت د نړیوالو اړیکو تر ټولـو مهـم لوبغـاړی دی او نور حقوقي شخصیتونه پـه نړیوالـو اړیکـو کـي د دولتونـو تـرمنځ پـه چوکاټ کي لـوبیږي. یـو شـمېر ریالیسـتان د بهرنـي او کـورني سیاست تـرمنځ پـر تـوپېر بانـدي بـاوري دي، ددوی پـه آنـد د بهرنـي او کـورني سیاسـت تـرمنځ تـوپیر پـدي کـي دی، چـي بهرنـۍ سیاسـت د غیـري اقتداري مرکز په حالت کي فعالیت کوي، پداسي حال کي چي کورنۍ سیاست بیا د ځانګړي کورني اقتدار پر بنسټ د نظم پـه فضـا کـي عمـل کـوي. همدارنګـه ریالیسـتان د ټیکـاو پـر ټینګښـت بانـدي بـاوري دي، دوی وایـي کـه چیـري دولـت د ټیکـاو او امنیـت پـر ټینګښـت بانـدي برلاسۍ نسي نو هیڅ کار هم نسـي کـولای. د همـدي شـرایطو پـه رڼـا کـي نظـامي ځـواک د ډیپلوماسـۍ، بهرنـي سیاسـت او ملـي امنیـت پـه ټینګښت کي اړین ګڼل کیږي. همدارنګه د نظامي ځواک او اقتصادي ځواک په پرتلني سره اقتصادي ځواک د ملي امنیت په ټینګښت کي تـر نظامي ځواک کم رول لري. ددي آند پلویان داسي دلیـل وړانـدي کـوي، چي د تاریخ په اوږدو کي وګړي ځان غوښتونکي او ځانپاله پیدا سوي

[1]- عبدالرسول بیات و جمع نویسنده گان، فرهنگ واژه ها ،۱۳۸۱ش، ص۲۹۴

دي، نو له همدي کبله ددوی د ځانپالني د مهار کولو لپاره نظامي ځواک اړین ګڼل کیږي.

د نړیوالې سولې او ټیکاو په اړه ریالیستان داسي نظر لري، که چیري نړیوالو سازمانونو او نړیوالو حقوقو ونسوه کولای، چي سوله او ټیکارو رامنځته کړي، نو دولتونه باید خپل قدرتونه راکم کړي او په نړیواله کچه باید د دوی په قدرتونو کي توازن راسي، چي پر همدي بنسټ سوله او ټیکاو رامنځته کیدای سي. د دوی په آند ددي ډول شرایطو د برابرولو لپاره هغه دولتونه چي خپلمنځی اتحاد لري، ډیر اغیزمن رول لري.

همدارنګه ریالیستان تاریخ ته په ډیره محافظه کارانه توګه ګوري او د اوسني سیاست پر ساتني باندي ټینګار کوي. پر دي سربېره دوی نړیوال سیاست د مذاکري، سولې او خبرو اترو صحنه ګڼي او ډیپلوماسي ددي د ثبات لپاره غوره لار ګڼل کیږي.

**د ریالیزم بنسټیز اصول**:

د ریالیزم بنسټیز اصول د دولت مشری، بقا او ځانیاری (ځانواکی) باندي ویشلای سو:

**الف- دولت مشري (دولت سالارۍ)**:

د ریالیزم پر بنسټ د دولت مفهوم د زور د کارونې سره مل دی، چي دا اصل د ماکس وبر د نامتو تعریف څخه په ښه توګه څرګندیږي. پر دي بنسټ دولت په خپل قلمرو کي د مشروع واک د کارونې انحصار ته ویل کیږي. پدي حالت کي دولت د پیاوړې ځواک په لرلو سره په خپل قلمرو کي قوانین پلي کوي، چي دا واک دولت ته په نالیکلي بڼه ورکړل سوی دی یانې دا ډول ترون د وګړو او دولت ترمنځ په غیري لیکلي

بنې سره سوی دی، ترڅو دولت د قوانینو د پلي کولو او خپلو موخو ته د رسیدلو لپاره پیاوړی ځواک ولري. ددي یادونه باید وکړو، چي پدي ځای کي خپلواکي د امنیت او ټیکاو په ټینګښت سره حقیقت موندلای سي. یانې کله چي امنیت او ټیکاو پیاوړی سو، نو مدني ټولنه منځته راځي خو د امنیت په نه شتون کي هنر، کلتور او ټولنه خپله مانا د لاسه ورکوي. له همدي کبله د ریالیزم لومړی ګام د دولت د کورني قدرت ترتیب او تنظیم دی.

دولت په کورنیو چارو کي د مرکزي اقتدار لرونکی دی او د بهرني سیاست په برخه کي بیا مرکزي اقتدار شتون نلري. یانې په نړیواله کچه داسي مرکزي اقتدار شتون نلري، چي نړیوال سیاست اداره کړي. له همدي کبله په نړیواله صحنه کي د دولتونو ترمنځ د قدرتونو سیالي شتون لري، چي کله ناکله د همدي قدرتونو په ټکر سره جګړې رامنځته کیږي او نړیوال ټیکاو د ګواښ سره مخ کیږي.

**ب- د پایښت (بقا) اصل:**

د ملي موخو د لاسته راوړلو لپاره پایښت (بقا) اړینه ګڼل کیږي. کله ناکله دا ډول پایښت د ملي قدرت د لاسته راوړلو لپاره وي او کله بیا د خپلي خپلواکۍ د ساتني لپاره. د هنري کیسینجر په آند د دولت لومړنې مسؤلیتونه او موخي د دولت بقا او پایښت ګڼل کیږي او هیڅکله دولت نسي کولای چي هغه په خطر کي واچوي او یا د هغه پر سر باندي معامله وکړي.

**ج- د ځانیارۍ (ځانواکۍ) اصل:**

ددي اصل پر بنسټ هیڅ دولت نسي کولای، چي د بل دولت په زور او مټ باندي خپل پایښت او بقا وساتي. په نړیواله کچه د یو ځانګړې

نظام او مرکزیت په نه شتون سره دولتونه په نامعلومه حالت کې ژوند کوي. خو دولتونه په خپلو منځونو کې د ښو اړیکو او منظم ژوند د کولو لپاره باید خپلمنځې قدرتونه سره مساوې کړي. همدارنګه هغه لوی دولتونه چي په نړیواله کچه د زیاتې ګټې لاسته راوړنکې دي هغه په نړیوالو مسایلو کې زیاته مرسته او همکارې نه کوي.

د ریالیستانو په آند د ځانواکه او ځانیاره دولتونو ترمنځ د قدرت مساوي والی رامنځته کیږي، که څه هم د قدرتونو مساوي والی د باثباته حالت ښکارندوی ندی خو کولای سي، چي جګړې او یا سولې پر مهال اغیزناکه تمام سي. همدارنګه ریالیستان پدي آند دي، چي دولتونه کولای سي، چي په ځانګړو حالاتو کې د همکاریو او مرستو زمینه برابره کړي، چي پدي برخه کې د لیبرالانو سره په یوه نظر دي، خو په همدي وخت کې بیا وایې چي دا به ډیره ستونزمنه وي، چي په ځانواکه او ځانیاره نظام کې د همکاریو لړۍ دوام وکړي.

**نیو ریالیزم (نوی ریالیزم)** :

ریالیزم په ۱۹۸۰ لسیزه کې د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د سړې جګړې پر مهال یوه نوې دورته ورننوتۍ او نوی ژوند یې پیل کړ. نیو ریالیزم د پخوانې ریالیزم په شان دولت د نړیوال سیاست اصلي لوبغاړی ګڼې. د نیو ریالیزم مخکښانو ګُنت او التز هڅه وکړه چي نیو ریالیزم د یوي رسمي نظریي پر بنسټ و پېژني.

نیو ریالیزم سربېره پر دي، چي د ملي قدرت د مرکزي اقتدار په اړه خبري کوي، د دي ترڅنګ د نړیوال سیاست تحلیل هم کوي او وایې چي د نړیوال نظام جوړښت د لوبې ډولونه او قواعد ټاکې.

# ریټارشي[1]

ریټارشي د لرغوني یوناني ژبي د دو کلمو یانې (قاضي) او (واکمني) څخه جوړه سویده، چي مانا یې د قاضي واکمني ده. دا اصطلاح د هغه سیاسي رژیم لپاره کارول کیږي، چي قاضي پکښې واکمن وي او یا تر ډیره بریده واک د قاضي په لاس کي وي.

دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په لرغوني اسرایل کي د (قاضیانو په کتاب) کي و کارول سول او د قاضیانو حکومت ته یې ریټارشي وویل.

د دي ډول سیاسي رژیم معاصري بیلګي په سومالیا او یو شمیر نورو ټولنو کي تر سترګو کیږي، چي د سومالیا په سیاسي رژیم کي تر ډیره بریده قاضي واکمن دی. همدا رنګه کله ناکله دا اصطلاح اسلامي سیاسي رژیم ته هم کارول کیږي، ځکه چي په اسلامي حکومت کي شریعت واکمن وي او د بشپړ عدالت پر بنسټ واک پلی کیږي له همدي کبله محکمه او قاضي پکښې زیات واک لري[2].

---

[1] - Ritarchy.

[2] - English Social Wikipedea (انګریزي ټولنیز پوهنغونډ)

# زرغون دولت[1]

د زرغـون دولـت فرضـیه د لـومړي ځـل د پـاره پـه (۲۰۰۴ز) کـال کـي د استرالیا د ملبورن پوهنتون د سیاسي علومو د پوهنځی استادي اغلي (رابین ایکرسلي[2]) په خپـل غیـري افسـانوي کتـاب (زرغـون دولـت[3]) کي وړاندي کړه، چي د دي کتاب بنسټیزه موضـوع پـر ډیموکراسۍ او واکمنۍ باندي بیا کتنه ده.

اغلـي ایکرسـلي د زرغـون دولـت (زرغـون ډیموکراټیـک) دولـت د جوړیدو لپاره یوه (چاپیریالي انتقـادي سیاسي) فرضـیه وړانـدي کـړه. ایکرسلي زرغون دولـت هغـه سیاسـي ررژیـم (ډیموکراټیـک حکومـت) ته وایي، چي د قوانینو جوړښت او ډیموکراټیکـه لـړۍ یـې د چاپیریـال پوهني د ارونو پر بنسټ ولاړ وي، چي دیته چاپیریالي ډیموکراسي هم

---

[1] - Green State.

[2] - Robyn Eckersley د سیاست پوهني دوکتورا لري او اوس د استرالیا د ملبورن پوهنتون د سیاست پوهني او ټولنپوهني د برخي مشره ده. دا پخوا یوه عـادي مدافع وکښـیله او پـه موناش پوهنتـون کي تـر ۲۰۰۱ کـال پـوري مدریسـه وه. دي د لویـدیځي استرالیا او کمبریج په پوهنتونو کي زده کـړي کـړیدي او د تازمانیا پـه پوهنتـون کي یـې دوکتـورا اخیسـتي ده. ایکرسـلي د سیاسـي انـدونو پـه برخـه کـي د چـاپیرالي سیاست په رشته کي کار کوي.

[3] - Green State.

وايـې. د زرغـون دولـت انـد د ليبـرال ډيموکراټيـک، خيـر ښـيګڼې او نيوليبرال دولت په نسبت تکاملي اند دی.

ايکرسلي ددي فرضي لپاره سياسي اندونه وړاندي کړيدي، خو ثبوت يې تر زياته بريده د چاپېريالي سياست پر ارونو باندي ولاړ دی[1].

[1] - English Social wikipedea. (انګليسي ټولنيز پوهنغونډ)

# سانټرالیزم[1]

سانټرالیزم د لغت له اړخه د مرکزیت په مانا دی او په اصطلاحي بڼه هغې تلنلارې ته ویل کیږي، چې د حکومت او دولت ټولې چارې په مرکز پورې تړې او نه غواړي، چې حکومت غیري مرکزي یانې ایالتي بڼه ولري. دا اصطلاح د پرونشیلیزم پر وړاندې دریځ لري، پروینشلیزم هغې تلنلارې ته ویل کیږي، چې واک د بېلابېلو درجو او ډلبندۍ له مخې د ولایتونو په واک کې ورکوي.

په معاصر تاریخ کې د سانټرالیزم غوره بېلګه د آلمان هټلري رژیم دی، چې ایالتي واکونه پکې ډیر کم وه. پر آلمان سربېره د ایټالیا فاشیستي رژیم هم پدې آند و، چې پروینشلیزم نور زوړ سوی دی او باید د سانټرالیزم ملاتړ وکړو.

همدارنګه سانټرالیزم د ډ سانټرالیزم او ډ پارټمانټالیزم پر وړاندې هم دریځ لري، په ډ سانټرالیزم کې پر دې باندې ټینګار کیږي، چې واک باید د مرکز څخه ایالتونو او ولایتونو ته ورکړل سي او ایالتي او ولایتي سیاسي رژیم باید واکمن سي. همدارنګه ډیپارټمانټالیزم بیا

[1] -Centralism.

هغـه سیاسـي رژیـم تـه ویـل کیـږي، چې هـر ایالـت او ډیپارټمنټ تـه پـه کورنیو چارو کې څه ناڅه خپلواکي ورکوي.

سانټرالیزم پر حکومت سربېره د ګوندونو د جوړښت لپاره هم کارول کیـږي، چـې دا ډول جوړښـت پـه کـارګري ګونـدونو کـې ډیـر تـر سترګو کیږي، چې د ګوند د مشر او سیمه ییزو جوړښتونو ترمنځ پر اړیکو او واکونو باندي بحث کوي. هغه ګوندونه چې دارنګه جوړښت لري، په هغو کې ټول سیمه یز اورګانونه مرکز ته راپور ورکوي او د مرکز تابع وي. د ګوند ټولي سیمه ییزي څانګي د مرکزي کمیټې امر مني. د مارکسیستانو په آند د پرولتاریا دیکتاتوري هم د سانټرالیزم پر بنسټ ټینګښت موندلی دی. د ډیموکراټیک سانټرالیزم پر بنسټ هر ګوند باید خپل عقایدو ته مرکزیت ورکړي او سیاست او مشرتوب باید د مرکز له لوري پلی سي[1].

[1]- فرهنګ سیاسي آرش او مکتب های سیاسي.

# ستراتوکراسي[1]

ستراتوکراسي د يوناني ژبې د (ستراتوس[2]) ياني فوځ او کراتوس ياني حکومت څخه جوړه اصطلاح ده، چې هغه سياسي رژيم ته ويل کيږي، چې د فوځي مشرانو او نظامي واکمنانو لخوا اداره کيږي.

د ستراتوکراسۍ اصطلاح د نظامي ديکتاتورۍ سره توپير لري، په نظامي ديکتاتورۍ کي واکمني او حکومت يوازي تر نظامي قوانينو لاندي اداره کيږي، خو په ستراتوکراسۍ کي بيا دولت او فوځ دواړه په کلتوري لحاظ يو ګڼل کيږي او ټولې دولتي چوکۍ د فوځي مشرانو لخوا نيول سوي وي. همدارنګه پدي سياسي رژيم کي د فوځي سياسي واک ټينګښت هم په قوانينو کي منل سوی وي او هم د ټولني لخوا يې ملاتړ کيږي. دا اړينه نده، چې ستراتوکراسي دي ارومرو استبدادي حکومت وي، بلکي شوني ده، چې پر ډيموکراټيکو ارزښتونو باندي ولاړ حکومت وي او ياهم د ټولنيزو ستونزو د هوارۍ په موخه او هم د خپلو موخو دلاسته راوړلو لپاره د زور او واک څخه ګټه واخلي.

---

[1] -Stratocracy.

[2] -Stratos.

له تاریخي اړخه د ستراتوکراسۍ اصطلاح په لرغوني یونان کې د روم جمهوریت ته کارول کیده او وروسته د معاصرو امپراتوریو لپاره هم کارول کیده، چې د فوځي او ملکي دفترونو ترمنځ یې کوم توپیر او واټن شتون نه درلودی. پدې ډول امپراتوریو کې د حکومت د چارواکو لپاره فوځي پرمختګ او تجربه اړینه ګڼل کیده او هغه چا به واک په لاس کې اخیستی چې تر نورو به یې غوره فوځي تجربه او پرمختګ درلودی.

د ستراتوکراسۍ معاصره بیلګه د میانمار د سولي او پرمختګ شوراییې دولت دی، چې د نورو فوځي دیکتاتوریو سره بشپړ توپیر لري او تر زیاته بریده پکښې مدني قوانین او مقننه قوه ځواکمن دي. خو د ۲۰۱۰ کال څخه وروسته نظامي واکمنانو واک په لاس کې اخیستی دی او په مقننه قوه کې یې ۲۵٪ چوکۍ د ځان کړي دي، تر څو په بشپړ ډول دولتي چوکۍ د نظامي پرسونل په لاس کې ورکړي[1].

[1] - English Wikipedia and Britanica Encyclopedia.

# ستویکیزم[1] (رواقیان)

د (ستویک[2]) لغوي مانا صبرناکه او زغم لرونکې ده او ستویکیزم د صبر او زغم فلسفي تـه ویـل کیـږي. ځیني وخت دي فلسفي تـه د رواق (رواقیانو) نوم هم کارول کیږي؛ دا ځکه یې رواقیان بولي، چې رواق د چتری (سایوان) په مانا دی او کله چې بـه دوی غونډي جوړولي نو تـر رنګـه چتـری لانـدي بـه کښېنا ستل او د (زنـو) تـر مشـری لانـدي بـه یې غونډي جوړولې.

دا فلسفه د رومي کلتور د غوړیدو[3] په وخت کي د (زنو) لخوا پـه آتـن کـي رامنځتـه سـول. دا سیاسـي مکتـب د آتـن د څلـور لویـو سیاسـي مکتبونو د ډلي څخه و، چې پر زنو سربیره زیاتو نورو فیلسـوفانو کـار پکښي کړی دی او پدي اړوند یې اندونه وړاندي کړیدي.

دا فلسـفه پـه نړیوالـه کچـه د زیـات ارزښـت درلـودونکي ده، د دي اندونو پر بنسټ انسان بایـد د یوي نړیـوالي ټولني غړی وه اوسي او د نړیـوالي ټـولني ټـول قـوانین او ارونـه پـه خپـل ژونـد کـي پلـي کـړي.

---

[1] - Stoicism

[2] -Stoic

[3]- د رومي کلتور د غوړیدو دوره د زیږدیز کال څخه ۳۳۰ کاله مخکې پیلیږي، بیا د مقدوني سکندر تر مړیني پوري، یانې د زیږدیز کال څخه ۳۰ کاله مخکې پوري.

همدارنګـه دوی پـر نړیـوالي ټـولني بانـدي طبیعـي حقـوق او قـوانین واکمن بولي او داسي دلیل وړاندي کوي، چي د انسان د ټولنیز ژوند د نظم لپاره طبیعي قوانین شتون لري، دا طبیعـي قـوانین ټـول انسـانان د یـوي لـوی نړیـوالي ټـولني پـه چوکـاټ کـي اداره کـوي. پـر دي سـربیره انسانان باید پـه ګډه سره د نړیوالي ټولني په چارو کي برخه واخلي او د انسانانو فکري ځواکونه باید سره همغاړي سي ترڅو د چارو پـه تـر سـره کولو کي اغیزناکه تمام سي. دا فلسـفه پـر دي سـربیره ځینـي ارونـه هـم لري، چي په لاندي ډول به وربانـدي لنډي خبري وکړو:

**۱ – کلکتېویزم**:

تـر دي ار لانـدي ستهویکنبـیزم داسي بـاور لـري، چي د وګـړو ګټـي پـه نړیوالي ټولني کي شتون لري نه په ملي دولت کي، وګـړي بایـد پـه ګـډه د ژونـد پـه ټولـو چـارو کـي لاسـونه سـره ورکـړي ترڅـو روانـي چـاري د طبیعي حقوقو په چوکاټ کي سرته ورسوي او د وګړو پـر ژونـد بانـدي باید یوازي نړیواله ټولنه بر لاسي وه اوسي.

**۲- انټرنیشنلیزم**:

خلـک پـه طبیعـي ډول د یـوي نړیـوالي ټـولني غوښـتونکي دي، دا د وګړو طبیعي غوښتنه ده، چي یو د بل په څنګ کي ژوند سره وکړي او ټول وګړي د کوچنیو دولتونو پر ځای د یوي عمومي ټولني غړیتوب تـر لاسه کړي. کله چي وګـړي د یـوي عمـومي ټـولني غـړي سـي نـو د هغـي ټـولني ټـول امرونـه او ارونـه منـي او د هغـه منـل پـر ځـان بانـدي اړیـن ګرځوي.

**۳- ورورولۍ او مساوات:**

د وګړو ترمنځ هیڅ ذاتي توپیر نسته، د ټولو حقوق سره مساوي دي او یو پر بل لوړوالی نلري. مال، مقام، توکم او کلتور د دې لاملونه نسي کیدای، چې یو انسان پر بل انسان باندې لوړوالی او غوره توب پیداکړي، بلکي د وګړو طبیعي ارزښت ته باید درناوی وسي.

**۴- قانون:**

د وګړو د ټولو ټولنو (دولتونو) قوانین باید د نړیوالي ټولني د عمومي قانون او طبیعي قانون سره ورته والی ولري. همدارنګه هره ټولنه باید په خپلو چارو کي نړیوال ارونه (اصول) پلي کړي او د خپل ژوند ټول قوانین د طبیعي قانون په رڼا کې جوړ کړي.

**۵- ټولنه:**

لکه پورته چي مو یادونه وکړه رواقیان ځانګیزي (فرعي) ټولني نه مني او یوازي د یوې نړیوالي ټولني د جوړیدو غوښتنه کوي.

**۶- انساني ارزښت:**

د انسان ارزښت او درناوی باید څوک د مال، مقام، توکم، نسب او کلتور پربنسټ ونکړي، بلکي د انسان هغه ارزښت باید ومنل سي، کوم چي طبیعت ورکړی وي. انسان یو ډیر ارزښتناکه طبیعي پیدا ایښت دی.

**۷- توکم (نژاد):**

انسانان ټول د یوه توکم لرونکې دي، چي هغه پخپله د انسانیت توکم دی. په انسانانو کي توکمیز توپیرونه نسته او دکو چنیو ډلو توکم د ارزښت وړ ندی.

**۸- تقوا:**

تقوا په کوم پوړ (طبقي) پوري اړه نلري، بلکې د نړۍ هر وګړی کولای سي، چي تقوا لرونکی او پرهیزګاره وه اوسي او د انسان تر ټولو ښه تقوا ټولنیزي ښیګڼي دي. یانې هغه انسان تقوا لرونکی دی، چي په ټولنه کي د خېر او ښیګڼي لپاره کار کوي.

**۹- اتیېزم:**

د لومړی دوري رواقیان د الله تعالي د شتون څخه منکر وه او پدي اند وه، چي (العیاذ باالله) الله تعالي شتون نلري.

**۱۰- ماټریالیزم:**

ماټریالیزم مادیت پالني او مادي فلسفي عقیده لرولو ته ویل کیږي، چي رواقیان هم ددي ډول عقایدو لرونکې وه.

**۱۱- پوزي ټیوزم:**

پوزي ټیوزم بیا هغه باورونو او عقایدو ته ویل کیږي، چي یوازي پر هغو شیانو باندي باور درلودل چي په لاس باندي لمس او په سترګو باندي ولیدل سي، چي رواقیان هم ددي ډول عقایدو لرونکې وه.

**۱۲- نا هیلي:**

رواقیان خپلو پیروانو ته د ناهیلی د له منځه وړلو سپارښتنه کوي، یانې وګړي باید ناهیلې نسي. دوی وایې انسان باید تل هڅه وکړي، چي د خپل ژوند چاري په ښه ډول پر مخ بوزي او د سختیو پر وړاندي، صبر، زغم او حوصله ولري.

**۱۳- طبیعي حقوق:**

لکه پورته چي مو اشاره وکړه رواقیان طبیعي حقوقو ته عقیده لري او هغه د انسان پر ژوند باندي برلاسي بولي.

دوی په ټولیز ډول په ټولنیز ژوند کي پوهه او علم غوا ړي او انسانانو ته دا وړاندیز کوي، چي خپلي ټولي چاري باید د پوهي او علم پر بنسټ تر سره کړي. په منطقي دلایلو کي دوی ځواکمن استدلال د پوهي پر بنسټ بولي. همدارنګه رواقیان د مادیت فلسفي ته عقیده لري او وایي، چي د نړۍ په طبیعي قانون کي د انسانانو د کنټرول او نظم لپاره ارونه (اصول) ستهٔ. همدارنګه دا د وګړو طبیعي غوښتنه ده، چي د طبیعت د قانون تر سیوري لاندي ژوند وکړي.

دوی پر دي باور دي، چي په نړیوالو چارو کي وګړي باید اخلاق، دنده او عدالت وپیژني او هغه په خپل ژوند کي پلي کړي. خلک باید په اخلاقي تلنلاره کي د زړه سواندی څخه کار وانخلي او هرڅه باید د خپلي دندي مطابق د قانون په چوکاټ کي تر سره کړي.

رواقیانو د اپیکوریانیزم د مکتب پر وړاندي دریځ درلودی. اپیکوریان پدي اند وه، چي د انسان خوشالي او سوکالي په یوازیتوب کي ده او د نړیوالو چارو څخه باید ځانونه وژغوري. یاني اپیکوریانو د نړیوالي ټولني پر وړاندي دریځ درلودی.

# سکالستیک[1]

سکالسـتیکیزم او سکالسـتیک (د مدرسـي خلـک ) د هغـي ډلـي او مسلک نوم دی، چي په منځنیو پیړیو کي د عیسوي مذهبي عقایدو تـر اغیـز لانـدي راغلـي وه، د دوی اندونـه د دولـت او انسـان پـه اړه د کلیسا د اندونو په کړۍ کي راګیر وه. یاني هغـه څـه چي کلیسـا پـه یـوه ټولنیز جوړښت کي ارزښتمند بلل نو همغه د دوی د افکارو تګلاره هم وه. د سکالستیک ډیریو فیلسـوفانو یـوازي مسـیحي مذهب سـپړلی و او پر لاندي درو ډلګیو باندي ویشل سویدي:

**الف- رښتیا څرګندونکي(ریالیستان**[2]) : دا ډلګی پر دي بانـدي بـاوري ده، چـي کُـل ریښـتنی دی او جز یـا غـړی غیـري ریښـتنی دی (د ارسطو هغي فلسـفي تـه ورتـه والـی لـري چي کُـل يـې پـر جـز باندي لوړ ګڼي)؛ نو ځکه دولت ریښتنی او ارزښت لري او خلک یوازي د دولت د چارو د ترسره کولو لپاره دي او کوم ارزښت نلري.

د دي ډلګی د لارښونکو څخه یو هم (انسلم) دی، چي پـه (۱۲ز) پیـړۍ کي يې ژوند کاوه او بل (اسکوتس اریګنا ) دی.

---

[1] - Scholastic

[2]- Realists

**ب- خیـالي ډلـه (نامینالیسـتان**[1]**)**: دي خلکـو بیـا د پـورتنۍ ډلګـی پـر وړاندي (خلاف) اند درلودی، یانې وګړي ریښتني دي او دولت یـوازي تش په نامه سره دی، د دې ډلګی لارښونکي عبارت دي لـه: (روسلن) په (۱۳ز) پیړۍ کي، (ګیوم دوکام) هم پـه (۱۳ز) پیـړۍ کـي او (دنـس اسکوتس) په (۱۴ز) پیړۍ کي.

**ج- مفکـوروي ډلـه (کونسیپچوالیسـتان**[2]**)**: د دې ډلـې انـد د پـورتنیـو دواړو ډلـو پـه مـنځ کـي واقـع دی، یـانې ټولنـه (دولـت) او وګـړي دواړه ارزښت لري او پدې اند وه، چي وګړي واقیعت لري او ټولنه د انسان پـه افکارو او ذهن کي یوه فرضیه ده. د وګـړو پـه پېژندنـه او د دوی تـرمنځ پـه اړیکـو کـي بایـد وګـړي او ټولنـه دواړه وپیژنـدل سـي. د دې ډلـي لارښونکي عبارت دي لـه: (ابلاردو) پـه (۱۱ز) پیـړۍ کـي او (تومـاس داکوین) په (۱۴ز) پیړۍ کي.

---

[1] - Nominalists
[2] - Conceptualists

# سنډیکالیزم[1]

په فرانسه کې د کارګرو ټولنو ته سنډیکالیزم ویل کیدی، چې په انګلیسي کې ورته (ټریډ یونیون[2]) وایې. سنډیکالیزم د یوه سیاسي مکتب او د یوه سیاسي انقلاب نوم دی. سنډیکالیزم د سرمایه دارې اند پر وړاندې اند دی، چې د کارګرانو د ډلو پر خپلواکښیو باندې ټینګار کوي او د مستقیمې صنعتي تلنلارې څخه د کاپیټالیزم د رنګولو په موخه ملاتړ کوي، پردې بنسټ سنډیکالیستان د سوسیالیستانو سره توپیر لري او سنډیکالیزم د سوسیالیزم او انارشیزم په منځ کې جوړه راولي. موخه یې داده، چې سنډیکالستان لکه انارشیستان دولت په فطري (ذاتي) ډول ردوي او دوی د دولت تر کنټرول هغه حکومت ته غوره والی ورکوي، کوم چې د کارګرانو د ټولنو پربنسټ منځته راغلی وي. د سنډیکالیستانو اداري جوړښت خیالي او ایډالي بڼه لري.

د سنډیکالیزم اند په لومړي ځل د فرانسې د کارګرانو د ټولنو د مشرانو لخوا د نولسمې پیړۍ په پای کې رامنځته سو، د سنډیکالیزم

[1] - Syndicalism

[2] Trade Union

ساده مانا د(کارګرانو د ټولنو څخه ملاتړ) کول ده. د سنډیکالیزم خو ځښت د (۱۹۰۰ز) او (۱۹۱۴ز) کلونو په منځ کې په فرانسې کې وده وکړه او پر ځینو نور هېوادونو لکه ایټالیا، اسپانیه او لاتیني امریکا باندې یې اغیز وښندی.

سنډیکالیستان په لومړي سرکې د افراطي او راډیکال سوشیال اند ورکونکې وه، چې خپل عقاید یې د مارکس څخه اخیستي وه، خو ددوی په ارونو کې د مارکس پر عقایدو سربیره دنورو سوسیالیستانو اندونه هم شامل سوي وه، چې (پروډن) د انارشیستانو مشر په سنډیکالیزم کې بیلګه کیدای سي.

سنډیکالیستانو د مارکس انقلابي عقیده منلي وه، خو سربیره پر هغه لکه انارشیستان ددولت له منځه تلل او لویدل په بشپړ ډول غواړي، چې د مارکس د عقایدو سره مخالف دي؛ ځکه مارکس د کارګرو د انقلاب وروسته د سرمایه داري نظام د له منځه وړلو په موخه د کارګرو یو دیکتاتوري حکومت غواړي او وروسته له دي بریا څخه دا لنډ مهالی حکومت هم له منځه وړل غواړي. خو سنډیکالیستان بیا فوراً حکومت له منځه وړل غواړي. ددوی په ارونو کې کارګران د ټولني بنسټ او د ملاتیر ګڼل سوي دي.

سنډیکالیستان دا وړاندیز کوي، چې د هر مسلک کارګران باید سره راټول سي او ځانته تولني جوړې کړي ترڅو د خپلو ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي چارو کنټرول په لاس کې واخلي او همدارنګه د بیلابیلو مسلکو استازي باید سره را غونډ سي او یوه ټولنه جوړه کړي ترڅو دهېواد په بهرني سیاست پوري اړوندي چاري اداره او کنټرول کړي. پدي ډول به تولنه او هېواد دددولت و جوړښت ته اړتیا پیدا نکړي.

په فرانسي کي  سنډیکالیزم پر دوو برخو باندي ویشل سوی دی:
الف- انقلابي سنډیکالیزم
ب- اصلاح غوښتونکي سنډیکالیزم
او په انګلستان کي  یوازي انقلابي سنډیکالیز پیروان درلودل.
سـنډیکالیزم پـه فرانسـه، ایټالیـا، جرمنـي او اسـپانیه کـي  زیـات پرمختګ وکړ، خو د لومړۍ نړیوالي جګړي وروسته یې نفوذ او هڅي لږ سوي او ډیری سنډیکالیستان د کمونیستي ګوندونو سره و مښتل.
د سنډیکالیسـتان لـومړنی لارښـود او لیکـوال (جـارج سـورل) دی، نوموړي یو کتاب ولیکئ او پـه هغـه کـي  یې د سنډیکالیزم د مسـلک بشـپړه سـپړنه کړیـده. د نومـوړي یـوه جملـه داده (هـر وخـت چـي واک پیدا کړئ او وکولای سئ  ! د دولت قانون مات کړئ او تر پښو یې لاندي کړی)[1].
سنډیکالیسـتانو خپـل عقایـد تـر ټولـو ټـولنیزو انـدونو بنسـټیز ګڼـل، ددوی دا ادعاګـاني د سـنډیکالیزم د ارونـو سره ورتـه والـی لـري. خو د سنډیکالیزم د بشـپړیز پـړاو پـه اړه چي پـه (۱۹۰۸ز) کـال کـي  سورل د سـنډیکالیزم پـه نـامتو اثـر(د تـاوتریخوالي پـر وړانـدي غبرګـون) کـي څیړلي وه، ورته والی نه لري. سورل سنډیکالیزم ته افسانوي اندونـه ور ننویستل، ترڅو کارګران بیله کوم منطقي دلیل څخه انقلاب تـه راکش کړي.
سنډیکالیستانو خپل کارونـه د فرضـیو او ارونـو پـر بنسـټ پیـل کـړه، چي زیـات سوسیالیسـتي فکـري مکتبونـه پـه هغـه کـي  ننوتـل، دوی د سرمایه داري ټولنو بي عدالتۍ او غیري اخلاقي بنسټونه روښـانه کـړل

[1]- محمد نادر ایوبي، سیاسي نظریات، ۱۴۲۹ق، مخ ۵۵۹-۵۶۰.

او ددوی په اند دا ټولني د زیبښاک پر بنسټ ولاړې دي. دوی د مارکس خیالي پوړیزم سیستم ومنی او هغه یې په منلو دلایلو سره ثبوت کړ. دوی دا هم ومنل چې د شتمنو او مزدورانو ترمنځ ګډې ګټې شتون نلري او نه به هم شتون ولري. نو پردې بنسټ یې دا سوسیالیستي پایله په لاس راوړل، چې (ځاني ملکښیت باید له منځه یوړل سي او پرځای یې عمومي ملکښیت پیاوړی سي). د سوسیالیستانو او سنډیکالیستانو ترمنځ د توپیر ټکی دادی، چې سوسیالیستان دولتي ملکښیت او په دولت پوري اړوندو سازمانونو ملکښیت غواړي، خو سنډیکالیستان بیا د کارګرانو او د کارګرانو د ټولنو او فدراسیونونو ملیکت غواړي، چې پخپله د کارګرانو په واسطه رامنځته سوی وي.

د سنډیکالیستانو په اند پر صنعت باندي ددولت کنټرول د کارګرانو په زیان دی، دوی دا هم زیاتوي، چې دولت یوازي د شتمنو د ګټو د ساتلو په موخه رامنځته سوی دی او ددولت پر وړاندي اجرایوي کمیټه د شتمنو پوړ دی؛ نو ځکه شتمن د خپلو ګټو د ساتلو په موخه د کارګرانو سره دښمني لري. ددوی په اند دولت د نوښتونو او صنعتي پراختیا پوهه نلري او دولت که هرڅومره خیر غوښتونکی (سنډیکالیستان دولت خیر غوښتونکی نه ګڼي) هم وي څارنه او کنټرول یې ظالمانه او بې ګټې دی. ددوی په اند یوازي د کارګرانو څارنه او کنټرول کولای سي چې د کار خپلواکي او د کار په موندنه کي اسانتیاوي راولي.

سنډیکالیستان دا سي یو ټولنیز سازمان غواړي، چې ددوی پورتنیو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایې او دوی په دې ټولنیز سازمان کي د

سیمي سنډیکالیستان یو ځانګړی یوالی غواړي. دا ځانګړی یـوالی بـه د کار د سیمي د مرکز په واسطه (چي دنده یې کـار موندنـه او د کـارګرو د عمومي هڅو کنټرول دی) د نـورو ډلـو سره اړیکـې نیسـي. دا پـه هغـه وخت کـي شـوني ده، چي ټول تولیـد کـونکې د همدي (کـار مرکـز) د لاري یو دبل سره اړیکې ونیسي. د کار د مرکز دا مشـرتوب بـه وکـولای سي، چي د خپلـي سیمي اقتصـادي ځـواک او اړتیـاوي پـوره کـړي او تولیدي همږغیتوب رامنځته کړي. څرنګه چي د کار ټول مرکزونه د یوه صنعتي سیستم سره اړیکې لري نو کولای سي، چي مواد او شیان وارد او صـادر کـړي. نـو پـدي ډول سـره د کاپیټالیسـتي صـنعت ځـای یـو اقتصادي فدرآسیون(یوالی) نیسـي او پـه پـای کـي ددولـت شـتون تـه اړتیـا نـه لیـدل کیـږي. پـه همـدي ډول ددي خیـالي ټـولني دوه اړخونـه د یادولو وړ دي یو دا چي لګښت کونکی بـه پـه ټـولیز څـار او کنټـرول کـي هیڅ ونډه نلري او بـل دا چي یـو سـیمه ییـز صـنعتي سیسـتم پـه نظـر کـي نیول سوی دی.[1]

---

[1] - English Social Wikipedea( انګریزي ټولنیز پوهنغونډ) and Britanica Encyclopedea (د انګلستان دایرة المعارف)

# سلطنت (مونارشي)[1]

مونارشي(سلطنتي حکومت) هغه سیاسي نظام ته ویل کیږي، چې یو نفر دخپل ژوند ترپایه پر یوه هېواد باندې خپل واک وچلوي. یانې پدې حکومت کې تـل واک دیـوه نفـر پـه لاس کـې وي چـې هغـه تـه پاچا(سلطان) ویـل کیـږي، او دده د مرګ څخه وروسته واک پـه ارثـي ډول د ده ځـاي ناسـتي تـه انتقـالیږي. مونارشـي حکومـت افلاطـون او ارسطو هم د حکومتونو په ډلبندی کې د حکومت غوره بڼه بللي دي.

پاچاهي د حکومت ډیره لرغوني بڼه ده، که څه هم د ډیموکراسی په پیدا ښت سره په نړۍ کې زیاتي پاچاهۍ سره وپاشل سوي خو بیا هم په ځینو هېوادونو لکه انګلستان، بلژیک، ناروې، نیپال، عربستان، جاپان او ځینونورو هېوادونو کې لاتراوسه پوري هم سته. پاچاهي کولای سو چې پر۱)موروثي، ۲) ټاکنیزي، ۳) استبدادي او ۴) محدوده یا دا ساسي قانون پر بنسټ وویشو.

۱. موروثي پاچاهي: موروثي پاچاهي د حکومت طبیعي بڼه ده. پدې ډول پاچاهي کې پاچا د ځای ناستي د قانون پر بنسټ واک ته رسیږي. یانې د پاچاد مرګ څخه وروسته په معمولي ډول د هغه مشر زوی د

[1] -Monarchy.

واک پـر ګـدی بانـدي کېښـېږي. دده د کېښېنا سـتو ډول د هغـه حکومـت اساسي قانون يانظامنامه يا بل هره قاعده چي وي ټاکي.

۲. ټاکنيزه پاچاهي: ټاکنيزه پاچاهي په لرغونو وختونو پوري اړه لري. د لرغوني روم او لهستان لومړني امپراتوران ټاکل کېدل. په منځنيو پيړيو کي هم ټاکنيزه پاچاهي رواج وه. لکه په افغانستان کي چي په ۱۷۴۷ز کال کي ستر ملي مشر غازي احمدشاه بابا په کندهار کي د شيرسرخ بابا په زيارت کي د يوشمير قومي مشرانو لکه نورمحمدخان عليزی (ميرافغان)، حاجي جمال خان او يوشمير نورو مخورو مشرانو له لوري وټاکل سو.

۳. استبدادي پاچاهي: دا ډول سلطنت هغه نا محدوده واک ته ويل کيږي چي ټوله واک د پاچا په لاس کي وي او پر ټولنه باندي هر ډول اوامر چلوي. دا ډول واک هيڅ قانوني، اخلاقي او عُرفي محدوديت نلري او د دي ډول مشر ته ديکتاتور ويل کيږي چي هره خبره يي قانون او هر عمل يي قانوني دي. په مطلقه سلطنت کي د مشر (زمامدار) د واک لمن طبيعي حقوق او طبيعت هم نسبي محدودولای او مشر د خلکو پر مالونو او د ژوند پر ټولو برخو باندي واکمن وي استبدادي پاچاهي د حکومت هغه ډول دی چي پاچا د حکومت رينښتنی مشر دی او هرڅه د ده په اراده او غوښتنه باندي ترسره کيږي. څوارلسم لويي داسي ادعا کول چي(دولت زه يم، او د دولت قوانين زما په سينه کي دي). د بشر په تاريخ کي د استبدادي پاچاهی زياتي بيلګي سته. لکه د عثماني امپراتوری مشران، د پروس پاچاهان او داسي نور چي د دي څخه زياتي د لومړی نړيوالي جګړي څخه وروسته له منځه ولاړي. د ډيموکراسی په پيدا ايښت سره زياتي استبدادي پاچاهی له منځه

ولاړي او یوازي د ګوتو په شمار یو څو لا تراوسه پاته دي. چي د هغه څخه هم څو په ۲۰۱۱ کال کي د منځني ختیځ استبدادي پاچاهی له منځه ولاړي او پاچاهان یي یا ووژل او یا یي د محکمي په لوري کش کړل.

۴. مشروطه(محدوده) پاچاهي: محدوده پاچاهي چي هغي ته مشروطه سلطنتي نظام هم ویل کیږي، د حکومت هغه ډول دی چي د اساسي قانون پر بنسټ یي واکونه محدود سوي وي. همدارنګه پدي ډول سیاسي نظام کي د پاچا واک محدود وي، دا نظام اساسي قانون لري او په اساسي قانون کي د پاچا واکونه معلوم سوي وي. د پاچا سره په څنګ کي پارلمان(مقننه قوه) هم کار کوي، د هېواد په چارو او پریکړو کي برخه اخلي او قوانین جوړوي، چي د دي قوانینو پلي کول پاچا د اجرائیوي قوي مشر ته سپاري. په اوسني وخت کي په مشروطه سلطنت کي د شاه واکونه بیخي محدود سوي دي، پدي وروستیو اساسي قوانینو کي شاه یوازي د ملي سمبول په بڼه ناست وي او د هر ډول مسولیت څخه خوندي دي، یوازي کابینه او د کابیني مشر پارلمان ته مسولیت لري. ځیني وختونه دا ډول نظام خلک په زور راولي یانې خلک په زور باندي خپل حقوق د پاچا څخه ترلاسه کوي او اساسي قانون جوړي، خو په ځینو نورو وختونو کي بیا پاچا په خپله خوښه باندي دا ډول نظام منځته راوړي او اساسي قانون جوړوي. پر همدي بنسټ مشروطه شاهي د اساسي قانون پر بنسټ جوړیږي او د جمهوري نظام سره یي توپیر پدي کي دی چي په جمهوري نظام کي د دولت رئیس د خلکو لخوا ټاکل کیږي او په مشروطه شاهي کي په ارثي ډول دی. نن ورځ په اروپا، اسیا او افریقا کي زیات شمیر پاچاهان پدي ډول دي.

لکه څرنګه چې وویل سول په مشروطه شاهی کې د پاچا واک د اساسي قانون پر بنسټ باندې محدودې سوې وي، او ټاکل سوي وزیران د ده پر ځای باندې کار کوي. مشروطه شاهیاني په انګلستان، بلژیک، ناروې او یو شمیر نورو هېوادونو کې شتون لري. دا ډول پاچاهیاني هم د ډیموکراسی ارزښتونه په خپل غیږ کې لري او هم د ارثي پاچاهی ارزښتونه ساتي. د بیلګې په توګه په انګلستان کې تراوسه هم پاچا د دولت یوه برخه ګڼل کیږي. تراوسه هم پاچاته په ښه او پاکه سترګه ګوري. په انګلستان کې شاه حق لري، چې یو څوک تشویق کړي، یاهم اخطار ورکړي او یاهم بل دیته ورته څه وکړي خو ددې څخه زیات څه نسي کولای. پاچاهیځ ډول ریښتنی اقتدار نه پلي کوي. ریښتنی واکمني وزیران پلي کوي، چې د مقننې قوې د اکثریت ګوند څخه ټاکل کیږي او مقننه قوه په هرو څلورو کلونو کې پر خپلو وزیرانو باندې بیا کتنه کوي. پر همدې بنسټ مشروطه شاهي خلکو ته دا چانس ورکوي چې د حکومت په چارو کې لاسوهنه وکړي او خپل مشران وټاکي. په مشروطه شاهی کې ریښتني واکمني د خلکو په لاس کې ده.

**د استبدادي پاچاهی ښیګڼې**

په لرغونو وختونو کې استبدادي پاچاهي په هرځای کې واکمنه وه، نو له همدې کبله ځینې ښیګڼې هم لري:

۱. د لومړنیو انسانانو د ژوند لپاره مناسبه وه: لومړني انسانان بې تمدنه او بې رحمه وه. یوازې هغه بې رحمه سړي کرارولای سول، چې واک به یې د زور، دیني یا په ارثي ډول ترلاسه کړ. ده به ټولنه په نظم او

ډ سپلین کې کړه او اړودوړ به یې له منځه یوړ. د میل په خبره (د وحشیانو په منځ کې استبداد د حکومت کولو مشروع بڼه ده).

۲. د عمل چمتوالی او ځواکمنتیا: پاچاد خپلو سیاستونو د پلي کولو لپاره رایو او آندونو ته اړتیا نلرل. د ډیموکراسی په خلاف چې په سستی سره کارکوي او زیات وخت پر خبرو اترو باندي تیروي، دیکتاتور کولای سول چې ډیر ژر د پیښو او شرایطو پر وړاندي عمل وکړي.

۳. د حکومت ټینګښت: استبدادي پاچاهي د مقنني قوي په غوښتنه او اندونو پوري تړلي نده. همدارنګه د مخالفو رایو په کاروني سره هم د واکه نه لري کیږي پر همدي بنسټ د حکومت باثباته او ټینګه بڼه لري.

۴. سیاستونه یې تلپاتي دي: کله چې حکومت باثباته او ټینګ وه او سي کولای سي چې په دننه او بهر کې تلپاتي سیاستونه وچلوي. هغه بدلونونه چې په حکومت کې راځي لکه د ډیموکراسی ده کیدای سي چې په سیاستونو کې یې هم بدلون راسي.

۵. ښه ټولنیز چوپړونه: لکه څرنګه چې پاچا یو بې طرفه شخص دی او د ده واکمني د خلکو په رایو پوري اړه نلري، یانې د کوم ګوند او لوري لخوانه ټاکل کیږي. نو ځکه بیله کوم څه څخه د خلکو لپاره کارکوي او د عامه ښیګڼو او خیر لپاره چوپړ کوي.

۷. د استعدادونو پیژندنه: لکه څرنګه چې پاچاهي په ګوندي سیاست پوري تړلي نده، کولای سي چې د خپل اولس څخه غوره استعدادونه د حکومت د چارو د پرمخ بیولو لپاره وټاکي. پداسي حال کې چې په

ګوندي ډیموکراسي کې ولسمشر یا لومړی وزیر نسي کولای چې د خپل ګوند څخه بغیر بل څوک وټاکي.

۷. هر اړخیزه اقتصادي پرمختګ: د پاچاهی پلویان داسي ادعا کوي چې د پاچاهی تر سیوري لاندي زیات هېوادونه رغول سویدي او د غوره ځواک لرونکي دي؛ دا ځکه چې پاچاهان د هنر او کسب پلویان وه. که چیري د شکسپیر او الیزابت وخت ته وګورو نو د پاچاهی د پلویانو دا آند تر زیاته بریده ربښتیا کیږي. په هغه وخت کې پاچا د ځاني مالکیت ملاتړ کاوه او صنعت ته یې پرمختګ ورکوی. پاچا د خپلو خلکو په منځ کې داسي ژوند کوی لکه پلار چې د خپلو اولادونو په منځ کې ژوند کوي. له همدي کبله شاه هڅه کول چې خپل وګړي ښه ژوند ته وهڅوي او د ښه اقتصادي پرمختګ لرونکي یې کړي. ارسطو، دیویډهیوم او توماس هابز هغه فیلسوفان وه چې د استبدادي پاچاهی ملاتړ یې کاوه.

## د استبدادي پاچاهی نیمګړتیاوي

د استبدادي پاچاهی زیاتي ښیګڼي د هغې د نیمګړتیاوو او زیانونو پر وړاندي باندي بې مانادي:

۱. د پاچاهی ظلمونه: ډیر کم پاچاهان خیر غوښتونکي او کارګر وه. تاریخ د زیاتو فاسدو، بې واکه او ظالمو شاهانو د ظلمونو او تورو حالاتو څخه ډک دی. زیات پاچاهان د چلبازو او فریبکارو وزیرانو او ملکه وو د لاسونو آلي وي. پاچا د واښه په څیر ژوند درلودی او زیات وخت یې پرخلکو باندي په ظلم او استبداد سره حکومت کاوه.

۲. پر ځان د حکومت مخنیوی: ښه حکومت هغه ندی چې ځان ورڅخه وساتل سي، یانې د حکومت په چوکاټ کې یوازي عام اولس راسي او

خپل ځان ورڅخه وه ایستل سي. بلکي هغه حکومت غوره دی چي واکمن او عام اولس تر یو شان قوانینو او قاعدو لاندي وي. خو پاچاهي چي هرڅومره ښه سي بیاهم پر ځان باندي حکومت نه مني. پر خپل ځان باندي د حکومت منل خلک راوبښوي او ډیموکراتیکي ټولني ته لار هواریږي، پداسي حال کي چي پاچاهي پرخپل ځان باندي حکومت نه مني او خلک له سیاسي اړخه بیده ساتي.

۳. د ځای ناستي ناوړه ټاکنه: د ارثي شاهي یوه نیمګړتیا داده چي شوني ده د یوه پیاوړي، پوه، سیاستوال، هوښیار او پاک پاچا ځای یو ناوړه، ټنبل، ناپوه او بي کار شخص ونیسي. څوارلسم لویي خپل ځای پنځلسم لویي او شپاړلسم لویي ته وسپاری چي نه یوازي ناکاره او ټنل وه بلکي ډیر ظالم هم وه. همدارنګه سترملي مشر احمدشاه بابا خپل ځای تیمورشاه ته وسپاری چي نه یوازي ناکاره و، بلکي عیاش او بي پروا شخص و. پر همدي بنسټ داسي معلومیږي چي د حکومت پدي ډول کي د ځای ناستي ټاکنه په بخت او چانس پوري اړه لري.

۴. د کمزوري پاچا زیانونه: کله چي پاچا کمزوری وي او د خپلو پوهو او هوښیارو وزیرانو مشورو ته هم غوږنه نیسي نو دولت ته به زیات زیانونه ورسوي.

۵. د پاچاهي حکومت نا امني: پاچاهیځ وخت د امنیت احساس نه کوي. دی تل د دسیسو او توطیو په شنډولو باندي بوخت وي. له همدي کبله سیاسي اختلافونه په وهلو او ټکولو باندي کراریږي، چي دا وهل او ټکول لا نور هم مخالفتونه زیاتوي.

۲. د شاهانو امپرياليستي غوښتني: زيات شاهان د زيات واک غوښتونکي دي، نو دوی هڅه کوي چې د خپل واک لمنه پراخه کړي او ډيري مځکي تر خپل واک لاندي راولي.

**د پاچا د الهي حقوقو اندونه**

د پاچا(سلطان) په اړه پخواني آندونه دا وه چې شاه د خداي(ج) د لوري استازي ګڼل کېدی او ده ته د حکومت کولو حق په مستقيم ډول د الله تعالي د لوري ورکول سويدي. دا ډول نظريات لومړی د ختيځ په روحاني حکومتونو کي راپيدا سول. د اصلاحاتو ددوري څخه مخکي داسي فکر کيدي چې پاچا په ټولو دنياوي کارونو کي د الله تعالي استازی دي، خو د اصلاحاتو په دوره کي په ځانګړي ډول په پروټستانټ هېوادونو کي پاچا په مذهبي او ديني چارو کي هم لاسوهني پيل کړي. پدي وخت کي دوکتورين په دي آند وه چې د پاچا واک يوازي په دنياوي کارونو کي محدود ندي، بلکي پاچابايد په هره برخه کي واک ولري ځکه چې پاچا يوازي الله تعالي ته مسوليت لري د بيلګي په توګه په ۱۵ پيړۍ کي کله چې پاپ خپل ځان د يوه واکمن سياسي او روحاني سلطنت په سر کي راوستنو د پاپ د سلطنت ملاتړو به د ده سياسي او روحاني حقوق د الهي او اسماني حقوقو په شان ګڼل، نو ځکه به يي خلک د هغه اطاعت ته رابلل. په ۱۷م پيړۍ کي د دي ډول دوکتورينو ملاتړ انګريزي رياليست ډلي د پارلماني حکومت پر وړاندي وکړ، ځکه پارلماني حکومت ويل چې سياسي واک بايد د خلکو د ارادو سره سم استعمال کړل سي.

د پاچا دالهي حقوقو د نظرياتو سره ځيني مخالفين هم پيدا سول چې ځيني يي عبارت دي له: شاعر او ليکوال جان ميلټن جمهوريت

غوښتونکي مشر الجيرنون سيډني او سياسي کارپوه جيمز هارينګټون. خو د دي مخالفينو پر وړاندي بيا د دي فرضي ځيني ملاتړي هم ولاړ وه لکه: انګريزي فيلسوف توماس هابس، د فرانسي پخواني ملا کلاوډيوس سلماسيوس او انګريزي سياسي ليکوال سر رابرت فيلمر. دي وروستيو پوهانو د پاچا د الهي حقوقو د فرضي ملاتړ وکړ او د مشروعيت په اړوند يي يو لړ نظريات هم وړکړه. خو د دي نظرياتو په ۱۲۸۹م کال کي هغه وخت خپل ارزښت د لاسه ورکړ کله چي دريم ويليام او دوهم ماري د يوه تړون په ترڅ کي د حقوقو قانون ومني.

# سوسیالیزم[1]

د سوسیالیزم لغت د فرانسوي ژبي د (سوشیل[2]) څخه اخیستل سوی دی، چي د ((ټولنیز)) مانا ورکوي. پخوا سوسیالیزم د ټولني ټول حیاتي شیان په خپل کنټرول کي راوستي وه، چي په هغه کي اقتصادي وسایل هم موجود وه، مګر اوس سوسیالیزم د یوه داسي سیاسي نظام او غورځنګ نوم دی، چي موخه یي د یوه ټولیز(کولکټیف) سازمان جوړول دي، دا سازمان به د دولت د مالکیت پر بنسټ د وګړو ګټي ساتي یاني ټول اقتصادي وسایل به د دولت په کنټرول کي وي ترڅو عامه ګټي په ښه ډول وساتي. په سوسیالیزم کي د ټولني ګټي په نظر کي نیول کیږي، په ټولنه کي د وګړو اقتصادي مساوات غواړي نو ځکه اقتصادي وسایل دولت په خپل لاس کي اخیستي وي.

سوسیالیزم د تولید پر بنسټیزو وسایلو او د هغي په مبادله باندي د ټولو د ملکیت حق او د کارګر پوړ او د هغوی د متحدینو د سیاسي ځواک عملي کیدل غواړي، په سوسیالیزم کي د ویش عملي کیدل تر

---

[1] Socialism
[2] Social

دي شعار لاندي راځي چي: له هرچا څخه د هغه د توان په اندازه او هرچاته د هغه د کار په اندازه[1].

فرانسوي عالم (دورکیم) د سوسیالیزم تعریف داسي کړی دی (سوسیالیزم هغه فرضي دي، چي ټولي اقتصادي چاري په بشپړ یا نیمګړي ډول د واکمن پوړ تر کنټرول لاندي راولي.) په سوسیالیزم کي ملي ګټي تر فردي ګټو لوړي دي، فرد په ټولنه کي داخل ګڼي او د ټولني په خیر کي د فرد خیر هم ګڼي. د ټولنیزو چارو ځیني پوهان د سوسیالیزم د پیژندني په اړه وایي: سوسیالیزم د خپل ارزښت او څرنګوالي له کبله د هغي عقیدي او غورځنګ څخه عبارت دی، چي بنسټیزه موخه یې د خلکو په ګټه د ټولني د جوړښتونو بدلون دی. ځیني پوهان بیا وایي سوسیالیزم هغي عقیدي ته ویل کیږي چي موخه یې د انسانانو تر منځ د ریښتني مساوات او برابري راوستل وي. دا ډول سوسیالیستان د وګړو مساوات یوازي په سیاسي برخه کي نه ګڼي بلکي اقتصادي اړخ هم باید ولري. د سوسیالیزم پیژندنه داسي هم سویده( سوسیالیزم د هغي اقتصادي لاري او طریقي څخه عبارت دی، چي ټول د تولید او ویش وسایلو مالکیت هغه که مصنوعي یا طبعي وي، ټولني ته وسپاري، ترڅو د ټولني استهلاکي مالونه ډیر تولید سي او ملي عایدات د خلکو په منځ کي په عادلانه ډول سره وویشل سي. پداسي حال کي چي د خلکو ریښتني خپلواکي هم له منځه ولاړه نسي). یو فرانسوی عالم ((فلیسین شاله)) د سوسیالیزم د پیژندني په اړه وایي ((سوسیالیزم ته ځیني وخت کولکټویزم هم ویل

---

[1]-د سیاسي اصطلاحاتو قاموس، ژباړن: سید عبدالله پاچا، دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۸۴، ص ۲۱۷

کیږي، ځکه چي سوسالیستان وايي چي د ټولنیزي مسئلي د حل لپاره باید په ټولیز ډول اقدام وسي او د شتمنی سرچینې باید د ولس په لاس کي ورکول سي. همدارنګه دوی باید د ټول هېواد په شتمنی کي یو له بله ګډون سره ولري)).

اشتراکي سوسیالیزم د خپلو اصولو له مخي کوښښ کوي، چي د انسانانو ترمنځ مصنوعي اختلافات او توپیرونه له منځه یو سي، په ځانګړي ډول دا هڅه کوي چي ملکیت او تملک د خلکو په منځ کي د نابرابری لامل ونه ګرځي، ځکه نو په ټولنه کي د شخصي ملکیت اصل ردوي او ملکیت له فردي لاسه باسي او ټولني ته یې د هغو د ژوند د سمون لپاره سپاري. د یادوني وړ ده چي دا ډول سوسیالیزم فردي ملکیت د انسانانو په منځ کي د بي عدالتی مصنوعي اړخ بولي. فردي ملکیت او د خلکو تر منځ مالي افراط او تفریط طبیعي امر نه بولي[1].

د سوسیالیزم او کمونیزم ترمنځ توپیر د سوسیالیزم په لاندي دوو ډولونو کي کولای سو:

**الف- لیبرال سوسیالیزم**:

دا سوسیالیزم د ۱۷ میلادي پیړی څخه بیا تر اوسه انګلیس ته منسوب دی. په لیبرال سوسیالیزم کي یوازي د تولیدي وسایلو کنټرول غوښتل سوی دی، مګر د توزیع (ویش) د وسایلو کنټرول نه غواړي.

---

[1]- فلسفه، مؤلف: محمد نادر ایوبي(کندهاری)، صحاف نشراتي مؤسسه-کوټه، دوهم چاپ ۱۳۸۸، ص۲۳۲-۲۳۴

**ب- مارکسي سوسياليزم:**

(دي ډول سوسياليزم ته روسي سوسياليزم هم ويل کيږي)، پدي سوسياليزم کي د توليد او توزيع دوارو وسايلو کنټرولول غوښتل سويدي، پداسي حال کي چي په کمونيزم کي هم د توزيع او توليد د وسايلو کنټرول غوښتل سوی دی. نوځکه د کمونيزم او مارکسي سوسياليزم (روسي سوسياليزم) ترمنځ توپير نسته مګر د معتدل انګليسي سوسياليزم سره توپير لري.

د سوسياليزم پر پورتنيو ډولونو سربيره ځيني نور ډولونه هم سته چي په لنډ ډول ورته اشاره کوو:

(۱)- نوی سوسياليزم:

په عمومي ډول سره د معاصر سوسياليزم ډولونو ته نوی سوسياليزم ويل کيږي، دا سوسياليزم د پخواني سوسياليزم سره چي د توليدي وسايلو کنټرول د دولت لخوا، نظريه نه وه پکښي موجوده توپير لري. داسي ګمان کيږي چي انګليسي رابرت اوون د دي سوسياليزم بنسټ ايښودونکی دی، رابرت اوون د يوي فابريکي مشرؤ، هغه قوانين او اوصول چي ده د خپلو کارګرانو د ژوندانه د پرمختګ لپاره وضع کړي وه، د دي لامل سول چي دی د نوي سوسياليزم بنسټ ايښودنکی سي. مارکس هم خپل ځيني عقايد د ده او ځيني نور يي د سوسياليزم د مخکښانو د عقايدو څخه اخيستي وه.

(۲)- تکاملي سوسياليزم:

دا اصطلاح آلماني سوسيال ډيموکراټ ليکونکي او سياستوال ((برنشټين)) وضع کړه. برنشټين په لندن کي د فابيانو تر اغيز لاندي راغی، نو ځکه يي د رويزيونيزم (بياکتني) موخه خپله کړه ترڅو د

مارکسیزم مزاج نرم کړي او د انقلابي اړخ څخه یي اعتدالي او تکاملي اړخ ته واړوي. برنشتین خپل عقاید په خپل یو نامتو اثر(تکاملي سوسیالیزم) کي ذکر کړي دي، دا کتاب په ۱۸۹۹م کال کي په آلماني ژبه باندي نشر سو[1].

(۳)- علمي سوسیالیزم:

دا هغه سوسیالیزم ته ویل کیدی، چي ټولنیزي څیړني یي د شواهدو او ارقامو پر بنسټ کولي. یانې هرڅه یي د علمي او تجربوي لارو څخه په لاس راوړل. علمي سوسیالیزم د مارکس او انګلس پر عقایدو باندي ولاړ دی، چي د بحث بنسټیز موضوعات یي دادي:

الف- د سوسیالیستي انقلابونو دشرایطو څیړنه،

ب- په سوسیالیستي انقلابونو کي د کارګري ګوند د ستراتیژیو او تاکتیک تعینول،

ج- د نوې سوسیالیستي ټولني د جوړولو د لارو چارو تعینول.

علمي سوسیالیزم یوازي د یوي علمي رشتي په بڼه وده ونکړه، بلکي د کارګرو د ګوند د یوه پروګرام په بڼه یي هم وده وکړه. د علمي سوسیالیزم مهمه ځانګړنه داده چي ذهني فکتورونه د تاریخ په جوړولو کي ارزښتناک بولي.

علمي سوسیالیزم دوه ډوله قوانین مطالعه کوي:

الف- هغه قوانین چي سرمایه داري ټولنه د سوسیالیستي ټولني په لور کشوي لکه( په سرمایه داري ټولنو کي د بورژوازی پر وړاندي د

---

[1]- مکتب های سیاسی، مؤلف: دکتر بهاالدین پازرگا، ازانتشارات اقبال، چاپ سوم ۱۳۴۴، ص ۱۱۲-۱۱۴

پرولتاریا طبقاتي مبارزه، ملي ازادی بخښونکي انقلابونه او د خلکو ولسواک انقلابونه)
ب- د سوسیالیستي ټولني د جوړولو او د سوسیالیزم د نړیوالتوب قوانین لکه( په عمل کي د پرولتاریا دیکتاتوری تطبیق او د سوسیالیزم د قانوني کیدو وده).
(۴)- تخیلي سوسیالیزم(د علمي کمونیزم سرچینه):
د تخیلی سوسیالیزم لومړنی تیوري په انګلستان کي منځ ته راغله، پداسي حال کي چي په انګلستان کي سرمایه داري نظام خپل اوج ته رسیدلی ؤ. د دي سوسیالیزم بنسټ اینښودونکی توماس مور(۱۴۷۸-۱۵۳۵م) ؤ. ده یو کتاب چي نوم یي (یوتوپیا) ؤ نشر کړ، یوتوپیا د دوو یوناني کلمو څخه ترکیب سوی لغت دی، چي (یو) په مانا د (نه) او تویوس په مانا د (ځای نیول سوی) دی چي ټولیزه مانا یي(هغه ځای چي بهرنی وجود ونلري) ده. دا کتاب په لمړی ځل په بلجیم کي نشر سو چي د دوو برخو درلودونکی ؤ، په لومړی برخه کي د انګلستان د ټولنیز نظام او د کارګرو د خراب حالت څخه بحث کوي، په دوهمه برخه کي توماس مور داسي جزیره تمثیلوي چي هلته خصوصي مالکیت وجود نلري، او ویل کیږي چي د دي جزیري اوسیدونکي هیڅ ډول خصوصي مالکیت نه قبلوي. همدارنګه داسي تصور کیږي چي هلته د وګړو تر منځ هیڅ ډول تبعیض شتون نلري، د ښار او کلي ترمنځ تضاد له منځه تللی دی او هیڅ ډول جسمی او فکري توپیر شتون نلري[1].
(۵)- فابیان سوسیالیزم:

[1]- سوسیالیزم علمي برای پروګرام ماستري، عبدالبصیر، طبع نشرات انستیتوت پیداګوژي، سال چاپ ۱۳۶۲ ه، ش.

دا د هغه سوسیالیستي غورځنګ نوم دی، چې په انګلیستان کې د مارکس د افکارو تر اغیز لاندې منځ ته راغلی وه، مګر مارکسي نه دې او د یوې ټولنیزي فلسفي د جوړولو غوښتنه یې نده کړې، هغه څه چې د دوی د پاملرنې وړ وه هغه د فابریکو او صنعت د اداره کولو لپاره د یوه منظم سازمان منځ ته راوړل او د کارګرو طبقو د ژوندانه د ښه کولو په موخه د سیاسي قدرت استعمالؤ. په اقتصادي برخه کې یې د ریکاردو د اجارې فرضیه او د هانري جورج د مځکنې ارزښت فرضیه منلې وه او ویل یې:

- پر مځکو باندې باید زیات مالیات وضع سي، ترڅو صنعت او فابریکې د مالیاتو د قید څخه خلاصې سي.
- د انحصاري ګټو د له منځه وړلو په وسیله باید د ټولو وګړو لپاره اقتصادي فرصتونه په مساوي ډول ورکول سي.

(۲)- صنفي سوسیالیزم:

د سوسیالیزم د دې ډول بنسټ په ۱۹۰۲م کال کې کښیښول سو، دا غورځنګ د منځنیو پیړیو د صنفي نظام د پلي کولو غوښتونکی ؤ. د دوی په آند ارزښتونه په ډلیز ډول منځ ته راځي، پداسې حال کې چې سرمایه داري یوازې د فردي ارزښت پلوي کوي. نو ځکه کارګري ټولنې باید په صنفي بڼه جوړې سي، صنایع ملي سي او د دوی د مدیریت لپاره کار وسي. د صنفي سوسیالیزم او سوسیالیزم ترمنځ لاندې دوه ټکې مشترک دي:

- ارزښتونه په ټولنیز ډول دي نه په فردي ډول.
- هره مؤسسه (که څه هم د شخصي مالکیت خاونده وي) باید د ټولنیزو ګټو پر بنسټ یې کارونه وسنجول سي.

(۷)- پارلمانتري سوسیالیزم:

دا اصطلاح (ژورژ سورل)، چې د سندیکالیزم د مکتب د مخکښانو څخه دی او د پارلماني ډیموکراسی سره په ټکر کې دی، په خپل اثر(سخت غبرګون) کې استعمال کړی ده. دی په سوسیالیزم کې ډیموکراسي نه مني او هغه ته پارلمانتري سوسیالیزم وایي، همدارنګه دی په دې آند دی چې پارلمانتري سوسیالیزم تل خپل ځان د کارګرانو مالک ګڼي او د هغوی د نظم مسؤلیت د ځان بولي[1].

(۸)- انقلابي سوسیالیزم:

د سوسیالیزم دا ډول د مارکسیزم تقریباً ټول اصول مني، مګر د کمونیزم د رژیم ټول ډولونه ردوي. همدارنګه د کمونیسم نړیوال لاربښود د روسي او یا بل دیته ورته هېواد چې د ګوندونو په سر کې واقع وي نه مني او ټول مارکسیستان چې د لینن او ستالین په خلاف وه انقلابي سوسیالیستان یې بلل. د تروتسکي، تیتو، روزالوکزامبورک او جیلاس څخه نیولي بیا تر بیلابیلو ګروپونو چې د کمونیزم په وروستیو وختونو کې رامنځه ته سوي وه ټولو ته انقلابي سوسیالیستان ویل کیږي.

(۹)- د خزندي سوسیالیزم:

خصوصي اقتصاد ته د دولت کرار کرار لاس اچوني ته د خزندي سوسیالیزم ویل کیږي، او په هغو ټولنو کې چې دولت په کرار سره اقتصادي مؤسسې ملي کوي او د خصوصي اقتصاد لمن راټولوي او

---

[1]- - مکتب های سیاسی، مؤلف: دکتر بهاالدین پازرګا، ازانتشارات اقبال، چاپ سوم ۱۳۴۴، ص ۱۱۲-۱۱۲

پـر دولتـي اقتصـادي فعـالیتونو یـي ور اضـافه کـوي عبـارت د همـدي سوسیالیزم څخه دی.

(۱۰)- مسیحي سوسیالیزم:

د دي اصــطلاح څخــه موخــه پــه امریکــا او انګلســتان کــي هغــه غورځنګونه دي چي په ۱۸۰۰ میلادي کال کـي پـه انګلسـتان کـي پیـل سول. د دي غورځنګ غړي پرکارګري طبقي د لګیدلو محرومیتونو پـر وړانـدي راپورتـه سـول او غوښـتل یـي، چـي د دي محرومـي طبقـي سوکالي د مسـیحت پـر بنسـټ تـامین سـي. چـارلز کنګلي او فردریـک موریس د مسیحي سوسیالیزم دوه پیاوړي مبارز شخصیتونه وه. دي غورځنـګ خپلـواک کارځایونـه مـنځ تـه راوړه مګـر کامیابـه نسـوه. دا نظریه وروسته په کـومکي (مرسـته کونکـو) غورځنګونـو کـي منحـل سول. مسیحي سوسیالیزم د تخیلي سوسیالیزم پر خلاف خپل پـلان پـر معلومو مذهبي قواعدو باندي پـر مـخ بیـول. د دوهمـي نړیـوالي جګـړي څخــه وروســته پــه اروپــا کــي بیلابیــل ګوندونــه جــوړ ســول چــي سوسیالیسـتي غوښـتني یـي درلـودي او پـه بیلابیلـو بڼـو سـره یـي پـر مسحیت باندي اتکا درلوده.

(۱۱)- اصلاح غوښتونکی سوسیالیزم:

دا ډول سوسیالیزم پـر غیـري مارکسیسـتي افکـارو بانـدي ولاړ دی. د دي نظریــي ملاتــړي پــه دي آنــد دي چــي کــولای ســو، چــي یــوي سوسیالیستي ټولني تـه بیلـه دي چي مارکسیستي اصول پـه نظـر کـي ونیسو، ورسیږو. دي ډلي ته اصـلاح غوښـتونکي ویـل کیـده، دوی پـه دي آند وه، چي کولای سو سرمایه داري رژیم د داخل څخه اصلاح کـړو او د ســوســیالیزم پــه لـور یــي وخوځـوو. یـانې د سـرمایه داری څخـه

سوسیالیزم ته په کرار کرار سره کولای سو چې بیله پرولتاریا دیکتاتوری څخه ځان ورسوو[1].

**سوسیالیزم ته د رسیدو پړاوونه:**

**لومړی پړاو(نیوکه):**

د سوسیالیزم ټول مسلکونه اصولاً د ټولني پر موجوده جوړښتونو باندي نیوکې کوي، او هغه د ټولني د ګټې او خیر ضد ګڼي. دوی د ټولني د اقتصادي او سیاسي جوړښتونو بدلون او اړونه غواړي. ځیني د فوري بدلون غوښتونکي دي، ځیني د ټولني ټول ټولنیز، دیني، روحي، سیاسي، اقتصادي او نور اړه لرونکي موضوعات ترکتني لاندي نیسي او غواړي چې په ارامی او نسبتاً اوږده وخت کي د ټولني موجوده جوړښتونه د انسانانو د خېر او ګټو لوري ته تغیر وکړي. د جګړو، وینو تویولو او محرومیتونو مخالف دي، ځیني سوسیالیستان وایي چې دوی دا نیت نه لري چې ملکیت ایسته کړي، برعکس دوی تر نورو دا هیله ډیره لري چې هغه فردي ملکیت پیدا سي چې بنسټ یې پر شخصي کار ولاړ وي، دوی وایي چې(مشروع مالکیت باید د چورولو څخه وساتل سي). همدارنګه وایي چې(ټوله شتمني او ثروت خصوصاً د غټو مالکینو ښه نه دی، ځکه چې دغه ثروت د شخصي کار له کبله منځ ته نه دی راغلی). دوی وایي چې زموږ په ټولنه کي دوی بشپړي مخالفي ډلي موجودي وي چې یوه ډله بیله دي څخه چې کار وکړي، یا یې کارکړی وي، د شتمنی څښتنه وي، چې بدایه ډله یې بولي، بله ډله کار کوي. اما شی نه لري او هیڅکله به په

---

[1]- فرهنګ سیاسی آرش، غلامرضا علي بابایي، ازانتشارات اشیان، چاپ دوم ۱۳۸۴، ص ۳۴۹-۳۵۴

دي نظام کې برى ونه مومي چې څه وميندي، دغه ډله خوړمنه يا زحمت کښه ډله بولي، همداسې سوسياليستان وايي چې په اوسنۍ ټولنه کې کار يوازي د مالکينو په ګټه ختميږي. بداى چې هرڅه غواړي هغه کولاى سي او په ډير ښه ژوند کې ډوب وي، مګر بيوزله ډله مجبوره ده چې کار وکړي. ځکه چې شى نه لري او په کارپسې ګرځي، د ډيرو ربړونو وروسته، که کوم کار ورته پيدا سي، هغه به د ربړونو ډک او دده به خوښ هم نه وي، لاکن مجبوري ځخه به لکه ماشين کار وکړي، چې دغه کار د ده بدن ستومانه کوي او روغتيايي له منځه وړي. فهم او شعور يي لړوي، خو دى د دي ټولو ربړونو او ستومانيو په مقابل کي دومره اجوره اخلي چې د ده او د ده د کورنۍ د ژوند کفايت نه کوي، په ناوړو ځايو او کوټو کي ژوند کوي، بي سيکه خواړه خوري او د هر هغه شي ځخه چې ژوند ته سمون بخښي محروم وي. د سوسياليستانو نيوکې بيخي زياتي دي، وايي چې لويي سوداګريزي او صنعتي موسسي وړې او متوسطي مؤسسي له منځه وړي ځکه چې د لويو سوداګريزو او صنايعو مؤسساتو په وسيله توليدات په کښته قيمت عرضه کيږي او حتي د همدي مطلب لپاره متحده ډله جوړه کړي، چې و هغه ته (کارټل) وايي، د خپلو ګټو لپاره د توليد رانيولو او خرڅولو فعاليتونه تنظيموي. همداسي ځيني صنعتي مؤسسي په ټول هېواد کي د يوه اتکل سوي شي، توليدول ځان ته انحصاروي. چي هغه ته (ترسټ) وايي.

سوسياليستانو به ويل چي که داسي پيښه سوي واى، چي (هوا) د يوه شخص په تصرف کي راتلاى نو به د هوا احتکار هم منځ ته راغلى واى او نور خلک به يي خپل غلامان ګرځولي واى ځکه خلک اړ وه چي

د خپل نفس د ساتنې لپاره د هغه محتکر څخه هوا رانیسي، که پخوا یو انسان د بل انسان غوښې خوړلې خو اوس زورور مستقیماً کمزوری نه خوري بلکې د هغه د ربړونو پایله خوري، یو سوسیالیست چې د سرمایه داری نظام څخه پر سرټکول سوی ؤ، وایي چې د تمدن د دوري انسان خوړونکی د وحشت د دوري تر انسان خوړونکو بې رحمه دي، ځکه چې ډیري غوښې غواړي.

فرانسوي اقتصاد پوه (فلسین شالي) د یادې سوې جملې په تفسیر کې وایي چې په ربښتیا هم د یوه کارګر د یو کال د کار پایله د سرمایه دار له لوري په یوه ګړي عیش او عشرت کې خرځیږي.

سوسالیستانو به ویل چې په سرمایه داري نظام کې اقتصادي بحرانونه او اړودوړ موجود وي او د ټولنې د طبقاتو ترمنځ نه پخلاکیدونکې روحیه تل جاري وي. ځکه چې یوه ډله د بلې ډلې په کمزورتیا او بیوزلۍ کې خپل قدرت او لوړوالی وینې، یانې ګټې په دوو مخالفو قطبونو کې واقع سوي دي که یوه خوا ډیره ګټه ترلاسه کړي هغه بله خوا هرومرو زیانمنه کیږي، دغه اختلاف هیڅکله نه ورکیږي. ترڅو چې طبقات ورک نه سي او ټول خلک د خپل کار په وسیله د خپل ژوند اړتیاوې لیري نه کړي ! نوموړي فرانسوی عالم وایي چې سوسیالیستان د ټولنو عیبونه وایي او نیوکې کوي، مګر کارل مارکس په دې اړه نظر لري چې:(د نړۍ د عیبونو پیژندنه کافي نده باید د نیا الیشه کړو !) سوسیالیستان پر نیشنلیزم چې د ولس غوښتنه ده هم نیوکه کوي، او هغه د سرمایه دارۍ په غیږ کې روزل سوي چاري بولي.

**دوهم پړاو (هیله):**

فرانسوي عالم (فلسین شاله) د سوسیالیزم د تطبیقولو په اړه وایي چې(اوس چې زموږ ټولي مادي او مصنوعي ناجوړی د سرمایه داري نظام څخه پیدا سویدي باید د دغو ناجوړیو د درملني لپاره دغه رژیم(سرمایه داري) له منځه ولاړه سي. هغه خلک چې د انسانانو د ژوند د سمون لپاره کوښښ لري او دا علاج چې باید د سرمایه داری نظام ایسته کړل سي، له نظره لیري غورځوي. دوی نه پوهیږي یا دا چې درواغ وایي، په سوسیالیستي نظام کي کار لوی اساس بلل سوی دی او د کار په وسیله ژوند سمیږي، سوسیالیستان وایي د دي لپاره چي د ټولني حق ادا کړو یوازي د کار په وسیله دغه حق پر ځای کیدلای سي او هم وایي چي د تولید په برخه کي سیالي او مسابقه کول د ټولني او اخلاقو له مخي تاواني کار دی. انسانان یو د بل پر وړاندي باید اقدام او کار ونکړي بلکي یو د بل د مرستي لپاره کوښښ وکړي.

په یوه سوسیالیستي ټولنه کي ټول غړي یو د بل لپاره کارکوي. سوسیالیستان هیله لري چي د راتلونکي زماني خلک به کوښښ وکړي چي د تولید اوسنی نظام چي صحیح ندی ایسته کړي او د هغه پرځای داسي تولیدي نظام ټینګ کړي چي د مساوات پر پایو ولاړوي، د دي لپاره چي تولیدي انتظامات د لګښت پر بنسټ راوستل سي، باید د تولید وسایل د ممتازي طبقي څخه واخیستل سي او د ټولني ټولو غړو ته دي ورکړي. همداسي سوسیالیستان هیله او عقیده لري چي په سوسیلیستي نظام کي به ټول خلک کار کوي. که څه هم دا کار، بدني یا فکري وي! او ټول به د خپل کار د محصول څخه ګټه اخلي، ټول به د ژوند حق لري د ټولني له پلوه به د ټولو کوچینیانو، سپین ږیرو، سپین

سرو او ناروغو سره چي د دماغ او ځان د کمزورۍ له کبله د کار کولو توان نه لري، مرسته کیږي، ټول به حق لري چي یو کارته وګمارل سي، ځکه چي تولید به د مصرف له مخي د دولت له لوري تنظیم سي. یعني لومړی به ډیر هغه شیان چي خلک ورته اړتیاوي لري تولید سي او وروسته به تجملي شیان د خلکو د غوښتونو سره برابر د عدالت او مساوات له مخي توزیع سي، د آلمان د نولسمي پیړۍ د لومړی برخي نامتو شاعر (هاندي هین) وایي چي(یوه ورځ به را ورسیږي چي د انسانانو کوچنیان به د کفایت په اندازه ډوډۍ او ځای ولري).
سیالیستان وایي چي په دغه ټولنه کي به کارونه خلکوته ډیر ربړ او زحمت نه ورکوي او د ماشینونو په ذریعه به کارونه اسانه سي، هرڅوک به وخت او فرصت ولري چي د خپل لیاقت او غوښتونو پر بنسټ علمي، هنري، ادبي، فلسفي او مذهبي مطالعات وکړي، ټول غړي به یو ډول خپلواک وي، چي په دغه ډول خپلواکۍ کي به مساوات د عدالت او بشپړ رنګ ولري د تمدن کلمه یوازي پر هغي ټولني باندي صدق کوي چي هغه د سوسیالیزم پر بنسټ جوړه سوي وي، د سوسیالیستانو یو پوه (ژان ژورس) په خپل اثر کي چي(نوی لښکر) نومیږي لیکلي دي چي (هیڅکله تردي شریفه هیله نسي موندل کیدای چي یوه داسي ټولنه موجوده وي چي هلته (کار) سلطنت وکړي، هلته نه استثمار(زبېښاک) موجود وي او نه ظلم او زور چلول، په هغه ځای کي به د ګردو وګړو کوښښونه یو د بل مکمل وي او ټولنیز ملکیت به د فردي بشپړتیا بنسټ وګرځي).
د سوسیالیستانو هیلي یوازي د خپلو هېوادونو او ټولنو لپاره ځانګړي نه دي بلکي دوی په سیاسي او اقتصادي چاروکې د نړۍ د

ټولو انسانانو د برابروالي او مساوات هیله لري، ملي، نژادي او مذهبي اختلافات له منځه وړل غواړي.

**دریم پړاو (عمل):**

دا چــي څرنګــه یــوه ټولنــه سوسیالیســتي نظــام تــه ورســیږي پــه سوسیالیســتانو کــي د نظریـاتو او عقایـدو زیـات اختلافـات موجـود دي، په دي توګه چي د هغو څخه یوه ډله د عمومي انقلاب پلوي کوي، چي الماني کارل مارکس او ملګري یي د نوموړي نظریي ملاتړي دي، کارل مارکس یوازي دا نه وایي چي انقلاب دي وسي بلکي هغه عقیده لــري چــي دا ډول انقــلاب هــرو مــرو کیــدونکی دی. دی وایــي چــي فیلسوفانو دا نړی په بیلابیلو تعبیرونو سره واضح کړید، مګر اصلي موخه داده چي دي نړۍ ته یو ډول تغیر او بدلون ورکړل سي، د ده او ملګرو شعار یي داوو چي:(د دنیا کارګرو سره یو سی!).

مارکس او ملګرو یي سوسیالیزم ته د رسیدو لپاره د کارګرو انقلاب او د یوڅه وخت لپاره د هغو دیکتاتوری غوښتل، دوی سرمایه داري نظام سخت غندی او وایي چي:( د سرمایه داری نظام ټولنه پر دوو طبقو سرمایه دارانو او کارګرانو باندي ویشل سویده، د ټولني زیات خلک اجیران کیږي او ورځ په ورځ د کارګرانو پر ژوند فقر او بیوزلي زیاتیږي، پداسي حال کي چي سرمایه داران محدود او د ډیرو شتمنیو څښتنان کیږي، چي په دي توګه د دوی ترمنځ لوی توپیر موجودیږي او په پایله کي د کارګرو د انقلاب لامل کیږي).

مارکسیستان وایي چي د کارګرو انقلاب یوازي د سیاسي قدرت د په لاس راوړلو لپاره نه دی بلکي غواړي چي د خلکو او کارګرانو او بزګرانو د ژوند کچه لوړه کړي، اما د انقلاب لومړنۍ موخه د سرمایه

داری نظـام نـړول او لـه منځـه وړل دي، د مـارکس پـه عقیـده تـاریخ د طبقاتو ترمنځ د کشمکشونو او اړو دوړ څخه عبارت دی، نه د ولسـونو د جګـړو څخـه، او تـاریخي پیښـي د اقتصـادي قـدرت اوزور لانـدي پیدا سویدي[1].

**د سوسیالیزم تاریخ:**

د سوسیالیسـم مفهـوم او روحیـه د مـیلاد څخـه ډیـر کلونـه مخکـي پیدا سوي ده، چي وروسته بـه کلـه د روحـانینو او کلـه بـه د مـادیونو پـه نظریـاتو کـي ښـکاره کیـدل. د مـیلاد څخـه (۵) پیـړی مخکـي د سوسیالیزم مفهوم د سوفسطایانو په عقایدو کي لیدل کیږي، (تراسي مـارکوس) د عـدالت پـه اړه د طعنـي پـه ډول وایي(عـدالت د زورورو د ګټو څخه عبارت دی، ځکه چي واکمنه طبقه پـه هر هېواد کي هغـه قـوانین وضـع کـوي چي د دوی پـه ګټـه وي). همداسي (سـولون) د آتـن (یونان) نامتو حقوقپوه د میلاڅخه (۵۵۰) کاله مخکي د خلکو د ژونـد د معیـار د لوړولـو نظریـه ورکړیـده، چي بایـد کښـته طبقـه چي د ډیـرو پورو اخیستلو له کبله د غلامۍ پړاو ته رسیدلي ده د دغي لومي څخـه خلاصه سي. او وکولای سي چي خپـل ژونـد د صنعت او کـار پـه وسیله پرمخ بوزي (سولون) ډیر ویـاړ کـاوه چي د ده نظریـات د بیوزلـه او خـان ترمنځ تعـادل او مسـاوات راولـي. نومـوړي د ټولنیزو خرابیـو لـه کبلـه د (آتـن د ښـاري دولـت) د خلکـو لـه لـوري د خرابیـو د لیـري کولـو لپـاره وټاکل سو، وطبقاتي مبارزو او اړودوړ ته ځیر سو او دغـه مبـارزي یـي لازمي وبللي، دی د ټولنیزو طبقاتي مبارزو په ترڅ کـي د ټـولني تعـادل

---

[1]-سیاسي نظریات، مؤلف: محمدنادر ایوبي(کندهاری)، صحاف نشراتي موسسه کوټه، دوهم چاپ ۱۴۲۹ هجري قمري، ص ۵۵۰-۵۵۲

وینې همداسې یو سوفسطايي فیلسوف (الیداماس) د میلاد څخه څلور پیړۍ دمخه د ټولني د طبقاتي افراط او تفریط په اړه وایي (الله تعالی ټول خلک خپلواک پیدا کړي دي او طبیعت یو هم غلام نه دی پیدا کړی).

افلاطون د آتن د ښاري دولت پخوانی یوناني فیلسوف د میلاد څخه څلور پیړۍ مخکې نظریه ورکړې وه، چې دولتي مامورین، کارکونکي، نوکران او لښکر باید شخصي ملکیت ونه لري او حتی هغو ډلو د واده مخالف هم کوی. نوموړی د آتن د هغه وخت د خلکو د طبقاتو ترمنځ د اقتصادي بشپړ توپیر څخه ودې پایلې ته رسیدلی وو، چې باید په ټولنه کې علت العلل ورک سي، څو د خلکو په عمومي نظام کې عدالت او د اخلاقو ښه والی راسي. ځکه نو ده ویل چې:( د مالو ملکیت باید بشپړ لغوه سي). دی هم لکه یو سوسیلیست د ټولني اړودوړ د هغې ټولني د طبقاتي اختلافاتو څخه ګڼي، چې یوې ډلې هرڅه درلودل او په بشپړ عیش کې ژوند کاوه، بلې ډلې هیڅ نه درلودل په ډیر زحمت او ربړ اخته وه، دی وایي چې(په هر ښار کې دوه ښاره موجود دي، چې یو ښار د بیوزلو او بل ښار د بډایانو دی او د دغو دوو ښارونو ترمنځ تل اخ وډب جاري وي).

د سوسیالیسم مفهوم د لرغوني یونان د (شکاکینو) په فلسفه کې هم څرګند سوی وو وبیوزلو او کښتي طبقې ته خطاب کیدی او د هغو ملاتړ یې کاوه او په همدې نسبت یې وموضوعه قوانینو، رسومو او عاداتو ته بد ویل. همداسې د (کلبیونو) د فلسفې د ډلې د مشرانو، لکه (انتیس تنس) او (د یو جانس) په آثارو کې د ایډیالي سوسیالیزم او د اشتراکیت د ماهیت وړاندیز سوی دی، په دغه اشتراکیت کې

شخصي مالونه، واده او حکومت درې واړه رد سوي دي او غوښتل یې چې په ټولنه کې شخصي ملکیت، واده کول او حکومت باید موجود نه وي، همداسي د یونان د رواقیونو فلسفي هم د شخصي ملکیت سره رضایت نه درلودی. دوی د ټولې نړۍ د خلکو ورورولۍ او مساوات غوښتل او د نړیوالتوب پلویان وه او مادي ته یې د اصل په نظر کتل، یانې مادیون وه.

د میلاد څخه لږ وروسته د روم ځینو فیلسوفانو د سوسیالیزم د (عدالت او مساوات) مفهومونه د روحانیت یانې عیسویت په کړۍ کې تفسیرول، بشري او دولتي قوانین یې سپکول، چې د هغې زماني روحاني شخصیت (سن اګوستن) د یادولو وړ دی، چې ده او نورو د مسیحت د دین پوهانو او روحانینو، ملکیت او مالونه د شر او فساد سرچیني بللي وي.

د میلاد څخه پنځه پیړۍ دمخه (کنفوسیوس) د چین نامتو پوه او متفکر د دولت څخه غوښتنه کوي چې د کښتې طبقې د ژوند وسایل برابر کړي، نوموړی فیلسوف د انقلاب په اړه وایي چې:( د انقلاب حق الهي سرچینه لري). همداسي نوموړی د مالیې او ګمرکاتو د محصول د کنټرول او په ټولنه کې د تعادل د راوستو سپارښتنه کوي[1].

---

[1]- کنفوسیوس (۵۵۱-۴۷۹ میلاد څخه مخکې) د چین نامتو، عالم، معلم، فیلسوف او سیاسي نظریه ورکونکی و. دده په آند هېواد باید د لوی کور په څیر وګڼل سي، پاچا د نیک پلار او غم خوړونکي په څیر پر هغه حکومت کوي. لکه څرنګه چې په اسمان کې دوه لمرونه شتون نلري، همداسي په یوه هیواد کې هم باید دوه پاچاهان شتون ونلري او په کورنۍ کې بیا پلار واکمن او پاچا دی. د کنفوسیوس په آند د پاچاهۍ ټول واکونه او قلمرو په پاچا پوري اړه لري، چې دي ډول پاچاهۍ ته

د شپاړسمي پیړۍ په سر کې د (انابب تیسم) یا مسیحي سوسیالیسم غورځنګ کي لیدل کیږي، چي په المان، سویس او هالنډ کي دغه غورځنګ پیل سو، وروسته یي ونورو سیمو ته لاره پیدا کړل، دغي ډلي چي سوسیالیستي افکار یي درلودل د دولتو اطاعت یي شیطاني او مردود باله. د مالکیت او واده کولو کلک مخالفین وه او د دولتود قوانینو بشپړ له منځه تلل یي غوښتل، د څوارلسمي او پنځلسمي پیړیو د خپلواکۍ او د سیاسي مساوات غوښتلو افکارو اقتصادي مساوات ته هم متوجه کړل. د بیلګي په توګه داسي عقیده پیدا سول چي ټول خلک باید مساوي او برابر وي. همداسي د طبقاتو د اختلافاتو په اړه بحثونه کیدل. ځکه چي هغه وخت بزګران په ډیرو ربړو اخته وه او مجبوره وه چي زیات مالیات ورکړي، په پای کي د طبقاتي اختلافاتو اغیزي د (کارګرو) او کارامرکونکو په منځو کي هم اختلافات زیات او د هغو پیړیو په ادبیاتو کي د بشري مساوات او برابرۍ خیالات منعکس سول. د بیلګي په توګه دا ډول جملي ویل کیدي:

شریفان او بزګران، لوی او واړه ټول عاجز او لوڅ دي!

پدي ټوله لویه نړۍ کي !انساني طبیعت یو دی! او په هغه کي شک نسته!

په نوموړو پیړیو کي ځینو عقیده درلودل چي مسیحي دین، د خلکو مساوات او ورورولي غواړي، ځینو عقیده درلودل چي مساوات د مالو او شیانو د مساوات څخه پرته مساوات نه دی. ځکه چي شتمني د

---

پلارواکي پاچاهۍ هم ویل کیدای سي. دده په آند پاچا باید د الهي واکمنۍ پر بنسټ پاچاهي وکړي، یانې پاچا باید اوامر او دستورات د الله تعالي څخه واخلي.

قدرت زيږنده ده او قدرت ياني ظلم او پردي علاوه ثروت او شتمني د رښتيا او امانت له لاري هيڅکله لاسته نه راځي، هيڅ چا شتمني د کوښښ له لاري لاس ته نه ده راوستي او نه يي راوړي، ټوله شتمني د هغو خلکو د برخو غصبول دي چي د بډايانو سره يي کوښښ او کار کړی دی، بډايان د نورو خلکو د مالو د مالکيت له کبله شتمن سوي دي، شتمنو هغه موجود مالونه چي زحمت کښانو توليد کړي دي، غلا کړي دي ځکه نو د آزادۍ ميل دا غواړي چي مځکه د ټولو په ګډه وي او د هغو حاصلات په ګډاموکې وساتل سي او هر څوک خپل د اړتياوو په اندازه د هغه څخه ګټه واخلي، ټول سالم خلک بايد کارته وګمارل سي.

په اولسمه ميلادي پيړۍ کي په انګلستان کي د سوسياليستانو يوه ډله راپورته سول، چي په ټولنه کي يي اقتصادي مساوات غوښتی، د بيلګي په توګه دوی به ويل چي:(طبيعت مځکه د عامي خزاني په ډول بخښلي ده او ټول افراد حق لري چي د ځان ساتني لپاره د دغي عامي خزاني څخه ګټه واخلي). يا يي ويل چي(هيڅوک بايد د بل څښتن او مالک نه وي او مځکه د ټولو نرو او ښځو لپاره ځانګړي ده، چي په خپلواکۍ سره پر هغې ژوند وکړي). د انګلستان د هغي زماني سوسياليستانو د ټولني د ټولو عيبونو او ظلمونو علتونه شخصي ملکيت په ځانګړي ډول د مځکي ملکيت باله دوی ويل چي شخصي ملکيت د جګړو او وينو تويولو بنسټيز لامل دی، شخصي ملکيت په خپل ذات کي د شر، فساد، ظلم او حرص سرچينه ده، يوه ډله چي بيوزله او بله ډله چي بډايه وي، يوه ډله چي د غلامانو په څير ژوند کوي او بله ډله چي د هغو د کار محصول په غلا کولو ډير ښه ژوند لري

دغه ګرده د شخصي ملکیت موجودیت دی. د شخصي ملکیت په لغوه کولو سره ټولي بدی، ورکیږي او ټولنه سمیږي.
د انګلستان نامتو فیلسوف(جان لاک) د طبیعي حالت په اړه وایي( انسانان د طبیعت په حالت کي خپلواک او مساوي دي). د مالو په اړه وایي(الله تعالي مځکه انسانانو ته ورکړي ده او د انسانانو ونوع ته یي په ګډون سره پري ایښي ده). بیا وایي (مالونه په هغه اندازه محدود دي چي یو شخص یي د خپل ژوند لپاره په کار اچولای سي).
په اتلسمه پیړۍ کي د فرانس فیلسوف(هولباخ) په خپل تألیف د (طبیعت نظم) کي د سوسیالیزم د مفاهیمو څخه ږغیږي، ځیني مفسرین وایي چي کارل مارکس د هغه د نظریاتو څخه استفاده کړي ده. همدارنګه انګلیسي فیلسوف(جان استورات میل) هم ځان سوسیالیت یاد کړی دی، ځکه چي مارکس یي ماټریالیست سوسیالیست ګڼلی دی. نوموړی فیلسوف له یوي لوري د فرد د خپلواکۍ پلوي کوي له بلي لوري د دولت څخه د اقتصادي چارو د کنټرول هیله لري، دی د تولید په اړه د سرمایه داري نظام ملاتړ کوي اما په توزیع کي د سوسیالیزم د مرام ملاتړ سوی دی.
په فرانسه کي ځیني نامتو فیلسوفانو لکه(روسو)،(مونتسکیو) او (ولتر) هم په اتلسمه پیړۍ کي د ټولنیز عدالت او د انسانانو د حقوقو د پرځای کولو، ویناوي کړي او لیکلي دي، وروسته په نولسمه پیړۍ کي د مارکس او انګلز سوسیالیستي فعالیتونه منځ ته راغلل او د ټولي نړۍ د کارګرو اتحاد او انقلاب یي غوښت. په شلمه پیړۍ کي لینن او ملګرویي د مارکس او انګلز د نظریاتو مطابق په روسیه کي د

کمونیســتي حکومـت بنســټ ټینـګ کـړ، امـاد اویـاوو کلـو وروسـته نوموړی نظام د ناکامۍ سره مخامخ سو او له منځه ولاړی.

په شلمه پیړۍ کي ډیر ګوندونه د سوسیالیزم او سوسیل ډیموکراټ پـه نومونـو پیدا سـول، چـي د کـارل مـارکس او انګلـز د سوسـیالیزم مخالف وه، دوی د کارګرو انقلاب او دیکتاتوري ښه نه بلل، پـه ځینو هېوادونـو کـي سوسـیالیزم د مـذهب سـره یوځـای ترکیبـي ګوندونـه پیدا کړل، چي د مسیحي سوسیالیزم په نومو ونومول سول، همدا رنګه د وطندوست پـه نامـه چي د (نیشـنلیزم او سوسـیالیزم) اخښـل سـوی ترکیب دی نظریات مـنځ تـه راغلـل، د مارکس او انګلز سوسیالیسم د دیـن او اخلاقـو څخـه بهـر پـه دي عقیـده وو چـي هرومـرو اوسنۍ ټولنـه خپل ځای یوي بلي سوسیالیستي ټولني ته پریږدي. دوی پـه دي عقیـده وه چي د تـاریخ اړتیـا د دي ایجـاب کـوي چي هرومـرو ژر یـا پـه ځنډ بـه سرمایه داري نظام خپل ځان د سوسیالیزم نظام ته پریږدي.

ځیني اقتصادی او ټولنپوهان وایي چي د سوسالیسـتانو پـه ځـانګړي ډول د مارکس او انګلز عقایدو پر سرمایه داري نظام هم اغیـز وکـړ، دا ځکه چي که دغه ډول نظریات نه وای منځ ته راغلي سرمایه داري نظـام به هیڅ کله اصلاح سوی نه وای.

## سوفوکراسي[1] (سوفیزم)

په یوناني ژبه کي (سوفیسما او سوفیزا ) د زده کړي او پوهي په مانا ده او (سوفوس ) بیا د عقل او علم په مانا دی. سوفیست د سقراط څخه مخکي فیلسوفان وه، چي ددوی مکتب او تلنلاري ته سوفیزم ویل کیدی. په لرغوني یونان کي عاقل، فیلسوف، پوه او متفکر شخص ته سوفیست ویل کیدی او د ښاغلي او محترم عنوان په څیر کارول کیدی، خو کله چي دا فلسفه د سقراط او افلاطون لخوا تر نیوکو لاندي راغله بیا دي اصطلاح خپله لومړنی مانا دلاسه ورکړه او د رنښت یې کم سو، چي وروسته د هغه چا دپاره دا اصطلاح کارول کیده، چي په خبرو کي د چل او فریب پر بنسټ پر خپل مقابل تن باندي برلاسه سي، چي په همدي وخت کي د سفسطي اصطلاح هم و کارول سول.

پر سوفیستانو باندي د سقراط او افلاطون نیوکي له دي اړخه وي، چي سوفیستانو به د علم او پوهي د زده کړي په بدل کي د خلکو څخه پیسي اخیستي، پداسي حال کي چي د افلاطون او سقراط په آند علم مقدس او سپیڅلی دی او هغه باید د مادیاتو په اخیستلو باندي ناولی نسي. یانې علم باید د توکو په څیر د خرڅولو او رانیولو شی ونه ګڼل

[1] Sophocracy or Sophism.

سي. بلکي په وړیا توګه باید خلکو ته وروښودل سي او عالم شخص باید د خلکو په منځ کي د پلورونکي په څیر ونه ګڼل سي. همدارنګه سقراط چي به کله چاته زده کړه ورکول، نو ده به ویل زه چاته علم او پوهه نه ورزده کوم، بلکي په چا کي پټ استعداد ونه راویښوم.

سوفیستان په پاشلي او بېلي بڼې سره خلکو ته د علم په زده کړه بوخت وه، چي د پیسو په مقابل کي یې خلکو ته علم ورزده کوي، یاني د هغه وخت معلمان او ښونکي وه، چي په ټولیز ډول یې ځانګړې ډله نه درلوده. ددوی مخالفینو داسي دلیل وایه، چي علم هم د شتمنو او اشرافو په لاسونو کي لویدلی دی او بېوزله خلک به د علم څخه محروم او بې برخي پاته سي.

د یادوني وړ ده، چي د لرغوني یونان هغه فیلسوفان چي تر سوفیستانو مخکي وه، هغو د طبیعت، ستورو او د مځکي د کري نورو موجوداتو په اړه څیړني کړیدي، یاني دوی انسان ندی څېړلی او نور غیري انساني موجودات یې څېړلي دي. وروسته ددوی څخه همدغه سوفیستان وه، چي د غیري انساني موجوداتو څخه یې خپلي څیړنې انسان ته متوجه کړي او انساني طبیعت او انسانان یې د خپلي څیړنې موضوع وګڼل. د زیږدیز کال څخه پنځه پیړۍ مخکې د سوفیستانو یو مخکښ (پروتاګوراس) پدي آند و، چي (انسان د ټولو شیانو مقیاس) دی.

د سقراط څخه مخکي سوفیستان د خپل وخت او ټولني روڼ آندي، د ښه فکر خاوندان او پر روانو چارو باندي نیوکه کونکي وګڼې وه. همدارنګه دوی د بشري تړونونو په خلاف وه. د زیاتو پوهانو په آند د کلبیون او شکاکین فلسفو هم د سوفیستانو څخه سرچینه اخیستي

ده، خو شکاکین او کلبیون بیا دا فلسفه په افراطي بڼه واړول، پدې فلسفي او سیاسي تلنلاري باندې د ښې پوهېدني لپاره به کلبیون او شکاکین هم په لنډ ډول روښانه کړو:

**کلبیون او شکاکین**:

کلبیون او شکاکین په خپلو منځونو کې دومره ورته والی لري، چې زیات پوهان یې توپیر نه مني، خو ځیني نور پوهان بیا وایې چې کلبیون او شکاکین په خپلو منځونو کې یو لړ توپیرونه لري. که چیرې وغواړو، چې د کلبیون او شکاکین ترمنځ توپیر په لنډ ډول روښانه کړو نو ویلای سو، چې شکاکین تر کلبیون یوڅه نرم او معتدل دي، خو کلبیون بیا تر شکاکین یوڅه افراطي او سختریزه دي؛ ځکه چې شکاکین په طبیعت کې د ټولو شیانو په اړه شک ښودلی دی، پداسې حال کې چې کلبیون بیا د ټولو شیانو څخه منکر سوی دی. لکه څرنګه چې ددې دواړو فلسفو عناصر د سوفیزم د فلسفې څخه اخیستل سوي دي، له همدې کبله کله ځینو پوهانو کلبیون ته شکاکین او یا شکاکینو ته کلبیون کارولی دی او یا هم ددواړو د پاره یې سوفیزم کارولی دی.

دوی پدې آند وه، چې (عامه خلک ناپوه او احمق دي او پوه او واکمنان خلک بیا نیک او د ښه ژوند خاوندان دي، همدارنګه دوی واکمنان او پوه خلک د دولت د قوانینو څخه خپلواک ګڼې او هم پدې آند دي، چې د واکمنانو لپاره ددولت هرکونج او ګوټ د خپل ځاني کور او ټاټوبې حیثیت لري) همدارنګه دوی وایې چې واکمن کور، وطن او هېواد ته اړتیا نلري او همدارنګه قانون او ښار ته هم اړتیا نلري؛ ځکه چې د هر شخص پر هیز او تقوا دده لپاره قانون دی.دوی وایې (ټول بشري موسسات او بنسټونه مصنوعي او مساوي دي او پر واکمن او

پو ه شخص باندي اغیز نسي ښیندلای. یوازنی ریښتنی هیواد او ټولنه هغه ده، چې د تابعت شرط یې پو هه او حکمت وي؛ نو داسي هېواد نه ټاکلی ځای او نه هم قانون ته اړتیا لري. د نړۍ ټول پوه کسان، چې هرځای وي خپله د یوي ټولني حیثیت لري، چې هغه ته (نړیوال ښار) ویلای سو او واکمن شخص د همدي نړیوال ښار غړی او تبعه ګڼل کیږي[1].

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴ش، ص ۱۱۸-۱۲۳

# سیکولاریزم[1]

سیکولر په انګلیسي او فرانسوي ژبو کې د دنیایي (یوازې هغه څه چې د دې مادي نړۍ په چارو پورې اړوند وي) مانا لري. دا اصطلاح په حقیقت کې د لاتیني ژبې د سیکولوم څخه اخیستل سوې ده، چې د دنیاوي چارو په مانا ده. سیکولاریزم په عامه مانا د نړۍ پالنې یانې د دنیاوي چارو د ترسره کولو اندونو ته ویل کیږي؛ نو ځکه دا اندونه مذهبي چارې نه مني او د مذهب د شتون څخه انکار کوي. د سیکولاریزم د اصطلاح پښتو مانا په (بې دینۍ) سره کولای سو، یانې د دین او مذهب سره هیڅ اړیکه نه درلودل او یوازې د دنیاوي چارو تر سره کول، یا په بل عبارت سیکولاریزم یو داسې تولنیز خوځښت دی، چې موخه یې د دیني چارو څخه د خلکو اړول یانې خلک باید د دین پر ځای دنیاوي چارو ته پاملرنه وکړي. د سیکولاریزم اصطلاح د لومړي ځل لپاره په (۱۸۴۲ز) کال کې د جورج یاکوب هالي اوک لخوا وکارول سول. ده سیکولاریزم داسې تعریف کړ(( هغه باور او عقیده، چې یوازې د دې نړۍ پر چارو او تجربو باندې ولاړه وي)). دی سوسیالیست و او

[1] - Secularism

پدي باور و، چي دولت بايد د وګړو د ژوند د پرمختګ او ښېګڼو لپاره کار وکړي نه د اخروي ژوند او ارواحو لپاره.

سيکولاريزم هيڅ ډول عبادات، روح او ايمان نه مني، ددي اندونو پر بنسټ يوازي يوه نړۍ شتون لري، هغه زموږ د اوسيدني نړۍ ده، دوی پر اخيرت او د انسان پر بيا ژوندي کيدو باندي ايمان نلري، دوی انسان يوازي پدي مکلف ګڼي، چي ددي نړۍ کارونه په سمه توګه تر سره کړي. سيکولاريزم هڅه کوي، چي داسي ټولنيز ژوند رامنځته کړي، چي ددين سره هيڅ اړيکه ونلري، دوی دين د ټولنيزو بد بختيو لامل بولي. همدارنګه دوی سياست او دين هم سره بيلوي او په سياسي چارو کي د ديني ارونو پلي کول نه مني. د سيکولاريزم يوه کوچنۍ ډله بيا دين مني او هغه يوازي په کليسا او د وګړو په ځاني اعمالو پوري اړوند بولي.

د سيکولاريزم اندونه هغه وخت د خلکو په منځونو کي پيدا سول، کله چي پاپانو(عيسوي ملايانو ) د حضرت عيسي (ع) د دين څخه ناوړه ګټه واخيستل، پاپانو دين د خپل نفوذ او واک د لاسته راوړلو يوه وسيله وګرځول. پاپ د دين د استازي په توګه د خلکو پر ټولنيز ژوند باندي واکمن و. سربيره پر ټولنيز ژوند باندي په سياسي چارو کي هم ور ګډ سو او سياست يې د کليسا تابع کړ، پدي وخت کي سياسي مشرانو د کليسا بشپړ تابعت کاوه او حتا ځيني وختونه به پاپ خپله سياست په لاس کي اخيستئ.

دا هغه وخت و، چي اروپايان په تورو تيارو کي ډوب وه، عامو خلکو د علم د لاسته راوړلو حق نه درلودی، په ټولنه کي به د خلکو جرمونه او ناوړه کارونه د پاپ لخوا د څو پيسو په بدل کي بخښل کيدل او

هغه څوک چې به د پاپ پر وړاندي را پورته سو هغه ته به د دوږخ لیک (پاڼه) ورکول کیدل او د پیسو په بدل کي به د جنت کیلي هم د پاپ لخوا خرڅیدل.

دا ډول جهالت او ناپوهي تر (۱۵ز) پیړۍ پوري روانه وه او په پایله کي خلک ددي ډول حالت څخه ډیر زړه تنګي سول؛ نوځکه د بدلونونو غوښتنه کیدل، یانې د بدلون لپاره عیني او ذهني شرایط برابر وه، پدي وخت کي په اروپایې ټولنه کي ځینو پوهانو د کلیسا پر وړاندي مبارزه پیل کړه، ددي ډلي څخه یو هم (مارتین لوتر)، لوتر په (۱۴۸۳ز) کال کي په المان کي وزیږیدی او په اصل کي المانی و. دی په (۱۵۱۱ز) کال کي روم ته واستول سو او په هغه ځای کي یې د پاپ غرور، جلال، لوړوالی او ناوړه اخلاق ولیدل؛ نو ځکه په غوسه سو او کله چي یې د پاپ ناوړه کارونه لکه د پیسو په بدل کي د ګناهونو بخښل او د جنت د کیلیانو خرڅول ولیدل نو دیته اړ سو، چي د پاپ پر وړاندي مبارزه پیل کړي. همغه و، چي د پاپ پر وړاندي باندي ودریدی او ویل یې چي یوازي پر انجیل او مسیح باندي عقیده درلودل بسنه کوي نه د پاپ هره خبره منل، ده خلک دیته و هڅول، چي یوازي پر خپل دیني کتاب او پیغمبر باندي باور ولري او د پاپ ناوړه او ځانې خبري ونه مني؛ نوځکه د پاپ لخوا ده ته تکفیرلیک واستول سو، دا تکفیر لیک د لوتر لخوا د عامو خلکو په مخ کي په یوه لوی میدان کي وسوځول سو. د لوتر د مبارزي یوازنۍ موخه د خلکو د مذهب خپلواکي وه.

د لوتر او نورو پوهانو همدا مبارزي او د کلیسا پر وړاندي دریځ د سیکولاریزم مفکوري په اروپایې ټولني کي وزیږولي. خلکو د پاپ پر

وړاندي دریځ غوره کړ او د دا ډول پوهانو ملاتړ یې کاوه. دا دوره د رنسانس (بیازیږیدني) په دوري باندي هم پیژندل سویده، پدي دوره کي پر لوتر سربیره نورو پوهانو هم د پاپ او کلیسا پر وړاندي دریځ غوره کړ.

**د سیکولاریزم دیني ریښي:**

لکه څرنګه چي سیکولاریزم د دین او مذهب ضد دریځ او فلسفه ده، نو ځکه شاید زیات خلک پدي نه وي خبر چي سیکولاریزم لومړی په دیني بڼه کي ځان څرګند کړ. یانې د سیکولاریزم څخه د لومړي ځل لپاره د کاتولیک کلیسا په بېلابېلو برخو کي استفاده وکړه. د سیکولاریزم نښې نښاني لومړی د عیسویانو په کتاب انجیل کي ښکاره سوي، پدي کتاب کي داسي راغلي دي، چې ((باید د پاچا کارونه پاچا او د خدای کارونه خدای ته وسپارل سي))، وروسته اګوستهین چې د مسیحت د سترو پوهانو څخه و دي خبري ته یې داسي سپړنه ورکړه، چې د دوو ښارونو یا نړیو تر منځ باید توپیر وسي، یانې یو د (دنیا ښار) دی او بل د (خدای ښار) دی. که څه هم اګوستین دا خبره د خدای د قدرتونو د ښودلو او د الهي واکمنۍ د ټینګولو لپاره وکړه، خو ځینو بنسټپالو بیا دا خبره د سند په بڼه وکارول او داسي ادعا یې کول، چې کلیسا د دنیایې ښار لپاره تشکیلات دي او مدني دولتونه باید د کلیسا ملاتړ وکړي، خو ځینو نورو بیا چې د سیکولار د خپلواکۍ لپاره یې مبارزه کول، داسي ادعا یې وکړه، چې د خدای ښار د دنیا د ښار پر بنسټ د ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی.

په منځنیو پیړیو کي په اروپا کي د لاتین ژبې سیکولاریس اصطلاح د (اوسنۍ زماني) لپاره کارول کیدل، خو په عمل کي هغو روحانیونو

ته هم کارول کيدل چې د رهبانيت سوګند يې نه و ياد کړی. دا روحانيون چې د رهبانيت پر ځای يې د دنيا کارونو ته مخه کړې وه، د سيکولار په نامه يادېدل. لکه څرنګه چې دغو افرادو د رهبانيت پر ځای د دنيا کارونو ته مخه کړې وه، له همدې کبله يې د اخلاقياتو هغه معيار نسو برابرولای، لکه د روحانيونو څخه چې هيله کېدل. خو هغو روحانيونو چې د رهبانيت سوګند به يې ياد کړی و، د اخلاقياتو هغه معيار يې برابولای سو. له همدې کبله په کليسايي پوړبندۍ کې به يو شمېر روحانيون د سيکولار په نامه يادېدل.

ويلای سو، چې د کليسا په جوړښت کې د مسيحت له پيله د خالص ديني او نا خالص ديني نظامونو ترمنځ تو پير شتون درلودی، چې همدې توپير وروسته د الاهيونو ترمنځ د ايمان او معرفت پر بنسټ د بېلتون تخم وشيندی. يانې ايمان او وحي په کليسا پورې وتړل سول او معرفت چې د انسان د پوهې سره يې تړاو پيدا کړ، د ايمان څخه بېل وګڼل سو. د دې ډلې د پوهانو څخه اسکوتوس او ويليام دي، چې ايمان او معرفت يې بېل وګڼل او په پايله کې يې داسې وړانديز وکړ، چې ايمان او انساني پوهه سره په ټکر کې دي، نو بايد بېل وګڼل سي. د دوی په آند عقلي پوهه بايد پر مادي تجربو باندې ولاړه وي او انساني پوهه پر څېړنه او تجربه باندې ولاړه ده. يانې ايمان نسي کولای چې عقل ته لارښونه وکړي او عقل هم نسي کولای چې د ايمان زيربنا سي.

همدا لاملونه وه، چې هغو مبارزه کونکو چې دين او دنيا سره بېله کړي، لومړی يې د سيکولاريزم ريښې په مسحيت کې پيدا کړي او بيا يې د همدې بېلتون لپاره بنسټيزه مبارزه وکړه، چې د اروپا د رنسانس

په دوره کې دې ډول آندونو او باورونو زیاته پیاوړتیا تر لاسه کړه او اوس په اروپا کې دیني او دنیاوي کارونه بېخي سره بېل دي.

**د سیکولاریزم فلسفه:**

پوهېږو چې سیکولاریزم د دین ضد آندونه دي، خو په عین حال کې سیاسي، فرهنګي او ټولنیزه فلسفه هم ګڼل کیږي. سیکولاریزم په فلسفي بڼه باید د هغه سیکولاریزم سره بېل کړو، چې د آیډیا په بڼه لوستل کیږي.

د سیکولاریزم فلسفي د ژوند بېلابېلو اړخونو ته شرحه ورکړېدېده، چې زیاتره یې ورته والی سره لري، جورج یاکوب هالي اوک چې د سیکولاریزم د اصطلاح بنسټ ایښودونکی دی، په خپل کتاب ( انګلیسي سیکولاریزم ) کې دا فلسفه دا سې تعریفوي: (( سیکولاریزم د دې نړۍ په چارو پورې اړوند نظام ته ویل کیږي، سیکولاریزم یوازې د انساني کړنو او اعمالو پر بنسټ ولاړ دی او ټول هغه کسان د دې لارې پلویان دي، چې پر الهیاتو باندې باور نلري او یا هم هغه نا معین، نا کافي او غیري باوري ګڼې )). همدارنګه امریکایې ازاد فکره او ویاند رابرټ ګرین اینګرسول د سیکولاریزم لپاره دا سې تعریف وړاندې کوي (( سیکولاریزم د انسانیت دین دی، چې د دې نړۍ د چارو سره سرو کار لري او په هر هغه څه کې چې د بشریت ګټه او خیر وي، د هغه سره تړاو لري، همدارنګه سیکولاریزم زموږ پاملرنه ټولو هغو سیارو او بنسټونو ته را اړوي، کوم چې د بشریت ژوند ور باندې ولاړ دی، یانې هر فرد ارزښتمن دی، د فکري خپلواکۍ لپاره بیانیه ده، کار او زحمت د منبر څخه غوره ګڼې، یانې هغه کسان چې زحمت کاږي هغه باید ګټمن سي او هغه څوک چې تشي کیسي کوي هغه باید په ځنځیر

وتـړل سـي، همدا رنګـه سـيکولاريزم د کليسـا د خپلسـرۍ پـر وړانـدي اعتراض دی، او هم د هغه څه پر وړاندي اعتراض دی چې د بلي خيـالي نړۍ به تشو کيسـو بانـدي زمـوږ دا رنګېنـه نـړۍ تباه کـوي. لنډه دا چې سيکولاريزم د همدي نړۍ د چارو لپاره هڅه کـوي، چې تـر څـو انسـاني نـړۍ رنګينـه او د انسـانانو ژونـد ښايسـته کـړي)). ويرژيليـوس فـرم پـه خپـل کتـاب (دينـي دايـره المعـارف) کـي وايـې ((... سـيکولاريزم هڅـه کوي، چې د انساني پوهي او د دين او دنياوي چارو د بېلتون پر بنسټ انساني او ټولنيز ژوند ته سازمان ورکړي. سيکولاريزم ټول انسـاني او ټــولنيز فعـاليتونــه د انســـاني ژونــد د خيــر او ښــېګڼي پــه موخــه کنټرولوي)). په پای کي برنارډ لوئيس د سيکولاريزم مفهوم پـدي ډول بيـانوي ((د سـيکولاريزم اصـطلاح لـومړی ځـل پـه نولسـمه پيـړۍ کـي انګريزي ژبي ته ورننوتل او ايډيالوژيکـه بڼه يې درلـوده. سـيکولاريزم لـومړی د هغـي پـوهي پـه بڼـه ځـان څرګنـد کـړ، چـې اخلاقيـات بايـد د عقلاني پوهي پربنسټ د انساني ژوند د ښېګڼي لپـاره و کـارول سـي او پـه خـدای او بلـي نـړۍ پـوري اړونـد خبـري بايـد ورکـي سـي. وروسـته سيکولاريزم داسي وړانديز وکړ، چې د زده کړي عمومي بنسـټونه بايـد سيکولر (غيـري دينـي) سـي. پـه شـلمه پيـړۍ کـي دا اصـطلاح بـه پراخـه مانـا سـره وکـارول سـول، چـې د دولـت او دينـي بنسـټونو بېلتـون يـې غوښتی)).

د پورتـه تعريفونـو پربنسـټ ويـلای سـو، چـې سـيکولاريزم يـوازي د انسان دنياوي ژوند غواړي او پر اخروي ژونـد بانـدي هيـڅ بـاور نلـري، دا فلسـفه د انسـان د ژونـد چـاري د عقـل او انسـاني پـوهي پربنسـټ تنظيمول غواړي، چې د اخلاقياتو او الهياتو سره په ټکر کي دی.

**سیکولاریزم د سیاسي او ټولنیز خوځښت په بڼه:**

د سیکولاریزم فلسفه په سیاسي او ټولنیزه برخه کې زیاته مطرح کېږي او زیاتره وخت یې ځانته ځانګړی سیاسي خوځښت او بنسټ جوړ کړی دی. سیکولاریزم د تاریخ په اوږدو کې د ځانګړي سیاسي او ټولنیز جوړښت په بڼه کله د ناتورالیسټ (طبیعت پاله) او کله هم د ماتریالیست (مادیت پاله) په بڼه ځان څرګند کړی دی. د سیکولاریزم قلمرو تر دیني قلمرو ور اوړي او د لادیني پایو پر بنسټ سیاسي سازمان جوړوي.

په لرغونو وختونو کې په مسیحي هېوادونو کې دولت فاسد بنسټ ګڼل کېدی او دولت یې د فاسدو واکمنانو په چوپړ کې ګڼی چې باید وګړي د خپلو اصلي دندو څخه د کلیسا تابعیت ته راوګرځوي. ددي پر خلاف کلیسا بیا هغه سپیڅلی بنسټ ګڼل کېدی، چې دولت باید د هغه تابع وي، که څه هم د دولت دنده په ټولنه کې د عمومي نظم راوستل دي خو کلیسا بیا تر ټولو بنسټیزه دنده لري هغه د خلکو د ارواحو او اخروي ژوند مسؤلیت دی. خو په منځنیو پېړیو کې د الاهیونو او فیلسوفانو ترمنځ د دولت پر سر د دلایلو په وړاندي کولو سره دي آند څه ناڅه بدلون وکړ، د بېلګې په توګه توماس اکویناس داسي استدلال کاوه، چې دولت هم د مځکې پرمخ د الله تعالی د اوامرو او ارادي د پلي کولو لپاره هڅه کوي، یانې دولت هڅه کوي، چې د خلکو ژوند ته داسي نظم ورکړي، چې دوی په ښه ډول د الله تعالی اوامر ومني او داخروي ژوند لپاره کار وکړي. که څه هم اکویناس دولت د کلیسا تابع وګڼی خو د دولت نورو کړنو ته یې په منفي نظر نه کتل. همدارنګه په ایټالیا او د اروپا په نورو سیمو کې د

رنسانس په راتګ سره دي نظر نور هم بدلون وکړ، په اروپا کې رنسانس داسې فکري انقلاب راوستی چې ټولي سیمي ځینې اغېزمني سوي. په همدې وخت کې ځېنو لیکوالانو لکه دانته، پدي آند وه، چې واکمنان کیدای سي، چې په هیڅ شي کې کلیسا ته اړتیا ونلري. که څه هم دا آند د منځنیو پیړیو تر ورستیو پوري د ټولو لخوا ونه منل سو، خو د وخت په تیریدو سره ځېنو لیکوالانو لکه ماکیاولي ومنل او د خپلو فلسفو د اصولو په بڼه یې وګرځول.

په منځنیو پیړیو کې د کلیسا او پروټستانټ ترمنځ د مسیحت دانحراف پر سر باندي ټکر راغلی، چې وروسته د پاپانو لپاره دا مبارزه ډېره مرګوني تمامه سول او په خلکو کې د کلیسا او دولت ترمنځ د بېلتون فکر پیدا سو. له همدي کبله په مدني ټولنه کې داسي بنسټونو او اصولو ته اړتیا پیدا سول چې په بشپړ ډول د دیني افکارو څخه پاک وي. ځېني طبیعي حقوقو ته ژمن پاته سول، لکه رواقیان، ځېني نور بیا د مسیحت څخه بل ډول تعبیر ته ژمن پاته سول، لکه ډئیزم. د یادولو وړ ده چې په منځنیو پیړیو کې فیلسوفانو د دولت او کلیسا ترمنځ داسي بېلتون ندی راوستلی لکه په اوسني وخت کې چې شتون لري.

نو ویلای سو، چې کله اروپا د جهالت په تیاره کې ډوبه وه او پاپانو د خپلو ګټو لپاره مسیحي زده کړو ته انحراف ورکړی و، چې په همدي وخت کې یو شمېر اروپایې روڼ آندي دي ټکو ته متوجه سول او پر وړاندي یې غبرګون وښودی، چې همغه وخته په خلکو کې د کلیسا او حکومت د بېلتون افکار وزیږیدل. وروسته د ډیرو مبارزو څخه کله چې رنسانس بریالی سو، د اروپا پر سیاسي اسمان باندي د سیکولاریزم

سياسي خوځښت هم را څرګند سو، چې پدي وروستيو کي يې ځان د فلسفي او سياسي مکتب په بڼه هم په خلکو منلی دی.

**سيکولاريزم او سيکولاريزيشن:**

که څه هم سيکولاريزم او سيکولاريزيشن نژدي اړيکې سره لري، خو يو ندي. ددوی ترمنځ توپير د هغې پوښتني په ځواب کي دی، چې د دين رول په ټولنه کي څرګندوي، ياني سيکولاريزم د دين څخه د سياسي او ټولنيزو چارو خپلواکي غواړي، خو داسي نه وايې، چې دين په سياسي او ټولنيزو چارو کي هيڅ رول نلري. خو سيکولاريزيشن بيا په هيڅ ډول دين په سياسي او ټولنيزو چارو کي نه مني او بشپړ بېلتون يې غواړي. نو ويلای سو چې سيکولاريزم د دين رول او ارزښت ته په نسبي ډول قايل دی، خو سيکولاريزيشن بيا په هيڅ ډول دين نه مني.

همدارنګه د سيکولاريزم او سيکولاريزيشن ترمنځ بل توپير پدي کي دی، چې سيکولاريزم يوي موضوع ته په فلسفي بڼه ګوري او د فلسفي اړخه يې روښانه کوي، پداسي حال کي چي سيکولاريزيشن بيا د همدي فلسفي د پلي کولو لپاره هڅه ده، چې کله ناکله د زور پر کارونه هم باور لري. په سيکولاريزه ټولنه کي د ديني بنسټونو اواز نه مړ کيږي، بلکي کولای سي، چې په عمومي چارو کي خپل نظر څرګند کړي، خو ددوی اقتدار او واک محدود وي او دولت نه ددوی پر وړاندي دريځ لري او نه هم ددوی په ملاتړ کار کوي. بلکي ديني بنسټونه د خپلواکو بنسټونو په بڼه ګڼل کيږي.

**سیکولر دولت**:

د دین او دولت د بېلتون آندونه د لومړي ځل لپاره د لیبرال پوهانو لخوا وړاندي سول.

**د سیکولاریزم اصول**:

سیکولاریزم یو شمېر بنسټیز آندونه او آرونه لري، چي د هغو پر بنسټ ژوندۍ پاته سوی دی، د سیکولاریزم دا آندونه په اروپا او امریکا کي زیات منل سویدي، چي په لاندي ډول یې یادونه کوو:

۱ . **هغه څه چي مادي اړخ ونلري د منلو ندي**:

د سیکولاریزم لومړی آر دادی، چي الله تعالي، دین، پیغمر، ملایکې او اسماني کتابونه نه مني، ددي تلنلاري پلویان دین د ژوند د انحراف او کرېدنې لامل بولي. خو یوه کوچنۍ ډله بیا دین مني او هغه یوازي د وګړو د ځانې اعمالو په څیر ګڼي، دوی پدي باور دي، چي دین او عبادات باید یوازي په کلیسا او عبادتځایونو کي تر سره سي، نه داچي سیاست او حکومت ته هم ورننوځي.

۲. **د ماکیاولي اندونه**:

دا آر د نیکولا ماکیاولي د اندونو پر بنسټ ولاړ دی، ماکیاولي هم د دین او سیاست د بیلوالي غوښتنه وکړه، ماکیاولي په خپل یو کتاب کي لاندي درو ارونو ته اشاره کړیده:

الف- انسان په طبیعي ډول شر غوښتونکی پیدا سوی دی او خیر غوښتنه دده د فطرت سره مخالفه ده؛ نو ځکه پاچا باید د خلکو پر ټولنیز ژوند باندي هر ډول واکمني ولري او پاچا باید د استبداد څخه کار واخلي.

ب- دین او سیاست باید په بشپړ ډول سره بیل سي او کلیسا باید یوازې د خلکو انفرادي کړنې د دین د د اصولو پر بنسټ باندي کنټرول کړي.

ج- دولت باید د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره هر ډول وسایل په کار واچوي.

د ماکیاولي په اندونو کي سیکولاریستي اندونه هم تر سترګو کیږي، خو دده په ژوند کي دده اندونو ته چا پاملرنه ونه کړه، خو په (۱۸ز) او (۱۹ز) پیړیو کې دی د سیکولاریزم بنسټ ایښودونکی وګڼل سو.

۳. **ماده پر معنویاتو برلاسي ده**:

کله چي اروپایانو د پاپانو د ظلم او جهالت څخه ځان خلاص کړ، بیا نو دوی یو شمېر مادي پرمختګونه وکړل او په صنعت، ټکنالوژۍ او نورو ساینسي علومو کي يې پرمختګونه وکړل، له همدي کبله به دوی ویل، چي ماده پر معنویاتو برلاسي ده. دوی وویل کله چي موږ دین پریښودی نو موږ پرمختګ وکړ نو هماغه و چې دوی وویل چې اصلي معیار په دنیاء کي د انسانانو لــــپاره مادیات دي او د انسان د پیدا ایښت موخه هم په اصل کي د مادیاتو په خاطر ده، دوی وویل کلــه چې موږ د ددین او معنویاتو په لاره روان ؤ او ټول ژوند مو په کلیساء کي په عبادت تیراوه موږ له بد بختیو، ورسته پاتي والي او جهالت سره مخ ؤ ولې کله چې مو معنویات او دین پریښود او د نیاء مو غوره کړه موږ بریالي سولو او ازادي مو واخستله.

۴. **پراګماتیزم**:

پراګماتیزم یوه یوناني کلمه ده، چې د عملپالنې مانا لري، یانې هرهغه څه چې عملي او تجربه سوی وي او ګټه پکې نغښتې وي، هغه ته پراګماتیزم ویل کیږي. سیکولاریستان پدې اند دي، چې هرهغه څه چې انسانانو تجربه کړی وي او مادي ګټې پکې نغښتې وي هغه باید ومنل سي، ځکه چې وګړي د مادیاتو د پاره پیدا سوي دي. دوی زیاتوي، بشریت باید خیالي او ایډیالي یا کیسه ییز شیان ونه مني، وګړي باید یوازې پر هرهغه څه باندې باور ولري، چې عملي اړخ ولري.

۵. **لیبرالیزم**:

لیبرالیزم یوه لاتیني کلمه ده، چې د آزادۍ او خپلواکۍ مانا لري. لیبرالیزم په عامه مانا د هر هغه بنسټ یا لامل پر وړاندې مبارزه کول دي، چې وګړیزې ازادۍ تر ګواښ لاندې راولي، یانې د وګړیزو ازادیو د لاسته راوړلو د پاره مبارزه کولو ته ویل کیږي. نو په اقتصادي چارو کې په شتمنۍ او سوداګرۍ کې د دولت د لاسوهنې مخه نیسي او په دیني او مذهبي چارو کې بیا وګړو ته د دین او مذهب په ټاکلو کې خپلواکي ورکوي.

۶. **دیني پلورالیزم**:

سیکولاریستان ټولو دینونو ته په یوه سترګه ګوري او ټول مردود ګڼي، دوی په نړیواله کچه د دینونو ترمنځ یوالی غواړي او یوازې عیسویت او یهودیت ته په نړیواله کچه رسمیت ورکوي، همدارنګه د اسلام مبارک دین پر وړاندې دریځ لري.

پر ماکیاولي، لوتر او یو شمېر نورو پوهانو سربېره ځینو پوهانو د سیکولاریزم په اړوند اندونه ورکړي دي، د بېلګې په توګه (دیکارټ)

فرانســوي ســاینس پــوه د انســان عقــل او ذهــن د هــر شــي خــالق او پیـدا کونکی ګڼلی دی. (اسـحاق نیـوټن) انګریـزی سـاینس پـوه وایـې کاینات هیڅ خالق او پیدا کونکی نلري، بلکي د یو څو طبیعي قوانینو له مخي په خپله منځته راغلی دی، (لوایژر) فرانسوی ساینس پوه بیا د نـړۍ پـر تـل پـاتي کیـدو بانـدي بـاور لـري او وایـې، چـي مـاده نـه ورکښیدونکې ازلي او ابدي ده یوازي خپله بڼه پخپله بدلوي، خو نه ورکیږي، چي د نوموړي دغه اند د نړۍ په نه پای ته رسیدو او تلپاتي کیدو باندي دلالت کوي. (فیور باخ) الماني ساینس پوه د الله تعالي د شتون څخه انکار کړی دی او ویلي یې دي دین او مذهب یوازي لوبي او کم عقله خلکو ته دوکه ورکول دي، ددي پر ځای باید نړیوالو چارو تـه مخـه کـړي، (نیچـه) المـانی فیلسـوف وایـې، چـي لـه سـاینس څخـه مخ کې الله تعالی شتون درلودی او (العیاذ باالله) اوس مړ سوی دی او خپـل مقـام یـې سـاینس تـه پریښـی دی، نـو خلکـو تـه پـه کـار دي، چـي د ساینس لمانځنه وکړي، (ډاروین) انګریزی سـاینس پـوه پـدي انـد دی، چي نړۍ ټوله پخپله پیدا سویده او وایې ژوندون د طبیعي قوانینـو پـر مټ منځتـه راغلـی دی، دی د ژونـدون د پیدا ایښـت د ډول پـه اړه وایـې، چي لومړی یوه حجره ژوندی پیدا سوه، هغه بیا د خوځښت او بشـپړتیا (تکامل) حالت ته ورسیدل او د انسـان بڼه یې غـوره کړه، دی وایـې پـه یوه زمانه کي خود بخوده دمادي څخه ژوند منځ ته راغلی او کاینتـات پیدا سول، پدي خبرو کي د (ډاروین) موخه داده، چـي ټول کاینتـات د انسان په ګډون د الله تعالي څخه پرته پخپله پیدا سویدي.

(پـال سـاټر) فرانسـوی سـاینس پـوه پـدي انـد دی، چـي انسـان تـر هغـه پوري بشپړ او مکمل کیدای نسي، ترڅو پوري، چي د الله تعـالي، دیـن

او اخلاقو څخه خپلو اکې تر لاسه نکړي. همدا رنګه (او پي جي تایټ) امریکایې ساینس پوه ویلي دي، (په کایناتو کي ریښتنی وجود ماده ده، چي انسان نه ماده پیدا کولای سي او نه یې له منځه وړلای سي).
لکه مخکې چي مو اشاره وکړه د سیکولاریزم اندونه د خلکو په منځ کي هغه وخت پیدا سول، کله چي خلکو د پاپ پر وړاندي دریځ ونیوی، خو د سیکولاریزم سیاسي مکتب په (۱۹ز) پیړۍ کي هغه وخت منظمه بڼه ونیول، کله چي د (هولي اوک) تر مشری لاندي زر(۱۰۰۰) اتیستان (دخدای څخه منکر خلک) سره راټول سول او ددي مکتب بنسټ یې کیښودی. ددوی موخه داوه، چي د کلیسا پر وړاندي د نورو تاوتریخوالو او یرغلونو مخنیوی وکړي اوددوی په اند د خپل ځان لپاره یوه مثبته موخه چي ددنیاوي چارو سمبالونه ده وټاکي. دوی وروسته د (برادلا) تر مشرۍ لاندي زیات پرمختګ وکړ خو په اوسنۍ وخت کي هغه څوک دي ډلي ته ننوځي، چي د کلیسا او مذهب پر وړاندي مبارزه کوي.

# ښاري دولت[1]

ښاري-دولتونه په لرغوني یونان کې د زیږدیزکال څخه څلور او پنځه پیړۍ مخکې ځرګند سول. د یونان مځکه د غرونو او سیندونو په واسطه پردرو او ټاپوګانو (جزیرو) باندي ویشل سویده، چې همدي ویشني د ښاري-دولتونو د جوړیدولپاره زمینه برابره کړه. یونانیانو د ښاري-دولت لپاره د ((پولیس)) ویی(لغت) کاروی. پولیس په دقیقه مانا سره هغه دفاعي ځای ته ویل کیدی، چې عامو خلکو به د دښمن د نژدي کیدو په وخت کي هلته پنا وړل. په یونان کي هر ښار د طبیعي خنډونو له امله بیل ژوند غوره کړ او د ځان لپاره یې ځانګړي ټولنه جوړه کړه.

د یونان د ښاري-دولتونو اندازه کوچنۍ وه. د زیږدیز کال څخه پنځه پیړۍ مخکي د (اتن) د اوسیدونکو شمیر( ۱۱۹ )زره تنوته رسیدی، چې د هغو څخه یې یوازي(۴۰) زره اوسیدونکي ښاري وه. د دي ښاري-دولتونو زیات اوسیدونکي غلامان وه. په (سپارټ) کي یوه ډله خلک د سرفانو (سیمه ییزو وګړو) په نامه اوسیدل چي مالیه به یې

---

[1] - City State.

ورکول، د رايې ورکولو حق يې نه درلودی او نظامي چوپړونه به هم پر دوی وه. په لرغوني يونان کي ښاري ژوند انسان ويښ او هوښيار کړ. ښاروندي راپورته سول او د حکومت په کارونوکې يې ګډون وکړ. همدارنګه د وګړو په منځ کي يې د وطنپالني روحيه پياوړي کړي وه او د خلکو ملاتړ يې د ځان کړی و. په يونان کي لرغوني ښاري- دولتونه عبارت وه له: آتن، سپارټ، کورينټ، ارګوس او تبس څخه. که څه هم د لرغوني يونان ښاري-دولتونو د وګړو د ژوند لپاره زياتي اسانتياوي برابري کړي او وګړي يې هوښيار کړه، خو د يو شمير ستونزو سره هم لاس او ګريوان وه. ياني د هر ښار بيل ژوند او د دوی ترمنځ د طبيعي خنډونو شتون د دي لامل سو، چي يونان يو موټی دولت نسو او د دوی ترمنځ خپلمنځي جګړي وسوي، چي په پايله کي دي جګړو د ښارونو پرمختګ او ډسپلين له منځه يوړ. که څه هم د ښارونو ترمنځ کمزوري کنفډريشنونه جوړ سول، خو بيا هم د لويدو سره مخ سول او د مقدوني او روم د خولو ګولي سول[1].

[1]- عبد الرحمن عالم، بنیاد های علم سیاست، چاپ بیستم ۱۳۷۸، ص ۲۱۹-۲۲۰.

# صهیونیزم[1]

د صـهیونیزم اصـطلاح د (صـهیون) د غـره څخـه خیسـتل سـویده، چې داوود(ع) هلته ښخ دی. د صـهیون غـر پـه اورشـلم کـې دی، چې وروسـته صـهیون د فلسـطین د خـاورې لپـاره کـارول کیـدی، لـه سیاسـي اړخـه صهیونیزم هغه نیشنلیستي یهودي خوځښت دی، چې په فلسـطین کـې د خپلو اکه یهودي دولت د جوړولـو لپـاره هلـې ځلـې کـوي. صـهیونیزم د یهـودي دیـن د پیروانـو د یـوالي لپـاره کـار کـوي، چـې ددوی پـه آنـد یهودیـان د فلسـطین د خـاورې څخـه پـه تبعیـد سـوي بڼه ژونـد کـوي او ددوی اصلي ټاټوبی اورشلم دی[2].

کلـه چـې پـه ۷۰ زیږدیـز کـال کـې د رومیـانو لخـوا اورشـلم وران سـو، یهودیان په ټوله نړۍ کې خپاره سول، خو بیـا هـم دوی خپلمنځـی دینـي او فرهنګـي یـوالی وسـاتی او پـه نـورو ملتونـو کـې ورګډ نسـول. خـو د تاریخ په اوږدو کې یې پـه مسـیحي دولتونـو کـې د دینـي لږکـي او کلـه ناکله هم د ځپلي کوچنۍ نژادي ډلـي پـه بڼه ژونـد کـاوه. لـه همـدې کبلـه

[1] Zionism.

[2]- فرهنګ واژها، عبدالرسول بیات، ۳۲۷.

پيړۍ پيړۍ ددوی په زړونو کې د هغې خاورې د لاسته راوړلو ارمان و ، په کومې کې چې موسی (ع) ددوی رهبري کول[1].

صهيونيزم د يهودي سرمايه دارانو څخه جوړ دی، چې اوس د فلسطين د نيولو په ايډيالوژۍ باندې بدل سوی دی، په ۱۸۹۷ز کال کې د صهيونيزم نړيوال سازمان منځته راغلی، چې موخه يې فلسطين ته د ټولو يهوديانو ليږل وه. ددې نړيوال سازمان ملاتړ نن ورځ د لويو نړيوالو شرکتونو لخوا کيږي، چې زيات مالي ځواک لري او په زياتو نړيوالو شرکتونو کې ونډې لري، چې مرکز د امريکا په متحده ايالاتو کې دی او د نړۍ تر ۲۰ په زياتو دولتونو کې فعاليت کوي.

يهودي سرمايه داران د کلونو راهيسې د نيشنليستي احساساتو او ملي تعصبونو په راپارولو باندې بوخت دي، ترڅو د صهيونيزم تر چتر لاندې امپرياليستي مبارزه پياوړې کړي. په ټوليزډول صهيونيزم د پراختيا غوښتني، نژاد پالني او د ولسونو ترمنځ د نفاق د تخم د شيندلو لپاره کار کوي. صهيونيزم په نړۍ کې يوازې يهودي قوم يو استثنايي قوم بولي، چې الله تعالی يې تر شا ولاړ دی. صهيونيزم يوازې يوه ايډيالوژي نده، بلکې د يهودي سياستونو، سازمانونو، سياسي تلنلارو او بورژوازيو مجموعه ده، چې د جګړه غوښتونکي تلنلارې پر بنسټ خپلې موخې لاسته راوړي.

**د صهيونيزم د تاريخي بشپړتيا پړاوونه:**

فلسطين ته په عبري کې د اسرائيلو ځمکه ويل کيږي، د يهوديانو په آند فلسطين همغه موعودي ځمکه ده، چې الله تعالی يې بني اسرائيلو ته د روکولو ژمنه کړې وه. کله چې د روميانو لخوا په ۷۰ز کال کې بيت

[1]- دانشنامه سياسي، دآريوش اشوري، ص ۲۲۲.

المقدس (اورشلم) وران سو، یهودیـان پـه نړۍ کـې خپـاره سـول او پـه تیت او پرک ډول یې ژوند کـاوه، زیـات ازار سول او ډېر وزورول سول. له همدې کبلـه ددوی پـه سرونو کـې د خپـل اصلي ټاټوبي د بیـا لاسته راوړلو او نیولو فکر موجود و، او پدې آرمان وه، چې پـه فلسـطین کـې د یهودو ځواکمن حکومت جوړ کړي. دا فکر هغـه وخت لا ګړنـدۍ سو، کلـه چـې پـه نولسـمه پیـړۍ کـې یهـودي خوځښـتونه منځتـه راغلـه او یهودي یوالی نړیوال ارزښت پیدا کړ.

د صـهیونیزم بنسـټ ایښـودونکی یـو اتریشـي ورځپاڼـه لیکـونکی تئودور هِرتزل (۱۸۶۰-۱۹۰۴) دی. کله چې هرتـزل د (یهـودو دولـت)[1] پـه نامه کتاب ولیکی پـه هغـه کـې یې د نړۍ یهـودو تـه پـه فلسـطین کـې د ملي یهودي دولت د جوړولو سپارښتنه وکـړه. هرتـزل صـهیونیزم د یـوي مـذهبي اصـطلاح څخـه پـه لـوېې سیاسي تلـنلارې بانـدي واړوی او پـه فلسـطین کـې د ملـي یهـودي دولـت د جوړولـو پـر طرحـي بانـدي یـې د صـهیونیزم راتلـونکي مـوخي څرګنـدي کـړی. پـه حقیقت کـې هرتـزل پـه فلسطین کـې د سـیکولر دولـت غوښـتونکی و. دده پـه آنـد پـر یهودیـانو بانـدي د نړیوالـو فشـارونو پـه شـتون کـې دوی بایـد پـه فلسـطین کـې د یهودو ملي دولت ومني.

د صهیونیستانو لومړی کنګره د سوئیس د بال پـه ښـار کـې پـه ۱۸۹۷ز کال کې جوړه سوه. په نوموړي کنګره کې د صهیونیستانو هغـه هیلـه او ارمـان چـې دوی پـه فلسـطین کـې د یهـودي دولـت د جوړیـدو غوښـتنه درلــوده، رســماً اعــلان ســو. د نومــوړي کنګــري څخــه وروســته د صهیونیستانو او هرتزل مرکز د ویانا په ښار کې سو، چې تر ۱۹۰۱ز کـال

[1] - Juden State.

پوري یې هر کال او له هغه څخه وروسته یې په هرو دوو کلونو کې یو ار غونډه کول.

پدې وخت کې صهونیستان د یهودیانو په منځ کې په اقلیت کې وه یاني ټولو یهودیانو ددوی ملاتړ نه کوی بلکې یوازې د مرکزي اروپا او ختیځې اروپا ځینې یهودیانو یې ملاتړ کوی. نه یوازې دا چې ټولو یهودیانو دصهیونیزم ملاتړ نه کوی، بلکې په دوی کې د صهیونیزم پر وړاندې بل جریان چې (هسکالا[1]) نومیدی فعالیت کوی، ترڅو د صهونیزم مبارزه او کړنې د ناکامۍ سره مخ کړي. دا غورځنګ چې په ۱۷ او ۱۸ پیړیو کې رامنځته سوی و، ددوی هڅه داوه، چې یهودیان د له ډیره وخته د اروپایي کلتور څخه لیرې کړل سوید دي، نو باید هڅه وسي، چې دوی بیرته د لویدیځ د کلتور سره اشنا سي او بیرته په اروپا کې منحل کړل سي. له همدې کبله ددې غورځنګ غړو هڅه کول چې د زده کړو په برخه کې غیري دیني یا سیوکولاریستي افکار یهودي ځوانانو ته تدریس کړي. په ټولیز ډول ددې غورځنګ هڅې داوې، چې یهودې کلتور د نوي او مډرنو اصولو پر بنسټ باندې جوړ کړي. که څه هم هرتزل په اروپا یې ټولنه کې د یهودیانو ګډیدل اړین ګڼل خو پدې آند و، چې په اروپایي ټولنې کې د یهودي ضد آندونو شتون به یهود خپلواک نه کړي او یهودیان به ونسي کولای چې خپلواک کلتور ولري. صهیونیستان د لږو شتمنو یهودیانو ملاتړ د ځان سره درلودی، ددوی نشرات په نړیوال ژبو باندې کیدل او په ډیرې هوښیارۍ سره یې ګامونه اخیستل له همدې امله بریالیتوب ته ورسیدل[2].

---

[1] -Haskala.

[2]- عبدلرسول بیات، فرهنګ واژه ها، ص ۳۷۰

هرتـزل د خپـل پـلان د پلـي کيـدو لپـاره لـومړی د عثمـاني امپراتـوری پاچا ته وړانديز وکړ، چې فلسطين دوی ته خوشي کړي او فلسطين تـه د يهوديانو د ورتګ لاره پرانيزي. خو د عثماني امپراتوری پاچا د هغـه دا وړانديز ونه منی له همدي کبله هرتـزل د انګلسـتان سره یوځای سو. انګلستان صهونیستانو ته داسي وړانديز وکړ، چې په یوګاندا کي بـه غيـري مسـکوني سـیمه ددوی د دولـت د جوړيـدو لپاره وټاکي، ددي وړانديز سره لږ صهیونیستان موافق سول، خو زیاتو بیا دا وړانديز ونه منـی او زيـاتو يهوديـانو د يهـودي دولـت د جوړيـدو لپـاره د فلسـطين مځکه وغوښتل او پـه ۱۹۰۵ز کـال صهونيسـتانو پـه خپلـه کنګـره کـي د انګلستان دا وړانديز رد کړ.

هرتـزل پـه ۱۹۰۴ز کـال کـي مـړ سـو، دده د مـرګ څخـه وروسـته د صهونيستانو مرکز کولن، د هغه څخه وروسته برلين او د هغه څخـه هـم وروسـته لنـدن تـه انتقـال سو. د لـومړی نړيـوالي جګـړي څخـه مخکـي د صهونيزم يوه کمه برخه د روسي او ختيځي اروپا د اوسيدونکو يهودو تشکيلول. دا پداسي حـال کـي وه، چـې د صـهونيزم مشـرتوب د آلمـاني او اتريشي يهوديانو پـه لاس کـي و. صهونيسـتانو زيـاتـه هڅـه وکـړه چـي عبراني ژبه او يهودي کلتور را ژوندي کړي، چې پـه ډيـر لنـډ وخت کـي خپلو موخو ته څه ناڅه ورسيدل.

پـه ۱۹۰۵ز کال کي د روسي د انقلاب ناکامي او پـر يهوديـانو بانـدي د تـزاري حکومـت فشـارونه ددي لامـل سـول، چـي زيـات شـمير يهـودي ځوانان فلسطين ته مهاجرت وکړي. په ۱۹۱۴ز کال کي نوي زره يهوديان پـه فلسـطين کـي ميشـته وه او د درو زرو پـه شـاوخوا کـي يهوديـانو د

مهاجرو په کمپونو کي ژوند کوی. نو موړي یهودیان په ځانګړي ډول کډوال یهودیان د فرانسوي شتمن باروون لخوا حمایت کیدل.
د لومړی نړیوالي جګړې پر مهال صهونیزم ډیر په چټکۍ سره پراختیا وموندل او د صهونیزم مشرتوب د هغو روسي یهودیانو په لاس کي ولویدی، چې په لندن کي اوسیدل. پدي وخت کي جیمز وایزمن چي وروسته د اسرائیلو لومړی ولسمشر سو، زیاتي هلې ځلي وکړي چې د انګلستان د حکومت څخه په فلسطین کي د یهودو د ملي دولت د جوړیدو ژمنه واخلي، چې وروسته په ۱۹۱۷ز کال کي د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر بالفور داسي اعلامیه خپره کړه، چې موږ د فلسطین په خاوره کي د یهودو د ملي دولت د جوړیدو ملاتړي یو. دا اعلامیه چي د (بالفور د اعلامي) په نامه باندي شهرت لري، د اسرائیلو په نامه یې د دولت د جوړیدو لومړنی تخم وکری. همدارنګه د انګریزانو او عثماني امپراتوری ترمنځ جګړه د یهودیانو په ګټه تمامه سول. د عثمامي امپراتوری له ماتي څخه وروسته ټول تر لاس لاندي سیمي سره وپاشل سولي او د فلسطین سرپرستي د انګلستان لاسته ولویدل، پر همدي بنسټ د بالفور د ژمنه وخت راورسیدی. له بلي خوا انګریزانو په فلسطین کي کډوال یهودیان خپلواکه کړه او د زده کړو مرکزونه یې ورته پرانیستل. په ۱۹۲۵ز کال کي د په فلسطین کي د یهودو شمیر ۱۰۸ زرو نفرو ته رسیدی. په ۱۹۳۳ز کال کي وه ۲۳۸ زرو نفرو ته ورسیدل، چي د فلسطین د ټول نفوس ٪۲۰ یې جوړول. د هټلر تر ښکاره کیدو پوري د یهودو مهاجرتونه سُست وه، خو کله چي نازي حکومت پر یهودو باندي فشار راوستئ، وروسته د یهودو مهاجرتونه تیز سول.

عربانو چې په فلسطین کې د یهودو شتون یې د ځان لپاره ګواښ بلی، څو واره یې د ۱۹۲۹ څخه تر ۱۹۳۹ کلونو پوري شورشونه وکړل او خپل اعتراضونه یې ښکاره کړل، چې د انګریز د حکومت لپاره یې زیاتې ستونزې هم پیدا کړې. د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال صهیونیزم زیات پلویان پیدا کړه. په ځانګړې ډول د امریکا شتمنو یهودیانو د دوی څخه زیات ملاتړ وکړ او د هغه څخه وروسته د صهونیزم ډیر ټینګ ملاتړي سول. صهونیستانو د دې لپاره چې په فلسطین کې فتنه او فساد خپاره کړې نو یو تروریستي سازمان د ((هاګانا)) په نامه یې منځته راوړ.[1]

د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته چې د مسلمانانو او یهودیانو ترمنځ اختلافات اوج ته ورسیدل، نو انګلستان د فلسطین مسئله د ملګرو ملتونو سازمان ته وسپارل او داسې وړاندیز یې ورته وکړ، چې د فلسطین پر خاوره دې دوه دولتونه یو عربي او بل یهودي تشکیل سي. همدارنګه بیت المقدس دې د نړیوال ښار په بڼه وټاکل سي. د ملګرو ملتونو سازمان دا وړاندیز ومنی او پدې اړه یې پریکړه لیک صادر کړ. کله چې په ۱۹۴۸ز کال کې د ملګرو ملتونو سازمان دا پریکړه لیک صادر کړ، نو د اسرائیلو دولت په چټکۍ سره خپل کارونه پیل کړل، چې په پایله کې د عربو او اسرائیلو ترمنځ لومړۍ جګړې پیل سولې. اسرائیلیانو د دې جګړو پر مهال تر هغې مځکې زیاته برخه ونیول چې د ملګرو ملتونو په پریکړه لیک کې ټاکل سوې وه او اته سوه زره فلسطینیان یې مهاجر کړل. چې په پایله کې د اسرائیلو حکومت د صهونیستانو د لومړۍ کنګرې څخه پنځوس کال

[1]عبدلرسول بیات، فرهنگ واژه ها، ص۳۷۱

وروسته منځته راغلی او یهودیان خپل هغه ارمان ته ورسیدل چې د پیړیو پیړیو راهیسي یې د ځان سره درلودی.

صهونیستي غورځنګ په ټولیز ډول خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د ترور، تاوتریخوالي او تبلیغاتو په واسطه ورسیدی. د صهونیستانو تروریستي سازمان د لومړیو څخه د مسلمانانو په ترور او مرګ باندي پیل وکړ او دوی هڅه کول چې د هري لارې ممکنه وي، فلسطینیانو وبیروي او دوی تهدید کړي.

د اسرائیلو د دولت د جوړیدو څخه وروسته د صهونیزم سازمان هڅه کول، چې د نړۍ یهودیان اسرائیلو ته د مهاجرت لپاره تشویق کړي. خو زیاتو یهودیانو د صهونیستانو دا نظریه چې یهودیان چې د اسرائیلو څخه بهر ژوند کوي، تر ظلم او زور زیاتي لاندي دي او د دوی عزت به هغه وخت خوندي کیږي، کله چې اسرائیلو ته راسي، نه منل. خو زیاتو تندرو او تیز لارو یهودیانو بیا د اسرائیلو د حکومت د جوړیدو لپاره هلي ځلي پیل کړي او غوښتل یې چې د نیل تر سیند پوري د دوی د قلمرو حدود ورسیږي.[1]

[1]- عبدلرسول بیات، فرهنګ واژه ها، ص ۳۷۲.

# فابیانیزم[1]

فابیـانیزم د یـوې سوسیالیسـتي سیاسـي تلـنلارې نـوم دی، چـې پـه انګلسـتان کـې پـه (۱۸۸۴ز) کـال کـې د یـو شـمېر سوسیالیسـتي روڼ آندو لخوا رامنځتـه سو. دې سوسیالیسـتي روڼآندو هڅه کـول، چې سوسـیالیزم پـه منځنـي پـوړ کـې هـم رواج کـړي او هـم سوسـیالیزم د انقلابي حالت څخه را وباسي او منځلاریتوب ته یې راولي.

دوی هڅـه کـول، چې سوسـیالیزم د روڼ انـدو افکـارو تـه ورننباسي؛ نوځکه دوی اکاډمیکو څېړنو او تبلیغاتو ته زیات ارزښت ورکاوه او د سوله ییز سوسیالیزم غوښتونکې وه[2].

د دې سیاسي تلنلارې مخکښان (فرانک پودومور) او (اډوارډ پیز) و او وروسته یو شمېر نور هم ورسره ملګرې سول، چې همدا سیاسـي تلـنلاره وروسـته د انګلسـتان د کـارګرګونـد د جوړیـدو بنسـټ هـم وګرځېدل. کله چې د انګلستان د کارګرګوند جوړ سو د فابیانیزم ټولنه د یوې څېړنیزې او تبلیغاتې ټولنې په بڼه د (فابیان ټولنې) په نامه پاته

---

[1] - Fabianism.

[2]- امیر مسعود خدایار، فرهنګ واژه های مکتبهای (سیاسي، فرهنګي، مذهبي، فلسفي، هنر)، انتشارات: محمد حسن/کابل، ۱۳۲۷ش، ص ۱۵۷.

سول، چي پدي وخت کي يې د مارکسيزم پر وړاندي يو شمېر مقالي او رسالي نشر کړي او د دوی د عقايدو ارونه پدي ډول وه:

الف- که چيري په ټولنه کي اصلاحات راوستل سي، طبيعي تکامل خپله منځته راځي او د کارګر اقتصادي حالت پخپله ښه کيږي، چي هيڅ اړتيا انقلاب او تاوتريخوالي ته نه پيدا کيږي.

ب- د ټولني د پوړونو ترمنځ اړودوړ او کشمکش د ټولني پرمختګ ته اړتيا نلري[1].

په فابيانيزم باندي د ښي پوهېدني د پاره به فابيان سوسياليزم په لنډ ډول ولولو:

**فابيان سوسياليزم**:

دا د هغه سوسياليستي غورځنګ نوم دی، چي په انګليستان کي د مارکس د افکارو تر اغيز لاندي منځ ته راغلي وه، مګر مارکسي ندي او د يوي ټولنيزي فلسفي د جوړولو غوښتنه يي نده کړي، هغه څه چي د دوی د پاملرني وړ وه هغه د فابريکو او صنعت د اداره کولو لپاره د يوه منظم سازمان منځ ته راوړل او د ګارګرو طبقو د ژوندانه د ښه کولو په موخه د سياسي قدرت استعمالؤ. په اقتصادي برخه کي يي د ريکاردو د اجاري فرضيه او د هانري جورج د ځمکني ارزښت فرضيه منلي وه اوويل يي:

• پر ځمکو باندي بايد زيات ماليات وضع سي، تر څو صنعت او فابريکي د مالياتو د قيد څخه خلاصي سي.

• د انحصاري ګټو د له منځه وړلو په وسيله بايد د ټولو وګړو لپاره اقتصادي فرصتونه په مساوي ډول ورکول سي.

---

[1]- دکتر بهاالدين پازرګا، مکتب های سياسي، ۱۳۴۴ش، ص ۱۲۴-۱۲۵.

# فاشیزم[1]

د فاشیزم کلمه د لاتیني ژبي د (فاشیسمو[2]) څخه اخیستل سوي ده، په لرغوني روم کي دا اصطلاح هغه تبر ته استعمالیده چي د یو څو لنډو لرګیو په سر کېږ به تړل کیدی او فوځ به د ځواک او واک د نښي په بڼه د ځان سره وړی. د فاشیزم حکومت د سیاسي مکتب په څیر د (۱۹۴۳-۱۹۲۲ ز) کلونو په منځ کي د موسولیني او هټلر لخوا رامنځته سو. د دي مکتب لومړنی مخکښ موسولیني و چي خپل اولس یي پر ځان پالني او ملت پالني باندي راټول کړ[3].

د فاشیزم د ایډیالوژی د زیږیدو او پیاړتیا په اړه د دي مکتب د چارواکو او ملاتړ کوونکو ترمنځ همږغي موجوده وه، په فاشیزم کي د یوي خوا د حکومت څخه د خلکو ناخوښي په نظر کي نیول سویده او د بلي خوا هڅه سویده ترڅو د سرمایه داري نظام بنسټ ته هم زیان ونه رسیږي. نوځکه د فاشیزم مخکښانو یوازي د همدي لاري څخه د

---

[1] -Fascism.

[2] Fascismo

[3]- غلامرضاعلي بابایي، فرهنګ سیاسی آرش، انتشارات اشیان، چاپ دوم۱۳۸۴، ص۳۹۲

خلکو ناخوښئ یو بهیر ته واچولي او داسي خوځښت یي ورکړ ترڅو نه یوازي دا چي د موجوده نظام لپاره خطر منځ ته را نه وړي بلکي ګټور هم وي. البته د دا ډول سیاست عملي کول هغه وخت ممکن و تر څو د خلکو افکار پر ټولنیزو موضوعاتو او د ټولني پر معنوي او سیاسي ارزښتونو باندي راټول کړي. د فاشیزم په ایډیالوژۍ کي بیلابیلي انګیزي موجودي دي چي په لاندي ډول یي د یو څو یادونه کوو:

**الف- یو موټی ولس**:

د یو موټي ولس ایډیالوژي تل د پوړیزي ټولني پر ټکرونو (تضادونو) باندي پرده اچوي او د واکمني ډلي ګټي د خلکو په منځ کي خوندي کوي. دا ډول ایډیالوژي په ټولو ښی لاسو نظامونو کي موجوده وه ترڅو ټولنیزي اړیکي ټینګي کړي او په ټولنه کي د واکمن پوړ ګټي وساتي. پداسي حال کي چي فاشیزم بیا ددي ایډیالوژۍ څخه په افراطي بڼه ګټه واخیستل.

که چیري په ربښتیا یو ولس یوه کورنۍ وي نو د دوی سرنوشت ګډ دی او کله چي تولیدي واحد هم د کارګر او کار امرکونکي ترمنځ په همکاریو باندي ولاړ وي، نو ټول خلک باید یو د بل ملاتړ وکړي او د هر وګړي پر وړاندي جرم د ټول ولس پر وړاندي جرم ګڼل کیږي. اوس نو بنسټیزه پوښتنه داده چي عمومي ګټي باید څوک روښانه کړي؟.
که چیري ډیموکراسي واکمنه وي نو هغه د کښته پوړ خلکو لپاره د خبرو زمینه مساعدوي ترڅو خپلي ګټي وساتي خو کله چي د زور او ظلم حکومت واکمن وي پدي وخت کي خلکو ته د واکمن پوړ ګټي د عمومي ګټو په نامه ور پیژندل کیږي.



Download from: aghalibrary.com

نوځکـه فاشـیزم د یـوې خـوا پـر یـو مـوټي ولـس محافظـه کارانـه ایـډیالوژۍ او د بلـې خـوا پـر نیشـنلیزم چـې د فیـوډالیزم او بشـپړ (مطلق) سلطنت پر وړاندې یې د بورژوازۍ ملاتړ کاوه، تکیه درلوده. نیشـنلیزم یـوه داسـې وسـیله وه، چـې د دې پـه واسـطه د فاشـیزم مخکښانو کولای سول چې خپل ولس غټ وښئ او د دښمن پر وړاندې یې یو موټی کړې. په سیاست کې دا ډول کړنې د دې ښکارندوی وې چې خلک بیله کوم دلیله د سیاسي مشر تر مشرتوب لاندې سره راټول سي او د خپلو مشرانو پر هر ډول کړنو باندې امین وواییږ.
په لومړیو کې شاید داسې فکر وسي چې دا څنګه امکان لري چې خلـک دې پـر یـوې داسې ایـډیالوژۍ بانـدې، چـې د عمـومي ګټو پـه خلاف وي راټول سي، خو دا هم بایـد هیـره نکـړو چـې سیاسـتوال ډیـر امکانات په لاس کې لري تـر څو عامـه افکـارو تـه بـدلون ورکـړي او د خپلو ګټو د ساتلو په لوري یې وخوځوي. د نیشـنلیزم مفکـوره تـر ډیـره بریـده د انسـان د طبیعـي غوښـتنو سـره همږغـې ده. پـه هغـو ټولنو کـې چې امنیت او سوکالي نه وي او خلک وغـواړي چـې د دښـمن څخـه پـه امن کې ژوند وکړي همدغه لار یې تر ټولو غوره ده. د دې ډول عقایدو پر وړاندې د کـارګرو پوړونـو زیـات مقاومـت وکـړ خو بـورژوازي پـوړ چې یو منځنی پوړ و، ډیر ژر ور تسلیم سو.
د یومـوټي ولـس شـعار یـوازې واک غوښـتونکی پـوړ ځانتـه نـه راجلبوي، بلکې غواړې چې په ټولنه کې تبعیض او نور تضـادونه لـه منځـه یوسـې، چـې دا پـخپلـه یـوه بنسـټیزه انسـاني غوښـتنه ده. د یـوه ولس داسې جوړول چې پـه هغـه کـې هیـڅ ډول د ټـولنیز تـوپیر فکـر نـه وي، دا پـه حقیقـت کـې د سوسـیالیزم لپـاره هـم یـوه بنسـټیزه پایـه ده.

فاشيزم د همدي آر(اصل) څخه زياته ګټه واخيستل او ولس يې ډير ژر خپل لوري ته رامات کړ، نور نو ولس خپل سياسي مشران ومنل او د دوی د غوښتونو قرباني سو.

خو حکومت بيا هغه رينښتني خلک چي رښتيا هم د يوموټي ولس د جوړولو په ارمان وه او په رينښتني توګه يي د ولس د يوالي غوښتنه کول، د ولس سره په دښمنۍ باندي تورن کړل او له مخه يې ليري کړل. د يوموټي ولس ايډيالوژي د نژاد پالني په دوره کي اوج ته ورسيدل، د ولس په منځ کي دا مفکوره چي د دوی نژاد نه يوازي د نورو نژادونو سره توپير لري بلکي تر هغو لوړوالی هم لري، د دي لامل سول چي ولس په غفلت کي واچوي او د ځان غوښتني روحيه پکښې وروزي. د دي آندونو پلويانو هڅه کول چي د ټولني په ټولو برخو کي دا آند خپور کړي او د ولس په منځ کي يوالی راولي ترڅو د واک د ناوړې کاروني څخه سترګي پټې سي او ولس د سياستوالو په خوښه پر هر لوري باندي کشکول سي، همدارنګه د دي پرځاي چي د حکومت سره مخالفت وکړي بهرني دښمن ته پاملرنه وکړي.

**ب- مشرتوب:**

د مشرتوب نظريه هم د يوموټي ولس د نظريي څخه سرچينه اخلي، دا چي يو موټی ولس جوړسي او په مشرتوب کي کومه ستونزه واقع نسي نو بايد مشرتوب د فرمان ورکونکي او فرمان اخيستونکي په بڼه صورت ونيسي. په عمومي ډول په مشرتوب کي دي اصولو پايښت وموندی: په کورنۍ کي د پلار واک او مشرتوب، د زده کړي په چارو کي د ښونکي مشرتوب، په اداري کي د لوړچارواکې

واک، په اقتصاد کې د مالک واک او فوځ د ځانګړي لړۍ پر بنسټ لوړ پر کښته باندې مشر و.

په فاشیزم کې واکمنانو بشپړ مشرتوب غوښتی، هټلر به په خپلو وینا وو کې د بشپړې واکمنۍ غوښتنه کول، د دوی په آند هر فاشیست باید د خپل حکومت کړنې د وطن لپاره خدمت او د هغو منل پر ځان لازمي وګڼي. نو ځکه د ایټالیا د فاشیست حکومت د ځوانانو شعار(باور، امرمنل او مبارزه )و. په آلمان او ایټالیا کې د فاشیست حکومت د دې ډول ایډیالوژۍ خپریدل د دې لامل سول چې اقتصاد او نور ټولنیز اړخونه هم ورځخه اغیزمن سي او په اقتصادي چارو کې به منځنۍ پوړ هم د حکومت همدا ډول شعار مني؛ ځکه چې حکومت به د دوی دفاع د یوې خوا د کارګرو د ټولنو(سنډیکا ) څخه او د بلې خوا د لویو شتمنو خلکو څخه کول او دوی په دې آند وه چې موږ به د همدې ځواکمن حکومت په چوکاټ کې خپلې ګټې وساتو[1].

فاشیستان د انسانانو ترمنځ مساوات او برابري نه مني بلکې دوی د لوړ شخصیت لمانځنه کوي او د دوی په آند د هغه درناوی باید وسي، نو ځکه د لوړ مشر امر په پټهو سترګو مني. د دوی په آند انسانان دې نړۍ ته په زیات توپیر سره راځي، د انسانانو استعدادونه او وړتیاوې مختلفې دي، نو ځکه هغه کسان چې په طبعي ډول سره د مشرتوب وړتیا لري د نورو خلکو څخه بیل سي او درناوی یې باید وسي.

فاشیزم خپل زیات اصول د نورو پوهانو او مکتبونو څخه هم اخیستي دي، چې په لاندې ډول به د ځینو یادونه وکړو:

---

[1] -راین هاردکونل، فاشیسم(مفر جامعه سرمایه داري ازبحران) ترجمه: منوچهر فکري ارشاد، ،انتشارات توس ۱۳۵۸، ص۲۵-۳۸

الف- د هګل د فلسفي څخه د نژاد او مليت ماده اخيستل سويده چي هټلر هم د همدي مادي سره خپله علاقه څرګنده کړيده.

ب- پـه اقتصـادي چـارو کـي د مـارکس د سوسـياليزم څخه څه ناڅه استفاده سويده، که څه هم هټلر د مارکس او مارکسيزم کلک دښمن و خو سربيره پر هغه يي د کارګرو د اتحـاديي او کـار امرکوونکو تـرمنځ يو داسي لاره اختيار کړل چي سوسياليزم ته نيژدي وه او هم يي تـر يـوه بريـده د انګلسـتان د سوسـياليزم څخـه اسـتفاده کـړي وه. پـه دي توګـه فاشيزم د سوسياليزم روحيه هم پاللي ده.

ج- د دولـت پـه ځـانګړي واک او پـه خپـل عمـل کـي شـدت کـول د ماکيـاولي د فلسـفي څخـه اخيسـتل سـوي ده، ځکـه چـي ماکيـاولي د دولت د واک څخه پرته نور هيڅ نه غوښتل او په دي نسـبت يـي واکمـن ته د زيات واک ورکولو صلاحيت ورکاوه، تر څو وکولای سي په پـوره زړه خپلي موخي ته چي د دولت اقتدار او واک دی ورسيږي.

د- فاشيزم د غيري عقلي فلسفي بنسټ د شوپنهاور، نيچه او هنـري برکسن څخه اخيستي ده او همداسي د خپلي فلسفي ځيني برخي يي د نشنليزم او سنډيکاليزم د فلسفو څخه اخيستي دي.

هـ- د ليبراليزم او ډيموکراسۍ د اصولو مخـالف يـي د خپـل مسـلک فاشـيزم کـړنلاره وګرځول. ليبراليـزم او ډيموکراسي يـي رد کـړل او پـه هېواد کي يي د هغو مسلکو موجوديت د اړودوړ سرچينه وګڼل. ځکه چـي فاشـيزم ټـول ټـولنيز موسسـات لکـه مـذهب، پوهنـه، اخـلاق او ټولنيزي کړنلاري د دولت تر سانسور لاندي غـواړي پـه دغـه ځـاي کـي هم د (ماکياولي) د افکارو څخه ګټه اخيستل سويده.

و:- د دولت فلسفه د (هګل) د ايډياليزم څخه اخيستل سويده.

ز:- د فاشیزم د کرنلاري په موادو کي نظامي واک ډیر اړین ارزښت لري، چي د (ماکیاولي) او (هابس) د آندونو څخه سرچینه اخلي.

ح:- د فاشیزم د ټاکنو ډول د دولت د بشپړ واک پر بنسټ چي هغه هم د ځینو هغو فیلسوفانو لکه (ماکیاولي) او (هابس) او نورو چي بشپړه دیکتاتوري یې غوښتل ترتیبول وه. د کارګرانو، سنډیکا او کار امرکونکو زرکسه د فاشیست لوېي غونډې ته ونومول سول. نوموړي غونډې د هغو د جملي څخه څلورسوه کسه وټاکل چي په حقیقت کي دغه استازي د فاشیست ګوند ټاکل سوي استازي وه او هغه هم د یو دیکتاتور تر لاس لاندي وه.

فاشیزم د یوې نوې ایډیالوژۍ په بڼه پدې وروستیو کي راڅرګند سوی دی او زیاته تاریخي مخینه نلري، همدارنګه د فاشیزم عمل تر تیوري د مخه څرګند سوی دی. فاشیزم د خپلو اصولو(آرونو) پر بنسټ ځان تل ترتله ګڼي، نوځکه غواړي چي پر ټولي نړۍ باندي حکومت وکړي. د فاشیزم اقتصادي جوړښت د کمونیزم په څیر د دولت په سانسور کي ندی، یاني په فاشیزم کي ځاني ملکیتونه د منځه نه ځي او ټول تولیدي وسایل په مستقیم ډول د دلت تر سانسور لاندي نه راځي. همدارنګه د فاشیزم سیاسي جوړښت د ګوند پر بنسټ ولاړ دی، خو څوګوندي نه دی او یوازي د یوه ګوند حکومت پکښې قانونیت لري. په فاشیزم کي د خپلواکو ګوندونو ترمنځ د واک پر سر باندي د ډیموکراسۍ په څیر ښکاره سیالي نه کیږي، بلکي هغه ګوند حکومت کوي کوم چي واک یې لاسته راوړی وي او د ګوند مشر په حقیقت کي د امپراتور (ټولواک) په بڼه حکومت کوي. په فاشیزم کي لیبرالیزم، خپلواکي او پارلماني نظام رد سوی دی، بلکي د یوه

ګوند واکمنـي غـواړي او د ګونـد او حکومـت تـرمنځ تـوپیر نـه منـي. همدارنګه فاشیزم غـواړي چـي دولـت يـي پـه خلکـو کـي بشـپړ نفـوذ ولـري او د هغـو خوځښـتونه تـل د خپلـي نقشـي پـر بنسـټ وسـاتي، فاشیزم پر دي سربیره د خپلواکو رسنیو په خلاف دی او غـواړي چـي د رسنیو ټولي خپروني د دولـت د لـوري تـر لارښـونو او سانسـور لانـدي سي. پـه فاشیزم کـي د کـارګرو خپلواکـو ټولنـو تـه پـه ښـه آنـد نـه کتـل کیږي، بلکي هر څـه د ولـس او نـژاد غوښـتني پـه تلـه تلـل کیـږي. کـه د ګارګرو غورځنګ د ملیت او نژاد (توکم) د ګټو سره سمون درلـود ښـه دی او که سمون يي نه درلودی نو هغه له منځه وړل کیږي[1].

**د فاشیزم د پیاوړتیا او بریالي کیدو شرایط**:

د دوو نړیوالـو جګـړو پـه مـنځ کـي د فاشیسـت پـه نامـه زیـات غورځنګونه په ایټالیا، المان او نورو اروپایي هېوادونو کي منځتـه راغله، خو د هغو د جملي څخه یو څو د ګوتو پـه شـمار غورځنګونـه بریالي سول او واک ته ورسیدل، دا چي فاشیزم پـه کومـو شـرایطو کـي پیاوړی او بریالی کیږي په لاندي ډول به د یو څو یادونه وکړو:

**الف- ټولنیز-اقتصادي بحرانونه**:

د فاشیزم تـاریخي مخینـي تـه پـه کتـو سـره داسـي انګیـرل کیـږي چـي فاشیستي غورځنګونه په ټولنیزو-اقتصـادي بحرانونـو کـي پـه ډېـره اسانۍ سره کولای سي، خپل خوځښت او غورځنګ پیـل کـړي. کله چي دا ډول بحرانونه په ملي یا نړیواله کچه سر راپورته کړي نو فاشـیزم پـه خلکو کي د ځای موندني لپـاره ډېـر وړ او منلـي اصـول لـري او ډېـر ژر

[1]- محمد نادر ایوبي(کندهاری)، سیاسي نظریات، صحاف نشراتي موسسه-کوټه ۱۴۲۹ هجري قمري، ص ۵۳۳-۵۳۶

کولای سي، چې وګړي د ځان په لوري را جلب کړي. په المان او ایټالیا کې فاشیزم هغه وخت پر پښو ودریدی کله چې نړیوال اقتصادي بحرانونه پیل سول، پدې وخت کې فاشیزم د ملي ګټو د پالني مفکوره او نور اصول په خلکو کې خپاره کړل او ډیر ژر د پیاوړي غورځنګ په بڼه څرګند سو.

فاشیستي غورځنګونه پر المان او ایټالیا سربیره په نورو اروپایي هېوادونو کې هم د نړیوال اقتصادي بحرانونو په وخت کې پیل سول د بیلګې په توګه په هالنډ کې د (موسرت)، په بلژیک کې د (رکسیست)، په فنلنډ کې د (لاپو)، همدارنګه په انګلستان، فرانسه او نورو اروپایي هېوادونو کې د ملي نیشنلیست غورځنګونو په نومونو سره پیل سول او زیات یې واک ته ورسیدل خو د المان د ملي نیشنلیست ګوند په څیر بري ته ونه رسیدل، دا چې ولې د المان ملي نیشنلیست ګوند په لنډ وخت کې زیات بری وموندی لاندي دري لاملونه یې د یادوني وړ دي:

۱. د آلماني ټولني تاریخي مخینې- د اروپا د نورو صنعتي هېوادونو سره په پرتلیز ډول توپیر درلودی، او د دې لپاره غوره وه چې د یوې بشپړي دیکتاتورۍ ریښې پکښې ټینګې سي. د آلمان بورژوازي د فرانسي او انګلستان د بورژوازۍ پوړ په خلاف د کلتوري ارزښتونو پر بنسټ دیته چمتو و چې زورواکې او فاشیستي عقاید ومني. دا ټکی په لږه اندازه په ایټالیا کې صدق کولای سي. همدارنګه د آلمان ملي یوالی د لوړپوړ د لوري اعلان سو، نه دا چې د خلګو د مبارزې پر بنسټ ملي یوالي ته لاره هواره سول.

۲. د لومړی نړیوالي جګړې څخه د آلمان راوتنه- چې آلمان د ټولي اروپا د نیولو په موخه پیل کړې وه او تر (۱۹۱۸ز) کال پوري په هره برخه کي یې د بریا خبرونه خپاره وه- ګټونکی راووتی، خو د ټولي اروپا د نیولو ارمان یې په سر کي پاته سو. د همدي جګړې په پای کي د آلمان بورژوازي ډیموکراسي ونسوه کولای، چې امنیت و ساتي او نړیوالي اړیکې ټینګې کړي نو ځکه د المان پر وړاندي یو لړ خنډونه پراته وه، چې همدي خنډونو د دي لپاره لاره هواره کړه چې فاشیستي غورځنګونه پیل سول او د یو لړ نیشنلستي شعارونو په ویلو سره یې خلکو ته دا ژمنې ورکولي چې موږ به همدا ستونزي حل کړو او نړیوالي واکمنۍ ته به ورسیږو. نو ځکه د لومړۍ نړیوالي جګړې څخه پاته سوي ارمانونه او یو لړ غبرګونونه د دي لامل سول چې فاشیستي غورځنګ ته مخه ورکړي.

۳. په آلمان کي د لوی اقتصادي بحران تر شا پاته سوي اغیزي؛ لومړی نړیواله جګړه چې آلمان زیاته ونډه پکښې درلوده د دي لامل سول چې زیات شمیر صنعتي هېوادونه په اقتصادي بحران کي راګیر کړي، همدارنګه د دي جګړې څخه وروسته المان هم په اقتصادي بحران کي راګیر سو، زیاتي مځکي او مستعمري یې دلاسه ووتلې، د بورژوازۍ پوړ هم دولت ته د پور ورکوني له امله کمزوری سوی و. لنډه دا چې د آلمان اقتصادي بحران په مستقیم ډول سره ټولنیز ژوند تر اغیز لاندي راوستی و. زیاتو صنعتي هېوادونو د مستعمرو په چورولو سره خپل اقتصادي بحران تر ډیره بریده کنټرول کړ، خو المان پدي وخت کي خپلي زیاتي مستعمري هم د لاسه ورکړې وي، او د المان سرمایه داري پوړ مجبور و، چې د کارګرو

څخه په ګټي اخیستني سره خپل اقتصاد پر پښو ودروي، خو دا د دي لامل سو چي په المان کي بیوزلي او سوالګري زیاته سي او کورنۍ اړودوړ رامنځته سي.

**ب- د واکمن پوړ سیاست:**

د فاشیستي غورځنګونو تر پیلیدو مخکي په آلمان او ایټالیا کي د سیاستوالو ناوړه سیاستونو نه یوازي سوالګري او بیوزلي زیاته کړه بلکي د حکومت پر وړاندي یي د خلکو زیات شمیر غبرګونونه هم راوپارول. پدي وخت کي خلک د حکومت د کړونو څخه ناخوښه وه، او په هره برخه کي به یي غبرګونونه ښودل. پدي وخت کي داسي غورځنګ ته اړتیا وه چي د خلکو ناخوښي داسي یوه بهیر ته واچوي چي د حکومت لپاره هم تر ډیري اندازي پوري خطر نه وي او د ټولني لپاره هم تر ډیره بریده ګټوره وي. داسي اړتیا په المان او ایټالیا کي زیاته تر سترګو کیدل، نو همدا لامل و چي فاشیستي غورځنګ یي پیل کړ او د ملت پالني پر مفکوري یي خلک راټول کړل ترڅو د واکمن پوړ سیاسي تیروتني پټي سي او د خلکو افکار بل پلو واړوي[1].

**د فاشیزم تاریخ:**

لکه څرنګه چي مخکي وویل سول د فاشیزم کلمه د لاتیني ژبي د فاشیمو (فاشس) څخه اخیستل سویده، دا کلمه په پخواني روم کي د هغه تبر لپاره کارول کیده چي یوه نظامي افسر به د امپراتور په مخکي راپورته کوی او د هغه د امپراتورۍ د پیاوړتیا او تلپاتي

[1]- -راین هاردکونل، فاشیسم(مفر جامعه سرمایه داري ازبحران) ترجمه: منوچهر فکري ارشاد، ،انتشارات توس ۱۳۵۸،ص ۵۹-۸۸

کیدو نښه وه. دا تبر د څو لنډو تړل سوو لرګیو څخه جوړ سوی و او نظامي افسرانو به د واک د نښي په توګه په رسمي مراسمو کي د ځان سره لېږدوی، دا په حقیقت کي دوی نورو خلکو ته ورښودل چي امپراتور د قضاوت او د نورو خلکو د محکومولو حق لري. دا نښه یوازي د رومي امپراتورۍ د ژوندي پاتي کیدو لپاره کارول کیده.

د فاشیزم نښه د لرغوني روم د امپراتورۍ څخه وروسته زیاته نه کارول کیده او زیات وخت له پامه غورځول سوي وه، خو کله چي د لومړۍ نړیوالي جګړي څخه مخکي په اروپا کي د موسوليني په مشرۍ غورځنګ پیل سو دا نښه یو ځل بیا را ژوندۍ سول او دا پله په سیاسي مکتب باندي بدله سول. موسوليني هم د یوي لوی امپراتورۍ غوښتونکی و، خو د حالاتو مطابق یې د فاشیزم په نامه یو سیاسي مکتب چي د نورو سیاسي ایډیالوژیو څخه یې زیات اصول راخیستي وه جوړ کړ. موسوليني د فاشیزم نښه هم وکارول او د څو لنډو لرګیو څخه یې د لرغوني روم په شان تبر جوړ کړی و، خو د موسوليني تعبیر بیا د همدي لنډو لرګیو څخه بل شان و، موسوليني څو لرګي د هېواد د بیلابیلو برخو نښي ګڼلي او دا یې د یوالي لپاره سره یو ځای کړې وه چي هیڅ داسي ځواک به پیدا نسي چي فاشیستي یوالی له منځه یوسي[1].

د دو نړیوالو جګړو په منځ کي د نړۍ په هرګوټ کي انقلابي غورځنګونه راپورته سول، چي د سرمایه داري نظام او سوسیالیستي دواړو نظامونو سره یې مخالفت کاوه. د دي جملي څخه یو هم فاشیزم

[1]- ریچارد جیمزبون بوزورث، ظهور وسقوط فاشیسم ایتالیا دردوران موسوليني(۱۹۱۵-۱۹۴۵)، ترجمه علي اکبر عبدالرشیدي، ص ۱۲۹-۱۷۱

و چې د لومړۍ ځل لپاره په(۱۹۲۲ز) کال کې په ایټالیا کې پیل سو او ډیر ژر د اروپا ټولو برخو ته ورسیدی، خو المان بیا په ډیره افراطي بڼه سره پلی کړ. د دوو نړیوالو جګړو ترمنځ فاشیزم ډیر پیاوړی سو، د یوي خوا نړیوال اقتصادي-ټولنیز بحرانونه موجود وه او د بلي خوا د مځکني پراخوالي مفکوره د ملي ګټو پر بنسټ باندي زیاته وده کړي وه. د لومړی نړیوالي جګړي څخه وروسته په المان کي هټلر د فاشیزم تر شعار لاندي واک ته ورسیدی، چي د ملت پالني او ځان پالني د سیاست په څپو کي یي د مځکي د کُري پر ټولو برخو د واکمن کیدو نیت وکړ. نوځکه یي دوهمي نړیوالي جګړي ته ملا وتړله او د ټولي نړۍ سره وجنګیدی، چي په پایله کي یي بشري نړۍ ته لوي ناورین واړوی. همدا د فاشیزم پایله وه چي په ملیونونو انسانانو د څو ناوړه موخو لپاره خپلي ویني توی کړي او د ځان غوښتونکو مشرانو لپاره یي ځانونه قرباني کړل. فاشیزم د دوهمي نړیوال جګړي څخه وروسته د خلکو په منځ کي بیا ځای پیدانکړ او د خپل غرور دوره یي د انسانانو په وژني باندي پای ته ورسول.

# فاکسیونالیزم[1]

فاکسیون د ګوند، پارټۍ او حزب په مانا دی، چې د لومړي ځل د پاره دا اصطلاح د امریکا ولسمشر جورج واشنګټن د امریکا د خپلواکۍ پر مهال د ګوند پر ځای و کارول. د فاکسیونالیزم پر بنسټ باید دولت او حکومت د ګوندونو پر بنسټ ولاړوي او ګوندونه باید فعاله ونډه ولري، چې دیته ګوندي سیستم هم ویلای سو.
په لرغوني یونان کې هم ګوندي سیستم منل سوی و او په آتن ښار کې د ډیموکراسۍ پرمهال ګوندونه اړین ګڼل کېدل او فاکسیونالیزم رواج درلودی. نن ورځ په لویدیځو هېوادونو کې فاکسیونالیزم د پارلماني ډیموکراسۍ یوه برخه ګڼل کېږي. پداسې حال کې چې فاشیزم او کمونیزم، چې یو ګوندي سیستم لري فاکسیونالیزم نه مني؛ ځکه چې فاکسیونالیزم پر دوو یا زیاتو ګوندونو باندي باور لري او غواړي، چې سیاسي واک باید د ګوندونو ترمنځ د سیالۍ پر بنسټ یو ګوند په لاس کې واخلي، پداسې حال کې چې په فاشیزم او کمونیزم کې یوازي

[1] -Factionalism.

واک د یوه ګوند په لاس کې وي او هغه ګوند په دیکتاتورانه بڼه واک پلی کوي.

فاکسیونالیزم د پلورالیزم سره توپیر لري، ځکه چې پلورالیزم بېلابیلې سیاسي، اقتصادي، ټولنیزي او کلتوري ډلې غواړي، پداسې حال کې چې فاکسیونالیزم بیا یوازي په سیاسي برخه کې بېلابیل ګوندونه غواړي. فاکسیونالیزم په هغو هېوادونو کې پیاوړی دی، چې سیاسي رژیم یې څو ګوندي وي، که څه هم په انګلستان کې واک د دوو پیاوړو ګوندونو په لاس کې دی خو فاکسیونالیزم یې کمزوری او منځنی دی، پداسې حال کې چې په فرانسه کې بیا څو ګوندي سیستم رواج لري او واک د څو ګوندونو په لاسونو کې دی، چې په فرانسې کې فاکسیونالیزم هم پیاوړی دی[1].

[1]- فرهنګ سیاسي آرش او مکتب های سیاسي.

# فمينيزم[1]

د فمينيزم اصطلاح د لاتيني ژبې د (فمينا[2]) څخه اخيستل سوېده، چې د (ښځي، ميرمني او ياهم مونث) مانا لري. دا اصطلاح په انګرېزې ژبه کې په دوو ماناو سره کارول کيږي، لومړی دا چي ښځي بايد د نارينه وو سره يو رکم سياسي، اقتصادي، ټولنيز او نور چانسونه او امکانات ولري او دوهمه مانا دا چي د فيمنيزم لومړی مانا په ټولنيزو او نورو بنسټونو کي ځای پر ځای او ټينګه کړي. ياني په ټولنيزو او نورو برخو کي د ښځو د حقوقو لاسته راوړلو ته فمينيزم ويل کيږي.
په فيمينيزم کي ټولي هڅي او هاند پر دي ټکي باندي راڅرخي چي څنګه د ښځو د ژوند د پياوړتيا لپاره مبارزه وسي او ښځي بايد د نارينه سره په برابره توګه د ژوند کولو چانسونه ولري. دا ډول آندونه ډيره لرغوني مخينه لري، چي لومړنی ښېلګي يې په لرغوني يونان او چين کي موندلای سو. خو ښځي د منظم غورځنګ په څير راڅرګند يدل او د ښوونې او روزني څخه بشپړه ګټنه کول او په سياسي او نورو برخو کي فعاله ونډه لرل د نولسمي پيړۍ د فمينيزم د غورځنګونو لاسته

[1] - Feminism.
[2] - Femina.

راوړنه ده. پـه نولسـمه پیـړۍ کـي داسـي آندونـه را وپـنځیـدل چـې ښـځي باید د نارینه وو سره په مساوي ډول د ژوند پـه ټـولـو چارو پـه ځانګړې توګه په سیاسي برخه کي ونډه ولـري. همدارنګـه ښـځي بايـد د نارینـه ووسره پـه مسـاوي ډول د ټـولـو هغـو حقوقـو څخـه چـې پـه قوانینـو کـې ښودل سویدي برخمني سي لکه د رایې حق او داسي نور.

**د فمینیزم غورځنګونه**:

د فمینیزم غورځنګ ډیره اوږده مخينه لري، چي لرغـوني ریښـي یـې د لرغوني یونان او مصر پـه تـاریخو نـو کـي لیـدل کیـږي. دي غـورځنګ د تاریخ په لمنه کي څو واره د ښـځو د سیاسـي حقوقـو غوښـتنه کـړیـده او هڅه یې کړیـده، چـي ښـځي د نارینـه ووسـره پـه ټـولـو برخـو کـي یوشـان راولي. خو د تاریخ په اوږدو کي دي غـورځنګ ځانتـه ځـانګړې سـازمان سوي ښه نده تر لاسه کړې یوازي یې د نولسمي پیړۍ په نیمایي کـي څـه ناڅه تشکیلات او سازمان پیدا کړ او دي سازمان سوي غورځنګ هڅه کـول، چـي د ښـځو لپـاره د نارینـه وو سـره برابـر سیاسـي حقـوق او نـور فرصتونه په لاس راوړي، چي دیته د ښځو د ازادۍ لومړی پړاو هم ویـل کیږي. پـه لانـدي ډول هڅـه کـوو، چـي د فمینیـزم دري واړه غـورځنګونـه څه ناڅه روښانه کړو:

**الف- دفمینیزم لومړی غورځنګ**:

د فمینیزم لومړی غورځنګ، چي د نولسمي پیړۍ د لومړیو څخـه پیـل سوی و، بیا تر (۱۹۲۰ز) کال پوري و، چي پدي وخت کي په امریکـا کـي ښـځو تـه ځینـي حقـوق ورکـول سـول. سـربېره پـردي چـي دوی د ښـځو قـانوني او سیاسـي حقـوق غوښـتل، دوی د ښـځو د رایـي ورکـوني محدودیت هم لیري کاوه او هڅه یې کول، چي د نارینه وو او ښځو بایـد

برابري رايي وي، چې دا ډول بدلون دوی د ټولو جنسي تبعیضونو د له منځه وړلو لامل ګڼي. لومړي غورځنګ زيات ټينګار د ښځو پر سياسي او مدني حقوقو باندې کوي او ترزياته بريده پدې باندې وتوانيدل، چې دا حقوق په نسبي ډول په لاس راوړي.

**ب- د فمينيزم دوهم غورځنګ:**

د ښځو دازادۍ دوهم غورځنګ هم لومړي غورځنګ ته ورته و. دا غورځنګ په ۷۰ لسيزه کې پيل سو. ددې غورځنګ مشري فرانسوي (سیمون دوبوار) کول. د دوهم غورځنګ شعار داو، چې ښځې بايد د نارينه وو سره په ټولو برخو يانې سياسي، اقتصادي، کلتوري او مدني کې مساوي وي.

کله چې په اروپا او امريکا کې پانګواله نظام پرمختګ وکړ؛ نو کاري ځواک ته زياته اړتيا وليدل سول او په بېلابېلو برخو کې د ښځو او نارينه وو په کار باندې ګمارل پيل سول او زيات وګړي په فابريکو او نورو برخو کې په کارباندي وګمارل سول. همدارنګه د ښځو لپاره د علم او پوهې د ترلاسه کولو زياته زمينه برابره سول، چې پر همدې بنسټ باندې ښځو لوړو پوړونو ته لاره پيدا کړه. خو پدې وخت کې د ښځو سره تبعيض او د نارينه وو سره نابرابر چلن کيدی.

د ښځو دوهم غورځنګ ترزياته بريده د ښځو د حقوقو دلاسته راوړني او د تبعيض د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کولې. همدارنګه د ښځو د ازادۍ راډيکال غورځنګ بيا هڅه کول، چې ښځې د نارينه وو دواکمنۍ څخه خلاصي کړي او نر او ښځه بايد په مساوي بڼه وي. همدارنګه دوی د نارينه وو او ښځينه وو ترمنځ لازمي درنښت وړاندې کړ او پدې آند وه چې د نر او ښځې ترمنځ په طبيعي ډول احترام او

درناوی شتون لري.

د ښځو دوهم غورځنګ تر زیاته بریده په یو شمېر قوانینو کي بدلون راوستئ او پدي هم وتوانیدل، چي هغه تبعیض چي په کلتورونو کي د ښځو پر وړاندي موجود و، تر ډېره بریده له منځه یوسي.

د ښځو د خپلواکۍ دریم غورځنګ چي د (۱۹۸۰) کال راپدیخوا جریان لري زیات شمېر سیاسي، اقتصادي او نور حقوق یې د ښځو لپاره په لاس راوړي دي.[1]

**د فمینیزم ځیني ډولونه**:

که څه هم په فمینیزم کي د ښځو حقوق او د ژوند پیاوړتیا محوري موضوعات دي خو بیا هم په نړیواله کچه بېلابېلي فیمینیستي ډلي را پورته سولي او په خپلو منځونو کي د یو شمېر توپیرونو په لرلو سره، بېلابېل فمینیستي غورځنګونه پیدا سول، چي په لاندي ډول یې د ځینو یادونه کوو:

(۱)- **لیبرال فیمینیزم**:

د فیمینیزم دي ډلي د لیبرالي فلسفي پر بنسټ د کړنو د آزادۍ او رضایت موضوعات یې خپل محور وګڼل. دوی د مور او میرمني د هغه رول په اړه چي یوازي په کورنۍ پوري اړوند ګڼل کیږي، بدبینه دي او وایي چي د قوانینو په اصلاح او د ټولني په سیاسي او ټولنیز جوړښت ته په بدلون سره کیدای سي، چي نارینه او ښځېنه په برابره توګه په ټولنه کي ونډه ولري. ددي آند پر بنسټ روان سیاسي او ټولنیز حالات او بهیر باید اصلاح سي، ترڅو فیمینیستي موخي تر لاسه کړل سي.

[1]- غلامرضاعلی بابایي، فرهنګ سیاسي آرش، ص ۴۱۰-۴۱۱.

**(۲)- مارکسیستي فیمینیزم**:

د دي آند پر بنسټ ځانې (خصوصي) مالکیت د دي لامل سوی، چې ښځې په کورونو کې بندیاني سي او هغه وخت ښځې د کورونو د بند ځخه خلاصیدای سي، کله چې خصوصي مالکیت او بورژوازي له منځه ولاړه سي. د دي ډلې په آند د ښځو د ژوند د بدلون او ښه والي لپاره بېله د اقتصادي سیستم د بدلون ځخه بله چاره نسته. نو ښځې بایـد د دي ډول بـدلون لپـاره هځـې وکـړي او د سـرمایه داری نظـام جنسیتي مسایل باید له منځه یو سي. د دي ډلې د مهمو مخکښانو ځخه یو هم (رزالو ګزامبورک) دی.

**(۳)- راډیکال فیمینیزم**:

دا ډله پدي آند ده، چې په ټولنه کې ټول قومي، نژادي، مذهبي، او پوړیز تبعیضونه د جنسیت پر بنسټ ولاړ دي. د دوی په آند د ښځو کښته والی او خوار والی نه یوازي په قوانینو کې، بلکې د انساني ژوند په ټولو برخو کې لیدل کیږي او د انساني ژوند هیڅ برخه د نارینه وو د واکمنی ځخه خلاصه نده. دا ډله داسي ګروهمنده ده چې بنسټیز او اساسي ظلم او ستم پر ښځو باندي دی او د تاریخ د حرکت ماشین پدي هځه کې دی، چې ښځې باید تر واکمنی لاندي راوستل سي.

د دي ډلې بنسټیزه تګلاره د نارینه او ښځینه جنسونو ترمنځ د توپیر له منځه وړل دي. زیاتره راډیکالان په دوه جنسی[1] کې د ښځو صفات تر نارینه وو ارزښتناکه ګڼي. همدا رنګه دوی دا هم ردوي، چې ښځه یوازي په کور کې ناسته وي او د بچیانو راوړل کوي او نارینه ډوډۍ پیدا کوي. د راډیکال فیمینیزم نامتو مخکښان سیمون دوبوار او

[1] - anderoguny.

شو لاميت فايرستون دي.

**(۴)- سوسيال فيمينيزم:**

دا آند د مارکسيزم فيمينيزم او راډيکال فيمينيزم د دوو آندونو د يو ځای کيدو څخه منځته راغلی. ددي ډلي په آند هم نرواکه جنيستي نظام او هم پانګواله نظام دواړو پر ښځو باندي د ظلم او ستم زمينه برابره کړيده. ياني د ښځو د بي ارزښته او بېواکه کولو لپاره له يوي خوا پانګواله نظام او له بلي خوا د نارينه جنس واکمني زمينه برابره کړيده، نو ددي ظلم او ستم د له منځه وړلو لپاره نه يوازي بايد په ټولنه کي اقتصادي نظام اصلاح او سوسيال اقتصادي نظام پلی سي، بلکي په فرهنګي او کلتوري ارزښتونو کي هم بايد پر ښځو باندي د ظلم پر وړاندي مبارزه وسي. ددي آند نامتو مخکښ هايډي هارتمن دی[1].

**څو ټکي:**

نن ورځ د فمينيزم په اړه بېلابېلو دريځونه شتون لري، يو شمېر ددي تلنلارې پر وړاندي باندي دريځ لري او يو شمېر نور بيا ددي تلنلارې سره موافقت لري. د يادوني وړ ده، چې فمينيزم د ښځو او نارينه وو ترمنځ د تبعيض او تعصب کچه راکمه کړه، د ښځو سياسي- ټولنيز ګډون يې زيات کړ، په اقتصادي برخه کي ښځه د مالکيت او خپلواکی برخمنه سول، په اقتصادي، سياسي او ټولنيزو چارو کي يې د ښځو ګډون په خلکو ومنی او د ښځو علمي، هنري او فرهنګي سويې يې ور لوړي کړي.

که څه هم فمينيزم پورته لاسته راوړني درلودلي دي، خو د زياتو نيوکه کونکو لخوا تر نيوکو لاندي راغلی دی. د نيوکه کونکو په آند

[1]- عبدلرسول بيات، فرهنګ واژه ها، ص۴۳۱

فمینیزم زیات شمېر نیمگړتیاوي هم درلودلي دي چې په لاندې ډول د یو څو یادونه کوو:

(۱)- دې تلنلارې د کورنۍ بنسټ وپاشی، غیري رسمي او نا مشروع ودونه یې رواج کړل، تکراري طلاقونه او د نا مشروع بچیانو پیدا کیدل یې عام کړل او د کورنۍ هغه رول چې د ارامتیا او سکون لپاره ګڼل کیدی، له منځه یوړل او زیاتي نوري اغیزي یې هم پر ټولنه باندي وشیندلي. پورته ټول هغه لاملونه دي، چې د کورنۍ بنسټ یې له منځه یوړ او کورنۍ چې د ټولنیز واحد په بڼه ګڼل کیدل، له تباهۍ سره مخ سول.

(۲)- د اخلاقي ارزښتونو څخه سرغړونه بل هغه ستر ناورین و، چې د اخلاقي فساد او بې بندو باري فحشا او زنا رواج یې منځته راوړ. همدارنګه د سیکس تجارت او په تجارتي او سیاسي برخو کي د ښځو د رنګ، جسم او اواز څخه ګټه اخیستل بل هغه سپکاوی و، چې د ښځو شخصیت ته کیدی.

(۳)- که څه هم ښځو یو شمیر حقوق لکه په سیاسي او ټولنیزو برخو کي ګډون، د رایې حق او نور څه لاسته راوړل خو ددې په مقابل کي یې ډیر نور څه لکه د مورولۍ ارزښت او داسې نور د لاسه ورکړل.

(۴)- د فمینیزم د خپلو ټاکلو موخو د لاسته راوړلو په لاره کي ماته بل هغه خنډ و، چې ددې تلنلارې په مخ کي پروت و. ددې غورځنګ موخې په لویدیځ کي د ښځو لپاره اقتصادي خپلواکي او په کار کي د ښه موقیف نیول، وې، چې اوس هم ښځې خپلو موخو ته ندي رسیدلي او دا د فمینیزم ماتې وه. که څه هم اوس زیات شمیر نړیوال سازمانونه رامنځته سوي دي، خو بیا هم ښځو اقتصادي ځواک ندی ترلاسه کړی،

له يوي خوا ښځي خپلو موخو ته ونه رسيدلي له بلي خوا يې په کورنۍ کي چي کوم ارزښت ددوی لپاره موجود و، هغه يې هم له لاسه ورکړ. همدارنګه په سياسي- ټولنيزو برخو کي د ښځو ګډون هغه ډول چي فيمينيستي غورځنګ غوښتی له هغه سره توپير لري، چې اوس په لويديځ کي پلی کيږي.

(۵)- ددي غورځنګ بل هغه زيان چې د ښځو او نارينه وو ترمنځ يې د تبعيض او ټکر په برخه کې رامنځته کړل، هغه زيان و، چې د ښځو لپاره يې بد عواقب پريښودل.

(۶)- په کورنيو کي د منډو بي ارزښته کيدل هغه ضربه وه، چې د نفوسو د کمښت لامل وګرځيدل او زيات لويديځ هېوادونه هم د همدي ضربي له امله د نفوسو د کمښت سره مخ سول[1].

خو په هر حال د فيمينيزم تلنلاره د زياتو نورو ايډيالوژيو او مکتبونو څخه اغيزناکه سويده، په ځانګړي ډول د ليبرال او سرمايه دارۍ د فلسفو څخه زياته اغيزناکه سويده. همدرانګه د ښځو پر وړاندي تاوتريخوالی او تبعيض بايد له منځه يوړل سي او ښځو ته خپل حقوق ورکول سي، خو د فيمينيستي غورځنګ اصول داسي ټاکل سويدي، چې زياتره وخت د ښځو لپاره ستونزي پيداکوي او د نړۍ ټول هېوادونه نسي کولای چې دا اصول ومني.

[1]- عبدلرسول بيات، فرهنګ واژه ها، ص۴۳۴-۴۳۵.

# فیزیوکراسي[1]

د دي مکتب بنسټ په (۱۸ز) پیړۍ کي په فرانسه کي د یو لړ پوهانو او لیکوالانو لخوا کښېښول سو، د دي مکتب پیروان د طبیعي مکتب غوښتونکي وه او پدي آند وه، چي د انسان د ژوند په هره برخه کي هغه که ټولنیزه، اقتصادي او یاهم سیاسي وي، طبیعي قوانین شتون لري، چي روڼ آندي او پوه کسان کولای سي، چي د خپلو څیړنو په لړ کي دا قوانین کشف کړي او ټولني ته یې وړاندي کړي، چي دا د ټولني لپاره مهم او تاریخي خدمت دی. دوي پر دي باور درلودی، چي په طبیعي نظام او قوانین کي باید لاسوهنه ونسي او دولتونه باید په اقتصادي چارو کي لاسوهنه ونه کړي؛ ځکه چي هغه قوانین چي دولت یې د اقتصادي چارو د کنټرول لپاره ټاکي، شوني چي د اقتصادي سیستم طبیعي تلنلاري ته انحراف ورکړي او د ټولني په زیان تمام سي. یاني دولت باید په هیڅ وخت کي په اقتصادي چارو کي لاسوهنه ونکړي[2].

1 -Physiocracy.

2- غلامرضا علي بابایي، فرهنګ سیاسي آرش، ۱۳۸۴ش، ص ۴۱۴-۴۱۵.

د دي تلـــنلاري مخـــکښ د فرانســـي اقتصـــاد پــــوه او رنځپـــوه (فرانسوا کوسني) و، چي پدي اړه يې زيات کتابونه هم ليکلي دي.

د فيزيو کراټانو پـه آنـد دا سمه خبره ده، چي (درد) او (خوند) د ټولو انساني کړنو سرچينه ده او د ځاني ګټو ساتنه د هر ټولني قانون ګڼل کيږي، خو پـه هغو کي بايد مقننه قوه لاسوهنه ونکړي او مقننه قوه بايد پـه ټولنه کي اقتصادي قوانين وضع نکړي؛ ځکه چي هر وګړی د خپلو ګټـو غـوره قاضـې دی. د وګـړې پـر هڅـو او فعـاليتونو بانـدي بايـد محدوديت وضع نسي. اقتصادي قوانين پـه ټولنـه کـي پـه طبيعي ډول شتون لري او هغـه څه چي ښـه ګڼل کيږي، هغـه پـه ټولنـه کـي پيـاوړي کيږي او پرځای پاته کيږي.

دوی طبيعي قانون داسي تعريفوي(په اقتصادي چارو کـي د دولت او مقنني قوي نه لاسوهنه او هغـه طبيعت تـه پريښـودل) پداسي حـال کـي چـي يـو شـمېر نـور ملاتـړې يـې بيـا داسـي تعريفـوي (د عـدالت لپـاره مناسبي او سمي مـوازيني) تـه طبيعـي قـانون وايـي. د فيزيوکراټـانو دا ډول تعريفونـه همغـه د ليســه فيـر د فرضـي پـه څيـر ګڼـل کيـږي او د دي فرضي سره ډير ورته والی لري.

دوی پر پورته عقايدو سربېره د کرهڼي په اړه داسي آند درلـودی، چـي هغه شتمني او عايد چي د کرهڼي او معادنو څخه لاسته راځي بايد پـر هغو باندي ماليات وضع نسي بلکي د مځکي او خاوري په اندازه بايـد ماليــات وضــع ســي. همدارنګــه د شــتمنی د ويشــني پــه اړه دوی د کاپيټاليزم ملاتړي دي او آدم سميت بيـا پـر دوی بانـدي زيـاتې نيـوکي کړيدي[1].

[1]- دکتر بهاالدين پازرګا، مکتب های سياسي، ۱۳۴۴ش، ص ۱۳۸-۱۳۹.

# فيوډاليزم[1]

د فيوډاليزم(ويي (لغت) د انګليسي ژبې د (فيوډ )[۲] څخه اخيستل سويده او مانايي هغه مځکه ده چي د يو لړ شرايطو پر بنسټ يو چاته ډالۍ کيږي. په منځنيو پيړيو کي فيوډاليته هغه مځکي ته ويل کيده، چي د پاچا لخوا به يو چاته د نظامي خدمت او يا نورو خدمتونو د اجرا کولو په مقابل کي ورکول کيده. په فيوډاليزم کي واک د مځکه والو په لاس کي و، دوی به د پاچا لخوا د مځکو خاوندان سوي وه؛ نو ځکه يي د هغي سيمي د واکمن په توګه دنده ترسره کول. پدي ټولنيز- سياسي نظام کي به يوه اندازه مځکه د پاچا لخوا يو اشراف ته ورکول کيده چي هغه ته به يي فيوډال وايه، فيوډال به هغه مځکه کروندګرو او اجاره اخيستونکو ته ورکول، فيوډال به د خپلي سيمي ټولي سياسي او قضايي چاري پرمخ بيولې او د مځکي پر حاصلاتو او د کروندګرو پر ژوند باندي پوره واکمن و. فيوډال به د شاه پر وړاندي يو لړ دندي هم درلودي، چي د هغي سيمي خلک به يي د عسکری چوپړ ته چمتو کول،

[1] Feodalism

۱ Feudalism(دمځکه والو حکومت)

۲ Feod

د خپلي مځکي د حاصلاتو یوه برخه به یي شاه ته ورکول او فیوډال به د خپلو کروندګرو سره دا ژمنه هم کول چي دوی به د هرډول بهرني خطر څخه خوندي ساتي.

فیوډال د خپلي سیمي بشپړ واکمن و، د پاچا واک به کمزوری و او تش په نامه به پاچا حکومت کاوه، پاچا به د خپل واک سرچینه الهي حقوق ګڼل او دا یي د ځان لپاره ځانګړي کړي وه. فیوډالانو بیا پاچا ته د یو څه اندازه خدماتو په وړاندي کولو سره د واکمنۍ یوه برخه په خپلي سیمي کي عملي کول، په خپله سیمه کي به د فیوډال هره خبره قانون او هره پریکړه به یي قانوني وه.

د فیوډالیزم د نظام د منځ ته راتلو عوامل د غلامۍ په دوره کي د (کولون) منځ ته راتګ و، (کولون) یوه زیار ایستونکی پوړ و، چي په خپل زیار سره به یي د خلکو څخه مځکي اخیستلي او هغه به یي کرلي. دا پوړ (طبقه) په غلامانو که نه راتلی بلکي د کروندګرو په بڼه یي کار کاوه. خو سره له دي دوی مکلف وه، چي یوازي د اربابانو مځکي وکري، د حاصلاتو زیاته برخه او مالیه دوی ته ورکړي او د اربابانو خدمت هم وکړي. دي کار د غلامانو د څښتنانو ژوند ډیر ښه کړ او وروسته یي زیاتي مځکي لاسته راوړي، چي زیات عواید به ورتلل. د وخت په تیریدو سره د ازاد سوو غلامانو او کولون څخه یوه هسته (ولس) منځ ته راغی چي په لویدیځ کي ورته (سرف) وایي.

په فیوډالي نظام کي یو کم شمیر خلک د مځکو خاوندان سول او زیات شمیر یي ورڅخه محرومه پاته سول، فیوډالانو د خپل اقتصادي واک پر بنسټ سیاسي واک هم لاسته راوړ، مځکه والو به پر کروندګرو باندي زیات ظلم کاوه او هغه به یي استثمارول. ځیني

کروندګر يي وژلای سول، يادا چي د لږي بي احتياطۍ په مقابل کي به يي د هغه د بدن يوه برخه ورڅخه پريکولای سول. فيوډالانو به د کروندګرو پر ناموس باندي ښکاره تجاوز کاوه او کروندګرو به د دوی پر وړاندي د يوي خبري حق هم نه درلودی، د کروندګرو زامن به د پوهي او سواد څخه بي برخي وه او يوازي به د فيوډالانو زامنو پوهه ترلاسه کولای سول. د کروندګر بچي بايد يوازي د پلار کسب تعقيب کړی وای.

په فيوډاليزم کي مځکه يوازني توليدي عامل ګڼل کيده او اقتصادي بنسټ پر مځکه ولاړو. نو ځکه بزګرانو او فيوډالانو زيات رول درلودی، کروندګر هغه خلک وه چي د فيوډال د خوا به د مځکي پر کار کولو باندي ګمارل سوي وه او فيوډال به پر هغه باندي بشپړه واکمني درلوده. ځيني وختونه به کروندګرو نسوه کولای چي د فيوډال د منګلو څخه ځان خلاص کړي، ځکه چي د ده ژوند يوازي د فيوډال په خدمت کي و او زيات وخت به د فيوډال د خوا پوره وړی و؛ نو ځکه ده د خپل پور په مقابل کي د فيوډالانو خدمت کاوه. کله کله به کروندګر د خپل پور د خلاصون لپاره په دي مجبوره کيدل، چي خپل زوی يا لور فيوډال ته ورکړي او ځان ورڅخه خلاص کړي.

فيوډالي اقتصاد په حقيقت کي طبيعي اقتصاد دی؛ ځکه چي دوی يوازي توليد د مصرف لپاره کوی او د دوی توليد تبادلوي ځانګړنه (خاصيت) درلوده. په منځنيو پيړيو کي چي په مځکو کي څه توليديدل هغه ټول د فيوډال د کورنۍ او دوستانو لپاره په مصرف رسيدل، نو ځکه ويلای سو، چي د دوی اقتصادي توليد يوازي لګښتي (مصرفي) بڼه درلودل.

کله چي فیوډالي آندونو وده وکړه نو ورسره سم یو شمیر نور اندونه او مفکوري هم پیاوړې سول لکه: اشرافیت، اریستوکراسي او خپل قوم او کورنۍ ته نورو لوړ ګڼل. دا هرڅه د فیوډالیزم د واکمنۍ په دوران کي زیات پیاوړي سول او مذهبي واکمني هم د فیوډالیزم د دوري لاسته راوړنه ده.

په فیوډالیزم کي امنیت نه و، غلا، مرګ او ژوبله زیاته وه، ډیموکراسي نه وه او د خلکو لپاره هیڅ ازادي نه وي موجودي. پدي نظام کي صنعت وده نسوه کولای، د مځکو حاصلات کم وه، ځکه چي د ډیري مځکي به یو سړی مالک و، بزګرانو ته به ډیر کم عاید ورکول کیده او دوی هم د مځکي د عاید د زیاتوالي لپاره خاصه علاقه نه لرله او کارجبري بڼه درلوده. نو ځکه د بزګرانو او مځکه والو ترمنځ ټکر رامنځ ته سو او د دي لامل سو چي په منځنیو پیړیو کي په نړۍ کي زیات شمیر د بزګرانو غورځنګونه رامنځ ته سول. فیوډالیزم په خپله زرکلنه دوره کي د نړۍ زیات شمیر هېوادونه ترخپلي واکمنۍ لاندي راوستل او زموږ په هېواد کي هم (۱۵) پیړۍ واکمن و. فیوډالیزم په ختیځ او لویدیځ کي تقریباً یوشان و؛ ځکه چي د فیوډالیزم یوازنۍ موخه د کروندګر په واسطه د مځکي څخه د تولید لاسته راوړل وه.

**د فیوډالیزم ځانګړتیاوي:**

په فیوډالیزم کي دولت(پاچا) د مالکیت د لوړو حقوقو څخه برخمن و، شاه د مځکو د مالکیت حق درلودی او نورو ته د هغه ډالۍ کول هم د شاه حق و. پاچا به مځکه یو شخص(فیوډال) ته په بخشش ورکول، او فیوډال به بیا کروندګرو او اجاره اخیستونکو ته په اجاره ورکول.

په لویدیځ کي به هغه چا ته فیوډال ویل کیدی، چي د پاچا لخوا به په رسمي ډول د کومي مځکي خاوند سو، فیوډال به بیا هغه مځکي د نورو خلکو تر منځ د یو لړ شرایطو پر بنسټ باندي ویشلي، چي دا نوو مالکانو ته به (تابعین) ویل کیده، دوی هم کولای سول، چي هغه مځکي نورو خلکو ته ور وویشي. نو ځکه هر مځکه وال پرځان د کښته مالک او د لوړ تابع و. د همدي ځایه څخه د فیوډالي د مراتبو لړۍ پیل سول، یاني شاه به د فیوډالانو مشر او فیوډالان به د تابعینو مشران وه.

په ختیځ کي په ځانګړي ډول په اسلامي هېوادونو کي لکه افغانستان، ایران او عراق کي چي تقریباً ګډي ځانګړني یې درلودلي، شاه بشپړ واک درلودی، چي یوه پراخه سیمه لکه ولایت خپل یو نظامي افسر، قومي مشر یا رئیس ته د ښه خدمتونو په مقابل کي د ټول عمر لپاره ورکړي. همدغه شخص به دا دنده درلوده چي د هغي مځکي څخه مالیه راټوله کړي د هغه یوه برخه د هغي سیمي پر عسکرو مصرف کړي او پاته یې د دولت خزانې ته ورکړي. خو فیوډالانو به د هغه دوه چنده مالیه راټولول او د خپلو شخصي اړتیاوو په پوره کولو سره یې مصرفول. نو ځکه واکمني مرکزیت نه درلودي او په هره سیمه کي یو واکمن حکومت کاوه، فیوډالانو به د شاه خبري نه منلې او شاه به هم دومره زور نه درلودی، چي فیوډالان د واکه وغورځوي. په دي نظام کي د مرکزي حکومت څخه د تیښتي مفکوري زیاته وده کړي وه، فیوډالانو به تل د ځان لپاره د خلاصون لاره کتل، تر څو د پاچا د اوامرو څخه خلاص سي. هرڅومره چي به په یوه هېواد کي مرکزي دولت ځواکمن و په هغه اندازه به د هېواد چاري منظمي وي او فیوډالان به د مرکزي حکومت تابع وه، خو که چیري د کوم هېواد

مرکزي حکومت کمزوری و نو په همغه اندازه به د هېواد چاري ټکنۍ وي.

په ختيځ کي د مغلوپه دوره کي فيوډالانو نه يوازي پر خپلي مځکي او توليد باندي واکمني درلوده بلکي ټولو هغه خلکو چي د دوی په مځکو کي به يي کار کاوه هغه هم د دوی د مالکيت يوه برخه وه او دوی تر ډيرشو کالو پوري نسوه کولای چي بل ځای ولاړ سي. ياني کروندګرو د فيوډال د نيمه غلامانو په بڼه کار کاوه او که چيري به کروندګر تر ډيرش کلنۍ خدمت د مخه وتښتيدی نو فيوډال حق درلودی، چي هغه ونيسي او بيرته يي راولي.

**زموږ په هېواد کي څوک فيوډال و؟**

زموږ په هېواد کي هغه چاته فيوډال ويل کيدی، چي خپل کروندګر به يي د غلامانو په څير کارول، او کروندګر به يي د مالکيت يوه برخه وه. دوی د خپل کښت او کروندي د پياوړتيا فکر نه درلودی يوازي يي پرخپلو کروندګرو باندي تېنګار کاوه.

زموږ په هېواد کي د فيوډاليزم ځانګړی خاصيت داو، چي کروندګر به د مالک(خان) د ملکيت يوه برخه و، که څه هم دا خاصيت د لويديځ د فيوډاليزم په څيرنه و خو بيا هم کوم توپير يي نه ورسره درلودی. د خان او کروندګر تر منځ دا ډول اړيکه د اقتصاد پر بنسټ ولاړه وه، ياني کروندګر به د خان ډير پوروړی و او کروندګر به د همدي پور په مقابل کي د خان چوپړ کاوه، تر څو چي به يي د خان پور نه و ادا کړی تر هغه به کروندګر نسوه کولای، چي بل ځای ته کډه وکړي. کروندګر د خپل ځان د خلاصون لپاره خپل زوی يا لور د پور په مقابل کي خان ته ورکول، او بيا به کروندګر بيچاره تر مرګه پوري هغه ونه ليدی، خان به

هـم د کرونـد ګر اولاد پـر نـورو خلکـو د خپـل پـور دوه برابـره پـه انـدازه باندي خرڅوی خو کروند ګر هیڅ هم نسـوه ویـلای. همدارنګـه خـان بـه د کرونـد ګر پـر شـمتنی باندي پـه نیمګـړې (غیـري مسـتقیم) ډول سـره واکمـن و، یـانې کرونـد ګر نسـوه کـولای، چـې خپـل شـیدي، غـوړي، هګۍ، اوړی یا بل څه بیله خان څخه پـر بـل چاباندي خرڅ کړي. او هم کروند ګر نسوه کولای، چې خپل لور د خان د اجازې پرتـه چاتـه ورکـړي او یا د بل چا لور د خان د اجازې پرته خپل زوی ته وغواړي.

زمـوږ پـه هېـواد کـې فیـوډالان د لویـدیځ پـه شـان د ښـکلو مـاڼیو اوعصري ژوند په لټه کې نه وه، بلکې دوی پر خپلو کروند ګرو بانـدې ظلم او بیرحمي کول، زیاتې ښځې یې کولې او د کلي په منځ کې یې ژونـد کـاوه. یـا بـه هـم د دوی لـوی ارمـان دا و، چـې د زیـاتو مځکـو او کروند ګرو په لرلو سره په سیمه کې بل سیال ونلري.

زموږ په هېواد کې د ثور تر کودتـا پـورې خـان، ملـک او اربـاب لـوی مځکه وال وه او فیوډالیزم ډیرې ټینګې ریښې درلـودې، همـدالامل و چې په افغانستان کې د کارګرانو او بزګرانو غورځنګ راپورتـه سـو او د کارګرو په نامه یې انقلاب وکړ.

**فیوډالیزم په اروپا کې:**

پـه اروپـا کـې د روم د امپراتـورۍ د لویـدو څخـه وروسـته د ملـوک الطوايفي حکومت منځتـه راغلـی، چـې هر هیـواد پـر ۲۰۰، ۳۰۰ او حتـا ۵۰۰ برخو باندې ویشـل سوی و، چـې دیتـه فیـوډالیزم ویـل کیـدی. لکـه څرنګه چې د فیوډالیزم اصطلاح د (فـې) څخه اخیسـتل سویده، چې د تحفې او ډالۍ په مانا ده، له همدې کبله په فیوډالیزم کې به د شاه لخوا

مځکې ډالۍ کېدلې، په ټولیز ډول په اروپا کې فیوډالیزم په دوو پړاوونو کې لولو:

**الف- د فیوډالیزم لومړی پړاو**:

د فیوډالیزم لومړی پړاو د ۵۰۰ زیږدیز کال څخه بیا تر ۸۰۰ زیږدیز کال پورې دوام لري. پدې دوره کې فیوډالانو پر جرمني، فرانسې، بلژیک، هالنډ او هسپانیا باندې واکمني کول. پدې وخت کې فیوډالان د زیات سیاسي، اقتصادي او نظامي ځواک لرونکي وه. بېله دې، چې سکه به د پاچا په نامه وهل کېدل نور ټول امکانات د دوی په لاسونو کې وه. فیوډالانو سربېره پر سیاسي، اقتصادي او نظامي ځواک باندې د قضایي ځواک لروکي هم وه، دوی قاضي، څارنوال او زندان درلودل. په فیوډالیزم کې که به محکمه د دوو اړخونو ترمنځ وه نهایي پرېکړې ته نه وای رسېدلي نو دواړو اړخونو په خپلو منځونو کې جګړه کول که هر لوری بریالی سوی وای هغه لوری پر حق ګڼل کېدی. په ټولیز ډول د فیوډالانو اقتصادي قدرت هغو مځکو جوړوی چې دوی ور باندې واکمن وه، یانې د دوی اقتصادي سرچېنې هغه مځکې وې، چې د شاه لخوا به دوی ته ډالۍ کېدلې او دوی وربانديې واکمني درلودل. هغه سیمې چې د فیوډالانو تر واکمنۍ لاندې وې هغو ته به فیوډال ناستې یا امیر ناستې مځکې ویل کېدې. زیاتره وخت به د فیوډالانو لپاره لقبونه کارول کېدل چې د هغو د نومونو د مختاړو سره به کارول کېدل، د بېلګې په توګه په فرانسې کې به (دیوک)، (کینت) او (کینتس) او په انګلستان کې به بیا (لارډ) او (ارل) کارول کېدل، چې دا زیاتره وخت د دوی د درنښت لپاره د خلکو لخوا کارول کېدل.

د فیوډالیزم په وخت کې فرانسه د ۵۰ څخه تر ۲۰ برخو باندې ویشل سوې وه. د فیوډالیزم په دوران کې یو شمیر افتخاري جګړه مارانو شتون درلودی، چې د شوالیانو یا واسالیانو په نامه یادیدل. شوالیان به د فیوډالانو خواته ورتلل ترڅو دوی استخدام کړي، کله چې به دوی استخدام سول نو لومړی ډالی چې د فیوډالانو لخوا ورکول کیدل هغه مځکه وه، چې د (في) یانې ډالۍ په بڼه ورکول کیدل. د شوالیانو مهمه ځانګړتیا داوه، چې دوی فیوډالانو ته وفاداره پاته کیدل او دا ددوی لپاره د شرم خبره وه، چې د خپلو فیوډانو څخه تیښته وکړي.

**ب- د فیوډالیزم دوهم پړاو:**

د فیوډالیزم دوهم پړاو د ۸۰۰ز کال څخه بیا تر ۱۳۵۰ز کال پوري دی. پدې دوره کې نامتو فیوډال (پین) و. پین د نورو فیوډالانو څخه و غوښتل چې یا دده سره یو ځای سي او یا هم دده پر وړاندې د جګړې ډګر ته راووزي، چې په پایله کې یو شمېر فیوډالانو دده ملاتړ وکړ او یو شمېر نورو دده پر وړاندې جګړه پیل کړه. پین د فرانسې څخه روم ته راغلی او هلته یې یوه پراخه ساحه ونیول چې په هغه ځای کې یې لویه کلیسا جوړه کړه او اوس د واتیکان په نامه یادیږي.

د پین د مړینې څخه وروسته د هغه زوی (شارلماني) واک ته ورسیدی او د روم د امپراتوری په سرکې راغلی، په هغه وخت کې د روم په امپراتورۍ کې المان، فرانسه او د ایټالیا ځینې برخې شاملې وې. که څه هم شارلماني او نور شوالیان چې شارلماني استخدام کړي وه، غیري مذهبي وه، خو بیا هم دوی د کلیسا سره سیاسي قدرت شریک کړ.

د شارلماني څخه وروسته دده زوی (پرهیزګاره لوی یا سپیڅلي لوی) د واک پر ګدۍ باندي کښیناستئ. لکه څرنګه چي دده دنامه څخه معلومیږي دی یو مذهبي شخص و، ده کلیسا ته زیات سیاسي قدرت په لاس کي ورکړ. دده په وخت کي اړودوړ او هرج مرج زیات سو، ده ټول غیري اخلاقي کارونه بند کړل، تردي بریده ده سپیڅلتوب کوی، چي د خپل قصر ښځي یي ټولي کلیسا ته واستولي.

پرهیزګاره لوی د خپل ځان او حکومت لپاره مذهبي سلاکاران وټاکل او ددوی سره به یي سلاوي او مشوري کولي، همدارنګه ټولي هغه مځکي چي په جرمني کي یي لاسته راوړي وي، هغه یي کلیسا ته وسپارلي او د کلیسا مشرانو ته یي وویل چي دا مځکي شوالیانو ته ورکړی او د هغو څخه مالیه اخلی. په همدي ډول سره په اروپا کي مذهبي فیوډالان پر سر د قدرت سول او واک یي په لاس کي واخیستئ. د لوی پرهیزګار د مړیني څخه وروسته د هغه دري زامن د واک د لاسته راوړلو پر سر باندي په خپلو منځونو کي سره ومښتل او اروپا یي په خپلو منځونو کي سره وویشل.

فیوډالي نظام تر ۱۳۵۰ ز کال پوري د اروپا پر زیاترو سیمو باندي واکمن و او زیاتره خلک یې تر خپلي واکمنۍ لاندي راوستي وه.[1]

**د فیوډالیزم تاریخ:**

فیوډالیزم پر بشري ټولنه باندي د زرو کلونو په شاوخوا کي واکمني کړیده، له همدي کبله یې اغیز د نړۍ په ګوټ ګوټ کي تر سترګو کیدی، نو ددي لپاره چي د فیوډالیزم په مخښنه باندي پوه سو، په لاندي ډول لنډه رڼا باندي اچوو:

[1]- د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی لکچر نوټونه.

**پیل؛**

د فیوډالیزم ښکاره تاریخي نښه کولای سو، چي په اتمه میلادي پیړۍ کي د فرانک د پاچا (کارولین جیان[1]) په دوره کي پیدا کړو، د ده په دوره کي خلکو ته مځکي د یو لړ شرایطو په نظر کي نیولو سره ډالۍ سولي او د ډالۍ په وخت کي به د خلکو ترمنځ ځیني تړونونه لاسلیک کیدل، چي دي کار په هغه وخت کي عمومیت پیدا کړ او وروسته یې د خان او بزګر ترمنځ پر اړیکو ولاړ یو سیستم منځته راوړ. که څه هم د دي نظام ځیني لرغوني نښي په روم او جرمني کي پیدا سویدي خو په اتمه پیړۍ کي د یوه ټولنیز- سیاسي مکتب په څیر راښکاره سو.

فیوډالیزم د فرانکانو په پرمختګ او پراخه کیدو سره زیاته وده وکړه او د ایټالیا سهیلي برخو او المان ته وغځیدی. وروسته ختیځو اسلامي مځکو ته وخوځیدی او زیات هېوادونه یې ترخپل اغیز لاندي راوستل. اسپانیا ته فیوډالیزم ډیر ژر فرانکانو ورسوی خو یوازي په شمالي برخو کي ټینګ سو او کله چي اسپانیا د مسلمانانو څخه ونیول سول نو په ټوله اسپانیا کي خپور سو. فیوډالیزم په ډیر سرعت سره روان و او نورمانډانو هم په خپله ټولنه کي د فیوډالیزم سازمانونه جوړ کړل او د دوی سره یوځای په(۱۰۶۶ز) کال کي انګلستان ته انتقال سو. فیوډالیزم د انګلستان څخه سکاټلنډ او ایرلینډ ته انتقال سو.

فیوډالیزم په زیاتو هېوادونو کي خپل شتون ثبوت کړ، خو ځیني هېوادونه هم موجود وه چي فیوډالیزم یې ونه منی او بشپړ سلطنت پکښې واکمن سو لکه هالنډ او بلژیک. د اسیاسي نظام په نهمه

[1] Carolingian

میلادي پیړۍ کې زیات پراخه سو او ډیر پرمختګ یې وکړ او په زیاتو هېوادونو کې یې فیوډالي سازمانونه منځ ته راوړل. ځکه چې پاچاهي حکومتونو د فیوډالیزم لپاره ډیره ښه زمینه مساعده کول. فیوډالانو په لومړیو کې د پاچاډیر قدر کاوه خو وروسته د خپلواک کیدو په هیله سول، د لسمي میلادي پیړۍ څخه بیا تر دولسمي پیړۍ پوري فیوډالیزم ډیر پرمختګ وکړ او د ټولني په هره برخه کې ترسترګو کیدی.

**لویدنه؛**

فیوډالیزم د سیالانو د قواوو ترمنځ راغی، په ښارونو کې اقتصادي پرمختګ روان و او ښاریانو هم د خپل ارزښت لپاره یوه قوه رامنځ ته کړه حتي په ځینو ځایونو کې ښاریانو د فیوډالانو په وړاندي فوځونه جوړ کړي وه. د بلې خوا کلیسا هم پر فیوډالیزم باندي ټینګ یرغلونه پیل کړل؛ ځکه چې فیوډالان غیري روحاني سوي وه او روحاني ارزښت ته یې په سمه سترګه نه کتل. فیوډالیزم تر دیارلسمي پیړۍ پوري ښه واکمني درلوده خو وروسته د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې پر وړاندي غبرګونونه راپورته سول. په ځانګړي ډول په اروپا کې د رنسانس د دوري په پیل کیدو سره فیوډالیزم کمزوري سو، انګلستان تر صنعتي انقلاب پوري یې لا دوام وکړ خو د فرانسي د لوی انقلاب په راتلو سره بیخي له منځه ولاړی.

# کاپیټالیزم[1]

دا اصطلاح د لاتیني ژبي د (کاپیټالیوم[2]) څخه اخیستل سویده، چي د سرمایي او شتمنی په مانا ده. کاپیټالیزم ته په پښتو کي پانګوالـه او په پاړسو کي سرمایه داري نظام هم ویل کیږي. پانګوالـه نظام د مُدړن وخت لاسته راوړنه ده، چي ټول اقتصادي فعالیتونه د خلکو لاسونو تـه وراچوي او د ځاني ملکیت ملاتړ کوي. پدي سیستم کي ځاني ملکیت شتون لري او دا اقتصادي ازادو سیالیو پربنسټ د ګټو د لاسته راوړلو په موخه فعالیت کوي.

سـرمایه داري نظـام داسي یـو سسـتم دي چي پـه هغـي کـي تولیـدي وسایل لکه مځکه، فابریکي، تصدي، دوکانونـه، کاروبـاري اداري، او نـو ر تولیـدي سـامان الا ت دخلکـو فـردي ملکیـت دي او اشـخاص کوښښ کـوي چي تولیـدي وسـایل دزیـاتو ګټو دلاسـته راوړلـو لپـاره وکـاروي اوددي واک لـري چـي دنـوري پـانګي دلاسـته راوړلولپـاره دخپلووسایلو څخـه ګټـه واخلي. پدغـه سیسـتم کـي دعرضـي اوتقاضـا قوه په ازاده توګه په کاروړل کیږي اودا اقتصـادي بنسـټیزو مسـایلو لکه

---

[1] -Capitalism.
[2] Capitellum.

څـه تولید سـي ؟ د چاڵپـاره تولیـد سـي ؟ کلـه تولیـد سـي؟ او تولیـد دمؤلدینو ترمنځ څرنګه وویشـل سـي؟ پـه سـرمایه داري نظـام کـي دغـه مسـایل د قیمتونـو د مکـانیزم لـه لاري حـل کیـږي یـانې پـدي اقتصـادي نظـام کـي دعرضـي او تقاضـایو ځـای والـی د قیمتونو نظـام تعینـوي. دهرشي قیمت په مارکیټ کي دعرضي او تقاضا پـه واسطه پـه ازادانـه ډول ټاکـل کیـږي او دولـت پـه اقتصـادي چـاروکي لاسـوهنه نـه کـوي. دتولید کونکو د سیالیو پـه پایلـه کـي داجناسو قیمتونـه ټیټیـږي او پـه ښه کیفیت سره اجناس بازار ته عرضه کیږي.

کولای سو چې سرمایه داري نظام په لاندي ډول تعریف کړو :

سـرمایه داري نظـام داسـي یـو سیسـتم څخـه عبـارت دی چـي هغـه پـه شخصـي ملکیـت بانـدي ولاړوي او پـدي سیسـتم کـي تولیـدي وسـایل او اقتصادي فعـالیتونه د شخصـي ګټـي لاسـته راوړلـو لپـاره پـه کـاروړل کیـږي. پــه ننــي وخــت کــي پــه امریکــا ، غربــي اروپـا او داســیا پـه زیاترو هیوادونو کي دا سستم مروج دي.

دا سیستم چې د اقتصاد د بازار په نامه هم یادیږي د صنعتي انقلاب (۱۷۵۰-۱۸۵۰ز) په وخت کي پر لویدیځه اروپا او امریکا باندي واکمـن سو او په کرار کرار سره د نړۍ نورو هېوادونو ته هم وخوځېدی.

د کاپیټالیزم اصطلاح مارکسیستانو زیاته وکارول او دوی په نړیواله کچـه بانـدي مشـهوره کـړه ، دوی پـدي آنـد وه ، چـي کاپیټـالیزم هغـه اقتصـادي سیسـتم دی ، چـي ځـانې ملکیـت د اقتصـاد او سیاسـت د سرنوشـت ټـاکونکی دی ، همدارنګـه ددوی پـه انـد پـه کاپیټـالیزم کـي شـتمني پـوړ واکمـن دی او شـتمن خپلـه شـتمني د کـارګرانو د کـار د زیبښـاک څخه لاسته راوړي.

له نظري اړخه کاپیټالیزم د معاصر وخت لاسته راوړنه ده، په معاصر وخت کې وګړپالنه زیات ارزښت لري او کاپیټالیزم هم په اقتصادي برخه کې د وګړپالني ملاتړ کوي. یانې کاپیټالیزم غواړي، چې وګړی باید ځاني ملکیت ولري او د خپل ملکیت د زیاتوالي د پاره هڅه وکړي، همدارنګه نه غواړي، چې دولت د ټولني په اقتصادي چارو کې لاسوهنه وکړي.

لکه څرنګه چې (ماکس وبر) پدي آند دی، چې په ظاهري بڼه په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې د پروتستانټ غورځنګ او دیني اصلاحات د کاپیټالیزم په پرمختګ او پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوی. پروټیستانټ په مذهبي برخه کې د وګړپالني پر آندونو باندي ولاړ دی. پروټستانټ د مسیحت هغه آرونه، چې خلکو ته یې ځاني ملکیت نه ورکوی له منځه یوړل او وګړي یې د ځاني ملکیت او شتمنۍ د لاسته راوړلو لپاره وهڅول. دوی شتمني الهي سپیڅلتوب وګڼل او د شتمنۍ لاسته راوړل یې سپیڅلي لاره وګڼل. همدارنګه دولتونه او وګړي یې د ځاني ملکیت ملاتړ ته وهڅول.

همدارنګه لیبرالیزم هم د کاپیټالیزم سره اړیکي لري، کولای سو، چې کاپیټالیزم ته (اقتصادي لیبرالیزم) هم وو ایو، له همدي کبله ویلای سو، چې د لیبرالیزم فلسفه، سکولاریزم(پر دي باندي باور، چې سیاست او دین باید سره بېل سي) او نور د کاپیټالیزم تر اغیز لاندي دي او ټینګي اړیکي ورسره لري. په لنډ ډول ویلای سو چې د اروپا د رنسانس څخه وروسته ازاد بازار او کاپیټالیزم په نړیواله کچه پرمختګ کړی دی.

**د کاپیټالیزم ښیګڼې:**

په کاپیټالیزم کي یو څه ښه والی سته چي موږ یې په لاندي ډول په ګوته کوو:

**الف: جمهوري نظام دی :**

په دې مانا چې په دې نظام کې تولیدونکي د هرډول توکو په هره اندازه تولیدولو کي ازادي لري او همدارنګه لګښت کونکی د خپلې خوښې سره سم د هر ډول توکو د اخیستلو لپاره ازادي لري په دوي باندي د هیڅ لوري څخه بندیز او پابندي وجود نلري.

**ب: خودکاره نظام دی:**

کاپیټالیزم یو خودکاره نظام دي؛ ځکه چي د دي نظام د چلولو لپاره هیڅ حکومت یا مرکز ته اړتیا نسته د دي نظام د بریالیتوب او پرمختګ په خاطر دولت هیڅ پلان نه جوړوي او یوائي د قیمتونو میکانیزم پدي نظام کي مرکزي رول لوبوي د توکو عرضه او تقاضا او اقتصادي معاملات د قیمتونو له لاري پخپله ټاکل کیږي.

**ج: نوي تکنالوژي اواختراعات:**

په کاپیټالیزم کي تولید کونکې د زیاتي ګټې د لاسته راوړلو په موخه د نوو اومُډرن وسایلو اوتکنالوژي څخه ګټه اخلي چي په پایله کي نوي اختراعات رامنځته کیږي. همدارنګه تولید کونکې د مختلفو توکو د تولید زیانونه پخپله غاړه اخلي چي په پایله کي د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځي.

**د: د تولیدي وسایلو غوره کارونه:**

په کاپیټالیزم کي وګړو ته د وسایلو د ځاني کارونې حق ورکړل سوي دي.همدارنګه تولید کونکي د ازادي سیالۍ پربنسټ توکي او کالا

تولیدوي او هغه بیا مارکیټ ته عرضه کوي. د همدي خپلواکو سیالیو پر بنسټ تولیدکونکي هڅه کوي، چې تولیدي وسایل پداسي ډول و کاروې، چې تولیدي لګښت یې کم او کیفیت او کمیت یې زیات سي له همدي کبله وسایل په نړیواله کچه په غوره توګه کارول کیږي.

**هـ: په اقتصادي چارو کي د دولت نه لاسوهنه:**

په کاپیټالیزم کي دولت په اقتصادي چارو کي لاسوهنه نه کوي. تولید کونکي هغه توکي تولیدوي، چې لګښت کونکې یې غواړي همدارنګه لګښت کونکي د لګښت په کولو کي هم خپلواک دي او تولید کونکي هغه توکي نه تولیدوي، چې لګښت کونکي اړتیا ورته نلري. نو پدي ډول دولت په اقتصادي چارو کي لاسوهنه نه کوي.

**و: د پانګې اچوني زیاتوالي:**

په دي سستم کي سرمایه داران، صنعت کاران، تولید کونکي او سوداګر د ګټي د لاسته راوړلو لپاره د هر ډول کاروبار ازادي لري تر څو د خپل ژوند کچه لوړه کړي او د مرګ څخه وروسته خپله ټوله شتمني خپلو وارثانو ته انتقال کړي. پدي ډول د ګټو د لاسته راوړلو عملي ته دوام ورکوي او یو څه اندازه ګټه پس انداز کوي او زیرمه سوي پانګه د نوي پانګي اچوني لپاره په کار اچوي.

**د کاپیټالیزم نیمګړتیاوي:**

په کاپیټالیزم کي یو شمېر نیمګړتیاوي موجودي دي چې موږ یې ځیني په لاندي ډول را اخلو:

**۱: سرمایي ته تر انسان لوړوالی ورکول:**

پدي نظام کي ځاني ملکیت او شتمنې مرکزي رول لري، شتمن پوړ خپله شتمني، جایداد او سوداګری ته تر انساني کراماتو زیات ارزښت

ورکوي. شتمن پوړ یوازي هغه کار کوي چې زیاته ګټه لاسته راوړي او خپله سرمایه خوندي وساتي که څه هم انساني حقوق تر پښو لاندې کیږي. پدې اساس اقتصادي فعالیتونو لاس نه پوري کوي چې د ټولنې سوکالي پکې موجوده وي بلکې هدف یې یوازي د خپلې ګټې لاسته راوړل وي.

**۲: پر سوداګریزو اعلاناتو بېځایه لګښت:**

په کاپیټالیزم کې لویه نیمګړتیا دا ده، چې تولید کونکي د خپلو توکو د خرڅلاو په موخه په سوداګریزو اعلاناتو باندې لاس پوري کوي، چې دغه ټول لګښتونه د توکو پر بیو باندې اچول کیږي او د لګښت کونکو څخه اخیستل کیږي. دغه اعلانات ټولنې ته هیڅ ګټه نلري، په زیاته اندازه ملي شتمني ضایع کیږي او ټولنه زیانمنه کیږي.

**۳: تولیدي وسایل په محدودو لاسونو کې غورزیدل :**

کاپیټالیزم ټولیزي (عمومي) ګټې په نظر کې نه نیسي، بلکې د شتمن پوړ، چې تولیدي وسایل په لاس کې لري، تر څنګ دریږي، دغه شتمن پوړ له یوې خوا خپلې پانګې اچونې ته پراختیا ورکوي او له بلې خوا واړه واړه سوداګر او کاروباري کسان د سوداګرۍ له ډګره باسي او پدې توګه مارکیټ تر خپل کنټرول لاندې راولي، چې په پایله کې په احتکار باندې لاس پوري کوي، چې دا کار د ټولنې په زیان تمامیږي او پانګه او شتمني یوازي په یو څو لاسونو کې لویږي.

**۴: د مزد ټاکل :**

په پانګوالي نظام کې د مزد په ټاکنه کې انساني عاطفه اوزړه سوی نه وي او په کارګر هم د عرضې او تقاضا قانون جاري کیږي او د کارمزد د تولید کونکي لخوا پخپله خوښه ټاکل کیږي.

**۵ : اقتصادي بُحران:**

په پانګوال نظام کې صنعت، فابریکې او تصدي شرکتونه د پانګوالو په ځانې ملکیت کې وي. همدارنګه تولید کونکې د داسې توکو په تولید کې سیالې کوي، چې د خلکو مخه ورته زیاته وي او د توکو د تولید لپاره کوم منظم پلان نه لري. له همدې کبله د توکو عرضه د تقاضا په نسبت زیاتیږي او تولید کونکې د توکو په زیرمه کولو لاس پورې کوي. کله چې کالا او توکي زیرمه سول، د کالیو قیمتونه کمیږي او مولدین تولید کموي، چې په پایله کې بیکاري رامنځته کیږي، اقتصادي بُحران منځته راځي او اقتصادي پرمختګ او پیاوړتیا له منځه ځي.

**۶ : د ټېي او عاید غیرعادلانه ویش :**

سرمایه داري نظام د دولت د غیرعادلانه ویش سبب ګرځي، یانې دولت د محدودو پانګوالو په لاس کې وي او هغوي په صنعت ،فابریکو ،تصدیو او پانګه منګولي لګوي، غریب استثماروي او کارګران په کم مزد کارکولو ته مجبوروي. پانګوال د خپلې پانګې په کاراچولو سره نوره زیاته شتمني لاسته راوړي او کارګران د کم مزد په حاصلولو سره نورهم غریب کیږي چې په پای کې د دولت په غیر عادلانه ویش سره د ټولني سکون له منځه ځي.

**۷ : د تولیدي وسایلو بیځایه کارول :**

په سرمایه داري نظام کې تولیدي وسایل په مناسبه توګه نه کارول کیږي؛ ځکه چې تولید کونکې په عمومي توګه هغه توکي تولیدوي، چې زیاته ګټه ولري او له همدې امله د سرمایه داره پوړ د خواهشاتو

مطابق تو کي لکه د عیش او عشرت سامان الات تولیدوي خو د بېوزله پوړ د اړتیا وړ توکو تولید ټیټ ساتي.

پداسي حال کي چي که د سرمایه داري پوړ لپاره د عیش او عشرت د توکو د تولید پر ځای د بېوزله پوړ لپاره د اړتیا وړتوکي تولید سي؛ نو په ټولیز ډول به په ګرده ټولنه کي د تولید د عواملو څخه زیاته ګټه واخیستل سي؛ ځکه د عیش او عشرت د پوره کولو پرځای د ژوند د بنسټیزو اړتیاوو پوره کول زیاته ګټه لري. خو پدي نظام کي د تولید عوامل د اړینو موخو پرځای د بې ارزښتنه او نا اړینه موخو لپاره کارول کیږي.

**۸ : فردي ازادي وهمي بڼه لري** :

په سرمایه داري نظام کي فردي ازادي وهمي بڼه لري نه ریښتني، د بیلګي په ډول یو کارګر د خپل کار په ټاکنه کي ازادي نلري؛ ځکه ده ته په مناسب مزد کار نه پیدا کیږي چي پدي صورت کي کارګر مجبوراً په لږ مزد سره کار کوي.

**د کاپیټالیزم ځانګړني**:

د کاپیټالیزم یو شمیر ځانګړني پدي ډول په ګوته کولای سو:

**۱ . تولیدي وسایل د ځاني ملکیت برخه ګرځول**:

کاپیټالیزم ټول تولیدي وسایل د خلکو لاسونو ته وراچوي او ځاني ملکیت او شتمني پیاوړي کوي. کاپیټالیزم د سوسیالیزم پر خلاف دولت ته شتمني نه ورکوي او نه هم په اقتصادي چارو کي د دولت لاسوهنه مني.

**۲ . اقتصادي بازار**:

په کاپیټالیزم کي د اقتصاد بازار پلی کیږي.

**۳. د کار وېشنه:**

د کاپیټالیزم څخه مخکي دورو کي اقتصاد سیمه ییز اړخ درلودی او کورنیو یوازي هغه څه تولیدول، چي هغو ته یې اړتیا درلوده، همدارنګه سیمه ییزو بازارونو تبادلوې بڼه درلوده. پدي وخت کي د کار وېشنه په سختۍ سره معلومیدل او داسي رواج و، چي هره کورنۍ د خپلو لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره باید بېلابېل کارونه تر سره کړي. خو کاپیټالیزم د (کار د ویشني) پر بنسټ کار تخصصي کړ او توکي او کالا د بازار د غوښتنو سره سم تولید سول، چي د بازار غوښتنه او اړتیا خپله د تولید د میزان ټاکونکې ده. همدارنګه د بیو ټاکنه هم د عرضي او تقاضا پر بنسټ باندي کیږي.

**۴. خپلواکې سیالۍ(ازاد رقابت) :**

د توکو او شیانو په تولید کي خپلواکي او ازادي سیالۍ د کاپیټالیزم بله ځانګړنه ده، د کاپیټالیزم د ملاتړو په آند ازادي سیالۍ کولای سي، چي تولید زیات کړي، د شیانو بیي کمي کړي او کیفیت ښه کړي. د کاپیټالیزم څخه مخکي دورو کي عُرف او عاداتو د توکو بیي ټاکلې. په اقتصادي فعالیتونو کي د خپلواکیو شتون کولای سي، چي ((په اقتصادي چارو کي د دولت لاسوهنه راکمه کړي)).

**۵. د ګټي (سود) اصل:**

سود هم د کاپیټالیزم یوه ځانګړنه ده، کاپیټالیزم تر هر بل اقتصادي سیسم زیات د سود او ګټي زمینه برابروي. کاپیټالیستي اقتصاد د کار او سوداګری ازادي، د شتمنۍ او مالونو ټیکاو او ازادي او د تړونو ازادۍ ساتي، چي دا پخپله د سود او ګټي د لاسته راوړلو لپاره

غوره زمینه برابروي. د کاپیټالیزم نوري ځانګړني به په تاریخي شالید او پړاوونو کي په ګوته کړو.

**د کاپیټالیزم شالید او پړاوونه:**

مرکانټالیزم یا سوداګري د کاپیټالیزم لومړی پړاو ګڼل کیږي. مرکانټالیستان نړیوال سوداګر وه، چي په (۱۵ز) پیړۍ کي راپورته سول او په (۱۷ او ۱۸ز) پیړیو کي په اروپا او په ځانګړې ډول په انګلستان کي پیاوړي سول. البته په مرکانټالیزم کي د وګړو تر اقتصادي پیاوړتیا د دولت اقتصادي ګټې او پیاوړتیا ته زیاته پاملرنه کیدل. مرکانټالیستي اقتصاد پر سوداګرۍ او تجارت باندي ولاړ دی.

له تاریخي اړخه اروپایان د رنسانس(بیازیږیدني) څخه وروسته پدي تکل کي سول، چي خپل اقتصاد ته پرمختګ ورکړي او پیاوړی یې کړي. پدي وخت کي د ځینو نوو مځکو لکه امریکا او داسي نورو په کشف سره اروپایانو د طلا، سپین زر او داسي نورو معادنونو ته لار پیداکړه، چي پدي سره ددوی اقتصادي حالت پیاوړی سو، چي همدا اقتصادي پیاوړتیا ددي لامل سول، چي اروپایانو په خپلو مذهبي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کي اصلاحات راوستل.

مرکانټالیستانو قیمتي فلزات د شتمنۍ او ثروت ریښتني سرچیني وګڼلې او تولید او سوداګرې یې هم د همدي سرچینو د لاسته راوړلو په موخه تر سره کول. ددوی په آند شتمني او اقتصادي واک د دولت سیاسي واک زیاتوي او د نورو دولتونو په نیولو کي دولت پیاوړی کوي. په مرکانټالیستي اقتصاد کي د توکو بیې او د کارګرو مزد د دولت لخوا ټاکل کیدی. پدي وخت کي شتمنو وګړو د دولت د

سیاستونو او پیاوړتیا څخه هم ځانې ګټه پورته کول او د دولتونو د ملي سیاستونو ملاتړ یې کاوه، چې په پایله کې یې د کاپیټالیزم د پیدا ایښت لومړنې شرایط منځته راوړه. همدارنګه د ځانګړې پیسې د سیستم منځته راتګ اقتصادي پراختیا منځته راوړه او دهغو قوانینو په پیدا ایښت کې یې مرسته وکړه، چې د کاپیټالیزم ملاتړ یې کاوه.

د (۱۸ز) پیړۍ د نمایې څخه وروسته مرکانټالیستي (سوداګریزې سرمایه داری) خپل ځای وه (صنعتي سرمایه داری) ته پریښودی. پدې وخت کې د پخوانیو سوداګرو ځای نوو صنعتي شتمنو ونیوی. همدارنګه پخوانیو سوداګریزو اعلاناتو او مقرراتو خپل ځای نوو صنعتي سیالیو او فعالیتونو ته پریښودی. پر دې سربېره بانکداری، صنعتي پراختیا او فابریکو پرمختګ وکړ او کاغذي پیسو د پخوانیو زرینو او سپینو زرو پیسو ځای ونیوی.

کاپیټالیزم د (۲۰ز) پیړۍ راپدیخوا یوه نوې پړاو ته ورننوتی دی او د اروپا او امریکا څخه یې د نړۍ نورو برخو ته هم ځان رسولی دی[1].

[1]- عبدالرسول بیات و جمع نویسنده ګان، فرهنګ واژه های، ص ۳۱۳-۳۱۲

# کار پوروټوکراسي[1]

دي نظام ته صنفي حکومت هم ویل کېږي، په صنفي حکومت کې د واک زیاته برخه د لویو شرکتونو او اتحادیو په لاس کې وي. په ټولیز ډول د سیاسي واک د پلي کولو ستري مراجع لوی شرکتونه او اتحادیې وي.

په صنفي حکومت کې د حکومت اقتصادي او سیاسي پالیسۍ د سرمایه دارانو او لویو شرکتونو لرونکو لخوا جوړېږي، دوی هڅه کوي، چې د خپلو اقتصادي ځواکونو پر بنسټ د ټولني سیاسي قدرت مهار کړي، له همدي کبله اقتصادي ځواک تر سیاسي ځواک اړین ګڼل کېږي او زیاتره وخت سیاسي قدرت د اقتصادي قدرت تابع وي. په صنفي حکومت کې د ډیموکراسۍ خلاف د خلکو رایو او ټاکنو ته ارزښت نه ورکول کېږي، بلکې لوی شرکتونه د ټولني سیاسي قدرت په لاس کې اخلي، دا شرکتونه هڅه کوي، چې د انحصاراتو پر بنسټ نور کوچني شرکتونه منحل کړي او خپل اقتصادي جرړې د ټولني په هره برخه کې خپرې کړي[2].

---

[1] - Corporotocracy.
[2] - English Social Wikipedia.

په صنفي حکومت کې ټولې سیاسي چارې او د ټولنې عمومي چارې د شخصي ګټو پر بنسټ پر مخ بیول کیږي. ځکه چې لوی شرکتونه او د شخصي ګټو اتحادیې ټول کوښښ کوي، چې پانګه د پانګې لپاره ولګوي او د زیاتو ګټو د لاسته راوړلو په موخه ګامونه واخلي، همدارنګه سیاستوال او سیاسي کړۍ هم د دوی په خدمت کوي او ټولې سیاسي لوبې د لوی شرکتونو او اتحادیو د موخو د لاسته راوړلو لپاره کار کوي.

کارپوریټیزم:

دا هغه ټولنیز سازمان دی، چې وګړي باید په یوه صنف یا ګروپ پورې تړلي وي، دا صنفونه د بېلابېلو ځانګړنو او آرونو پر بنسټ جوړیږي، چې د ګډو ګټو وګړي په یوه صنف کې سره راټولیږي او خپلې ګډې موخې تعقیبوي.

# کالوینیزم[1]

دا سیاسـي، فلسـفي او مـذهبي تلـنلاره پـه شپاړلسـمه پیـړۍ کـي د فرانسـي د رفـورمر (ژان کـالوین) تلـنلارې تـه ویـل کیـږي، کـالوین پـه (۱۵۴۱ز) کال کي ژنوا ته د مذهبي اصلاحاتو پـه موخـه وبلـل سو، چي هلتـه یـې اصـلاحات منځتـه راوړه او د ژنـوا پـه کلیسـا کـي یـې غـوره ډسپلین او نظم راوستئ.
د کـالوین آندونـه وروسـته هالنـډ، سـکاټلنډ، امریکـا او دنـړۍ نـورو برخو ته ورسیدل، خو هلته یې بله بڼه واخیستل او د ده د اصلي آندونو ته یې بدلون ورکړ، چي همدا بدلون دده د شهرت لامل وګرځیدی.
د کالوینیزم لومړنیو آندونو د سیاسي واکمنانو پر وړاندي پاڅون او غبرګون نه خوښـوی او د لیبرالیـزم پـه خـلاف و. همدارنګـه مشـروطه حکومـت او د اسـتازولۍ حکومـت ملاتـړ یـې کـاوه، هرځـای چـي د کـالوینیزم د آرونـو پـر بنسـټ حکومـت جـوړ سـوی دی، نـو تیوکراسـي حکومت یې، چي د الیګارشي حکومت یو ډول و، منځتـه راوړی دی، چي خلکو پکښې هیڅ ګډون نه درلودی او پاپانو پکښې د عامـه خلکـو پر وړاندي پوړ جوړکړی دی. یانې په ټولیز ډول زوروا کـه، ارتجـاعي او

[1] - Calvinism.

استبدادي حکومت ځیني جوړ سوی دی. خپله په ژنوا کي د کالوین حکومت او د امریکا په (ماساشوستس) ایالت کي د (پیوریتانو) حکومت چي د کالوینیزم د آندونو پر بنسټ جوړ سوی و، هم همدا ځانګړني یې لرلې. خو د دي برعکس کالوینیستي کلیساګانو په هالنډ، سکاټلینډ او د امریکا په ځینو برخو کي د مقاومت د حق فرضیه خپره کړه.

کالوین د لوتر په څیر پدي آند و، چي خلک باید په ټېټو سترګو د خپل دولت امرونه و مني، خو په کالوینیزم کي پردي ټکي باندي ټېنګار ونه سو. همدارنګه کالوین پر ټاکنو باندي هم باور درلودی، دا پداسي حال کي ده، چي له یوي خوا دی وګړو ته د سیاستوالو د ټاکني حق ورکوي او له بل پلوه خلک په ټېټو سترګو د حکومت ملاتړ ته رابولي، چي دا پخپل ذات کي دوي متضادي او ټکرلاري دي.

کالوینیزم په سکاټلینډ کي د استازولۍ حکومت د ځانګړو آرونو زیږنده دی، چي د ارزښت څخه خالي ندي. کالوینیزم یوازي پر سلطنت باندي نه و ولاړ او د سلطنت لوري ته یې میل نه درلودی. کالوین پدي آند و، چي سیاسي واک باید د روحاني واک تابع وي او روحاني ځواک ته یې پر بدني ځواک باندي لوړوالی ورکوی. د کالوین سیاسي افکارو او تلنلاري زیاتره اشرافي (اریستوکراټیک) اړخ درلودی.

په فرانسي کي د کالوینیزم لپاره دوي اصطلاحګاني یاني (کالوینیست) او (ژزوویت) کارول کیدلي، چي دواړو یوه مانا ورکول، او دواړو د روحاني ځواک د پیاوړتیا په موخه دنیوي او جسمي واک اړین ګڼئ[1].

---

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسی، ۱۳۴۴ش، ص ۱۴۵-۱۴۲.

# کلکتېویزم[1]

کلکتېویزم ګډو هڅو او همکاریو ته ویل کیږي، یانې ټولنیز سیستم باید د وګړو د ګډو همکاریو لخوا کابو سي، ددې مکتب پر بنسټ وګړي د ټولني څخه بهر ندي او د ټولني ترامر لاندي باید ژوند وکړي. همدارنګه د ټولني ټولیزي ګټي باید تر وګړیزو او فردي ګټو مقدمي وګڼل سي. له همدې کبله د ټولني تولیدي وسایل باید د ټولني په واک کي ورکول سي، نه د افرادو په لاس کي چې د خپلو ځاني ګټو لپاره کار کوي.

دا سیاسي آند د لومړي ځل لپاره د وګړ پالني پر وړاندي په (۱۸ز) پیړۍ کي وکارول سو. دا اندونه د وګړ پالني د اندونو پر وړاندي پیښ سوي دي، لکه څرنګه چې د وګړپالني اندونه ځاني حقوقو ته لومړیتوب ورکوي او وګړی ټولنیز واحد ګڼي، خو د کلکتېویزم سیاسي مکتب بیا د ټولني حقوقو ته لومړیتوب ورکوي او فرد د ټولني غړی ګڼي. د کلکتېویزم پر بنسټ ټولنیزي چاري باید د وګړو په

[1] - Collectivism

همکاریو او ګډو هلو ځلو د اتوریتاریانو[1] او استبدادي رژیم تر واک لاندي ترسره سي.

کلکتیویز د ټولني پر ټولیزو ګټو باندي د کمونیزاو سوسیالیزم ګډه ځانګړنه غواړي، چې د ټولني ټولیزي ګټي د هر وګړي په ګټه دي او د هر وګړي ګټي پکښې خوندي کیږي. یوي خبري ته باید اشاره وسي، چې د ټولني ټولیز ملکیت او ګټي یوازي د دولت ملکیت او ګټو ته نه ویل کیږي، بلکي ټولو هغو ګټو ته ویل کیږي، چې د ټولني په ټولو وګړو پوري اړه ولري. که څه هم د دولت مالکیت د ټولو وګړو مالکیت دی خو دا د ټولني د ټولو ګټو او مالکیت یوه برخه ده.

د کلکتیویزم اصطلاح زیات وخت د (توتالیتاریانیزم) سره یو ډول کارول کیږي خو دا دوهمه اصطلاح تر کلکتیویزم په پراخه مانا سره کارول کیږي. د کلکتیویزم اندونه په لومړي ځل د روسو په ټولنیز تړون او دهګل په لیکنو کي وموندل سول. د روسو په اند فرد په ریښتني ډول د ټولني غړی دی او د فرد ریښتني خپلواکي د ټولني په غړیتوب کي ده، روسو زیاتوي چي فرد باید د خپلو ګټو د ساتلو په موخه ټولني ته و سپارل سي. پداسي حال کي چي ټولني ته سپارل کیدل د وګړي د طبیعي غوښتنو په خلاف ده. روسو په عملي ډګر کي پدي اند دی، چي ټولیزه اراده د وګړو په ډیرو رایو باندي ټاکل کیدای سي. هګل په خپله سیاسي فلسفه کي د وګړو ریښتني خپلواکۍ د دولت

[1]- اتوریتاریانیزم هغي فلسفي او سیستم ته ویل کیږي، چي وګړیزي خپلواکۍ په تیوریکې او عملي بڼه په بشپړ ډول د حکومت تر واک لاندي بولي. دا سیاسي مکتب پدي کتاب کي تر خپلواک عنوان لاندي لوستل کیږي.

قوانینو او دولتي سازمانونو ته په سپارل کیدو کي ګڼي. د هګل د اندونو پر بنسټ دولت د ټولنیزو اخلاقو تر ټولو غوره ښکارندوی دی.

په اقتصادي چارو کي کلکتهویزم دولت پر ټولو تولیدي وسایلو باندي برلاسی بولي او موخه یې داده، چي دولت باید پر ټولو اقتصادي چارو باندي کنټرول پیدا کړي. همدارنګه کلکتهویزم په اقتصادي برخه کي د لیسه فیر، کاپیټالیزم او خپلواکو سوداګریو سره په ټکر کي دی.

د کلکتهویزم اصطلاح د سوسیالیستانو د لومړی کنګري( ۱۸۶۹ز کال ) پر مهال رواج پیدا کړ او د سوسیالیزم سره یې ډیره نژدي اړیکي پیدا کړي. داسي فکر کیږي، چي په سوسیالیزم کي د مارکس او فرودن د سیاسي مکتبونو تر منځ دا دریم سیاسي مکتب دی، چي موخه یې دداسي سوسیالیزم یا کمونیزم ترتیبول وي، چي بنسټ یې پر واک او قدرت نه وي ولاړ، بلکي پر ټولنیزو همکاریو باندي ولاړ وي.

په معاصره نړۍ کي کلکتهویزم پر څلورو برخو ویشل سوی دی: لومړی، سوسیال ډموکراسي، دوهم، سوسیالیزم، دریم، کمونیزم او څلورم فاشیزم ، ددي څلورو سیستمونو څخه یوازي سوسیال ډموکراسي تر یوه بریده ګډونیز (اشتراکي ) اړخ لري.

# کلیپټو کراسي[1]

دا اصطلاح د لرغوني یوناني ژبې ددو کلمو ترکیب دی، چې (کلیپټو[2]) د غله یا غلو په مانا دی او (کراسي[3]) د حکومت یا واکمنۍ په مانا ده، نو په اصطلاح کلیپټوکراسي د غلو حکومت ته ویل کیږي.

کلیپټوکراسي هغه سیاسي رژیم دی، چې واکمن پوړ (حکومت) په رشوت او اختلاس باندې بوخت وي او سیاسي واک او اقتصادي سرچینې یوازې د خپلو ځاني شتمنیو د زیاتوالي لپاره کاروي. پدې سیاسي رژیم کې د هېواد لپاره د زړه د اخلاصه کار نه کیږي، بلکې هر چارواکی یوازې د خپلو ګټو د زیاتوالي لپاره د تیر ایستنې، درواغو، چل، زور او نورو لارو څخه واکمنې کوي. تل بیت المال (ملي شتمنې) د واکمنو لخوا د ځانې شتمنۍ په څیر کارول کیږي.

کلیپټوکراسي هغه وخت څرګندیږي، کله چې واکمن پوړ په رشوت او اختلاس(د ځانې ګټو لپاره د دولتي توکو کارول) باندې بوخت وي،

---

[1] - Kleptocracy.

[2]- Klepto.

[3]- Cracy.

د دي سياسي رژيم نښې زيات وخت په ديکتاتوري، اوليګارشي، نظامي او نورو اوټوکراټيکو او هغو حکومتونو کي تر سترګو کيږي، چي واسطه او ځاني اړيکې پکې واکمنې وي.
په کليپټوکراسۍ کي دولتي شتمنۍ او د واکمنانو ځاني شتمنيو ته په يوه سترګه کتل کيږي، يانې واکمنان دولتي شتمنۍ د ځاني ګټو او عياشيو لپاره هم کاروي.
يو شمير کليپټوکراټيک واکمنان هڅه کوي، چي ملي شتمني د بانکي حسابونو دلاري خپلو ځاني حسابونو ته په بهر کي وليږدوي، ترڅو د واکمنۍ څخه وروسته يې و کاروي، چي بيلګي يې په نړيواله کچه زياتي دي، د بيلګي په توګه په جرمني کي په (۲۰۰۴ز) کال کي د يوي موسسي لخوا د پيسو د ليږد په اړه يوه سروي خپره سول، چي د اندونيزيا پخواني ولسمشر (سوهارتو) د(۱۵- ۳۵ )ملیارده ډالرو پوري شتمني درلوده، همدارنګه د نايجريا پخواني ولسمشر (ساني اباچا ) د(۲-۵ )ملیارده ډالرو پوري شتمني درلوده، پردي سربيره پدي سروي کي د زياتو نورو ولسمشرانو شتمني هم ياده سويده.
د يوه بل راپور له مخي د فلسطين پخواني ولسمشر (ياسر عرفات ) د (۱-۱۰ ) ملیارده ډالرو پوري شتمني درلوده او د پاکستان ولسمشر (اصف علي زرداري ) يوازي د سويس په بانک کي دوه (۲ ) ملیارده ډالر لري.
کليپټوکراسي په ټوليز ډول په مخ پر ودي هېوادونو کي زياته تر سترګو کيږي؛ دا ځکه ،چي پدي هېوادونو کي پيسي زيات وخت پر داسي پروژو باندي لګول کيږي، چي په دقيق ډول حساب ورته کول ناشوني وي او يا هم د عايداتو اندازه او لګښت نامعلومه وي.

کلیپتوکراسي سیاسي رژیم په ټولیز ډول د اولس د ژوند پر کچه او دهېواد پر اقتصادي، سیاسي او مدني حقوقو باندي ډېر منفي اغیز ښندي. په هېواد کي د وګړو ترمنځ برابري له منځه ځي، عدالت نسي ټینګېدلای، هرچا ته خپل حق نه رسیږي او د بیوزلو او بډایو ترمنځ ډېر واټن رامنځته کیږي. پر دي سربېره په هېواد کي بهرنۍ پانګه اچونه ټکنۍ کیږي، د کورنیو سوداګریزو توکو لپاره مارکېټ نه پیدا کیږي او بهرنۍ سوداګري کمزوري کیږي.

په کلیپتوکراسۍ کي د هغو پیسو څخه، چي د هېواد دوګړو څخه د مالي په بڼه راټولیږي، ناوړه ګټه اخیستل کیږي او دواکمنانو د ځانې شتمنۍ په بڼه کارول کیږي، لنډه دا چي د کلیپتوکراسۍ سیاسي نظام داسي جوړ سوی دی، چي د عامه اولس ژوند په هر اړخیز ډول ورځ تر بلي کمزورۍ کیږي او د ژوند کچه یې را ټیټیږي. یوازي د یو څو چارواکو او واکمنانو جیبونه پ کې ډکیږي.

کلیپتورکراسۍ ته ورته یو شمیر نور اصطلاحات هم کارول سویدي، د بیلګي په توګه د (نارکو کلیپتورکراسۍ[1]) اصطلاح د هغو غلو حکومت ته ویل کیږي، چي د تاریاکو او قاچاق پر بنسټ واکمني پلي کوي، دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره د امریکا د بهرنیو چارو د کمیټې لخوا د پانامې د سیاسي رژیم لپاره و کارول سول. همدا رنګه د روسي (ډانیل کیمیج) لخوا د (کنبیرډوکراسۍ[2]) اصطلاح کارول سویده، هغه حکومت ته ویل کیږي، چي موخه یې د سوداګریزو توکو لاسته راوړل وي او هم د (کریماټیسمینو کراسۍ[3]) اصطلاح بیا هغه

[1] -Narcokleptocracy.
[2] -Kerdocracy.
[3] - khrematisamenocracy.

حکومت تـه ویـل کیـږي، چـې د هېـواد سـوداګرۍ د خپلـو ګټـو لپـاره کاروي[1].

[1] - English Social Wikipedia.

# کمونیزم[1]

د کمونیزم اصطلاح د لاتیني ژبې د (کمون[2] ) څخه اخیستل سوی ده، چي د ګډ (اشتراک) مانا ورکوي. کمونیزم ډیر لوی سیاسي مکتب دی چي د بشریت د پیدا ښت سره سم پیل سوی دی، پدي ټولنیز-سیاسي نظام کي ټول مادي شیان د ټولني ګډ ملکیت ګڼل سویدي او د ټولني هر غړی د (وړتیا) په اندازه کار کوي او د (اړتیا) په اندازه ددي مادي شیانو څخه ګټه اخلي. کمونیزم د وګړو د شخصي سرمایي سره په خلاف کي دی، او د ټولني ټول اقتصادي وسایل د دولت په لاس کي اچوي. نو ځکه کمونیستي ټولنه پوړیزه بڼه نلري، یاني خان او بیوزله پکښي نسته او ټول یو ډول ژوند لري. همدارنګه د ټولنیزو تضادونو مخه هم تر ډیره بریده نیول سویده.

کمونیزم ټولنیزه او سیاسي ایډیالوژي ده، چې د ټولني ټوله شتمني د خلکو ګډ ملکیت ګڼي او ټول خلک په اقتصادي منابعو باندي شریک بولي، یاني د کمونیزم څخه موخه د ټولو اقتصادي منابعو (مځکه، تولیدي وسایل...) ملي کول دي.

---

[1]- Communism
[2] -Commune

د کمونيزم په اړه آندونه د بشر په تاريخ کي ډيري لرغوني ريښي لري، د بېلګي په توګه د افلاطون (خيالي ښار)، د توماس مور (اشتراکي ټولنه) او د زياتو نورو پوهانو په آندونو کي د کمونيزم د ايډيالوژۍ نښي نښاني ليدل کيږي، خو نوی کمونيزم بيا د کارل مارکس د آندونو او تلنلارو پر بنسټ رامنځته سو، چې د مارکس د آندونو څخه سرچېنه اخلي. د مارکس د آندونو پر بنسټ ټولنه بايد بې پوړه وي او د ګډ ملکيت پر بنسټ خوځښت وکړي.

له تاريخي اړخه کمونيزم د مارکسيزم څخه زياته مخېنه لري، پداسي حال کي چې لومړنيو اشتراکي مکتبونو لکه سوسياليزم، هيڅکله ځانونه کمونيستان نه بلل، که څه هم ددوی موخي کمونيستي وي، خو د کمونيزم اصطلاح يې نه کاروله. د کمون اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۳۹ز کال کي په فرانسي وکارول سول او وروسته د رابرت اوون پلويانو په انګلستان کي هم رواج کړل[1]. همدارنګه د کمونيزم اصطلاح بيا په ۱۸۴۱ز کال کي وکارول سول.

پر همدي بنسټ مارکس او انګلز په ۱۸۴۸ز کال کي د کمونيست مانيفيست نشر کړ. نوموړی مانيفيست د کمونيستانو د ټولني د مرامنامي په بڼه وليکل سو.

کمونيزم په خپله تاريخي مخينه کي هڅه کړيده چي ټولنيز غيري مساوات له منځه يوسي او د وګړو لپاره په مساويانه ډول د ژوند اسانتياوي برابري کړي، پدي ډول ټولنه کي هرڅه د انسان او انساني ښيګڼو لپاره کيږي. په کمونيزم باندي د ښې پوهيدني لپاره د هغو

---

1- داريوش اشوري، دانسنامه سياسی، ص۲۲۲.

پوښتنو ځوابونه ترمطالعي لاندي نیسو کوم چي د دي مکتب پلویانو ورته موندلي دي:

**په کمونیزم کي تولید څه ډول دی؟** کمونیزم د ټولنیز تولید زیاتوالی او د کاري کچي لوړوالی د علم او فن د چټک پرمختګ پر بنسټ منځته راوړي. انسان په معاصرو او ځواکمنو تکتیکونو باندي سمبالوي. پر طبیعت باندي د انسان واکمني لوړي کچي ته رسوي او هڅه کوي چي طبیعي ځواکونه په زیاته اندازه د انسان تر واک لاندي راسي. اقتصادي سیستم په ښه ډول تنظیموي، همدارنګه د طبیعي او مادي شتمنیو او انساني ځواک څخه په ښه ډول د ټولني د غړو د غوښتنو او اړتیاو پربنسټ ګټه اخلي.

**په کمونیزم کي د تولید موخه څه ده؟** د کمونیستي تولید موخه د ټولني بیله ځنډه پرمختګ او د ټولني د هر غړي د غوښتنو او اړتیاوو پربنسټ د مادي نعمتونو ویشنه ده. همدارنګه ټول مادي نعمتونه د ټولني هر غړي ته د شخصي لګښت او تملک لپاره په بشپړ ډول په واک کي ورکول کیږي.

**په کمونیزم کي ټولنیز پوړونه څه ډول دي؟** په کمونیستي ټولنه کي ټولنیز پوړونه نسته، ځکه چي پدي ټولنه کي د ښاریانو او کلیوالو ترمنځ هیڅ ډول اقتصادي، ټولنیز او د ژوند کولو توپیرونه نسته. په هره اندازه چي تولید کونکي پرمختګ کوي او د ژوند د اسانتیا لپاره زیات وسایل چمتو کوي په همغه اندازه کلی د ښاري کیدو په لوري پرمختګ کوي. د کمونیزم د بریا په وخت کي به د خلکو فکري او بدني هڅي سره وګنډل سي او د خلکو د کلتوري او فني معلوماتو کچه

به لوړه سي. پر همدي بنسټ کمونیزم هڅه کوي چې ټولنه د پوړیزي ویشني څخه وژغوري او د وګړو ترمنځ مساوات راوړي.

**په کمونیز کي د وګړو ژوند او د ټولني سره اړیکي څه ډول دي؟** د کمونیزم په دوران کي په ټولنه کي د ټولو وګړو موقیعت مساوي دی. همدارنګه د تولیدي وسایلو سره اړیکي، د کار او د نعمتونو د ویش په اړه هم ټول وګړي تر یو ډول شرایطو لاندي دي. ټول وګړي به په ټولنیزو چارو کي فعال، برابر او ازاد ګڼون کوي. د ټولني او فرد ترمنځ به د ټولنیزو ګټو د ساتلو او د فردي نوښتونو او اړتیاوو د پوره کولو پر سر همږغي رامنځته کیږي.

**په کمونیستي ټولنه کي به کار په څه ډول وي؟** کمونیستي ټولنه چي بنسټ یې پر پیاوړي کنټرول سوي اقتصادي سیستم او پرمختللي تولید باندي ولاړ دی، د کار کولو ښې ته بدلون ورکوي خو هیڅکله به خلک د کارکولو څخه معاف نکړي. د دي ډول ټولني جوړښت به هیڅکله د اړودوړ، خپلسري او ځان پالني په لور ونه خوځیږي، هر وګړی به د کاري ځواک پربنسټ په ټولنیزو چارو کي ګډون کوي، په عمومي ډول په فني وسایلو سمبالښت او د عامه پوهاوي د کچي لوړوالی به په خلکو کي د کارکولو غوښتنه پیاوړي کړي او خلک به د ټولني د ښېګڼي لپاره په داوطلبانه شکل سره کار وکړي. د تولیدي کار بنسټ پر زور او جبرباندي ندی ولاړبلکي د ټولنیزي دندي پر پوهیدلو او درک کولو باندي ولاړ دی.

**په کمونیزم کي د ولسونو اړیکي څه ډول دي؟** د کمونیزم په دوران کي ټول اولسونه هر اړخیزي اړیکي د ګډو اقتصادي، سیاسي او معنوي ګټولپاره د دوستۍ او وروروليٰ په فضا کي سرته رسوي.

همدارنګه نړیوال کمونیزم بیا په نړیواله کچه د ولسونو او قومونو د یوالي پرځای د وګړو یوالی غواړي.

**په کمونیزم کي انساني شخصیت او ځاني ژوند څه ډول دی؟** کمونیزم یو داسي نظام دی چي په هغه کي د انسانانو طبیعي استعدادونه او غوره صفتونه په خپلواک ډول سره غوړیږي. همدارنګه ټولنیزي اړیکي هم د مادي حسابونو څخه سرچینه اخلي او د مینې او رینښتنولۍ پربنسټ صورت نیسي.

که چیري وغواړو چي کمونیزم په یوه ټولیز فورمول کي تعریف کړو نو ویلای سو چي: کمونیزم یو داسي سیاسي نظام دی چي ټولنیز پوړونه له منځه وړي، د خلکو ترمنځ ګډه ملکیت منځته راوړي، په ټولنه کي د ټولو غړو ترمنځ برابري پیداکوي چي په هغه کي به وګړي د علم او تخنیک پر مټ پرمختګ کوي او دا اصل چي(کار د وړتیا په اندازه او غوښتنه د اړتیا په اندازه )به پکښي پلي کیږي. کمونیستي ټولنه په بشپړ ډول د خپلواکو زحمتکښانو او کارګرو څخه جوړه سویده، چي د ټولني ټولي چاري به د ټولني لخوا، د ټولني لپاره او د ټولو وګړو د ژوندنیو غوښتنو او اړتیاوو پربنسټ صورت نیسي، همدارنګه د هر وګړي کار او استعداد به د ټولي ټولني په ګټه کارول کیږي[1].

پورته یادي سوي ځانګړني د کمونیزم د پلویانو لخوا په ګوته سوي دي، دا چي په رښتیا به هم کمونیزم دا موخي ولري دا به کمونیزم په خپل عملي ډګر کي ثبوت کړي، پداسي حال کي چي کمونیزم په خپل لومړني عملي ډګر کي پورته ټولي ځانګړني ندي پلي کړي.

---

[1]- آئین، امیر نیک، واژه های سیاسي واجتماعي، ص **۱۵۵ - ۱۵۸**

کمونیزم ته په پښتو کي (ګډ مذهب) هم ویل کیږي، دا سیاسي مکتب ډیري لرغوني ریښې لري، چي په خپله ټوله تاریخي دوره کي یي یوازي په ۱۹م پیړۍ کي زیات پرمختګ وکړ، او په ځانګړي ډول یي په ۱۸۴۰م کال کي زیاته پراختیا وموندل. د زیاتو پوهانو په آند ددي فکري تګلاري تاریخي ریښې (زرین دور) ته رسیږي او د هغه وخت کمونیزم ته ایډیالي کمونیزم هم ویل کیدی، د ایډیالي کمونیزم په وخت کي ټول شیان د ټولني ګډ ملکیتؤ او د ټولو په واک کي وه. د دي ډول کمونیزم مفهوم ډیر پراخه ؤ چي یوازي په اقتصادي چارو او تولیدي وسایلو پوري اړند نه ؤ، او حتا د ښځو او جنسي مسایلو په اړه لا ګډ اختیار موجود ؤ.

کمونیزم په نوي او پراخه مفهوم سره هغو عقایدو ته ویل کیږي، چي د ټولني ټول ژوندني(حیاتي) او تولیدي وسایل د دولت لخوا کنټرولول غواړي. هغه کمونیزم چي په اوسني وخت کي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د خلکو پر خولو باندي یادیږي هغه مارکسیزم-کمونیزم دی، چي زیات نظامي اړخ لري. د کمونیزم دا ډول چي د مارکس د آندونو تر اغیز لاندي دی د خلکو پرمختګ او د کمونیستي رژیم ټینګښت یوازي د نظامي قوي د لاري غواړي. د کمونیزم وروستۍ بیلګه د شوروي اتحاد سیاسي رژیم ؤ چي د مارکس د آندونو تر اغیز لاندي جوړ سوی ؤ. د دي فلسفي وروستۍ پیاوړي فیلسوفان عبارت دي له: کارل مارکس، فریدریک انګلس، لینن او ستالین چي د کمونیزم د عملي او پلي کیدو په برخه کي ستر اتل ګڼل کیږي. کمونیزم په لومړۍ ځل د عمل ډګر ته د روسانو لخوا راووتی، چي لویه امپراتوري یي جوړه کړه او د نړۍ زیات هیوادونه یي تر اغیز لاندي راغله. نن ورځ د نړۍ په

زیات شمیر هېوادونو کي کمونیستي ګوندونه په پیاوړو او کمزورو بڼو سره شتون لري، چي د مارکس د آندونو پلوي کوي او د پخواني شوروي اتحاد په څیر سوسیالیستي رژیم غواړي. پداسي حال کي چي په یو شمیر هېوادونو کي د کمونیستي ګوندونو فعالیتونه د قوانینو، کلتوري او دیني ارزښتونو په خلاف ګڼل سویدي خو بیا هم د زیاتو ننګوونو سره سره خپل فعالیتونه کوي. د لینن او ستالین د واکمنیو پرمهال د نړۍ د کمونیزم هسته مسکو ؤ، چي د نړۍ ټول کمونیستي ګوندونه د مسکو تر اغیز لاندي وه، پدي وخت کي زیات شمیر ګوندونو د مارکس د (نړیوال انقلاب) شعار د خپلو ګوندي موخو څخه لیري کړ او د لینن او ستالین د افکارو پلوي یې کول نو ځکه دوی د واک د لاسته راوړلو لپاره بیله انقلابه سوله ییزه مبارزه پیل کړه، لومړۍ یې څو دولتي څوکۍ او وزارتونه په لاس راوړل وروسته یې مرکزي واک ترلاسه کړ یاني واک ته بیله انقلاب څخه ورسیدل. کمونیستان پدي آند دي چي یو وخت به واک ته رسیږي او د پخواني شوروي په څیر به لویه امپراتوري جوړوي.

د ستالین د مرګ څخه وروسته د شوروي اتحاد لویه امپراتوري په ترتیب سره مالنکوف، بولګانین او ګورباچوف په لاس کي واخیستل، د دوی په وخت کي د کمونیزم په بنسټ کي زیات لوی بدلونونه راغله، یاني هغه سختریزه آندونه چي د ستالین په وخت کي موجود وه هغه اصلاح سول او کمونیزم نرم دریځ ځانته غوره کړ. همدارنګه د ډیموکراسۍ او کاپیټالیزم سره یې جوړه وسوه، چي دي کار د نړۍ د نورو کمونیستي هېوادنو سخت غبرګونونه را وپارول، د بیلګي په توګه چین پدي کار سره د روسي سره په خلاف کي سو او د

۱۹۲۳-۱۹۲۴ کلونــو پــه وخـت کــي د چــین او روســي تــرمنځ ســخته ایډیالوژیکه قلمي مبارزه او یرغلونه پیل سول. چین پدي وخت کي د ستالین د آندونو او کمونیستي تګلاري پلوي کول، پداسي حال کي چي په روسیه کي د ستالین د تګلاري څخه مخ اړول سوی ؤ. دي اړو دوړ زیات وخت دوام پیدا کړ چي د نړۍ زیات شمیر هېوادونو بیا د شــوروي اتحــاد ملاتــړ کــاوه. پــه روســي کــي د نــوو ایــډیالوژیکو اصلاحاتو پـه وخـت کـي د (پرولتاریـا دیکتـاتوري) یـي د کمـونیزم د بنسټیزو موخو څخه لیري کړل او هغه یي د همغه وخت سره مناسبه ونه ګڼل. همدارنګه نور زیات آرونه چي لینن او ستالین منلي وه لیـري کـړل او دوی پـدي آنـد وه چـي ټـول کاپیټالیسـتي هېوادونـه لـومړۍ پـه سوسیالیزم او وروسته په کمونیزم باندي بدلیدونکي دي.

**د لرغونو زمانو څخه بیا تر ۱۹م پیړۍ پوري د کمونیستي عقایـدو لنـډه تاریخي مخینه:**

۱- د دي آند لمړنی تاریخي لیکلي ریښي په لویدیځ کي د سوفیست (سوفیسطایان د میلاد څخه **۵** پیړۍ مخکي وه) لکه انتیفون، تراسي ماکوس او ګورګیاس په فلسفه کي ترسترګو کیږي. د بیلګي پـه توګـه تراسي ماکوس د عدالت تعریف د طعني پـه بڼه داسي کوي (عـدالت د واکمن پوړ د ګټو څخه عبارت دی او واکمنه ډلـه یـوازي د خپلـو ګټـو د ساتلو په موخه قوانین پلي کوي).

۲- افلاطـون پـه خپـل نـامتو کتـاب جمهوریـت کـي (د میـلاد څخـه ۴ پیـړۍ مخکښـي) د کمـونیزم پـه فرضـیه کـي د دولـت د کـارکونکو او مامورینو ترمنځ د واده کولو حق او ملکیت منعه اعلان کړی.

۳ – د اپیکور (د میلاد څخه ۴ او ۳ پیړۍ مخکښې) او د ده د پلویانو په آندونو کي هم د دي فکر اغیزي ترسترګو کیږي.
۴ – د شکاکین فلسفه هم په ښکاره ډول د پرولتاریا (د بیوزلو پوړ) د حکومت په څیر بیوزلو خلکو ته د علم د زده کړي سپارښتنه کوي.
۵ – د کلبیون د فلسفي مخکښانو چي انتیس تن او دیوژن وه، پخپل فلسفي کتاب کي چي اوس له منځه تللی دی، یوه کمونیستي ایډیالوژي طرحه یي وړاندي کړي وه چي په هغه کي مال، واده او حکومت دري سره لغوه اعلان سوي وه.
۶ – د رومي او یوناني رواقیانو په فلسفه کي د میلاد څخه وروسته داسي انګیرل سویدي دي چي مال او ملکیت په نړۍ کي د انسانانو د برابری مخنیوي کوي.
۷ – د مسیحت په منځنیو پیړیو کي یوه مذهبي ډله د سکالستیک په نامه راپورته سول، دوی د عیسوي مذهب د هغه اصل په رڼا کي چي مال د ټول عالم د فساد ریښه او د بدبختۍ لامل ګرځي، داسي ویل(د ژوند کولو لپاره عامه ملکیت تر شخصي ملکیت غوره دی، او شخصي ملکیت طبیعي ندی نوځکه د انسان د بدبختۍ لامل ګرځي).
همدارنګه مزد اخیستل د بیوزلۍ لامل ګرځي او بیوزله خلک د شتمنو د بنده ګانو په څیر دي، نوځکه کولای سو چي د انسانانو زیاتي بدبختۍ د شخصي ملکیت په له منځه وړلو سره له منځه یوسو.
۸ – په ۱۲م پیړۍ کي د لوتر په زمانه کي یوه مذهبي ډله د مسیحي کمونیزم(آنابپ ټیزم[1]) په نامه منځته راغله، چي ډیر ژر په سویس، هالنډ، مراوي، بوهیمیا او په ۱۸۷۴م کال کي د روسي څخه د سهیلي

[1] - Anabeptism

امریکا داکوتا ته وغزیدل. دي غورځنګ د راډیکالي اصلاحي ډلي په خوا کي ځای نیولی ؤ او خپله یو راډیکالي اصلاحي غورځنګ ؤ. په همدي وخت کي مارتین لوتر چي د مذهبي اصلاحاتو مشر ؤ، دا یو ډیر خطرناکه غورځنګ وګڼی، لوتر د دي سره سخت مخالفت ښکاره کړ او هڅه یي کول چي مخه یي ونیسي. د دي غورځنګ موخي د سوسیالیستي او کمونیستي موخو په شان وي او غړي یي په تیت او پاشلي بڼي سره وه، نوځکه یي یو منظم پراخه او مرکزي جوړښت منځته رانه وړ. مسیحي کمونیزم ماشومانو ته د تعمید (عیسویان د ماشوم د زیږدني پر مهال ماشوم ته غسل ورکوي، چي دا غسل د تعمید د غسل په نامه یادیږي) د غسل د ورکولو په خلاف ؤ، د دوی په آند کله چي څوک د بلوغ دوري ته ورسیږي او بیا یي د عیسویت دین منی وروسته دي د تعمید غسل ورکول سي. همدارنګه دوی د ټولنیزو او اقتصادي اصلاحاتو غوښتونکي وه. دوی په خپلو منځونو کي بیلابیل عقاید درلودل همدا لامل ؤ، چي یوالي ته ونه رسیدل. که څه هم دوی په ځینو اصولو کي ګډي عقیدي درلودي لکه د هر فرد روح بیله دي چي بشري ځانګړنه یي په نظر کي ونیول سي الله تعالي ته ځواب ورکونکی دی. همدارنګه دوی په مسیحت کي پر ټینګي ورورولۍ باندي باوري وه. خو بیاهم د دوی تر منځ اختلافات زیات وه نو ځکه یي اغیزناکه غورځنګ او جوړښت منځته رانه وړی.

د مسیحي کمونیزم د غړو په منځ کي د سود اخیستل منعه وه، د سولي غوښتونکي وه او د خپلو افکارو د خپرولو لپاره یي هڅه کول. دوی سوګند نه یادوی او د دولت اطاعت یي یو شیطاني عمل ګڼی، دوی په هغه وخت کي د خپلو کارونو له مخي د خلګو د نفرت وړ

وګرځیدل. د دي ډلي د مخکښانو څخه یو هم ساکسوني کشیش (تماس مونزر) ؤ، چي د سوسیالیستي هڅو په وسیله یي زیات شمیر پلویان پیدا کړه او د **۱۵۲۵**م کال د بزګرانو د جګړي ستر لامل ؤ او د بزګرانو د ماتي څخه وروسته ونیول سو او په دار باندي وځړول سو.

له دي څخه وروسته کمونیزم د زیاتو فیلسوفانو لکه ماکیاولي، ژان بودن، جان ستورات میل، جیمز هارینګتون، روسو، مونتسکیو او نورو د پاملرني وړ وګرځیدی. خو په ۱۹ او ۲۰ پیړیو کي مارکس، انګلس، لیپ نخت، کائوتسکي، لینن او ستالین بیا دا فلسفه په نوي بڼه واړول او د نوي کمونیزم بنسټ یي کښیښودی[1].

[1]- دکتر بها الدین پازرګا، مکتب های سیاسی، ص **۱۵۲-۱۵۲**.

# کنسرواټیزم[1] (محافظه کاري)

د کنسرواټیزم اصطلاح د انګلیسي ژبې د (کنسرب[2]) څخه اخیستل سویده، چې د ساتني، محافظې او خوندي کولو په مانا ده او کنسرواټیزم بیا هغې تلنلاري ته ویل کیږي، چې د پخوانیو ارزښتونو پر ساتني او محافظې باندي ټینګار کوي، په ټولنه کي نوې بدلونونه او چټک پرمختګ نه غواړي.

د کنسروآټیزم اصطلاح زیات وخت د نوې سیاست پر وړاندي باندي کارول کیږي، دا اصطلاح تر نوې سیستم د پخواني او تجربه سوي سیستم پلوي کوي. محافظه کاري په ټولنه کي چټک بدلون نه غواړي، بلکي د پخواني کلتور او ارزښتونو ساتنه غواړي، ددوی په آند په ټولنه کي باید هغه وخت بدلون راسي کله چي عامه افکار ورته چمتو سي او بدلون ته زیاته اړتیا پیدا سي. ددوی ټینګار پر داسي یوه نظام باندي دی، چي پخوانی تجربه سوی او د خلکو په منځونو کي منلی وي.

د دې مسلک پلویانو ته محافظه کاران ویل کیږي، محافظه کار تل له سیاسي اړخه د ټولو هغو ارزښتونو ساتنه غواړي، چي د ولس په منځ

---

[1] - Conservatism.
[2] -Conserve.

کي منلې وي. دوی پر پخواني عُرف، دود او رواجونو باندي نیوکې نه کوي، بلکي د هغو درناوی غواړي. پردي سربیره محافظه کاران د سلطنت او کلیسا پلوي هم کوي او ځیني وخت د نیشنلیستانو په بڼه ځانونه ښکاره کوي، محافظه کاران پر لاندي آرونو باندي ګروهه لري:

الـف- کلتـوري ارزښـتونه لکـه عـُرف، رواجونـه، دودونـه... پـر نـوو پلانونو او طرحو باندي لوړ او ارزښتناکه دي.

ب- پوړي جوړښت تر وګړیز مساوات غوره دی.

ج- او طبیعي قانون پر هغه قانون، چي د انسان په لاس باندي جوړی سوی دی، غوره دی.

د کنسرواټیزم اصطلاح لومړی ځل په فرانسه کي د ناپلیون د لویدو څخه وروسته وکارول سول او د (۱۸۲۰ز) څخه بیا تر (۱۸۳۰ز) کلونو پوري د فرانسي څخه ختیځي اروپا او انګلستان ته ولیږدول سول. همدارنګه په (۱۸۴۰ز) کال کي امریکا ته هم ولیږدول سول. پردي سربیره دا اصطلاح په سیاسي آندونو کي ډیر لوی تاریخ لري، په منځنیو پیړیو کي د قانون ساتونکو او د ځانګړو ډلو ملاتړ کونکو ته محافظه کاران ویل کیدل، خو کله چي په (۱۹ز) پیړۍ کي په اروپا کي د سیاستوالو او لیکوالانو لخوا د ټولنیز نظم په موخه یو سیاسي غورځنګ رامنځته سو، نو په همدي وخت کي دوی غوښتل، چي د همدي مهال سره سم یو نوم ددي غورځنګ لپاره پیدا کړي، وروسته یې دي غورځنګ ته د (محافظه کار) یانې د پخوانې تمدن د میراث او د عدالت د آرونو ساتندویه نوم ورکړ.

لکه پورته چي مو اشاره وکړه کنسرواټیزم د پخواني تمدن د ساتلو په اړه د ځانګړو آرونو ټولګه ده، دا آرونه په بیلابیلو هېوادونو کي

بیلا بیلي بڼې لري، پدي مانا، چې د محافظه کاری آندونه په سلطنتي، ډیموکراټیکو او اشرافي (اریستوکراټیکو) حکومتونو کي شتون لري؛ نوځکه یې د هر حکومت او سیمي اړوند آرونه یې د ځان لپاره غوره کړیدي. د بیلګي په توګه د پیرو محافظه کاران د استرالیا د محافظه کارانو سره توپیر لري.

محافظه کاران تل ځوانان راډیکال(په ټولنه کي د هراړخیز بدلون غوښتونکي) بولې او عامه خلک محافظه کاران ګڼي؛ نوځکه راډیکالیزم د کنسرواټیزم پر وړاندي دریځ لري همدارنګه د دوی په آند د کلیو او بانډو اوسیدونکي تر ښاریانو ډیر محافظه کاران دي.

کنسرواټیزم د سوسیالیزم، انارشیزم او لیبرالیزم پر وړاندي کومه نړیواله طرحه نلري، بلکي یوازي دومره وایې، چې سوسیالیستي موسسات باید د هري سیمي او هېواد د کلتور او ملي ارزښتونو سره سمون و خوري؛ نو ځکه یو شمېر پوهان پدي آند دي، چې دا یوه سیاسي ایډیالوژي نده، بلکي د پخوانیو ارزښتونو د ساتلو په موخه د وضع سوو آرونو ټولګه ده.

د کنسرواټیزم پخوانۍ بڼه د انګریزي سیاستپوه (ایډموند بورک) د هڅو لاسته راوړنه ده، ده په (۱۷۹۰ز) کال کي د فرانسي د انقلاب په اړه غبرګون رد کړ او د فرانسي د انقلاب د تلنلاري پر ځای یې یو پراخ ټولنیز سیاست رامنځته کړ. بورک ټولني ته د یوه ټولنیز بنسټ په سترګه کتل او ټولنه یې د دود، عُرف او رواج په مرسته منظمه سوي ګڼل؛ نو ځکه دده په آند په هغې کي باید بدلون رانسي، خو هغه وخت بیا بدلون شونی ګڼي، کله چې عمومي خوښیو شتون پیدا کړ، یانې عامه افکار د بدلون لپاره چمتو سول. همدارنګه بورک مساوات،

بشپړ استازیتوب او بشپړ واک نه مني او نړیواله ټولنه او د اکثریت حکومت (ډیموکراسي) هم ردوي.

**د محافظه کارۍ لومړني اصول:**

د زیاترو پوهانو په آند محافظه کاري سیاسي تلنلاره نده، بلکي ټولنیز خوځښت او نظم دی. که څه هم د محافظه کارۍ لپاره د زیاتو پوهانو لخوا اصول ټاکل سویدي، خو دا اصول په بېلابېلو ټولنو او ولسونو کي په بېلابېلو بڼو سره پلي کېږي، له همدي کبله ددي اصولو پر سر باندي اختلاف شتون لري. دا پدي مانا ده، چې د محافظه کارۍ د عقایدو ریښي د سلطنتي، اشرافي او ډیموکراټیکو نظامونو د اقتصادي سیستمونو تر اغیز لاندي پنځېږي.

محافظه کاري د سوسیالیزم، انارشیزم او لیبرالیزم پر خلاف په هیڅ ټولنه کي د نړیوال سیاست په اړه طرحي نه وړاندي کوي، همدارنګه دوی سوسیالیزم ته داسي سپارښتنه کوي، چې باید په هره ټولنه کي د هغي ټولني د ملي ارزښتونو سره سم اصول پلي کړي، یانې سوسیالیزم باید په ټولو ټولنو او هېوادونو کي یو شان پلی نسي. په لنډ ډول ویلای سو، چې محافظه کاري ایډیالوژیکه بڼه نلري، بلکي د باورونو او ګروهو ټولګه ده. که څه هم دا ایډیالوژي نه ده خو بیا هم د پوهانو لخوا ورته یو شمېر لومړني اصول ټاکل سوي دي، دا لومړني اصول زیاتره د امریکایي او انګریزي محافظه کارو سیاستوالو لخوا منل سویدي او تر زیاته بریده دوی په خپلو سیاستونو کي پلي کړي دي، چې په لاندي ډول به یې لنډه یادونه وکړو:

**(۱)- د طبیعي قانون اصل:**

زیاتره محافظه کاران پدي آند دي، چې یو طبیعي قانون شتون لري او هره ټولنه باید د همغه طبیعي قانون سره همږغي وي. نوي محافظه کاران د هغي ټولني ساتنه او دوام غواړي، چې په هغه کي د انسانانو کړني د طبیعي قانون سره همږغي وي او د انسانانو ټول چلن د طبیعي قانون پر بنسټ ټاکل سوی وي. ددوی په آند د انسانانو ترمنځ برابري او مساوات د طبیعي قانون سره په خلاف کي دی.

**(۲)- د عُرف اصل:**

محافظه کاران پر زړو حقوقي او اخلاقي قواعدو باندي باور لري، پدي اړه ددوی دلیل دادی، چي انسانان نه غواړي، چې لویو پرمختګونو او نوښتونو ته په زیاته پیمانه زړه ښه کړي، یاني دوی خپل زوړ تمدن او زاړه اصول په نوو اصولو باندي ژر نه بدلوي، همدارنګه هر څومره چې ټولنه تر زړو قواعدو لاندي وي، په هغه اندازه ټیکاو راتلای سي او ټولنه په ثبات کي پاته کیدای سي.

**(۳)- د احتیاط اصل:**

هره کړنه باید په ډیر فکر او غور ترسره سي، هر ګام چې اخیستل کیږي باید اوږدمهاله پایلي یې په پام کي ونیول سي، هیڅ داسي ګام باید وانه خیستل سي، چې لنډ مهاله او سرسرکي ګټو ته یې پام سوی وي. محافظه کار وایي: زه هر کار په ډیر عقل او فکر سره کوم او کله چې یې پوره پایله له ډیر سنجش څخه راوباسم بیا عمل کوم.

**(۴)- د غیري مساوات اصل:**

د ټولني د پرمختګ او سوکالۍ لپاره اړینه ده، چې بېلابېل پوړونه تر اقتصادي شرایطو لاندي شتون ولري، ددوی په آند په ټولنه کي نا

مساوات طبیعي امر دی، له همدي کبله د ټولو خلکو یو شان ګډون د ټولني د لویدو لامل ګرځي.

**(۵)- د نیمګړتیا اصل**:

محافظه کاران پدي آند دي، چې انسان په طبیعي ډول د یو شمېر نیمګړتیاوو او خطاوو لرونکی دی، نو دا چې انسانان په طبیعي ډول نیمګړي پیدا سویدي، له همدي کبله ټولنیز نظم او ثبات منځته نه راځي. نو لکه څرنګه چي انسان نیمګړی پیدا سوی دی، ځکه باید د سم ټولنیز نظم او ثبات هیله ونلرو او هغه وخته څه ناڅه نظم رامنځته کیدای سي، کله چې ټولنیز پرمختګ او بدلونونه په ډیر دقت او فکر سره وسي، همدارنګه باید هڅه وسي، چې ټولنه تر پخو او زړو قواعدو لاندي ژوند وکړي، ځکه چې هغه قواعد څو واره ازمویل سویدي او په ټولنه کي زیات تجربه سوي دي.

لکه څرنګه چي سوسیالیستانو هڅه کول چي په ټولنه کي د کارګر پوړ ملاتړ د ځان کړي، همداسي محافظه کاران هم هڅه کوي، چې د ټولني د منځني پوړ ملاتړ خپل کړي. همدارنګه محافظه کارانو ډیره هڅه کړیده، چې ټینګو مذهبي عقایدو لرونکو ډلو ملاتړ هم د ځان کړي، په ځانګړې ډول دوی هڅه کول چې دا ډول ډلي د اشتراکي نظامونو پر وړاندي را پورته کړي او ملاتړ یې د ځان کړي[1].

د نولسمي پیړۍ په پیل کي بېلا بېل محافظه کار ګوندونه په بېلابېلو نومونو سره په اروپا کي منځته راغله. نو په کنسرواتیزم باندي د ښې پوهیدني لپاره به دانګلستان محافظه کار ګوند او په نوره اروپا کې محافظه کاري غورځنګونه په لنډ ډول ولولو:

[1]- فرشید اقبال، مکتب های سیاسی، ص ۱۸۵-۱۸۸.

**د انګلستان محافظه کار ګوند:**

محافظه کاري د انګلستان په سیاسي ټولنه کې ډیري ټینګې ریښې لري، په انګلستان کې د محافظه کارۍ کارونه د ۱۸۳۵-۴۰ کلونو څخه وروسته رواج سول، چې د همغه لومړیو څخه دا تلنلاره د انګلستان نامتو ګوند (توري) چې اوس په محافظه کار باندي یادیږي، خپله کړه او د محافظه کارانه موخو په ټاکلو سره یې خوځښت وکړ. د انګلستان په سیاسي نظام کې محافظه کار ګوند ډیر لوی ګوند دی او د انګلستان په سیاسي بهیر کې ډیر اغیزمن دی او حتا زیاتره وختونه یې په نړیوال سیاست کې لوی بدلونونه راوستي دي، دا ګوند د زیاتو نامتو مخکښانو په لرلو سره لکه آډمونډ برک، کالریج، پیل او ډیزرائلي، د انګلستان په سیاست کې مهمه ونډه لري[1].

دا ګوند د (۱۹ز) پیړۍ په نیمایي کې د پارلماني ډیموکراټیک حکومت په څنګ کې را وټوکیدی او یو لړ موخي یې د ځان لپاره و ټاکلي لکه کرار کرار بدلون، ټولنیز عدالت... په (۲۰ز) پیړۍ کې محافظه کار ګوند د دولت کنټرول پر اقتصادي، روغتیایي او تعلیمي چارو باندي ومنئ او ددوهمي نړیوالي جګړي څخه وروسته محافظه کارانو د ځینو ځانګړو صنعتونو د عامه کولو ملاتړ وکړ او د هغو کنټرول یې د کارګرانو د ټولنو دنده وبلل، خو یوازي د (۱۹۷۹ز) کال څخه را وروسته محافظه کارانو د دولت پر کنټرول او د عامه کولو پر تګلاري باندي د سره کتنه وکړه.

---

[1]- داریوش آشوري، دانشنامه سیاسی، ص ۲۹۸.

**محافظه کاري په اروپا کي:**

د اروپا په لویه وچه کي د محافظه کارۍ ډېر غورځنگونه رامنځته سویدي، خو یو یې هم د انگلستان د محافظه کار گوند په شان جوړښت، آندونه او غړي نلري او نه يي هم د انگلستان د گوند په څیر د پارلماني ډیموکراسۍ سره همغاړی پرمختګ کړی دی. د اروپا محافظه کار غورځنگونه د (۱۹ز) پیړۍ تر پایه پوري ډیموکراتیک آرونه نه منل، بلکي دوی ددي پرځای د پاچاهۍ (لکه د فرانسي د **۱۷۹۹**ز څخه بیا تر **۱۸۴۸**ز کلونو په منځ کي) او بشپړ حکومت (لکه د **۱۷۹۹** څخه تر **۱۸۱۴** کلونو او **۱۸۵۱** څخه تر **۱۸۷۰** کلونو پوري بناپارتیزم) ملاتړ کوي. سر بیره پردي په اروپا کي د محافظه کارۍ ځینو غورځنگونو د اتوریتاریانیزم (چي تر **۱۹۷۵** کاله پوري په اسپانیا کي ژوندۍ و) او تولیتاریانیزم څخه ملاتړ وکړ لکه په ایتالیا کي فاشیزم او په جرمني کي نازیزم، چي د ۱۹۲۰ څخه بیا تر **۱۹۴۵** کال پوري یاني د دوهمي نړیوالي جګړي تر پایه پوري یې دوام وکړ.

# کونسوشینلیزم[1]

کونسوشینلیزم یو داسي سیاسي رژیم دی، چي واک په ټولنه کي د ټولو ډلو د ټاکلي استازي ډلي په لاس کي وي. دا ډله نه یوازي واک پلي کوي بلکي په ټولنه کي د هر ډول اختلافاتو حل د مشورو پر بنسټ سرته رسوي. په ټولیز ډول په کونسوشینلیزم کي واک ویشل سوی وي او ټولنه د مذهبي، قومي او یاهم ژبني رشتو پر بنسټ ویشل سوي وي، چي د هري رشتي استازي د خپل ارزښت او شتون پر بنسټ د واک څخه برخمن وي. همدارنګه کونسوشینلیزم د واک د شریکولو یو سیستم ته هم ویل کیږي.

همدارنګه کونسوشینلیزم د کارپوریټیزم سره هم ورته والی لري، چي یو شمیر پوهان او لیکولان یې د کارپوریټیزم بڼه بولي او یو شمیر نور پوهان بیا وایي چي اقتصادي کارپوریټیزم داسي جوړ سوی دی، چي په ټولنه کي د اقتصادي ګټو ترمنځ ټکر له منځه وړي او د مشوري پربنسټ دا هرڅه تنظیموي، پداسي حال کي، چي کونسوشینلیزم بیا پر قومي، مذهبي او یاهم ژبني رشتو باندي ولاړ دی.

---

1 - Consociationalism.

د کونسوشینلیزم موخه د حکومت، سیاسي واک او داسي ډیموکراسۍ ټینګښت دی، چې بیله مخالفتونو او پاڅونونو څخه د مشورې او ګډون پربنسټ ولاړ وي. له همدي کبله دوی په سیاسي برخه کي د مشورې او په ټولنه کي د ټولو ډلو د ګډون تلنلاره غوره کړیده. کله چي کونسوشینلیزم پر مذهبي بنسټونو باندي ولاړ وي بیانو هغه ته (کنفیژنالیزم[1]) ویل کیږي لکه د لیبنان کونسوشینلیزم.

سیاستپوهان د کونسوشینلیزم دولت هغه دولت ته وایې، چې په کوردننه کي پر زیاتو مذهبي، قومي او یاهم ژبني رشتو باندي ویشل سوی وي او نه داچي واک دیوه اکثریت په لاس کي، په کونسوشینلیزم کي ددا ډول واکمنۍ مخه نیول کیږي؛ ځکه چي هر کار او د سیاسي واک پلي کول په مشورې باندي سرته رسیږي.

کونسوشینلیزم لومړی ځل په اکاډمیکه بڼه د سیاستپوه (ارینډ لیپارټ[2]) لخوا وڅیړل سو. لیپارټ په خپله څیړنه کي دومره وکړل، چي ددي سیاسي مکتب په اړه یې د سیاستپوهانو آندونه او څیړني را غونډي کړي او (جان مک ګیري[3]) او (بریندان اولیري[4]) بیا د (۱۹۱۷ز) کال څخه مخکي دا سیاسي مکتب چي په نیدرلینډ کي منځته راغلی و، وڅیړئ.

لیپارټ هم په نیدرلینډ کي لرغوني تجربي وسپړلي او دایې څرګندہ کړه، چي په تیرو وختونو کي پدي سیمه کي قومي شخړو او یرغلونو شتون درلودی، له همدي کبله دا سیاسي مکتب پلی کیدی، ترڅو ددا

[1] - Conffessionalism.
[2] - Arend Liphart.
[3] - John McGarry.
[4] - Brendan O’Lerry.

ډول ناوړو کړنو مخه ونيسي په حقيقت کي دي سياسي تلنلاري د سيمي د وګړو لپاره د قانون بڼه درلوده. کونسوشينليزم په نيدرلينډ کي د (۱۸۸۷-۱۹۱۷ز) کلونو پوري عملي بڼه درلوده. د کونسوشينليزم سياسي رژيم په وخت کي نيدرلينډ پر څلورو سيمو لکه کالوينيستې، کاتوليک، سوسياليست او ليبرال باندي ويشل سوي و، چي تر (۱۹۱۷ز) کال پوري پکښي د رايو د اکثريت اصل هم شتون درلودی. د ليپارټ په خبره په نيدرلينډ کي د کونسوشينليزم په سياسي چوکاټ کي قومي حکومت پخپله د سيمي د اوسيدونکو ترمنځ يو ډول تړون و، چي دا پخپله د ډيموکراسۍ د ثبات نښه هم ده. نو ليپارټ د کونسوشينليزم سياسي رژيم د ډيموکراسۍ لپاره هم غوره بولي او پخپله کونسوشينليزم د يو ډول ډيموکراسۍ لرونکی ګڼي. دی د کونسوشينليزم ډيموکراسۍ لپاره لاندي څلور ځانګړني په ګوته کوي:

**الف- ريښتنی يوالی**:

د نيدرلينډ خلک د بيلوالي او خپلمنځيو شخړو څخه ستړي سوي و، له همدي کبله ټول قومونه سره يوځای سول ترڅو د ټولني په خوښه حکومت وکړي او په ګډه توګه د سلا او مشوري پربنسټ ملي واکمني پلې کړي.

**ب- دوه اړخيزه ويټو (د نه منلو حق)**:

هره پريکړه به په دوه اړخيزي او څو اړخيزي هوکړي سره کيدل، د ټولو قومونو او ډلو هوکړه به د دود او رواجونو پربنسټ تر سره کيدل. اکثريت نسوه کولای، چي يوازي په خپله خوښه واک پلی کړي او د لږکيو حقوقو ته پاملرنه ونه کړي. له همدي کبله داسي هوکړه او تلنلاره موجوده وه، چي هر کار به په دوه اړخيزه هوکړه سره کيدی ياني ډيرکيو

او لړکیو به سره خوښه کړه بیا به یې یو کار کاوه. که چیرې یوې ډلې په خپله خوښه یو کار کړی وای نو بلې ډلې هم کولای سول، چې د هغه کار په مخ کې خنډ جوړ کړي.

**ج- تناسب:**

په سیاسي او حکومتي برخه کې ګډون به د هر قوم د نفوسو د اندازې پربنسټ و، هر قوم چې په هر اندازه په هېواد کې شتون درلودی په همغه اندازه یې کولای سول، چې دولتي چوکۍ د ځان کړي. که چیرې به یوه قوم د هېواد د نفوسو ۳۰٪ سلنه جوړول نو دوی کولای سول، چې د دولت همدا ۳۰٪ چوکۍ د ځان کړي. په ټولیز ډول په سیاسي چارو کې د ګډون لپاره د وګړو ترمنځ تناسب شتون درلودی.

**د- ونډېز واک:**

لکه څرنګه چې په ټولنه کې د یوازیتوب احساس پیدا کیدل د هرې ټولنې په کلتوري او حقوقي جوړښتونو پورې اړه لري، خو په ټولیز ډول په کونسوشینلیزم کې ټولو وګړو ته برابر سیاسي واک ورکول کیږي او هیڅوک د یوازیتوب او بې کسۍ حس نه کوي.

**د کونسوشینلیزم سیاسي جوړښت:**

پدې سیاسي رژیم کې حکومت او سیاسي بنسټونه په لاندې ډول جوړیږي:

۱- ایتلافي کابینه جوړیږي: اجرایه قوه د ډلو او قومونو ترمنځ ویشل سوې وي، هغه کیږي، چې په کابینه کې هر قوم ته ځای ورکړل سي له همدې کبله ځینې وخت دا ډول کابینې ډیرې غټې وي. لکه څرنګه چې په نورو برخو کې د قومونو ترمنځ ایتلاف شتون لري همداسې په اجرایه قوه کې هم قومونه ایتلاف سره کوي او ګډ حکومت جوړوي. په

کابینه کي د هر قوم وزیر ببله دي، چي د پارلمان اکثریت تر لاسه کړي پر خپلي دندي باندي ګمارل کیږي.

۲- د اجرایې او مقنني قوو ترمنځ په واکونو کي توازن شتون لري او هیڅ یوه قوه پر بلي باندي د زیات واک څښتنه نده.

۳- دا ډول حکومتونه په ټولیز ډول فدرالي او غیري تمرکزي دي؛ ځکه چي سیمه ییز قومونه د پام وړ خپلواکی لري او سیمه ییز حکومتونه هم فعاله وي.

۴- مقننه قوه د دو څانګو لرونکې ده: پدي سیاسي رژیم کي مقننه قوه پر دوو څانګو باندي ویشل سویده، چي یوه څانګه به ملي ګټي ساتي او بله څانګه به سیمه ییزي ګټي ساتي.

۵- سیاسي واک د ټولو قومونو او ډلو ترمنځ ویشل سوی وي او په تناسبي ډول د هر قوم استازو ته په حکومت کي د ګډون حق ورکول کیږي.

۶- داسي تنظیم سوي او منظم ټولنیز ګروپونه لرې، چي د لږکیو استازیتوب کوي او ددوی د حقوقو څخه دفاع کوي.

۷- داسي ټینګ او منظم قانون شتون لري، چي حکومت ته هیڅکله دا واک نه ورکوي، چي د لږکیو د اجازي پرته په قانون کي بدلون او تعدیل راولي.

۸- په قضایې چارو کي لږکیو ته دا واک ورکول سوی وي، چي قضایې چاري وڅاري او په کومه برخه کي، چي د دوی په آند بې عدالتي کیږي ببله کوم قید او بیري څخه کولای سي، چي محکمي ته شکایت وکړي او د اصلاح غوښتنه یې وکړي.

۹- د قانون جوړوني په وخت کي لړکیو ته دا واک ورکول سوی دی، چي یا یې ملاتړ وکړي او یا یې هم مخه ونیسي، چي پدي برخه کي د مستقیمي ډیموکراسۍ زیاتي نښې تر سترګو کیږي.

۱۰- پر سیاسي او حکومتي چارو سربېره په عامه فابریکو، شرکتونو او کارونو کي هم د قومونو او ډلو ترمنځ تناسب شتون لري.

۱۱ – د دولت لپاره بي لوري او بي پري مشر ټاکل کیږي، چي زیات وخت پاچا د دولت د مشر په توګه ټاکل کیږي، چي یوازي نمایشي کارونه سرته رسوي او یا هم داسي ولسمشر ټاکي چي د ټاکنو څخه وروسته د خپل قوم او یا ګوند سره اړیکي وشلوي[1].

[1] - English Wikipedea and Britianica Encyclopedea.

# لاسپوڅي دولت[1]

لاسپوڅي دولت ته (غلام دولت) هم ویل کیږي، او هغه دولت دی، چې نیمګړی او یا هم هیڅ واکمني نلري، بلکې د بل دولت تر واک لاندې وي. دا ډول دولت بیرغ، ملي سرود او نور نښانونه لري، خو په حقیقت کې د بل دولت تر واک لاندې وي. لاسپوڅي دولت ته ناخپلواک دولت هم ویل کیږي، چې هیڅ ډول خپلواکي نلري[2].

ناخپلواک دولتونه نیمګړې یا هم هیڅ واکمني نلري. دا ډول دولتونه په یوه وخت کې د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو په اړه بشپړه خپلواکي نلري. ځیني یې کیدای سي چې کورني خپلواکي تر یو بریده پوري ولري خو په بهرنیو چارو کې بیا خپلواکي نلري. دا دولتونه چې یوازي په کورنیو چارو کې خپلواکي ولري خو په بهرنیو چارو کې خپلواکي ونلري د خپلواکو هیوادونو په نامه نسو نومولی؛ ځکه چې واکمني یې نیمګړې ده. ناخپلواک دولتونه په لاندې ډول پرڅو برخو ویشلای سو:

۱ . **ښکیلاکي دولتونه**:

دا ډول دولتونه هیڅ واکمني نلري یاني په دواړو کورنیو او بهرنیو چارو کې د بل هیواد تر واکمنی لاندې وي. ښکیلاکي دولتونه د نړۍ

1 -Puppet State.
2 - English Social Wikipedia.

په سیاسي تاریخ کې زیات تر سترګو کیږي. دا دولتونه داسې دي لکه مور چې پر ماشوم باندې واکمنې کوي، یانې دا دولتونه د ښکیلاک کونکي دولت تر بشپړ اغیز لاندې وي. ښکیلاک کونکي دولتونو د ښکیلاکي(مستعمره) دولتونو د نیولو لپاره بیلابیل دلایل وړاندې کوي. د بیلګې په توګه دوی وایي چې د ښکیلاکي دولتونو وګړي شاته پاته دي او نسې کولای چې خپلې کورنۍ او بهرنۍ چارې کنټرول کړي؛ نو ځکه د پرمختللو هیوادونو لخوا تر ښکیلاک لاندې راغلې دي تر څو مُدرن سي او په خپلو چارو باندې وپوهیږي. پداسې حال کې چې دا ظاهري دلیل دی، په حقیقت کې داسې نده. هغه هیوادونه چې نور ښکیلاکوي د دوی سره بیلابیل پلانونه وي. دوی غواړي چې ښکیلاکي دولتونه تر زیبښاک(استثمار) لاندې راولي او خپل اقتصادي پیاوړتیا ترلاسه کړي. همدارنګه د تاریخ په پاڼو کې زیاتو پاچاهانو د ځاني غوښتنو پر بنسټ نور دولتونه تر خپل واک لاندې راوستي دي.

دا دلیل چې شاته پاته خلک باید تر ښکیلاک لاندې راوستل سي، تر څو مُدرن سي او د خپل هیواد کورنۍ او بهرنۍ چارې کنټرول کړي، په اروپا کې زیاتو امپراتوریو کارولی دی. دوی به د خپل نژاد خلک نورو هیوادونو ته لیږل تر څو د هغو سیاسي چارې کنټرول کړي، د دوی د نژاد خلکو د هغه هیواد تر شاته پاته خلکو زیات امتیازات لرل. خو د دوهمې نړیوالې جګړې په ځانګړي ډول د (۱۹۲۰ز) څخه بیا د (۱۹۷۰ز) کلونو وروسته کله چې د انګلستان، فرانسې، بلژیک، هالنډ او پرتګال ښکیلاکونه وپاشل سول، زیات شمیر نوې هیوادونه منځته راغله.

۲. **تر ملاتړ لاندي (تحت الحمایه) دولتونه:**

تر ملاتړ لاندي دولتونه هغه دي چې کورنۍ چاري یې سیمه یزو واکمنانو ته سپارل سوي وي او بهرنۍ چاري یې د بل هیواد په لاس کې وي. یانې دا ډول هیوادونه نیمګړې واکمني لري، په کورنیو چارو کې تر زیاته بریده خپلواک وي او بهرنۍ سیاست، د نورو دولتونو سره اړیکي او نوري چاري یې د بل دولت تر واک لاندي وي. د دا ډول دولت لپاره د واکمن دولت له لوري ځانګړی استازی استول کیږي تر څو تر ملاتړ لاندي دولت چاري کنټرول کړي. دا استازی کولای سي چې د تر ملاتړ لاندي دولت هغه قوانین چې د واکمن دولت د موخو په خلاف وي، لغوه کړي. په معمولي ډول د واکمن دولت له لوري د ترملاتړ لاندي دولت په دننه کې یو نظامي ځواک ځای پرځای کوي تر څو د ده دفاعي او نظامي موخي وساتي. د قطر، بحرین او متحده عربي اماراتو دولتونه د (۱۹۷۱ز) کال څخه مخکې د انګلستان تر ملاتړ لاندي اداره کیدل.

که څه هم دا سي تر سترګو کیږي چې د دولتونو دا ډول ناخپلواکي په تیره پیړۍ کې له منځه تللي ده، خو په نوې بڼه سره د شلمي پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې بیا څرګنده سویده. د بیلګې په توګه کولای سو چې د فارس خلیج د سهیلي هیوادونو لکه کویټ، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو اړیکي د امریکا سره وښیو. نوموړو دولتونو د امریکا سره د اوږدمهالو نظامي تړونونو په لاسلیک کولو سره ځانونه د امریکا تر ملاتړ لاندي راوستي دي، تر څو د بهرني یرغل په وخت کې له دوی څخه دفاع وکړي. پر کویټ باندي د عراق د یرغل پرمهال په

کویټ کې د امریکا په مشرۍ د ائتلافي ځواکونو شتون دا په ګوته کوي چې کویټ په نوې بڼه د امریکا تر ملاتړ لاندې دی.

**۳ . تر سرپرستی لاندې دولتونه:**

د دولتونو دا ډول ساتنه د ولسونو (ملتونو) د ټولنې د سرپرستی (قیمومیت) د بنسټ پایله ده. دا بنسټ په(۱۹۲۰ز) کال کې د ولسونو د ټولنې سره په یوه وخت کې منځته راغلی. د دې بنسټ موخه دا وه چې د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای کې چې کوم ښکیلاک کوونکي دولتونه وپاشل سول د هغو ښکیلاکي (مستعمره) دولتونه د هغه چاپه لاس ورکړي چې په جګړه کې بریالي سوي دي. یانې هغه ښکیلاکي دولتونه چې د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې د ځواکمنو دولتونو تر واک لاندې وه او هغه ځواکمن دولتونه د لومړۍ نړیوالې جګړې په پایله کې وپاشل سول، نو د هغو ځواکمنو دولتونو ښکیلاکي دولتونه باید د هغه چا تر سرپرستی لاندې پاته سي، کوم چې په لومړۍ نړیوالې جګړې کې بریالي سویدي. همدارنګه د ملتونو ټولنې د همدغو ښکیلاکي دولتونو د وګړو د مدني حقوقو او خپلواکیو څخه ساتنه کول. سرپرست کونکي دولتونه اړ وه چې د سرپرستو دولتونو په اړه کلنی رپورټ د ملتونو ټولنې د سرپرستی کمیسون ته ورکړي. د ملتونو ټولنې د سرپرستی کمیسون د سرپرستو هیوادونو د حالت څارنه کول که چیري سرپرست کونکي دولتونه د هغو په چارو کې پاته راغلي وای نو د ملتونو ټولنې همدغه کمیسون دا واک درلودی چې نوموړي دولتونه د بل هیواد ترسرپرستی لاندې کړي. پداسي حال کې چې دا ډول بدلون هیڅکله په عمل کې رانغلی او سرپرست دولتونه په

هر ډول حالاتو کې د سرپرست کونکو دولتونو ترسرپرستی لاندي پاتـه سول.

**۴ . امانتي دولتونه**:

د دوهمي نړیوالي جګړي څخه وروسته کله چي پـه( **۱۹۴۵**ز ) کـال کـي د ملګرو ملتونود ټولني بنسټ کښېښودل سو ، نو د مخکنی ملتونو ټولني د سرپرستی واک هم د ملګرو ملتونو ټولني تـه ورکول سوااو د ملتونو ټولني سرپرست هیوادونه (بیله سهیلي افریقا او جاپـان څخـه ) د امـانتي هیوادونـو پـه نامـه ونومـول سـول. هغـه دولتونـه چـي تـر سرپرستی لاندي وه او هغو خپله خپلواکي ترلاسه کړي نه وه د امـانتي مځکو په نامه سره ونومول سول.

د افریقا سـهیل لویدیځـه سـیمه چي د آلمـان د ښـکیلاکي سـیمو څخـه وه ، کلـه چـي د لـومړی نړیـوالي جګړي پـه پایلـه کـي آلمـان مـات سـو او ښـکیلاکي دولتونـه یـي هـم د لاسـه ووتـل، نـو د اولسـونو د ټـولني د پریکـړي پـر بنسـټ د افریقـا د سـهیل لویـدیځي سـیمي سرپرسـتي د سهیلي افریقا د یوالي شوراته وسپارل سول. د ملتونو ټولني د همـدي پریکړي پر بنسټ د سهیلي افریقا د یوالي شورا پـدي باندي مکلفـه وه چي دا سیمه د همدي اوسیدونکو په ګټه اداره کړي. وروسته د دوهمي نړیوالي جګړي څخه کلـه چي د ملګرو ملتونو ټولنـه د ملتونـو د ټولني ځای ناسـتي سـول، ټـول سرپرسـت دولتونـه د امـانتي دولتونـو پـه نامـه سره ونومول سول. یوازي د افریقا سـهیل لویدیځـه سـیمه پـه اسـتثنایي ډول پاته سول؛ ځکه چي د سهیلي افریقـا د یـوالي شـورا نـه یـوازي دي سیمي ته خپلواکي نه ورکول بلکي د آپارتېد د سیاست د پلـي کولـو پـر بنسټ یي هڅه کول چي د خپل هیواد یوه برخـه یـي وګرځـوي. کلـه چـي د

ملګرو ملتونو ټولنه پدي کي ناتوانه سول چي د سهیلي افریقا د یوالي شورا پدي قانع کړي چي دي سیمي ته خپلواکي ورکړي، نو په( ۱۹۶۶ز ) کال کي یي هڅه وکړه چي د دي سیمي سرپرستي پر خپله غاړه واخلي او پدي وخت کي یي یوه شورا هم ورته وټاکله. خو سهیلي افریقا د دي شورا د غړو د دننه کیدو مخه ونیول او هغه یي په رسمیت ونه پیژندل. بالاخره په( ۱۹۹۰ ) کال کي د دي سیمي د ملي سواپو غورځنګ په هڅه او د ملګرو ملتونو په ملاتړ د نامیبیا په نامه خپلواک دولت اعلان سو او د ملګرو ملتونو د خپلواکو هیوادونو په کتار کي شمار سو.

د کارولین، ماریانا او مارشال جزیري چي په آرام سمندر کي موقیعت لري، مخکي د جاپان تر سرپرستی لاندي وي، خو په( ۱۹۴۸ز ) کال کي د امانتي مځکو په نامه د امریکا متحده ایالاتو ته وسپارل سوي. خو له هغه څخه وروسته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یي سرپرستي په غاړه واخیستل. د دي جزیرو څخه د ماریانا جزیره په( ۱۹۸۶ز ) کال کي د یوي ټولپوښتني پر بنسټ د امریکا د ګډو ګټو هیوادونو په ډلي پوري وتړل سول.

**۵ . ګډ(مشترک)دولتونه**:

هغه هیوادونو چي د دو بهرنیو هیوادونو لخوا په ګډه توکه اداره کیږي د ګډو دولتونو په نامه یادیږي، چي دي ډول دولتونو ته د (کانډومینوم[1] )اصطلاح هم کارول کیږي. د بیلګي په توګه د آندورا هیواد چي د پیرنه په غرونو کي موقیعت لري د فرانسي او اسپانیا له لوري په ګډه توګه اداره کیږي، د توکالو هیواد چي په اقیانوس کي

[1] - Condominium

موقیعت لري د امریکا او نوي زیلنډ لخوا اداره کیږي، د کانتون او ایندربري جزیري، چي د ژیلبرټ او الیس په جزیرو کي موقیعت لري د انګلستان او امریکا له لوریو اداره کیږي. دا ټول هغه هیوادونه وه چي د دوه دولتونو لخوا ورته ګډ حکومت جوړ سوی و او د هغو له لوریو اداره کیدل[1].

[1]- دکتردره میرحیدر(مهاجراني)، مباني جغرافیای سیاسی، ص۲۵-۲۹

# لائيزم[1]

لائيـزم د لرغـوني يونـاني ژبـي د (لائـوس[2]) څخـه اخيسـتل سـوي اصطلاح ده، چې د خلکو د ټولني يا يوه ډله خلکو لپاره کارول کيدل، چې وروسته د سياسي مکتب په بڼه راڅرګند سو. لائيزم او لائيسته چې د لرغوني يوناني ژبي څخه ريښه اخلي د نړۍ نورو ژبو ته هم ورننوتل، چې اوس مهال د لائيزم بنسټ د فرانسي څخه پيليږي. لائيسته[3] يوه فرانسوي اصطلاح ده، چې په اولسمه پيړۍ کي سياسي قاموس او سياسي خبرو اترو ته ورننوتل. لائيسته سياسي تلنلاره او مکتب دی، چې دين او دولت سره بېلوي، ياني دولت (عمومي حوزه) بايد د هيڅ دين پيروي ونکړي او له بله پلوه دين بايد په مدني ټولنه کي هيڅ ډول سياسي واک پلی نکړي.

د لائيزم سياسي خوځښت ته لائيزاسيون او دولت ته يې لائيک (لادينه) ويل کيږي. لائيزاسيون په لويديځو کاتوليکي هېوادونو کي د کليسا پر وړاندي دريځ غوره کوي، پداسي حال کي چې په پروټستانټ اروپايي دولتونو کي لائيک، لائيسته او لائيزاسيون نا

---

[1] - Laicism.
[2] -Laos.
[3] Laicite.

پېژانده دي. که څه هم هغه دولتونه چې دین او دولت سره بېلوي او په دولتي چارو کې دین نه مني، سیکولاریزم ګڼل کیږي، خو سیکولاریزم او لائیزم که څه هم زیات ورته والی لري، بیا هم سره بېل دي.

همدارنګه لائیزم د دولت او مدني ټولني ترمنځ هم بېلتون غواړي، یانې عمومي حوزه باید د خصوصي حوزي څخه بېله وي، چې دا د مډرن عصر مهم بنسټ ګڼل کیږي. د دولت او مدني ټولني بېلتون د لائیزم بنسټیز شرط دی. لکه څرنګه چې په منځنیو پیړیو کې استبدادي نظامونه واکمن وه او مدني ټولنه په دولت کې اخښلي وه او یا هم ډیره کمزوري وه، نو له همدي کبله د لائیزم خوځښت هم کمزروی و.

لائیزم دین دښمنه ندی، خو پر دولت باندي د دین واکمني نه مني، بلکې دیني او غیري دیني وګړي، خوځښتونه او نوري ډلي کولای سي، چې د قانون پر بنسټ فعالیت وکړي. یانې دیني بنسټونه او وګړې د نورو وګړو په شان په ټولنیزو او سیاسي برخو کې فعاله ونډه لرلای سي، خو داسي نسي کیدای، چې دیني وګړې په ټولنه کې ترنورو زیات امتیاز ولري، بلکې په عادي ډول د نورو وګړو په څېر په هره برخه کې د قانون پر بنسټ فعالیت کولای سي.

د پورته څرګندونو څخه داسي پایله تر لاسه کیږي، چې لائیزم د لاندي دوو بنسټېزو شرایطو لرونکی دی:

الف- دولت او دین باید سره بېل وي، یانې دولت باید د دین د منګولو څخه خپلواکه وي؛

ب- دین باید په مدني ټولنه کې خپلواکه وي، یانې دین باید بېله سیاسي واکه په مدني ټولنه کې خپلې ریښې وغځوي؛

د مارکس په آند د دین او دولت بېلتون دین ته د پای ټکی ایښودل ندي، بلکې په ټولنه کې بېله سیاسي واکمنۍ څخه د دین د ریښو غځېدنه ده. لکه څرنګه چې لائیزم د لیبرالیزم، روڼ آندی، ډیموکراټیزم او دیني اصلاحاتو د غورځنګونو پر مهال پیاوړتیا موندلې ده، خو تر ټولو راډیکاله بڼه یې د فرانسې د لوی انقلاب ۱۷۸۹ز پر مهال په فرانسه کې د کلیسا ضد غورځنګونو په بڼه ښکاره سو. خو په نورو اروپایې هېوادونو کې لائیزم نیمګړی او یا هم هیڅ نه و.

**د لائیزم په اړه د پوهانو اندونه**:

په منځنیو پیړیو کې، په ځانګړې ډول په اتلسمه او نولسمه پیړیو کې د ((ټولنیز تړون)) آند ډېرې انسانان د دولت او سیاسي ټولني په پیدا ایښت باندې پوه کړه او سیاسي واک یې د خلکو د ارادو زیږنده وګڼی، چې په همدې وخت کې زیاتو پوهانو د دولت د کړنو او رول په اړه بېلابېل آندونه وړاندې کړیدي، چې پدې آندونو کې د ځېنو پوهانو آندونه د لائیزم د سیاسي مکتب پر بنسټ هم ښکاره سویدي. په اولسمه پیړۍ کې هابز په خپل کتاب (لویاتان) کې د ټولنیز تړون او دولت په اړه زیاتې څرګندونې کړې دي. د هابز د ژوند پر مهال ډېرې ستونزې او شخړې د مسیحي دین د بېلابېلو تفسیرونو پر سر راولاړې سوې وې، نو ځکه هابز ددې شخړو د حل لپاره ځواکمن حکومت وړاندیز کوي، دده په آند داسې حکومت باید شتون ولري، چې د انجیل غوره تفسیر وکړي او بیا یې پر خلکو باندې پلې کړي، ترڅو د ټولنیزو هغو شخړو څخه خلاص سو، چې د انجیل د بېلابېلو تفسیرونو څخه رامنځته سوې دي. همدارنګه هابز حکومت د کلیسا او روحاني بنسټونو د غلامۍ څخه خلاصوي او پیاوړې دولت د ټولنې د

ستونزو د حل لپاره اړین ګڼي. که څه هم هابز هڅه کوي، چې دولت ((لائیک)) وي، خو دی دولت ته دا اجازه ورکوي، چې دین وسپړي او بیا یې پر خلکو باندي پلی کړي، چې دا اصل د لائیزم سره په ټکر کي دی. خو بیا هم د هابز لائیسته او لائیزم نیمګړې بڼه لري، خو بشپړ لائیسته نسو ورته ویلای.

یو بل انګریزی فیلسوف جان لاک، بیا په مذهبي او اعتقادي برخه کي زور نه مني، دده په آند پدي برخه کي د زور کارونه منفي پایلي لري، که څه هم لاک په ځېنو برخو کي دولت ته د زور کارونې سپارښتنه کوي، خو په دیني او مذهبي برخه کي دولت د زور کارونې څخه منعه کوي. د لاک په آند دین او سیاست ډیري ټېنګي اړیکې لري، هیځکله دا سي نسي کیدای چې دین او سیاست دي سره بېل سي، خو هڅه باید وسي، چې د سیاسي واکمني د پلي کولو پر مهال دیني رول کم وي، یانې دیني بنسټونه باید سیاسي نسي او دا بنسټونه باید د دولت په کړنو کي لاسوهنه ونکړي. لاک په خپل یوه اثر کي لیکي (( زما په آند دولت یوه انساني ټولنه ده، چې موخه یې د مدني پرمختګ او ګټو ساتنه ده)). له همدي کبله لاک دولت د مدني چارو لپاره بولي، نه د دیني چارو لپاره، که څه هم لاک دولت او دین سره بېلوي، خو بیا هم بشپړ بېلتون ته ګروهمند ندی، له همدي کبله د لاک لائیسته هم نیمګړې ده.

یو بل هالنډی فیلسوف اسپینوزا په اولسمه پیړۍ کي، د دین او دولت په اړه خپل آندونه وړاندي کړه، دده په آند وګړې کولای سي، چې په ازادانه ډول خپل معنوي ژوند وټاکي او هم دولت باید د مشروعیت پر بنسټ حرکت وکړي، په ټولنه کي باید ټول احکام او فرمانونه د

قانون سره سم پلي سي، دده په آند هغه وخت حکومت مشروعیت پیدا کوي، کله چې قوانین د کوم فرد یا ډلي د غوښتنو او میل تابع نه وي، بلکي د ډیموکراټیکو اصولو پر بنسټ الزامي بڼه ولري. د اسپینوزا په آند د دین او دولت ترمنځ بېلتون دوي وجي لري:

الف- دولت باید د دین، عقیدي، فکر او بیان ازادیو لپاره شرایط په ټولنه کي چمتو کړي؛

ب- د ټولني وګړي باید د قوانینو څخه تابعیت وکړي، چې دا تابعیت د دین پر بنسټ نه، بلکي د ډیموکراټیک حاکمیت د مشروعیت پر بنسټ باید صورت ونیسي؛

اسپینوزا د دولت او دین ترمنځ بیلتون غواړي، دده په آند دین باید د حقوقي او سیاسي چوکاټ څخه ووځي، دیني بنسټونه باید د دولت سره هیڅ اړیکه ونلري، ځکه چي دولت یو حقوقي او سیاسي بنسټ دی، چې د قوانینو او مدني قواعدو پر بنسټ اداره کیږي. دولت باید د قوانینو تر شا ودریږي او د ټولني په ټولو برخو کي قوانین پلي کړي، البته دا په دي مانا نده چې دولت باید په دین کي لاسوهنه وکړي او دیني تلنلاري د خپلو غوښتنون سره سمي وټاکي بلکي دولت باید دیني بنسټونه او قواعد پر خپل حال پریږدي[1].

روسو هم د لائیزم په اړه آندونه ورکړي دي، روسو د ټولنیز تړون د آند وړاندي کونکی دی، چې پدي برخه کي تر نورو پوهانو لکه هابز او لاک، مختته تللی دی، دده په آند حاکمیت د خلکو د ارادو زیږنده دی، همدا خلک دي، چې د ټولنیزتړون پر بنسټ یې حکومت او سیاسي سازمان رامنځته کړی دی، کله چې خلکو خپلي یو شمیر ازادۍ او

---

[1]- رشیدان وثیق، لائیسته چیست؟، ص ۴۴.

حقوق د لاسه ورکړه او په ټولو يې دا پريکړه وکړه، چې حکومت ته بايد واک ورکړل سي، چې پر ټولنه باندي واک پلی کړي، له همغه وخت حکومت رامنځته سو او مشروع واک يې تر لاسه کړ. روسو د ټولنيز تړون په اړه پراخه فلسفي آندونه ورکړي دي، خو هغه څه چې د لائيزم په برخه کي د ارزښت وړ دي، هغه دادي، چې روسو په ټولنه کي هيڅ کوم ځانګړي فرد يا ډلي ته د ځانګړې امتياز غوښتونکی سوی ندی، دده په آند د ټولني ټول وګړې، هغه کي مذهبي، بي دينه، کسبګر.... وي سره مساوي دي، چې همدا ټکی يې د لائيزم په اړه د ارزښت وړ دی. روسو په خپل ټولنيز تړون کتاب کي داسي ويلي دي ((ټولنيز تړون د ټولو ښاروندو ترمنځ په برابره توګه منځته راغلی دی، له همدي کبله ټول وګړې د قوانينو پر وړاندي برابر او مساوي حقوق لري، نو ځکه د حکومت دريځ بايد داسي وي، چې د ټولو وګړو حقوق په مساوي ډول تامين کړي)).

د روسو په آند دولت او دين بايد سره بېل کړل سي، ځکه چې هر يو ځانته ځانګړې غوښتني او موخي لري، که دوی دواړه سره ګډ سي، نو د دواړو لپاره په زيان باندي تماميږي، د روسو افکار او نظريات د فرانسي د لوی انقلاب پر مهال پلي سول، چې د اروپا د روښانتيا په دوره کي يې زيات اغيز وښيندی. روسو د واکمن قدرت لپاره نظري طرحه وړاندي کوي، چې واکمن قدرت بايد د قوانينو په چوکاټ کي راګير سي، چې همدا قوانين يوازي د وګړو د عمومي ګټو سره سروکار لري. په دولتي ساحه کي هيڅ ديني قواعد د دولت لپاره اجباري کيدای نسي.

که څه هم روسو په دولتي چارو کې د دین رول نه مني، خو داسې نده چې روسو بېخي د دین د شتون سره مخالفت لري،بلکې روسو د ټولني لپاره د مدني دین وړاندیز کوي، دی په ټولنه کې د دین رول ډیر اړین ګڼي[1].

همدارنګه د لائیزم په اړه زیاتو نورو پوهانو لکه کانت، هیګل، مارکس... هم آندونه ورکړي دي او پدي اړه یې خپلې څېړنې وړاندي کړي دي.

**د لائیزم او سیکولاریزم ترمنځ توپیر:**

زیاتره وخت د لیکوالانو او پوهانو لخوا د دي دوو اصطلاحاتو په کارونه کي تیروتنې راځي، ځېني لیکوالان ددي، پرځای چې د لائیزم مفهوم او مانا وړاندي کړي د سیکولاریزم اصطلاحات کاروي. ددي دوو اصطلاحاتو ترڅنګ یوه بله اصطلاح د ډیموکراټیک حکومت اصطلاح هم ده، چې دیته ورته مانا لري.

که څه هم سیکولاریزم او لایزم ورته ماناوي لري، خو بیا هم په خپلو منځونو کي زیات توپیرونه هم لري، لائیزم دولت او دین سره بېلوي، دولت ته داسي سپارښتنه کوي، چې د په دیني چارو کي لاسوهنه ونکړي، دین باید په دیني بنسټونو کي منحصر سي، دین نسي کولای چې په دولتي چارو کي ورګډ سي، بلکي یوازي د خلکو په منځونو کي باید پاته سي. همدارنګه له بل اړخه دین باید پر ټولني باندي سیاسي واکمني ونکړي، دین او سیاست سره بېل دي، نو ځکه لائیزم دین او دولت سره بېلول غواړي، پداسي حال کي چې سیکولاریزم بیا دین او دولت دنیوي کول غواړي، د سیکولاریستانو په آند هر هغه څه چي

1- شیدان وثیق، لائیسته چیست؟، ص ۵۸.

د دین نړۍ لپاره وي، هغه باید ومنل سي، بلهنړۍ نسته او پر مبهمو شیانو باندي باید باور ونسي. نو سیکولاریزم د ټولني تدریجي تحول د دنیوي اصولو پر بنسټ غواړي، پداسي حال کي چي لائیزم بیا دین ته د ارزښت په سترګه ګوري، خو د دولت او دین ترمنځ یوازي بېلتون غواړي.

# لیبرالیزم[1]

د لیبرالیــزم د لغــت مانــا ازادي غوښــتل دي، او د لاتینـــي ژبـــي د (لیبریـد[2]) څخـه اخیسـتل سـویده چـي مانـایي ازادي ده. پـه او سـنی انګلیسي ژبه کي ورته (لایبرټي[3]) وایي چي د ازادۍ مانا ورکوي. که څه هم په انګلیسي ژبه کي(لایبریټي) او(فریډم[4]) یوه مانا ورکوي خو د دوی تـرمنځ یـو څـه تـوپیر هـم شـتون لـري، یـانې کلـه چـي د ټولنیزې ازادۍ په اړه خبري کیږي نو د(لایبریټي) اصطلاح کارول کیږي او کله چي په فلسفي کي د ازادۍ پـه اړه خبري کیـږي نـو د (فریـډم) اصطلاح کارول کیـږي[5]. لیبرالیـزم پـر ازادۍ، د ازادۍ پـر فلسـفي او د ازدای پـر غورځنـګ بانـدي ګروهـي (عقیـدي) لرلـو تـه وایـي، کـه دا ګروهـه د حکومت د سیاست د چلن په توګه وي او که د وګړیز او یا ټولنیز ژوند د

---

[1]- Libralism .

[2] -Libereth

[3]- Liberty

[4] - Freedom .

[5]: ډموکراسي، تالیف: بشیر اخګر، ۲۰۰۸، ص ۲۰۲

طرز او دود په توګه وي. په دي سياسي مکتب کي د انسان د ژوند په هره برخه کي ازادي غوښتل کيږي[1].

د ليبراليزم سياسي فلسفه او غورځنګ د وګړو د ازاديو غوښتونکی دی، د ليبراليزم غورځنګ په حکومت او ټولنه کي داسي لار غواړي چي د هغه په واسطه د ټولني د غړو ازادي ترلاسه او وساتل سي. د دي سياسي مکتب ټوليزه مانا د وګړو د ازاديو غوښتل دي خو دا ازادي بايد بشپړه (مطلقه) نه وي؛ ځکه چي هيڅ دولت د خپلو وګړو لپاره بشپړه ازادي نه خوښوي. بلکي د وګړو لپاره بايد تر زياته بريده ازادي شتون ولي، ياني وګړي بايد فکري، عقيدتي، د بيان ازادي، د ګوندونو د جوړښت او غړيتوب ازادي، د کارکولو او د شيانو د رانيولو او خرڅولو ازادي ولري. د ليبراليزم په سياسي مسلک کي ازادۍ ته تر دي بريده ارزښت ورکول سويدی چي کيدای سي د ليبراليزم اساسي تګلاره او ټوليزي هڅي د ازادۍ د ترلاسه کولو او ساتلو په مانا سره وپيژنو.

ليبراليزم د وګړو د ازاديو سرچينه طبيعت ګڼي ياني د وګړو د طبيعي ازديو ساتنه غواړي. د ليبراليزم بنسټيزه تګلاره طبيعي او الهي قوانين جوړوي. د دي مکتب د پوهانو په آند انسان ته عقل او نيکي ډالۍ سويده او يوازي هغه ټولنه چي انسان پکښي زيږيدلی دی د هغه نيکي او عقل فاسدوي. د دوی په آند رواج، رسم او ټولنيز عادتونه د انسان بنسټيز دښمن دی. که چيري د انسانانو لاسوهني د دي لامل کيږي چي په ټولنه کي فساد او شرارت پيدا کيږي نو غوره خبره داده

---

[1]: د سياسي اصطلاحاتو قاموس، ژباړن: سيد عبدالله پاچا، دانش خپرندويه ټولنه، چاپ ۱۳۸۴، ص ۱۳۸

چې هرڅه پر خپل حال پرېښودل سي، دا ګروهه د لیبرال پوهانو سوداګرو ته ورکړه چي ازاد بازار کیدای سي د اقتصادي غوښتونو د پوره کولو او شتمنیو د زیاتولو لپاره ګټور تمام سي[1].

د لیبرالیزم په سیاسي فلسفه کي حکومت نسي کولای چي په اقتصادي چارو کي لاسوهنه وکړي او یا د ټولني لپاره اقتصادي تګلاري وضع کړي، او نه هم دولت کولای سي چي د وګړو پر شخصي اړیکو باندي کنټرول او څارنه ولري، بلکي هر شخص ازاد دی چي خپلي اړیکې د چا سره په کومه اندازه ټینګوي. په سیاسي برخه کي هم دولت د خلکو ملاتړ کوي خو خلک د دولت بشپړ حاکمیت نه غواړي او خپله ازادي ساتلای سي[2].

لیبرالیزم د رنسانس د دوري څخه وروسته تر ټولو ایډیالوژیګانو د زیاتو ملاتړکوونکو درلودونکي وه، دا به مبالغه نه وي که وواېو چي مډرنیزم یوازي د دي سیاسي فلسفي د اخلاقي او سیاسي اصولو ثمره وي. د مډرنیزم هغه حاصل چي نن ورځ په فکري ساحه کي موجود دی، د همدي لیبرالیزم څخه زیږېدلی دی. دلیبرالیزم دنظریاتو بنسټ پر وګړي باندي راڅرخي او ټول هغه روشونه او تګلاري دي چي دفرد دازادی دساتلو په موخه تر سره کیږي او ددي مکتب پیروانو ته (ازادي غوښتونکي- لیبرال) وايي. لیبرالیزم په پیل کي دخاصو ګوندونو او پوړونو لپاره کارول کیده مګر اوس دیوه سیاسي او فکر مکتب او

---

[1]: : مکتب های سیاسی، نوشته: فرشید اقبال، انتشارات: سبکباران، چاپ ۱۳۸۷، ص ۱۲۵-۱۷۰

[2]: فرهنګ واژه های مکتبهای سیاسي، فرهنګي، مذهبي، فلسفي، هنري (ایسم)، ګرداورنده: امیرمسعود خدایار، انتشارات محمد حسن، چاپ۱۳۲۷، ص۱۹۲.

لاري په حیث پیژندل سویدی چي عمومي اوصول یي په لاندي ډول دي:

الف: دفردي عقایدو دازادانه بیانولو ارزښت.

ب- پر دي باور چي ازادانه عقاید دفرد او ټولني لپاره ګټور دي.

ج- دهغو سیاسي او ټولنیزو بنسټونو ملاتړ چي په ازادانه ډول سره دعقایدو ښکاره کولو ته ریښتني بڼه ورکوي.

لیبرالیزم په اولسمه او اتلسمه پیړیو کي په انګلستان کي منځ ته راغلی او وروسته نورو هغو ټولنو ته چي ازادي غوښتونکي نظریاتو پکښي وده کړي وه او یاهم دانګلستان څخه په تقلید باندي یي ازادی غوښتونکي غورځنګونه رامنځ ته کړي وه، انتقال سو. دلیبرالیزم سیاسي عقیده پر دوو شیانو باندي ډیر ټینګار کوي:

الف: دخپلسري او مطلق قدرت مخنیوی او دقدرت دټولنیز کیدو لپاره هڅي.

ب- دشخصي عقایدو په ازاد ډول ښکاره کول.

دلیبرالیزم لمړنی ټینګار دادی چي دخپلسري(استبدادي) قدرت مخنیوی وکړي، او دسیاسي موخو څخه یي هم یوه موخه ددیني عقایدو ازادي ده. په اروپا کي دلیبرالانو دمبارزي په وخت کي دوی ددین سره سخت په ټکر کي وه، او دروڼ آندی مخکښان هم ددي ډلي څخه وه، دوی ددیني(کلیسا) تر خپلسري قدرت دعقل حکومت ته لوړتوب ورکاوه. دوی په ځینو وختونو کي په سیاسي او مدني برخو کي دقانون څارنه او په اقتصادي برخه کي یي دازاد بازار غوښتنه کول. همدارنګه دوی دفردي ازادی، دقدرت دڅو مرکزونو(پلورالیزم) او سیمه ایزي او ډلیزی ازادیو غوښتنه کول. دلیبرالیزم دازادیو داصولو

ثخه یوه هم دفعالي ازادی شتون دی، یعني فرد باید دومره ازادی ولری چي په خپل ازاد توان او دعقیدي په ازادانه بیانولو سره دخپل ژوند پرمختګ او اسانتیاوي لاسته راوړي او ددي لاري ثخه دټولي ټولني لپاره ګټور تمام سي.

# لیګالیزم[1]

لیګالیزم د انګلیسي ژبې د (لیګل[2]) څخه اخیستل سوی دی، چې مانا یې قانون، شرعیت او حقوق ده، په پراخه مانا سره دا اصطلاح دا سې یو سیاسي نظام ته ویل کیږي، چې هغه د قانوني، شرعي او حقوقي ارونو پربنسټ ولاړ وي. ددې سیاسي مکتب وړاندیز دا دی، چې د ژوند په ټولو چارو کې باید قانوني، قضايې او حقوقي ارونو پلي کړل سي.

دا فلسفه د چین فیلسوفانو پر پښو ودرول، خو ځیني پوهان بیا وایې، چې ددې فلسفې په اړه په لرغوني روم کې هم اندونو شتون درلودی او دا ډله پوهان دا فلسفه د لرغوني روم د حکومت د اندونو میراث بولي. دا ډله پوهان پدې اند دي، چې د لرغوني روم په حکومت کې هم دا ارونو وه، چې وګړو او دولتونو په خپلو منځونو کې د حقوقي، قضايې او قانوني ارونو پربنسټ اړیکې نیولې. همدا رنګه دا مکتب ټولې بشري اړیکې د قانون، حقوقو او قضا پربنسټ غواړي.

د دولت او وګړو ترمنځ د اړیکو په اړوند د لیګالیزم مکتب وایې، چې دولت یو قانوني اورګان دی؛ نو دولت ته لازمه ده، چې د خپلو

[1] - Legalism

[2] - Legal

حقوقي، قانوني او قضايي واکونو په چوکاټ کې واکمني وکړي او په ټولنيزو او اخلاقي چارو کې باید لاسوهني ونکړي.

لکه څرنګه، چې مو مخکې اشاره وکړه دلیګالیزم په فلسفه کې چنایانو زیات کار کړی دی او دومره یې مشهوره کړیده، چې نن ورځ ځیني پوهان پدي اند دي، چې دا یوازي چنایي فلسفه ده. پدي فلسفه کې چنایانو د زیږیدیز څخه (۴۷۵-۲۲۱) مخکې کار کړی دی او د هغه وخت په استبدادي جګړو او اړودوړ کې یې نومیالیتوب ته رسولي ده. پدي فلسفه کې د چنایي فیلسوف (زونګ[1]) اندونه ورګډ سول، نو موږ ی فیلسوف پدي اند و، چې د انسان طبیعت او ټولنیز جوړښت په فطري ډول نیمګړی پیدا سوی دی؛ نوځکه دیته اړتیا لیدل کیږي، چې انسان خپل طبیعت په قانوني ډول سره کنټرول کړي.

دهمدي قانوني، حقوقي او قضايي اندونو پربنسټ لیګالیزم وروسته د یوي داسي سیاسي فلسفي بڼه غوره کړه، چې په ټولنه کې باید قوانین پلي سي او د ناوړو کړنو لپاره په نوموړو قوانینو کې سختي سزاګاني ځای کړل سي. ددي سیاسي مکتب پر بنسټ ټولې ځانې خپلواکۍ باید په بشپړ ډول د دولت تر کنټرول او څارني لاندي راسي او وګړي باید خپل ټول فعالیتونه د دولت د واکمنۍ د ټینګښت لپاره ځانګړي کړي.

په دي فلسفه کې پر زونګ سربیره نورو چنایي فیلسوفانو لکه (شانګ یانګ[2])، (لیسي[3]) او (هنفیزي[4]) هم کار وکړ.

---

[1] -Xung
[2] - Shang Yang
[3] - Li Si
[4] - Hanfeizi

نوموړو لیګالیستي فیلسوفانو ددي سیاسي مکتب لپاره دري ټولیز وړاندیزونه وکړل:

الف- د قانون او حقوقو پراخه واکمني(فا[1]).

ب- د نظم راوستلو غوره لاري(شو[2])، ښه مسؤلیت (زینګمینګ[3]) او ټیټې بیې (وازین[4]).

ج- سیاسي چاري په ښه مهارت سره سرته رسول (شي[5]).

د لیګالیستانو په اند انسان په ذاتي ډول ځانپاله او کم عقله پیدا سوی دی؛ نوځکه دولت باید د هغو ټولنیز همغاړیتوب په خپل لاس کي واخلي. دولت باید ددوی په هنرونو باندي ونه غولیږي، بلکې دولت باید هڅه وکړي، ترڅو ددوی د ټولنیز نظم لپاره خپل ټول قانوني او حقوقي ارونه په دوی ومني.

لیګالیستان د حکومت قانوني او حقوقي سیستم خوښوي او وایې، چي حکومت باید د بدو کړنو لپاره جزا او د ښو کړنو لپاره ډالۍ وټاکي. همدارنګه ټول وګړي باید د دولت او د واکمن د واک د پراخه کیدو لپاره هلي ځلي وکړي. دا سیستم په زوروا کې ډول سره (قین[6]) د چین په کورني سیستم کي پلی کړ او د لیګالیزم فلسفه یې بدنامه کړه[7].

---

[1] -Fa
[2] Shu
[3] - Xingming
[4] - Wuxian
[5] - Shi
[6] -Qin
[7] - English Wikipedia and English Encyclopedia.

# ماټريارشي[1]

د ماټريارشی اصطلاح د یوناني ژبي د دو کلمو څخه ترکیب سویده، چي (میټر[2]) د مور او (ارچین[3]) د حکومت یا واکمنۍ په مانا دی. نو ماټريارشي د مور یا ښځي د حکومت کولو په مانا ده. په لنډ ډول ویلای سو، چي ماټريارشي د هغه سیاسي مکتب نوم دی، چي واک په سیاسي، اخلاقي او ټولنیزو چارو کي مېندو ته سپارل سوی وي. ماټريارشی ته په پښتو کي (موروواکي یا مورمشري) هم ویل کیدای سي او دي ډول ټولني ته (جینوکراټیکه[4]) ټولنه ویل کیږي.

د ماټريارشي اصطلاح د (پاټريارشی[5]) د اصطلاح په خلاف کارول کیږي، چي پاټريارشي د پلار حکومت ته ویل کیږي. په ماټريارشی کي مور د کورنۍ مشره وي او واک ټول د مور په لاس کي وي.

سربیره پردي ماټريارشي د هغو ټولنو لپاره هم کارول کیږي، چي د ښځو واک د نارینه وو د واک سره برابر یا زیات وي همدارنګه د هغو ټولنو لپاره هم کارول کیږي، چي د ټولني کلتوري او بنسټیز ارزښتونه

---

[1] - Matriarchy.
[2] - Mater.
[3] - Archein.
[4] - Gynocratic.
[5] - Patriarchy.

د ښځو په ګټه وي او د ښځو ارزښت په ملي ارزښتونو کي ځای کړل سوی وي. چي غوره بیلګه یې مارکسیستي کلتور دی، په مارکسیستي کلتور کي ښځي د نارینه وو سره مساوي دي او د تولید په پروسه کي دواړه یو شان ونډه لري.

ماتریارشي له سیاسي اړخه د هغه وخته راپیلیږي، کله چي ښځه د ټولني هسته ګڼل کیدل او ټول سیاسي او ټولنیز واک د ښځي په لاس کي و، په ټولنه کي به هغي ښځي واکمني کول، چي تر نورو مشره وه، په کورنۍ کي هم مور او انا تر نورو غړو واکمني وي، د کورنۍ نارینه ته به ارزښت نه ورکول کیده کله چي به انا ژوندۍ وه، نو ټول لمسیان او زامن به پر انا باندي راټولیدل او کله چي به مور ژوندۍ وه بیا به نو ټول زامن پر مور باندي راټولیده. همدارنګه په ټولنیز ډول ماتریارشي هم په همدي ډول کارول کیږي او په کومو کورنیو کي چي ښځه تر نارینه واکمنه وي هغي ته ماتریارشي ویل کیږي[1].

لکه مخکي چي مو وویل، د ماتریارشي سره یوه بله ورته اصطلاح د جینوکراسي ده. جینوکراسي هغه حکومت او ټولني ته ویل کیږي، چي واک پکښي د ښځي په لاس کي وي او ښځه واکمنه وي، خو جینوکراسي د ماتریارشي سره یو څه توپیر هم لري او د تو پیر ټکی یې پدي کي دی، چي په ماتریارشي کي یوازي واک د مور په لاس کي وي او په جینوکراسي کي بیا واک د ښځي په لاس کي وي هغه که مور وي او یا نه وي خو واک پلی کوي. یو شمیر لیکوالان جینوکراسي د یوي ښځي حکومت او نور بیا د څو ښځو حکومت ته وایي خو په ټولیز

1 -English Wikipedia (انګلیسي پوهنغونډ)

ډول هغه حکومت چي د ښځو په لاس کي وي د جینوکراسۍ په نامه یادیږي.

د (هیلن ډاینر[1]) په خبره یو وخت د شمالي افریقا ښځو سیاسي واک په لاس کي درلودی، چي ډیره ځواکمنه جینوکراسي پکښي واکمنه وه. په جینوکراسۍ کي پر ښځو باندي تکیه کیږي، چي د ښځو تجربو ته زیات ارزښت ورکول کیږي. د (هیرودیټ) په خبره د ماتریارشي اصطلاح د لرغوني یونان په لیکوالانو پوري اړه لري، دده په خبره په ډیرو لرغونو وختونو کي د یونان په سیمه کي ښځو واک درلودی، د نارینه وو په شان به یې جامي اغوستلي او په جګړو کي به یې د نارینه وو په شان ګډون کاوه. دی زیاتوي، یوي پیغلي انجلۍ په هغه وخت واده کوی، کله چي به یې په جګړه کي یو نارینه مړ کړ[2].

پرماتریارشی (موروواکی) باندي د زیاتو پوهانو لخوا خبري سویدي، چي د دولت په پیدا ایښت کي هم دا ډول اند ګټور ګڼل سوی دی. په لاندي ډول یو شمېر پوهان د دولت په پیدا ایښت کي د موروواکی د اند اغیزي په ګوته کوي:

مورګان، مکلنان او جنکس د دولت د موروواکی د آند پلویان دي او پدي آند دي چي د لومړنیو ټولنو واحد د پلارواکی کورنۍ نه وي بلکي د موروواکی کورنۍ وي. کله چي یو سړی یوه یا څو ښځي ولري نو په اسانۍ سره د هغه نسب په نوموړي نارینه پوري اړوند کیږي. خو په لومړنیو ټولنو کي څومیړیز سیستم یا داچي یوي ښځي به څو مړونه لرل، رواج و. د دوی په آند کله چي څومیړیز سیستم موجود وي نو د

---

[1] - Helen Diner.

[2] - Britanica Encyclopedia2012 (د انګلستان دایرة المعارف)

میره او میرمني ترمنځ اړیکې چنداني نه وي ګرمي. په هغه وخت کي د کورنیو پرځای د ډلو ترمنځ سستي او کمزوري اړیکې موجودي وي چي د جنسي اړیکو ګډوډ اوبي قاعدي سیستم یې درلودی. پدي ډول نظام کي دوستي د مور د خواځخه وه نه د پلار د خواځخه. په لومړنیو ټولنو کي مورنۍ نسب په ریښتني ډول سره ترسترګو کیږي پداسي حال کي چي پلارنۍ نسب یو ګمان او اټکل دی. همدارنګه اولادونو به د مور په طایفي پوري اړه درلوده. پدي وخت کي به د پلرونو لپاره هم بیلابیل مورني نسبونه موجود وه، واده به د هغه چاسره کیدی چي د نوموړي ښځي د طایفي څخه بهر په بلي طایفي پوري به اړوندو.

د موروواکی د نظام ځانګړني په لاندي ډول دي:

۱- ډلیز ودونه، ۲- دوستي د ښځولخوا، ۳- یواځي د ښځو لخوا د کورنۍ د مالکیت پراختیا او ۴- د موروواکمني.

د موروواکی آند هم د پلارواکی په شان د ډیرو پوهانو لخوا تر نیوکو لاندي راغلی دی. ویل سویدي چي د موروواکی آند د پلارواکی د آند په څیر تاریخي ریښتني ریښي نلري. لکه څرنګه چي (مک آیور) ویلي دي ښځه یوازي د انتقال لامل سویده خو هیڅکله د واک خاونده نده سوي. نواړینه نده چي وویل سي چي دولت د پلارواکی یا موروواکی د کورنیو د پراختیا څخه زیږیدلی دی. لکه څرنګه چي (ګارنر) ویلي دي ((کورنۍ د دولت سره په جوړښت، بنسټ او تګلاري کي زیات توپیر لري، داسي ریښتنی دلیل نسته چي دولت دي د کورنۍ د پراختیا څخه زیږیدلی وي او یا هم یو د بل سره دي ټینګي اړیکې ولري)). په کورنۍ کي د پلارواک په طبیعي بڼه دی، خو په دولت کي د واک لاسته راوړل د ټاکنو د لاري کیږي. تابعیت د کورنۍ بنسټیز آر دی

پداسي حال کي چي د دولت بنسـټيز آر بيا برابري ده. نو ځکه دولت د کورنيو د پراختيا زيږنده ګڼل غوره خبره نده[1].

[1] - عبدالرحمن عالم، بنيادهای علم سياست، ص۱۷۴-۱۷۹

# ماټریالیزم[1] ( مادیت پالنه)

ماټریالیزم یا مادیت پالنه د ډیرو لرغونو سیاسي مکتبونو څخه دی، چي تاریخي ریښي یې لرغوني یونان ته رسیږي او پردي باندي عقیده درلودل دي، چي یوازي ماده شتون لري او ماده او طبیعت پر روح باندي لوړ دي. روح او (العیاذ با الله) هر هغه څه چي تر طبیعت هاخوا وي او فزیکي شتون ونلري لکه خدای، پرښتي پیریان... شتون نلري، دا ډول ماټریالیزم د (اټیزم) سره یو شان دی. د اټیزم مسلک پردي باندي عقیده لري، چي (العیاذ باالله) الله تعالي شتون نلري. د دغو دوو مادي فلسفو په منځ کي د پایلي له مخي توپیر نسته، ماټریالیزم د مثبتي لاري څخه خوځښت پیلوي او وایې، چي یوازي (ماده) شتون لري او دیته اړتیا نه لیدل کیږي، چي د مادي پرته نور شیان هم ومنل سي. خو اټیزم بیا د دي مادي فلسفي منفي خوا نیولي ده، چي وایې (العیاذ باالله) خدای نسته.

یو شمیر تاریخ پوهان پدي اند دي، چي د لرغوني یونان د هرو لسو تنو فیلسوفانو څخه نهه تنه یې مادیون وه، خو فیثاغورث او افلاطون

---

[1] - Materialism

بیا د روح شتون ته باوري وه او سقراط هم د کائیناتو مالک ته غاړه اینښي وه. اپیکور او زنو هم پر روح باندي ایمان درلودی.
دي مادي افکارو تر هغه مهاله په ځرګند ډول زیات شتون درلودی، تر کله چي د عیسویت دین خپریدی، کله چي دا دین خپور سو، مادي عقاید تر پردو (حجاب) لاندي سول بیا نو چا زړه نسو کولای، چي ماټریالیستي عقاید ځرګند کړي.
د فرانسي د لوی انقلاب (۱۷۸۹ز) په فرصت کي د افکارو خپلواکي چي دیني افکار هم پکښي شامل وه، اعلان سول، چي په همدي ترڅ کي وګړو وکولای سول، چي خپل افکار او عقاید په خپلواکه توکه ځرګند کړي؛ نو ځکه یو ځل بیا مادي افکارو ته لار پرانیستل سول او وغوړیدل. دا ډول افکار په نولسمه پیړۍ کي بیخي زیات سول او په زیاتو اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو مسلکو کي یې ځای ونیوی.
په همدي وخت کي زیات شمیر فیلسوفانو او پوهانو هم ماټریالیستي افکار ځرګند کړل او ملاتړ یې وکړ، د بیلګي په توګه (هابس) د خپلي مادي فلسفي بنسټ داسي ځرګندوي:
الف- هغه شیان، چي د اجسادو سره تړاو لري هغه ته هندسه، میخانیک او فزیک وایي.
ب- هغه چي د روحیاتو سره تړاو لري هغه ته فیزیولوژي (د غړو دندي) وایي.
ج- هغه شی چي مصنوعي شتون ولري هغه د ټولني یا دولت څخه عبارت دی.
نوموړی فیلسوف میخانیکي علت او معلول، خوځښت او د خوځښت قوانین یوازي د مځکي د خوځښت مدار بولي.

(سټالین) د مادي او ماټریالیستي عقیدي پر بنسټ وایې، چي مځکه په لومړي سر کي د اور یوه ټوټه وه، کرار کرار سړه سول، حیوانات او انسانان پیدا سول، چي طبیعت په همدي ډول بشپړتیا موندلې ده. انسان او د هغه ټولنیز ژوند هم پر یوه حال باندي پاته نسو، یوه زمانه وه، چي خلکو به د وحشت په حال کي د کمونیزم روحیه په پټ ډول پلې کول. دا هغه وخت و، چي انسانانو به د ځاني ځواک او مړتیا لپاره ښکار کاوه. (سټالین) د خپلې وینا په ترڅ کي د مارکس دغه غونډلي(جملي) بیانوي، چي (د انسانانو شعور د دوی د شتون ټاکونکی ندی، بلکي د دوی ټولنیز شتون د دوی شعور ټاکي).

## ډیالټیک ماټریالیزم[1]:

د ډیالټیک اصطلاح د فیلسوفانو په منځونو کي په بیلابیلو ماناوو سره کارول سویده، چي په لاندي ډول یې لنډه یادونه کوو:

(سقراط) دي اصطلاح ته په ډیره لوړه مانا ګوري، د ده په اند فلسفي خبرو اترو ته ډیالټیک ویل کیږي. فلسفي خبري هغه دي، چي د عقل او منطق تابع وي، یانې هر مطلب باید په داسي الفاظو سره څرګند سي، چي د عقل او فکر پر بنسټ وي او د هغه رد یا منل هم باید د عقل، منطق او دلیل پربنسټ ولاړ وي. (افلاطون) بیا د دي اصطلاح کارونه محدوده کړیده او یوازي یې منطقي کړنلاري ته ډیالټیک ویلی دی. د ده موخه داوه، چي د طبیعت ټول اثار باید تر یو ځانګړي قانون لاندي ډلبندي سي، ترڅو د ځانګړو اندونو او فرضیو په چوکاټ کي وڅیړل سي. (کانت) بیا په خپله نوې فلسفه کي د ډیالټیک اصطلاح د هغې

[1] - Dialetic Materialism

فلسفي نوم ګڼلی، چي هغه ته میتافزیک او انځور ویلای سو. (هګل) د (افلاطون) په څیر ډیالتیک منطقي تګلاره ګڼلی دی. او (مارکس) هم ډیالتیک د (هګل) په څیر کارولی دی، خو د توپیر ټکی یې دادی، چي د (هګل ډیالتیک آیډیالیستي (خیالپاله) دی او د (مارکس) ډیالتیک بیا ماټریالیستي (مادیتپاله) دی.

د پورتنیو فیلسوفانو د اندونو پربنسټ ډیالتیک په لنډ ډول داسي پیژندلای سو (ډیالتیک هغو فلسفي خبرو اترو ته ویل کیږي، چي ددو یا څو تنو ترمنځ د پوښتني او ځواب پر بنسټ وي)[1].

د ډیالتیک ماټریالیزم اصطلاح د لومړي ځل لپاره (کارل مارکس) د (هګل) د ایډیالیستي ډیالتیک پر وړاندي منځته راوړه؛ نو ځکه د مارکس ډیالتیک ته ماټریالیستي ډیالتیک ویل کیږي. د هګل ډیالتیک خیالي بڼه درلوده، دي په عقیدوي بڼه ایډیالیست و، له همدي کبله مارکس دده ایډیالیزم نه مني، خو ډیالتیکي لاره یې بیا مني. هګل په نړۍ کي یوه نړیوال عقل ته ژمن دی، چي دغه نړیوال بشپړ عقل د بشر د فکر او هوښ څخه لوړ دی. هغه وخت، چي یوه ټولنه بله ټولنه له منځه وړي او یا پر هغه باندي یرغل کوي، دغه نړیوال بشپړ عقل، چي یرغمل سوي ټولني ته ورکول سوی دی، باید واکمني ټولني ته وسپاري. دغه بشپړ عقل په حقیقت کي د نړۍ خوځنده ځواک دی او د نړۍ د نظام څرخونکی دی. هګل پدي ډول د نړۍ پر پیښو باندي د طبیعت څخه لوړ عقل او ځواک واکمن بولي، چي همدغه د هګل د ایډیالیزم بنسټ ګڼل کیږي. کارل مارکس ددغه طبیعت هاخوا عقل او ځواک پر ځای اقتصادي او مادي ځواک راولي په دي برخه کي لیدل

---

[1]-- فرشید اقبال، مکتب های سیاسي، تهران: چاپ سوم ۱۳۸۷، ص۸۸-۸۹

کیږي، چې هګل نه یوازي د بشر په اړه بلکې د ټولې نړۍ د اوښتونونو په اړه و خوځښت ورکونکي ځواک ته ژمن دی، خو مارکس پدغه فرصت کې د ټولې نړۍ پرځای د بشر د پیښنو په اړه اقتصادي او مادي ځواک ته په بنسټیز سبب ژمن دی.

مارکس د هګل ډیالتیک الېشوي، هګل عقیده درلودل، چې د نړۍ د ټولو چارو په سر کې د ټکر زښې شتون لري، یانې هره موخه او قضیه په خپل نفس او ذات کې د ټکر نطفه لري او د هغه څخه نه بیلیدونکي ده.

کارل مارکس د خپلو فلسفي عقایدو او څیړنو پر بنسټ د هګل پورته ټول شیان مني، خو ودغو ټولو ته ماټریالیستي یا د مادیت بڼه ورکوي او د مادیت له لیدلوري ټولې پیښې، فکرونه او فرضي څیرې او لولي.

مارکس تاریخ، پوړیز یرغلونه او نورې ټولنیزې پیښې پر اقتصادي ځواکونو ولاړ اقتصادي ځواک د بشري تاریخ د ټولو پیښنو بنسټ او سبب ګڼي، چې دغه تلنلاره او فلسفه په بشپړه توګه د هګل د فلسفي سره په ټکر کې ده؛ ځکه چې هګل د ټولو پیښنو او بشریت خوځنده روحي ځواک بولي، چې په حقیقت کې میتا فزیکي بڼه لري، په داسې حال کې، چې د مارکس فلسفه په بشپړ ډول د مادیت پربنسټ ولاړه ده[1].

[1]- محمد نادر ایوبي، سیاسي نظریات، مخ۴۸۸-۴۹۰

# مارکسیزم[1]

مارکسیزم د انسان د ټولنیز- تاریخي ژوند د تحول او پر هغه د قانون د واکمنتوب په اړه د الماني فیلسوف کارل مارکس (۱۸۱۸-۱۸۸۳ز) او دده د نژدې ملګري فریدریک انګلز، چې د نوې کمونیزم د فرضي بنسټ ایښودونکی هم ګڼل کیږي، تلنلاري او فلسفي ته ویل کیږي. مارکسیزم په پراخه مانا فلسفي- سیاسي مکتب دی، چې د مارکس او انګلز د روسي شاګردانو پلخانوف او لینن لخوا یې ځېني خلاوي ډکي سولي او د پراخه نظري سیاسي مکتب په بڼه را څرګند سو. که څه هم ډیري هڅي سوي دي، چې د مارکس او لینن آندونه سره بېل کړي، خو بیا هم دا هڅي ناکامه سوي دي، ځکه چې د مارکس او لینن آندونه په ډیرو برخو کي سره ګنډلي دي.

د مارکس او انګلز آندونه، د آلماني فیلسوفانو هیګل او فویر باخ او هم د فرانسي د سوسیالیزم چې د فرانسي د انقلاب څخه وروسته منځته راغلی، تر اغیز لاندي سول. همدارنګه په اقتصادي برخه کي د انګریزي اقتصاد پوه ریکاردو د آندونو تر اغیز لاندي راغلی، چې

[1] - Marxism.

ددې آنـدونو پـه ورګډېـدو سـره د مـارکس او انګلـز آنـدونو پراختیـا ومومندل او زیاتي خلاوي یې ډکي سولي.

د مارکس په آند بشري تاریخ طبیعي دی، چې بنسټ یې د انسانانو پـر مـادي غوښـتونو او ارزښـتونو بانـدې ولاړ دی. دا اصـل د تـاریخي ماټریالیزم د بنسټ په بڼه هم ګڼل سوی دی[1].

د مارکسـیزم پیدا ښت پـه بشـریت کـې سـتر اقتصـادي، سیاسـي او ټولنیز بدلونونـه راوستل او زیـات وګـړي یـې تـر خپـل مفکـوروې اغیـز لاندې کړل. د مارکسیزم تلـنلاري داسې انقلاب راوستی چې د ټـولني کښته پوړ (کارګر پوړ) یې د ټولني واکمن پوړ کړ او هڅه یې کول چې د ټـولني چارې د همـدې ځپلـي او خـواریکښ پـوړ پـه لاس کـې ورکـړي. د مارکسـیزم فلسـفه نـه یـوازې د یـوې ټـولني پـر داخلـي جوړښت بانـدې راڅرخـي بلکـې دا یـو لـوی نـړیـ لیـد هـم دی. ددې تلـنلارې بنسـټیزه غوښتنه داده، چې د ټولني واکې د کارګر پوړ په لاس ورکړي او ټولنه د همدې کارګر د لارښوونو پر بنسټ اداره کړي[2].

د مارکس په آند که څه هم سرمایه داری نظام پـه نړیوالـه کچـه د تولیـد غوره زمینه برابره کړیده، خو بیا هم د بشریت د پرمختګ او تکامـل پـه لاره کـې لـوی خنـډ ګڼـل کیـږي. سـرمایه داري د نـورو د فقیـر کولـو او بیوزله کولو پر مټ پرمختګ کوي، یـانې پـه سرمایه داری کـې د نـورو وګړو بېوزله کول او د کارګر پوړ تر پښو لاندې کول شتون لـري، چـې د زبیښناک له لارې د ټولني یو کوچنیـ پوړ زیاتـه شـتمني پیدا کوي. دده پـه آنـد کلـه چـې پرولتاریـا (کـارګرو) تـه واک پـه لاس ورکـړل سـي، نـو

---

[1]- داریوش اشوري، دانشنامه سیاسی، ص۲۹۰.

[2]- امیر نیک آین، واژه های سیاسی و اجتماعي، ص۱۲۲.

سرمایه داري نظام سره پاشي او ټولنه د پوړیزي بڼې څخه باسي. دی زیاتوي په سرمایه داري نظام کي ټولنه پر پوړونو باندي ویشل سویده، خو کله چي کارګر واک په لاس کي واخلي نو په ټولني کي پوړونه له منځه وړي او ټول وګړي یو شان کوي. همدارنګه کله چي کارګر واک په لاس کي واخلي نو په ټولنه کي هغه حالت ته چي یو انسان د بل انسان څخه ګټه اخلي او یا د هغو د کړنو څخه استفاده کوي، له منځه ځي بلکي د کار وسایل به د ټولني د ټولو وګړو ګډ ملکیت وي او پخواني جبر به له منځه ولاړسي.

په مارکسیزم کي د زبېښاک یا ګټې اخیستني مفهوم ډیر ارزښت لري. د مارکس په آند په ټولنیز تولید کي د مالکانو او کارګرو ترمنځ اړیکې شتون لري، چي مالکان د زبېښاک پر بنسټ کارګر د خپلو ګټو لپاره کاروي، د کارګرو د کار ثمره د شتمنو لاس ته لوېږي، نو ځکه ویلای سو، چې په پانګواله نظام کي د کارګرو زبېښاک شتون لري او مالکان د دوی د کار او زحمت ثمره خوري. یانې په دي ډول نظام کي شتمن او مالکان د خپلو شتمنیو د ګټو پر بنسټ زیاته ونډه اخلي او کارګرو ته کمه ونډه ورکوي، همدا لامل دی، چې په ټولنه کي د پوړونو ترمنځ ټکر او تضاد منځته راځي، چې همدي ته پوړي ټکر ویل کیږي.

مارکس د ټولنیزو پوړونو د ټکر په اړه ژر او احساساتي پریکړي نه کوي، بلکي دی غواړي، چې ټولنیز قوانین کشف کړي او د علمي لارې څخه ددي چاره ولټوي.

**د دولت په اړه د مارکس اند:**

د دولت په اړه د هیګل او مارکس آندونه خورا زیات ټکر لري، د هیګل په آند دولت د ټولني د ملاتیر دی او د نړیوال نظام بنسټ دی،

خو مارکس بیا دا خبره نه مني، دده په آند دولت د ټولني د پوړونو د ټکرونو او تضادونو په پایله کي رامنځته سوی دی، چې یوازي د واکمن پوړ د سلطي او واکمنۍ د پاینښت لپاره کار کوي. مارکس زیاتوي، دولت د بېوزلو او کارګرو د زبېښناک لپاره د شتمنو او واکمنانو لپاره قوانین پلي کوي او تولیدي وسایل لا نور هم د شتمنو په لاسونو کي اچوي. د مارکس په آند دولت د ټولنیزو پوړونو د ټکرونو په پایله کي رامنځته سوی دی، چې یوازي د زور او جبر بنسټ ګڼل کیږي، ترڅو د زور او جبر له لاري محکوم پوړ نور هم وځپي. د دولت په هره برخه کي د قدرت او واک خبره مطرح کیږي. دی د هغو پوهانو دا آندونه ردوي، چې وایي دولت د ټولنیز نظم ساتونکی دی، بلکي دده په آند دولت واکمن پوړ ته د محکوم پوړ د ځپلو لپاره وسایل چمتو کوي، ترڅو هغه ټکرونه چې د پوړیزو تضادونو له امله منځته راغلي دي، د زور او جبر له لارې د واکمن پوړ په ګټه ارام کړي.

مارکس د دولت په اړه د خپل آند وروستۍ پایله داسي څرګندوي، چې دولت د پوړیز اړودوړ او ټکرونو په پایله کي رامنځته سوی دی او د واکمن پوړ لپاره د محکوم پوړ د ځپلو لپاره وسیله ګڼل کیږي، نو ترڅو چي په ټولنه کي پوړونه شتون ولري، تر هغو به دولت هم وي، خو کله چي ټولنه د پوړونو څخه خلاصه سي، بیا نو د دولت شتون ته هیڅ اړتیا نه لیدل کیږي او وګړي به بیا په خپلو منځونو کي دوستانه او د خپلي خوښي اړیکې ولري.

د مارکس اندونو پر کمونیزم باندي زیات اغیز وکړ، چي وروسته دده تلنلاره د (مارکسي کمونیزم) په نامه سره هم ونومول سول. مارکس

پدې تلنلاره کې یو شمېر ارونه ټاکلي دي، چې په لاندې ډول یې لنډه یادونه کوو:

**۱ . ډیالټیک مارکسیزم:**

دا فلسفه ماټریالیزم ته ورته ده، چې د ټولي هستۍ بنسټ (ماده) ګڼې، ددې فلسفې پر بنسټ پدې نړۍ کې ټول موجودات مادي بنسټونه لري، چې د ډیالټیک قوانینو تر سیورې لاندې بدلون کوي. مارکس یوازې ډیالټیک د تاریخ او بشري ټولني سره همږغۍ ګڼي، خو انګلز بیا د ډیالټیک لمنه پراخه کړه او ټول طبیعت یې پکښې را ونغښتۍ.

**۲ . ټولنیزه فرضیه:**

د مارکس په اند اقتصادي تولیدي سیستم هغه یوازنۍ محور دی، چې ټول ایډیالوژیکي جوړښتونه او ټولنیز بنسټونه ور باندې ولاړ دي.

**۳ . پوړیز اړودوړ (کشمکش):**

د مارکس په اند ټولنیز اړودوړ د مادي او اقتصادي لاملونو له امله دی، مارکس په تاریخ کې وایې ((ببله پوړیزې جګړې څخه نړیوال بدلون او پرمختګ ناشونی دی، او هر ډول جګړه یا انقلاب چې پوړیزه بڼه ونلري، بې ګټې دی)).

**۴ . د تمدن د تکامل فرضیه:**

مارکس وایې ((د بشري تمدن په تکامل کې څو پړاوونه یو په بل پسې راغلي دي، چې په هر پړاو کې د توکو یو ځانګړی تولیدي او تبادلوي سیستم منځته راغلی دی، چې انساني اړیکې هم د همدې سیستم پر بنسټ ولاړې دي)).

**۵. نوی سوسیالیزم:**

مارکس د جان ستوراټ میل او توماس هیل ګرین پر پخواني سوسیالیزم باندي بیا کتنه وکړه او هغه یې اصلاح کړ، چې همدا اصلاح سوی سوسیالیزم یې نوی سوسیالیزم و نوموی. دی وایې ((تولیدي توکې او شتمني یوازي د شتمنو په لاسونو کي لویږي او د توکو د بیو د ټاکلو واک هم یوازي شتمن او سرمایه داره لري، دا کار ددي لامل ګرځي، چې شتمني نوره هم د شتمنو په لاسونو کي ولویږي او بیوزله او کارګر نور هم بېوزله سي))، دده په اند د کاپیټالیزم دا ځانګړنه ددوو امرونو لامل ګرځي:

الف- په بیساري او زیاته کچه د تولید اندازه؛

ب-د انحصاراتو رامنځته کیدل؛

ددي ځانګړنې پر بنسټ شتمني او تولیدي توکې د ټولني د یوه کوچني پوړ په لاسونو کي لویږي او ټولنه پر دوو پوړونو (شتمنو) او پرولتاریا (کارګرو) باندي ویشل کیږي. زیات وګړي بېوزله کیږي او ورځ تر بلې بېوزلي زیاتېږي. د شتمنو پوړ ورځ تربلې کوچنی کیږي او شتمني یې زیاتیږي، چې په پایله کي د شتمنو او بیوزلو ترمنځ ټکر منځته راځي او د پرولتاریا (کارګرو) په انقلاب باندي بدلېږي.

**۶. د پرولتاریا انقلاب:**

د مارکس په اند د پرولتاریا (کارګرانو) انقلاب په حقیقت کي د کارګرانو راوېښیدل دي، دوی د سیاسي واک د پاره انقلاب نه کوي، بلکي د خپل ژوند د کچې د لوړوالي د پاره راپورته کیږي. دده په اند د پرولتاریا انقلاب لومړی موخه باید د ټولنیزو پوړونو لکه کاپیټالیزم او بورژوازۍ د منځه وړل وي.

**۷. بې پوړه ټولنه (د مارکس ایډیال):**

د مـارکس پـه انـد د کـارګرانو د انقـلاب څخـه وروسـته یـوه نـوې دوره منځته راځي، چي هغه ته د (پرولتاریا دیکتاتوري) ویل کیږي، چي دا دیکتـاتوري د کاپیتـالیزم او ایـډیال تـرمنځ واټـن دی. د پرولتاریـا دیکتـاتورۍ څخـه وروسـته (بې پـوړه ټولنـه) منځتـه راځـي، چـي ددي ټولني په پیدا ایښت سره پرولتاریا دیکتاتوري پخپله له منځه ځي.

**۸. د تاریخ اقتصادي سپړنه:**

د مارکس په اند تاریخ د پوړونو (طبقو) تـرمنځ د اړودوړ پـه پایلـه کـي رامنځتـه کیـږي، نـه د ولسـونو تـرمنځ د اړودوړ پـه تـرڅ کـي، تـاریخي پیښي تل د اقتصادي ځواکونو تـر اغیـز لانـدي رامنځتـه کیـږي او هغـه اقتصادي اړیکې چي پوړونه سره نښلوي تر هغـو اړیکـو ډیـري ټینګـي دي، چـي د ولـس وګـړي سـره نښـلوي. همدارنګـه انقلابونـه او تـاریخ د پوړونو د کشمکش په ترڅ کي منځته راځي.

**۹. ډیموکراسي او لیبرالیزم:**

مـارکس ډیموکراسـي، لیبرالیـزم او یوتیلیتاریـانیزم د منځنـي پـوړ (بورژوا) ایډیالوژۍ بولي او هغه ردوي. پدي ایډیالوژیو کي یو شمېر دودیزي خپلواکۍ لکه سیاسي، د بیان او عقیـدي خپلـواکي، د کـار او اوسیدلو خپلـواکې او د ټـاکنو خپلـواکۍ غیـري ریښـتني ګڼي؛ ځکـه چي پر اقتصادي بنسـټونو بانـدي نـدي ولاړي، او دا خیـالي او ګـونګي بولي او په عمل کي دا خپلواکۍ د غلامۍ د پاره نوې فورمولونه ګڼي لـه همـدي کبلـه مـارکس د سیاسـي انقـلاب پـه خـلاف دی؛ ځکـه چـي اقتصادي ګټي د ځان سره نلري.

همدارنګـه مـارکس یـو شـمیر نـور ارونـه هـم لـري، چـي د شـتمنو او بورژوازۍ سره په خلاف کي دی او شـتمن خلـک د بېوزلـو زبېښـاکګر ګڼي. سـربېره پـردي مـارکس د دولـت پـه اړه هـم اندونـه ورکـړي دي او دولت د پوړونو ترمنځ د کشـمکش پایله بولي، دده پـه انـد دولـت تـل د واکمن پوړ ګټي ساتي او په کاپیټالیستي نظامونو کي دولـت یـوازي د شتمنو د ګټو ساتونکی دی[1].

**مارکسیزم د مارکس څخه وروسته**:

د نولسـمي پیـړۍ پـه وروسـتۍ لسـیزه کـي کـارګر پـوړ ډیـر ژر او پـه چټکۍ سره په اروپا کي د مارکس د آندونو تـر اغیـز لانـدي راغلـی. خو ډیر ژر د ښۍ اړخو او کیڼ اړخو ترمنځ د مارکسیزم پر سر اختلاف پیدا سو، چي باالاخره په نړیواله کچه د کارګرو د پاشل کیدو لامل سو.

په روسیه کي د بلشویزم د پیدا ایښت او بریالیتوب سره سم مارکسیزم پر دوو ښاخونو ترقي غوښتونکو او انقلابي باندي وویشل سو، ترقي غوښتونکی مارکسیزم چي په لویدیځه اروپا کي یې پرمختـګ وکـړ د ریزونیزم سره یوځای سو، چي بالاخره د سوسیالیزم اخلاقي قواعدو ته تسـلیم سـو او د مارکسـیزم څخـه یـي فاصـله پیـدا کړه. خـو انقلابـي مارکسیزم، چي د کمونیزم نـوم یې ځانتـه غـوره کـړ، د روسـي بلشـویزم لخوا نړیوال سو او په هغـو هېوادونـو کـي چي د انقلابونـو لپـاره زمینـه پکښی برابره وه، ډیر پرمختـګ یې وکـړ، یـانې انقلابي مارکسـیزم پـه روسي او دریمه نړۍ کي زیات پرمختګ وکړ.

د مـارکس د مړینـي څخـه وروسـته مارکسـیزم د یـوي ایـډیالوژۍ بڼـه خپلـه کـړه، چـي زیـاتره وخت یـې د مـذهبي او اوخـروي چـارو پـر ځـای

---

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴ل، ص ۱۷۹-۱۸۲

دنیوي او مادي چارو ته غوره والی ورکوی، چې علمي اړخ یې د ډیالتیک ماتریالیزم په مرسته بشپړ سو.

**مارکسیزم-لیننیزم**:

لیننیزم د مارکسیزم یوه ځانګړې بڼه ده، چې د روسي د بلشویکي انقلاب مخکښ (لینن) ته منسوب دی. کله چې په روسیه کې بلشویکي انقلاب وسو، نو بنسټ یې د مارکسیزم پر اندونو باندې ودرید‌ی له همدې کبله لینن په مارکسیزم کي د حالاتو او ځای سره په همږغې یو شمېر اصلاحات او بدلونونه راوستل، چې همدا دده اصلاحات وروسته په (مارکسیزم-لیننیزم) باندي ونومول سول.

لینن مارکسیزم ته خپل عقاید په دوو پړاوونو کي ور ننویستلي دي، چي لومړی پړاو یې د روسي د انقلاب څخه مخکي و او دوهم پړاو یې د انقلاب څخه وروسته و:

**الف- د لینن د اندونو لومړی پړاو**:

لینن د روسي د انقلاب څخه مخکي په بشپړ ډول د مارکس د اندونو او ډیالکتیک ملاتړی و، دی د مارکس په شان پدي اند و، چي روسیه لا تر اوسه د کارګري انقلاب وړتیا نلري او د روسي شرایط لا تر اوسه د پرولتاریا د انقلاب ندي. له همدي کبله لومړی باید په روسیه کي د بورژوا انقلاب وسي (لکه د فرانسي انقلاب) او تزاري بشپړ او استبدادي واک باید د ډیموکراسۍ او منځني پوړ پر مشروطیت باندي ولاړ وي، وروسته له دي، کله چي صنعت او فابریکو پر مختیا وکړه، د کارګرانو شمېر پر زیاتیدو سو او په کارګرانو کي پوهه او د وجدان ویښتوب پیدا سو بیا نو د پرولتاریا انقلاب شونی دی.

د روسي د انقلاب د پیل څخه وروسته کله چې د (کرنسکي) رژیم را وپرځیدی، تر دي وخته لا لینن په همدي اند باندي و، خو د هغه ځوان ملګري دده سره په خلاف کي سول او دده اند یې نه منی، لې پاته و، چې لینن د صحني څخه وه ایستل سي او د انقلاب واک دده ملګري په لاس کي واخلي، لکه څرنګه چې لینن د حالاتو او پیښو ښه پیژندونکی و، نو ډیر ژر یې خپلو اندونو ته بدلون ورکړ او په ناڅاپه بڼه یې لومړی کارګري انقلاب بېله بورژوازي انقلاب څخه ومنئ او د هغه مشرتوب یې پر خپله غاړه واخیستئ. لکه څرنګه چې ده خپل اندونه او عقاید ډیر ژر بدل کړل نو ځکه یې د مارکس او انګلز په تګلاره کي یو شمېر بدلونونه راوستل او خپل نوی کتاب (دولت او انقلاب) یې چاپ کړ.

**ب- د لینن د اندونو دوهم پړاو**:

(۱). لینن د مارکسیزم زیات شمېر ارونه بیځایه ګڼي او د مارکس او انګلز د فلسفي اصلاح کول غواړي. لینن مارکسیزم یوه مذهبي تلنلاره ګڼي. د لینن مارکسیزم یوه پریکړنده او عمومي تلنلاره ده. دده موخه داوه، چې د انقلاب د پاره ځانګړي مسلکي انقلابي ډله (انقلاب چیان) وروزي. لینن په لاندي فرضیه کي مارکسیزم ته یو شمېر زیاتوني کړیدي:

الف- د امپریالیستي جګړې فرضیه: د لینن په اند دا جګړه په طبیعي بڼه د یو لړ اختلافاتو له امله رامنځته کیږي، چې د یوي کاپیټالیستي شخړي په بڼه ځان ښکاره کوي او موخه به یې د مادي نعمتونو ویشنه وي، چې پدي پړاو کي کارګران هیڅ ډول ګټې نسي تر لاسه کولای.

ب- د امپریالیزم په پړاو کې د کمونیزم فرضیه: ددې فرضې پر بنسټ کله چې کاپیټالیزم خپل وروستي پړاو ته ورسیږي او امپریالیستي بڼه ځانته غوره کړي، پدې وخت کې د پوړونو ترمنځ اړودوړ او ټکرونه رامنځته کیږي، چې په پایله کې یې کمونیزم راپورته کیږي. پدې وخت کې لکه څرنګه چې د نړۍ ټول وګړي د زبیښاک او انحصاراتو څخه زړه تنګي سوي وي نو د کمونیزم د پیاوړتیا لامل ګرځي.

(۲). **انقلاب:**

لینن د انقلابي فکر لرونکی و او د مارکسیزم انقلابي اړخ یې ژوندۍ کړ. دی د انقلاب د پاره دوه ارونه په ګوته کوي: (لومړی) د مارکسیزم پر بنسټ د ایډیال یوالی، (دوهم) تر سخت ګوندي ډسپلین لاندي د ماټریال (مادیت) یوالی. لینن د کاپیټالیست او بورژوازۍ پوړ سره سخت مخالف و او غوښتل یې چې هغه د پښو څخه وغورځوي.

(۳). **ګوند او ګوندي تاکتیک:**

لینن د کمونیست ګوند تاکتیک او تلنلاره په لاندي ډول ټاکي:

۱. د ګوند دغړو شمېر باید محدود او په یوي تنګي دایري کې را ګیر و؛.

۲. په ګوند کې د ګوندي رازونو د ساتلو په اړوند باید ټینګ ډیسپلین شتون ولري؛

۳. ګوند د روڼ اندو او پوهو کسانو څخه جوړیږي او هغه سازمان دی، چې د پرولتاریا په ملاتړ د واک د لاسته راوړلو د پاره مبارزه کوي؛

۴. د لینن په اند په ګوند کې باید فکر او عمل دواړه کنټرول سي له همدي کبله د نرمو نیو کو سره همږغی دی؛

۵. ګوند ، د پرولتاریا دیکتاتوري منځته راوړي او هغه کنټرولوي او پرولتاریا دیکتاتوري د انقلاب او ایډیال (بې پوړه ټولني) ترمنځ زماني واټن کي واکمنه کیږي؛

۶. لینن د یو ګوندي سیستم پلوی دی او پدي اند دی چي بېله د کمونیزم د ګوند څخه باید بل ګوند شتون ونلري؛

(۴). **اقتصادي پریکړي**:

د ده په اند هر ډول سیاست او ایډیالوژي باید د اقتصادي سیستم د لاري وټاکل سي او یوازي اقتصادي تلنلاري باید د هغو په اړه پریکړي وکړي.

(۵). **د توکو ویشنه**:

د انقلاب په لومړیو کي باید توکې ټولو وګړو ته په مساوي بڼه وویشل سي خو وروسته به هرڅوک د خپل توان او ځواک په اندازه کار کوي او هغه ته به د هغه د اړتیا په اندازه دا توکې ورکول کیږي.

(۶). **کولکټویزم**:

لینن کولکټویست دی، یانې وګړیزي ګټې تر ټولنیزو ګټو قرباني کوي او د وګړیزو خپلواکیو سره په خلاف کي دی. خو تر یوي کمي اندازي پوري د رسنیو د نیوکو او خپلواکیو سره همږغی دی.

(۷). **توتالیتاریانیزم**:

لینن توتالیتاریانیست دی او په اقتصادي چارو کي د حکومت د لاسوهنو ملاتړی دی.

**(۸). مذهب:**

لینن پدې اند دی، چې مذهب د تاریاکو په شان دی، چې د وګړو اعصاب تباه کوي، د لینن دا خبره د مارکس د هغې خبرې سره یو شان ده، چې (دین د ملتونو اپیوم دی).

**(۹). د دولت تعریف:**

لینن دولت د ټولنې د پوړونو د غیري سوله ییزو او دښمنیزو مبارزو او یرغلونو پایله بولي. د دولت شتون خپله دا ثابته وي، چې د پوړونو ترمنځ دښمني هیڅکله پای ته نه رسیږي او دوی هیڅکله جوړ نه سره راځي. دولت د پوړونو د زبېښاک اله ده، چې د ټولنې څخه راپورته سوی دی او ځان یې تر ټولنې لوړ کړی دی.

**(۱۰). ډیالکتیک:**

لینن د مارکس ډیالکتیک یوازې د تاریخي او ټولنیزو لوستنو د پاره ګټور ګڼي[1].

**ستالینیزم:**

لکه مخکې چې مو وویل د مارکس فلسفه لومړی لینن وسپړله او زیات شمېر بدلونونه یې پکښې راوستل خو کله چې ستالین واک په لاس کې واخیستئ ده هم په خپل نوبت سره د حالاتو او دوخت د غوښتنو سره سم په مارکسیزم کې یو شمېر زیاتوني او کموني راوستلې. که څه هم ده نه غوښتل، چې په خپل نامه په مارکسیزم کې لاره وباسي خو بیا هم دده لاره د سیاسي اندونو په تاریخ کې دده په نامه (ستالینزم) باندې ونومول سول. ده په لیننیزم-مارکسیزم کې زیات شمېر بدلونونه راوستل، چې مهم یې د حکومت د کړنو

---

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسی، ۱۳۴۴ش، ص ۱۲۷-۱۷۱

تــاوتریخوالی او زیــاتوب دی، پــر دي ســربیره ده نــور بدلونونــه هــم راوستل، چې د ټولو لوستل یې پدي کتاب کې ناشوني ده.

# ماکیاولیزم[1]

ماکیاولیزم د نیکولو ماکیاولي، چې ایټالوی فیلسوف و، سیاسي تلنلاري او نړۍ لید ته ویل کیږي. د ماکیاولیزم سیاسي تلنلاري ته (نوی استبداد) هم ویل کیږي، دا تلنلاره د ایټالوي فیلسوف او سیاستپوه ماکیاولي (۱۴۶۹-۱۵۲۷ز) ده، چې دده لخوا یې ارونه او تګلاري ټاکل سویدي. ده د حکومت او واکمن د پاره د لومړي ځل دپاره داسي استبدادي ارونه د مځکي پر مخ باندي وضع کړل، چي مخکي یې ساری نه و. له همدي کبله دده سیاسي تلنلارې ته (نوی استبداد) ویلای سو، چي په لاندي ډول یې را لنډوو:

۱. دده د فلسفي موخه د ایټالیا دحکومتونو داسي یو کول وه، چي د کلیسا تابع نه وي او په ټوله اروپا کې یې ساری نه لیدل کیږي.

۲. دده ټولیزمرام بدبیني (پسي میزم) دی او د بشپړ ظالم او مسبتد حکومت پلوي کوي.

۳. د انسان طبیعت: دی وایې ((انسان په ذاتي ډول سیاسي موجود دی او ذاتاً فاسد او فطرتاً ځانپاله او شر خوښونکی پیدا سوی دی؛ نو

---

[1] - Machiavellism.

ځکـه د انســان د شـر او ځانپـالني د مخنیـوي د پـاره بایـد بشـپړ ظـالم حکومت شتون ولري)).

۴. واکمن او واکمني: لکه څرنګه چې وګړي په ذاتي ډول ځانپاله او بد پیدا سوي دي نو د واکمن کړني او خوځښت باید:

لومړی:- د ځانپالني (اګویزم) طبیعت ولري؛

دوهم:- واکمـن بایـد د بـدبیني تلـنلاره د ځـان د پـاره وټـاکي او خپلـي کړني باید تر دي برید ه ظالمه او سختي کـړي، چـي نـور سـاری ونلـري؛ ځکـه چـي د انســان طبیعـت یرغلیـز او ګټـه غوښـتونکی دی، دده تمـه اندازه او پولـه نلـري، تـل غـواړي، چـي خپـل مـال، مقـام او واک زیـات کـړي پداسـي حـال کـي چـي مالونـه پـه طبیعـي ډول محدود دي؛ نـو لـه همدي کبله د وګړو تـرمنځ کشـمکش او اړودوړ ددي لامـل ګـرځـي، چـي ټولنه د انارشیزم پر لوري وخوځیږي. خو کـه چیـري لـوړ ځـواک (دولـت) ددي مخه ونیسي بیا به نو پـه ټولنـه کـي نظـم رامنځتـه سـي. نـو ویـلای سو، چي واکمن نه یوازي د دولت او هېواد ترکـاڼ(معمـار) دی بلکـي د مذهب، اقتصاد او اخلاقو معمار هم دی؛

(۵) اخلاق او مذهب: د ماکیاولي پـه آند اخلاق، مـذهب او نـور ټـولنیز ارزښتونه د واکمن د لاس آلـي دي، چـي د واک د پایښـت او زیـاتوالي د پاره یې کاروي او دا آلي باید پـه رسمي اداره کي عملي بڼه ونلري.

(۶) حقـوق او قـانون: دا هـم د واکمـن د ارادي زیږنده دي او د واکمـن د امر منـل اړینـوي، خـو واکمـن بیـا د دي قوانینـو د سـاحي څخـه بهـر دی. یـانې واکمـن د قـانون څخـه لـوړ دی، کـولای سـي چـي قـانون تـه بـدلون ورکړي او هرڅه چي وغواړي هغه کولای سي.

(۷) حکومت: د وګړو د کمزورۍ له امله رامنځته سوی دی او وګړې د دي د پاره چي د نورو وګړو د یرغلونو او بریدونو څخه ځان وساتي نو دولت ته اړتیا لري.

(۸) د حکومت تلنلاره: واکمن د واک د لاسته راوړلو، ساتلو او زیاتولو د پاره حق لري، چي د زور، فریب، جنایت، د ژمني ماتولو او ډول ډول لارو څخه ګټه واخلي او د واکمن د پاره د واک د ساتلو، زیاتولو او لاسته راوړلو په برخه کي هیڅ ډول عمل منع ندی پدي شرط چي دا هرڅه په پټ ډول تر سره سي او په ښکاره بڼه سره واکمن پدي تورونو باندي ککړ نسي.

(۹) فوځ: دولت باید داسي بشپړ او پیاوړی فوځ ولري، چي د ملي سر ښندونکو څخه جوړ سوی وي نه د هغو کسانو څخه، چي د معاش او پیسو د پاره درول سوي وي. فوځي او نظامي چوپړ باید پر وګړو باندي د اوه کلنۍ څخه بیا تر څلویښت کلنۍ پوري پلی سي.

# مشروطیت[1]

مشروطیت هغي تلنلاري او سیاسي لیدلوري ته ویل کیږي، چې واک په خلکو پوري اړوند (مشروط) ګڼي. مشروطیت د حکومت واک محدودوي او هڅه کوي، چې د حکومت واکونه د اساسي قانون یا بلې لاري محدود کړي، همدارنګه مشروطیت غواړي، چې د خلکو، ډلو، ګوندونو او نورو پوړونو د حقوقو د ساتنې د پاره باید لیکلی سند او قانون شتون ولري او حکومت باید ددوی د حقوقو د ساتنې ضمانت وکړي.

مشروطي حکومت شوني ده، چې جمهوري یا سلطنتي وي، خو باید د اساسي قانون له لارې یې واکونه محدود وي، همدارنګه که چیري واکمن پوړ په خپله دنده کې پاتې راغلی نو خلک دا توان او حق لري، چې د رایو له لاري او یا هم له نورو لارو څخه واکمن پوړ لیري او واک نورو واکمنانو ته وسپاري[2].

---

[1] - Constitutionalism.

[2] - دکتر بهاالدین پازرگا، مکتب های سیاسی، ۱۳۴۴ش، ص ۱۵۷-۱۵۸.

د مشروطیت اصطلاح د ابسولوتیزم پر وړاندي کارول کیږي، همدارنګه د لرغوني آتن حکومت د ډیموکراسیو په کلونو کي مشروط و. د مشروطیت غوښتنه په افغانستان کي هم زیاتو روڼ آندو، لیکوالانو، ژورنالیستانو او نورو پوهانو کړیده، چي د افغانستان په تاریخ کي روښانه ځای لري. د مشروطیت د ښي روښانتیا لپاره د افغانستان د مشروطیت غورځنګونه هم په لنډ ډول تر ځیړني لاندي ونیسو:

**په افغانستان کي د مشروطیت غورځنګونه**:

په افغانستان کي د مشروطیت د غورځنګونو څخه مخکي یو لړ فکري خوځښتونه رامنځته سول، چي د دي نوو مشروطي فکرونو سرچینه د سید جمال الدین افغاني د عالي افکارو او نبوغ پایله وه، که څه هم د مشروطیت د غورځنګ لومړني خلک عبدالروف خان کندهاری (خاکي) او محمد سرور (واصف) ګڼل سویدي، خو بیا هم دوی د افغاني د افکارو تر اغیز لاندي وه. په افغانستان کي د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د عبدالروف خان کندهاري په مشرۍ یوي ډلي د امیر څخه د سراج الاخبار په نامه د پنځلس ورځنۍ جریدي د جوړیدو غوښتنه وکړه، چي امیر هم ورسره ومنل او لومړی ګڼه یې په (۱۲۸۴ل) کال کي چاپ سول. سراج الاخبار د وخت د روڼ آندو او پوهو کسانو د راټولیدو او همږغۍ لامل سوا و د سراج الاخبار څخه پنځه کاله وروسته د مشروطیت لومړنی غورځنګ رامنځته سو، چي د همدي سراج الاخبار مخکښانو یې مشري کول.

**دمشروطیت لومړی غورځنګ**:

دسراج الاخبار د ټولني فکري غورځنګ او خوځښت د انګریزي ښکیلاک له امله د یو څه وخت لپاره ودریدی، خو دوه ، دري کاله وروسته د محمد سرور خان (واصف) په مشری د یوه غورځنګ او خوځښت په بڼه راڅرګند سو ، چي دیته په تاریخ کي (لومړی مشروطیت) وایي.

دلومړي مشروطیت مخکښانو غوښتل، چي هېواد یې باید یو لړ قوانین ولري او واک هم د قوانینو پر بنسټ پلی سي. همدارنګه دوی دوخت روڼ آندي وه او مترقي فکرونه یې هم درلوده. دلومړي مشروطیت مخکښانو په کابل کي د حبیبي په لیسه کي خپل افکار سره شریکول او د مشروطیت په اړه یې خپلي هڅي یو کولي. په حبیبي لیسه کي د لومړي مشروطیت غورځنګ غړو ځانګړي تشکیلات جوړ کړل او په پر کوچنیو جرګو باندي ویشل سوي وه، چي هري جرګي به ځانته رئیس او منشي درلودی، خو د ټول غورځنګ عمومي مشر محمد سرور خان (واصف) و.

ښاغلي واصف په (۱۳۲۷س) کال کي د مهمانخاني په باغ کي، چي په هغه وخت کي د حبیبي لیسي ښونکي پکې اوسیدل، یوه لویه غونډه جوړه کړه او د غونډې په پای کي یي یو لیک امیر حبیب الله خان ته پدي ډول واستوئ:

((په ځینو هېوادونو کي خلک په زور او قهر سره حکومت دیته اړباسي ترڅو اداري نظام د ولس د غوښتنو تابع کړي، او مشروطه او قانوني بڼه ورته ورکړي، په ځېنو نورو هېوادونو کي بیا روڼ آندي پاچا په خپل نوبت او د خیر په نیت سره په هېواد کي د مشروطیت

اصول او قـوانین نافـذوي. ددي لپـاره چي سراج الملتـه والـدین پـوه او ترقـي غوښـتونکی پاچـا دی. لکـه څرنګـه چـي د حربـي او حبیبـي د ښونځیو جوړول، د سراج الاخبار خپرول، دکتـابونو چاپول، دعصري مطبعـي جـوړول، دنـوو ودانیـو جـوړول او داسـي نـورد شـاهانه ذات دمهرباني او پاملرنې د هېـواد دترقـی او پرمختیـا ښکارندوی دی؛ نو هېله او ارزو کیږي، چي دهېواد دحکومت رواني چارې هم د مشـروطه قوانینو پر بنسټ ټینګي کړي. تر څو د خپلسرو او اسلامي احکـامو پـه خـلاف قوانینـو مخـه ونیـول سـي. او خلـک د قـانون تـر واکمنـۍ او دمشروطیت تر نظام لاندي سوکاله ژوند ته ورنیږدي سي)).

په لومړیو کي امیر حبیب الله خان هم د مشـروطیت د آندونو منلو تـه غـاړه ایښـي وه، خـو د یـو شـمېر درباري مرتجعینـو لـه املـه امیـر ددي غورځنـګ د مخکښـانو پـه وژنـه لاس پـوري کـړ او غورځنـګ یـې سـره وپاشی.

**د لومړي مشروطیت موخي:**

که څه هم دلومړي مشروطیت غورځنګ مرامنامه نده پاتـه سـوي، خـو کله چي به نوی غړی دي ډلي ته ننوتی نو لاندي مادي یې په منلې:

۱. د اسلام د اصولو او د قران عظیم الشان اطاعت او د ټولـو اسـلامي احکامو منل.

۲. دملي حقوقـو د لاسـته راوړلـو او د ملت داسـتازو تـر نظر لاندي، د حکومـت د رژیـم دمشـروطه کولـو، دملـي واکمنـی او د قـانون دحکـم دتامینولو لپاره دوامداره هڅه او کوښښ.

۳ . د ژوند دچارو په سموالي او د بدو او ناوړو عادتونو څخه په لیري والي، او یا ورته په بدو ویلو باندي دخلکو دتلقین کولو په لاره کي کوښښ کول.

۴. د افغانستان د ټولو قبیلو او قومونو ترمنځ ښه تفاهم او پخلاینه او د ملي یوالي ټینګښت.

۵. د سولي او پخلاینې له لارې دملت د اصلاح کولو په لاره کي کوښښ نه دوسلي او زور له لاري.

۶. د خلکو د ویښولو د وسایلو، د رسنیو د ښونځیو او پوهني عامول.

۷. دخلکو د خپلواکو ټاکنو له لارې دملي شورا د مجلس (جرګي ) جوړول.

۸. د افغانستان د آزادۍ او سیاسي خپلواکۍ تر لاسه کول او د بهرنۍ نړۍ سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو پراختیا.

۹. ټولنیز عدالت او دمساواتو د اصول ټینګښت.

۱۰. د صنعت پراختیا او د اوبو، بریښنا او نورو سرچینو د ښارونو او نوو ودانیو جوړول.

په ټولیزه ول د مشروطیت لومړی غورځنګ په (۱۳۲۳ق ) کال کي د سراج الاخبار په خپریدو سره پیل سو او په (۱۳۲۷ق ) کال کي د دي غورځنګ د یو شمیر مخکښانو په وژنه سره پای ته ورسیدی.

**د مشروطیت دوهم غورځنګ**:

کله چي په (۱۳۲۷ق ) کال کي د مشروطیت لومړی غورځنګ وپاشل سو او مخکښان یې یا ووژل سول او یا هم تهدید سول، خو اغیزي یې پاتي سولي او دهغو مخکښانو بچیانو، چي لومړۍ غورځنګ یې پیل کړی و، په خپلو زړونو کي د خپلو پلرونو او نیکونو ارمانونه وساتل

او دوخت او زمان په تیریدو یې د خپلو پلرونو او نیکونو ارمانونو ته رسیدل د ځانو لپاره اړین وګڼل. د مشروطیت دوهم غورځنګ په (۱۳۲۹ق) کال کي هغه وخت پیل سو ، کله چي علامه محمود طرزي ته د سراج الاخبار د چاپولو بیا اجازه ورکړل سول، علامه طرزي په خپل ځوان او د نبوغه ډک فکر سره یو ځل بیا د هېواد د روڼ آندو او پوهانو د کاروان واګي په لاس کي واخیستئ او د روڼ آندی داسي غورځنګ یې رامنځته کړ، چي د هېواد په تاریخ کي زرین ځای لري.

که څه هم د مشروطیت دوهم غورځنګ د ګوند په شان منظم جوړښت ونه موندی، خو د پایلو او اغیز له اړخه د ډیر ارزښت وړ و. دوهم مشروطیت چي د هڅانده او زړه ورو ځوانانو لخوا پیل سوی و ، د هېواد د چارو سرچینه یې پاکه کړه او د امیر حبیب الله خان د مرګ څخه وروسته واک غازي امان الله خان په لاس کي واخیستئ، چي د همدي غورځنګ غړی و.

د غازي امان الله خان د واک ته رسیدو سره سم د لومړي مشروطیت غورځنګ پرپښو ودریدی او دري، ځلورکاله یې واک په لاس کي واخیستئ خو د خرابکارو او ناوړه عناصرو څخه پاک پاته نسو او ډیر ژر د خرابکاری ویروس ددي غورځنګ په منځ کي وښیندل سو.

**د دوهم مشروطیت کړني:**

د مشروطیت دوهم غورځنګ یو شمېر داسي کارونه وکړل، چي افغانان به تل په ویاړي او د افغانستان تاریخ به یې هیڅکله د خپلي لمني څخه کښته نه کړي، ددوی ځیني کړني پدي ډول په ګوته کولای سو:

۱. د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته لاسته راوړلو په لاره کي مخکي کېدل او د انګرېزي ښکېلاک پر وړاندي درېدل؛
۲. د خپلواکۍ د تر لاسه کولو وروسته، افغانستان نړۍ ته د یوه خپلواک هېواد په توګه ور پېژندل، او د نړۍ د نورو هېوادونو سره د افغانستان د سیاسي اړیکو ټینګول؛
۳. په افغانستان کي د خلکو د بچیانو لپاره د عامي پوهني او روزني رواجول، د ښونځیو او مدرسو جوړول، د جریدو خپرول او د ژبپالني د حس پیاوړی کول؛
په دولتي دفترونو کي د دندو د وېش، د مالي غوښتني د سیستم پر بنسټ د نوو تشکیلاتو رامنځته کول، د ګمرکونو جوړول او داسي نور[1]؛
دوهم مشروطیت د نوو او مُډرن حکومت بنسټ کېښودی او زیات شمېر نور چوپړونه یې وکړل[2].

---

[1]- پوهان عبدالحی حبیبي، د مشروطیت غورځنګ په افغانستان کي، د عبدالقیوم حکیمزي ژباړه، ص **۱۵۰-۱۵۴**.
[2]- په افغانستان کي د مشروطیت د غورځنګونو په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره د مشروطیت غورځنګ په افغانستان کي د عبدالحي حبیبي همدا اثر ولولئ.

# موبوکراسي[1]

موبوکراسي(دنارینه وو حکومت) د عامو او بازاري خلکو حکومت ته ویل کیږي او هغه مشرتوب ته هم ویل کیږي، چې د انقلابونو، تاوتریخوالي او ښورښونو په ترڅ کې د ټولني واک او مشرتوب د عامو او بازاري خلکو په لاسونو کې ولویږي. همدارنګه نالایقه او بېوزله خلکو ته د ټولني د چارو سپارلو ته هم موبوکراسي ویل کیږي.
موبوکراسي زیاتره وخت د هغو خلکو حکومت ته ویل کیږي، چې د احساساتو او جذباتو تر اغیز لاندي وي او د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره د هر ډول تشدد او تاوتریخوالي څخه ګټنه کوي. د دي ډول حکومت پر مهال وړ او اهل کار خلک د سیاسي صحني څخه وزي او ځای یې نا لایقه او ځانپاله وګړې نیسي. کله ناکله په سیاسي ټولنه کې داسي حالت او خلا رامنځته کیږي، چې په کار پوه اشخاص د سیاسي صحني څخه لیري کیږي او ځای یې داسي خلک نیسي چې جاهل او نا لایقه وي. دا ډول خلک د سیاسي بهیر په سر کې راځي او د سیاسي تاریخ ځانګړې کړۍ جوړوي.

1 - Mobocracy.

موبوکراسي په تاريخي مخينه کي د زياتو پوهانو او فيلسوفانو لخوا غندل سوې ده، د بېلګي په توګه افلاطون د موبوکراسۍ غندنه کړېده او هيرودت هم په خپل کتاب کي موبوکراسي غندلې ده، ده ويلي دي((که څه هم ډيموکراسي د قانون پر وړاندي تول وګړي يو شان ګڼي، خو عيب يې دادی، چي شوني ده په موبوکراسۍ يا د عوامو او جاهلو په حکومت باندي بدل سي يانې شوني ده، چي په هغه حکومت باندي بدل سي، چي نالايق او نا اهله کسان د کار کسان وګڼل سي او د ناپوهو حکومت ته د پوهو او با استعداده خلکو پر حکومت باندي لوړوالی ورکړي))[1].

[1]- دکتر بهاالدين پازرګا، مکتب های سياسي، ۱۳۴۴ش، ص۱۹۰-۱۹۱.

# میډیوکراسي[1]

میډیو کراسي د ټولني هغه حالت ته ویل کیږي، چې سیاسي رژیم او سیاستوال د ټولني د کښته او منځني پوړ خلکو ته زیاته پاملرنه کوي. ددا ډول ټولني سیاست تر زیاته بریده د ډیموکراټیکو اندونو او ایډیالوژۍ تر اغیز لاندي وي.

په میډیو کراسۍ کي سیاستوال تل هڅه کوي، چې په خپلو خبرو او اندونو کي ډیر ساده والی راولي، ترڅو د عامه خلکو سر وربانندي خلاص سي او د دوی د پوهي د کچي په اندازي باندي خبري کوي. همدارنګه سیاستوال هڅه کوي، چې تر زیاته بریده په خپلو خبرو او کړنو کي د ټولني د کښته پوړ د خلکو ګټي وساتي.

د روسي ناول لیکونکی (الکساندر سولژنټیسن[2]) د معاصرو هغو پوهانو څخه دی، چې د میډیو کراسۍ په اړه یې څرګندوني کړیدي او ترزیاته بریده یې څرګندوني انتقادي بڼه لري[3].

---

1 - Mediocracy.
2 - Aleksandr Solzhenitsyn
3 - English Social Wikipedea (انګریزي ټولنیز پوهنغونډ)

# میریټوکراسي[1]

میریټوکراسي ددو کلمـو څخـه ترکیـب سـویده، چـي (میریـټ[2]) د لیاقت، استعداد او وړتیا پـه مانـا او (کراسـي) د حکومت او واکمنـۍ په مانا ده. میریټوکراسي د حکومت هغه بڼه ده، چي د سیاسـي واکمـن پوړ په ټاکلو کي د هغو ځانې وړتیا، لیاقت، پوهي او استعداد ته کتـل کیږي او واکمن ته واک هم د همدغو ځانګړنو پربنسټ ورکول کیږي.

میریټوکراسي په انکارټا کي په دري مفهومونو کارول سویده:

(۱)- **د مسؤلیت او وړوالي سیستم**:

پدي مفهوم سره میریټوکراسي هغه سیاسي رژیـم تـه ویـل کیـږي، چـې فرصتونه او ګټي د دوی د وړتیا او استعداد پر بنسټ ویشل کیږي، نـه هغوی ته د شتمنیو یا نورو لارو پر بنسټ.

(۲)- **د پوهانو ډله**:

هغه ډله چي خپـل ځانګړي موقیعت او واک یې د پـوهي او وړتیـا پـر بنسټ لاسته راوړی وي.

---

[1] - Miretocracy.
[2] - Mirete.

**(۳)- د پوهانو مشري:**

د هغو پوهانو او وړو کسانو مشري چې د خپلو ځانګړو پوهو پر بنسټ یې تر لاسه کړې وي.

په میریټوکراسۍ کې د واکمن پوړ په ټاکلو کې طبیعي وړتیا او استعداد ته زیاته پاملرنه کیږي او د واکمن پوړ د ټاکلو په وخت کې زیات وخت د هغوی د لیاقت کچه (ای کیو[1]) معلومیږي. له همدې کبله پدې سیاسي سیستم کې هغه څوک زیات پر مختګ کولای سي، چې د خدای ورکړي ښه استعداد خاوند وي.

میریټوکراسي په یوه بله او پراخه مانا سره هغه حکومت ته هم ویل کیږي، چې د ګټو پر بنسټ ولاړ وي، یانې موخه یې د ټولنیزو ګټو لاسته راوړل وي. خو په بنسټیزه بڼه میریټوکراسي هغه حکومت ته ویل کیږي، چې واکمن پوړ یې ټول د پوهې څخه برخمن وي.

په میریټوکراسۍ کې زیات وخت د پوهانو ترمنځ پر استعداد او ړتیا باندې خبري کیږي، یو شمیر پوهان د وګړو پوهې ته ارزښت ورکوي، خو نور بیا د خدای ورکړي استعداد پلوي کوي. د بیلګې په توګه په (۱۹۵۸ز) کال کې (مایکل یانګ) د استعداد د پاره داسې فورمول وکاروی (هوښارتیا+هڅه= استعداد). په لرغونو وختونو کې ارسطو د وګړو استعداد اشرافیت او روحانیت ښودلی دی او په هغه وخت کې د روحانینو حکومت د میریټوکراسۍ په بڼه کار کوی.

میریټوکراسي د (کنفوسیوس) اندونو او ټلنلارو ته هم ویل کیده، خو په عملي ډول د زیږدیز کال څخه دوي پیړۍ مخکې د (هین ډیناسټي) په وخت کې پلي سول. دا سیاسي ټلنلاره د چین څخه

---

[1] -IQ

هندوستان، انګلستان، امریکا او پدي وروستیو پیړیو کې د اروپا لوی وچې ته ننوتل. میریتوکراسي په اروپا کې د روڼ اندی دوري سره ډیره پیاوړتیا وکړه او وروسته یې ځای د روڼ اندی پړاو ته تسلیم کړ.

د میریتوکراسۍ نښې او نمونې په زیاتو او سنیو سیاسي رژیمونو کې لیدل کیږي، د بیلګې په توګه په هر سیاسي رژیم کې د پوهنتون او ښونځۍ اسناد غوښتل کیږي بیا پر حکومتي چوکیو باندي ګمارل کیږي، چې دا پخپله د میریتوکراسۍ د وخت ارونه دي. په زیات شمېر سیاسي رژیمونو کې که یو څوک هرڅومره د ښه استعداد خاوند وي، خو که چیري د لوړو زده کړو اسناد ونلري هغه پر لویه چوکۍ باندي نه ګمارل کیږي[1].

په میریتوکراسۍ کې زیاتره وخت خپلوان او ملیت پالنه نه ځایږي، بلکې د خلکو استعداد او لیاقت ته کتل کیږي، هغه که هرڅوک او یا په هر ملیت پوري تړلی وي. د یوي خبري یادونه باید وکړو چې میریتوکراسي نه یوازي د حکومت ډول دی، بلکې یوه پراخه ایډیالوژي ده، یانې میریتوکراسي کیدای سي، چې په حکومت کې هغه تلنلارې ته هم وویل سي، چې د خلکو د غوراوي لپاره په کار اچول کیږي. کله ناکله د خلکو د استعداد او پوهې د کچې معلومول ستونزمنه خبره ده، له همدې کبله ځینې خلک د دې څخه غلط مفهوم اخلي.

[1] - English Social Wikipedia and Britanica Encyclopedea.

**د میریتوکراسۍ ښېګڼې:**

میریتوکراسي نـه یـوازې سیاسـي مکتـب دی بلکـي یـوه پراخـه ایډیالوژي هم ده، خو میریتوکراسي د یوه سیاسي مکتب په څیر لاندې ښېګڼې لري:

(۱)- میریتوکراسي عادلانه او د پوهې او استعداد پر بنسټ حکومت جوړول غواړي، یانې په دې سیاسي رژیم کې قوم، نژاد، مذهب او نورو ډلو ته ځانګړی امتیاز او لوړوالی نه ورکول کیږي، بلکې ټولو خلکو ته د هغوی د لیاقت او وړتیا پر بنسټ چانس ورکول کیږي.

(۲)- میریتوکراسي په خلکو کې د خوځښت فکر پیدا کوي او خلکو ته داسې پوهاوی ورکوي، چې باید د خپل خدای ورکړي استعداد او لیاقت څخه په اعظمي توګه ګټه واخلي، همدارنګه په ټولنه کې با استعداد او پوهو خلکو ته ځانګړي امتیازات او مکافات ورکوي.

(۳)- په میریتوکراسۍ کې د ټولنې لارښونکې پوهه او لایق خلک وي او حکومت هم د ټولنې د پرمختګ او لارښوونې لپاره د با استعداده خلکو پوهه او لیاقت په کار اچوي. نو داسې ټولنه چې مشري یې پوه او لایق خلک کوي ارومرو نسبت دیکتاتوري او نورو رژیمونو ته د خلکو هوساینه او سوکالي پکښې زیاته وي.

(۴)- میریتوکراسي یو عادلانه نظام دی، یانې په ټولنه کې خلکو ته د هغو د پوهو او لیاقتونو پر بنسټ په مساوي ډول چانسونه او فرصتونه ورکول کیږي، له همدې کبله ویلای شو، چې په دې نظام کې مساوات او عدالت په نظر کې نیول کیږي.

**د میریټوکراسي بدګڼې**:

که څه هم میریټوکراسي زیات شمېر ښیګڼې لري، خو زیاتو پوهانو په ځانګړې توګه سوسیالیستي پوهانو پر دې سیاسي رژیم باندې په لاندې ډول نیوکې کړېدي او ځینې بدګڼې یې په ګوته کړېدي:

(۱)- میریټوکراسي ټولنه له تهدید سره مخ کوي، یانې پدې سیاسي رژیم کې یوازې خدای ورکړې استعداد ته لوړوالی ورکول کیږي، بلکې د وګړو ترمنځ سیالي او رقابت له منځه وړل کیږي او ټولنه په جامد ډول پاته کیږي.

(۲)- داسې ویل کیږي، چې میریټوکراسي عادلانه او مساویانه ډول عمل کوي، پداسې حال کې چې داخبره سمه نده، ځکه چې په میریټوکراسۍ کې د خلکو ترمنځ د ا ستعداد او لیاقت په اندازه توپیر لیدل کیږي او خلک د خپلو ا ستعدادونو په اندازه لوړوالی او کښته والی لري.

(۳)- لکه څرنګه چې میریټوکراسي د خلکو برابرو استعدادونو ته ګروهه نلري، نو له همدې کبله په ټولنه کې برابرو او مساوي پایلو ته نه رسیږي.

(۴)- همدارنګه سوسیالیستان پر میریټوکراسۍ باندې زیاتې نیوکې کوي او وایې چې دا سیاسي رژیم په ټولنه کې د نا اعتدالۍ زمینه برابروي.

**په میریټوکراسۍ کې د سنجش لارې**:

په میریټوکراسۍ کې د مامورینو او کارکونکو د ټاکلو لپاره لاندې ځینې لارې په کار اچول کیږي:

(۱)- **د تحصیلي استعداد ازموینه:**

پدي کي د محصلینو او پوهو کسانو د ازمویلو لپاره هغه معیار او ستندرډ په کار اچول کیږي، چې د امریکا په پوهنتونونو کي کارول کیږي.

(۲)- **د پرمختګ ازموینه:**

دا هغه ازموینه ده چې د محصلینو پوهه او خبرتیا په یوي ځانګړي موضوع کي څیړي.

(۳)- **د استعداد ازموینه:**

دا ډول ازموینه د یوه فرد ځانګړتیاوي څیړي، چې خلک په کومه اندازه طبیعي وړتیا او ځانګړتیا لري.

# میګوکراسي[1]

میګوکراسي هغه روحاني حکومت ته ویل کیږي، چې واک د جادو، کوډو، تعویذونو او نورو چلونو له لارې پلې کیږي. دا ډول حکومت زیات وخت تیوکراتیک حکومت ته ورته وي، چې د عقل او فکر تیزوالی او د نورو د اطاعت لپاره د بېلابېلو چلونو پر کولو باندې باور لري[1].

د حکومت پدې بڼه کې د حکومت کولو معیاري اصول نه پلې کیږي، بلکې یوازې د جعلي او دوه مخیزو لارو پر بنسټ سیاسي قدرت پلې کیږي، همدارنګه هڅه کیږي، چې خلک تیر ایستل سي تر څو د سیاسي قدرت د پاشلو او را پرځولو لپاره راپورته نسي. پدې سیاسي سیستم کې واکمنان یوازې د شخصي او ځانې ګټو لپاره د سیاسي قدرت کارول غواړي، دوی د ملي ګټو لپاره دومره کار نکوي، بلکې د شخصي ګټو د لاسته راوړلو لپاره د دولت ټولي منابع کاروي.

همدارنګه په میګوکراسۍ کې سیاسي واکمنان ځانونه له هر اړخه بشپړ ګڼي، دوی د خلکو په مخ کې داسي کارونه کوي، چې پر دوی باندې د خلکو عقیده پیدا سي او د هېواد د ستونزو ریښتني حل

---

[1] Megocracy.

کونکي يې وګڼي.

ددي ډول حکومتونو بېلګي په بشري تاريخ کي زياتې تر سترګو کيږي، په لومړيو بشري ټولنو کي زياتره وخت سياسي واکمنانو د جادو او نورو داسي لارو څخه ګټه اخيستل چې د خلکو باور پر ځان پيدا کړي او خلک پدي عقيده سي چې د هر ډول ستونزو حل کونکي همدا سياسي واکمنان دي.

[1] Enlgish Wikipedea.

# میلیتاریزم[1]

میلیتاریزم هغه سیاسي باور ته وایې، چې جګړه تلپاتې او د ستونزو حل ګڼي، دوی په دې باور دي، چې یوازې د جګړې او زور د لارې عامه ګټې ساتلای سو او عامه چوپړونه هم د جګړې د لارې په ښه ډول ترسره کیدای سي. میلیتاریستان نظامي او فوځي چوپړونه ډیر اړین ګڼي او زړه ورتیا ، د مشرانو سره وفاداري، بدني پیاوړتیا او ټینګ ډسپلین د غوره ځانګړنو څخه ګڼي.

دوی د هېوادونو پیاوړتیا د لښکر او فوځ په زیاتوالي کې ګڼې او د سیمه ییزو هېوادونو په منځ کې د فوځ د زیاتوالي پر آندونو باندې باور لري. په میلیتاریزم کې د شعارونو، سمبولونو، مډالونو او نظامي تشریفاتو ارزښت زیات دی. همدارنګه په دې سیاسي رژیم کې د نظامي افسرانو پوړ د ټولني د انحصاري پوړ په بڼه ګڼل کیږي، چې د ولس د سیاسي او روحي انحصاري پوړ ګڼل کیږي. په ټولیز ډول په یوه دولت کې څلور حالتونه د میلیتاریزم په نامه یادیږي:

۱- جګړه کول؛

۲- د فوځ واکمني د دولت پر دستګاه باندې؛

---

[1] - Militarism.

۳- فوځ او نظامي ځواک ته لوړوالی ورکول؛
۴- د نظامي موخو لپاره د هېواد پراختیا؛
کله چې په یوه دولت کې دا پورته ځلور حالتونه په شدت سره واکمن سي نو ویلای سو، چې په نوموړي دولت کې میلیتاریزم واکمن دی. خو که چیري دوه یا دري حالتونه واکمن وي، بیا نو میلیتاریزم نسبي بڼه لري خو د ملیتاریزم د حالتونو په واکمنۍ سره کولای سو، چې د میلیتاریزم بېلابېلي بڼي په ګوته کړو.
میلیتاریزم په بېلابېلو ماناوو سره کارول کېږي، کله د جګړي کولو په مانا کارول کېږي او کله بیا د بهرني سیاست د غځېدو او پراخه کېدو لپاره د جګړې د خوښولو په مانا کارول کېږي. همدارنګه په بله مانا بیا د فوځ او نظامي ځواک واکمني د دولت پر دستګاه باندي، کارول کېږي. پداسي حالت کي چې فوځ د دولت پر دستګاه باندي واکمن وي، نظامي او غیري نظامي ځواکونه په سمه توګه نسي بېلیدای، ځکه چې فوځ په سیاسي او اداري برخه کي پر یوه ملت باندي واک پلی کوي. میلیتاریزم په سیاسي او نظامي جامه کي د یوه هېواد سیاسي واک په لاس کي اخلي او د ټولني پر هر پوړ باندي نظامي برلاسی لري، پدي ډول رژیم کي فوځیان او عسکر د ځانګړو امتیازاتو لرونکي دي او په ټولنه کي دوی بنسټیز رول لوبوي.
میلیتاریزم د ټولني پر ټولنیز ژوند باندي د فوځ او نظامي ځواکونو څارني او برلاسی ته هم ویل کېږي، چې د ټولني ټول بنسټونه او ارزښتونه د فوځ په چوپړ کي وي. د ټولني دا ډول بڼه د ځانګړې ټولنیز سازمان پر بنسټ د فوځ په غوښتنه منځته راځي او ټولنه د ((میلیتاریزه)) ټولني بڼه غوره کوي. پدي ټولنه کي د ټولني ټول

اقتصادي او ټولنيز ځواکونه د فوځ په لاس کي لويږي او د نظامي موخو لپاره کارول کيږي[1].

لکه مخکي چي مو وويل ميليتاريزم د فوځي جوړښت پر بنسټ د يوه ملت سرنوشت په لاس کي اخلي او ټول اداري او سياسي بنسټونه تر خپل کنټرول لاندي راولي، په دي رژيم کي سياسي عقيده د فوځ پر محور باندي راڅرخي د هر ډول سياسي او ټولنيز مشکل د حل لپاره فوځ بسيا ګڼي، نو ځکه فوځ پر ټولنه خپله واکمني کوي. د دي رژيم مخالفين بيا پدي آند دي، چي په ميليتاريزم کي فوځ د پانګوالو او سرمايه دارانو په لاس کي لويږي، ترڅو د خپلو بورژوازيو د پياوړتيا لپاره ګټه ځيني واخلي، ياني فوځ د سرمايه دارانو د سرمايو او پانګو د پياوړتيا لپاره ټولنه په قيد کي راولي. دا پانګوالي زياتره وخت د ډيرو لويو فابريکو خاوندان وي، چي د خپلو سوداګريو او تجارت لپاره هڅه کوي، چي د دا ډول رژيم ملاتړ وکړي، دوی په هغو رژيمونو کي چي د خلکو ګټي پکښي خوندي وي، خپل بقا او ګټه نهويني بلکي يوازي د همدي نظامي ديکتاتوريو له لاري خپله شتمني زياتول غواړي. همدارنګه دا بورژوازان پوليس پياوړي کوي او د پوليسي دولت تر شا دريږي، تر څو دوی خپلو موخو ته ورسيږي، خو د دي پر وړاندي د ميليتاريزم ملاتړي بيا وايي چي نظامي او فوځي حکومت د ځانګړي واک په لرلو سره تر ټولو رژيمونو غوره خدمات وړاندي

---

[1]- دآريوش آشوري، دانشنامه سياسي، ص ۱۵.

کـولای سـي او د ټـولني وګـړې کـولای سـي، چې پـدي ډول رژیـم کـي د غوره ټیکاو او ښه ژوند لرونکي وه او سي[1].

میلیتاریزم په ټولیز ډول د جګړو ملاتړ کوي؛ ځکه دوی د ټولني عامه چوپړونه او غوره خدمت په جګړه کي ګڼي. د نړۍ پـه معاصر تـاریخ کـي د میلیتاریزم غوره نمونه آلمـان دی، چې پـه (۱۸۷۱ز) کـال کـي د پـروس سلطنت د آلمان او یو شمېر نورو دولتونو سره پـه ګـډه جوړ کـړ. همـدي الماني میلیتاریزم د هټلر د نازیزم د پیدا ښت لپاره شرایط برابر کړل.

جاپان د دوهمي نړیوالي جګړي څخه مخکي هم د ملیتاریزم ملاتړی و او د خپل فوځ د زیاتوالي له امله یې د نړۍ د نورو هېوادونو نیولو ته ملا وتـړل. خو پـه امریکـا کـي کولونیسـتانو او لومړیـو انګریـزي کـډوالو د میلیتاریزم پر ضد آندونه خپاره کړل او تـر اوسـه هم همدا سي پاتـه دي. لـه همدي کبلـه د امریکـا او انګلسـتان زیـاتره وګـړي د میلیتـاریزم پـر وړاندي دریځ لري[2].

---

[1]- امیر مسعود خدایار، مکتبهای سیاسي، فرهنګي، مذهبي، فلسفي، هنري، ص ۲۱۵-۲۱۲

[2]- دکتر بها الدین پازرګا، مکتب های سیاسی، ۱۳۴۴ش، ص ۱۹۳-۱۹۴.

# مینارچیزم[1]

دا یوه کاپیټالیستي لیبرالي تلنلاره ده،چي په پراخه مانا سره دولت د وګړو د پـاره ډیـر اړیـن ګڼې او وګړي د نورو د یرغلونـو څخـه د سـاتلو لپاره دولت ته اړ ګڼي. همدارنګه دولت دیته هڅوي، چي خپل وګړي د غلو، یرغلونو، چور او چپاو څخه وساتي او پـه ټولنه کي د تړونونو د ماتولو، د قوانینو ترپښو لاندي کولو او بي نظمیو مخه ونیسي. پر دي سـربیره د حکومـت د پـاره فـوځ، پـولیس او محکمـي اړینـي ګڼـي. همدارنګـــه دولـــت بایـــد قضـــایه، اجرایـــه او مقننـــه قـــوي هـــم ولري.مینارچیستان زیاتره وخت د دولت د پاره د لیسه فیر[2] اقتصادي فرضیه وړاندي کوي.

مینارچیستان یرغلیزه تګلاره نه خوښوي او پدي آند دي، چي دولت سوله ییز او غیري یرغلیز بنسټ دی. ځیني نور بیا پدي آند دي، چي دولت د ټولني د نظم او کنټرول لپاره ډیر اړیـن دی، همدارنګـه نور بیـا وایي چي انارشـیزم غیـري اخلاقـي تګـلاره ده، ځکـه چي د یرغـل او تجاوز لاره اختیـاري ګڼي. خو پـه ټولیز ډول ددوی پـه آنـد دولـت هغـه

---

[1] -Minarchism.

[2]- لیسه فیر په همدي کتاب کي د یوټیلیټاریانیزم په مکتب کي تشریح سوی دی.

سیاسي بنسټ ده، چې د یوي ټولني سیاسي او حقوقي نظام ته بڼه ورکوي.

د مینارچیستانو ترمنځ د مالیاتو د اخیستلو پر سر هم ټکرونه شتون لري، یو شمېر پدي آند دي، چې د خلکو څخه د مالیاتو اخیستل اړینه خبره ده او د دولت د اړتیاوو د پوره کولو لپاره مهمه ده، خو یوه ډله بله بیا پدي آند دي، چې د مالیاتو اخیستل اخلاقي تیروتنه ده. همدارنګه په مینارچیزم که بله موضوع هم د بحث وړ ده، هغه دا چې آیا وګړې ارومرو د دولت سره د سوو تړونونو په ادا کولو باندي مجبور دي؟ یاني وګړې باید د دولت په اړوند خپلي دندي ترسره کړي او که وګړې په اختیاري ډول کولای سي، چې د هغو څخه سرغړونه وکړي، چې پدي اړه هم د مینارچیستانو د پلویانو ترمنځ اختلاف شتون لري.

د مینارچیزم اصطلاح د لومړی ځل لپاره په ۱۹۷۱ز کال کي د ساموبل لخوا وکارول سول، ساموبل دا اصطلاح د فردي حقوقو او ازادیو په ملاتړ وکارول، ده د داسي دولت وړاندیز وکړ، چې په هغه کي د وګړو فردي حقوق او ازادۍ تر ډیره بریده خوندي وي.

د مینارچیزم سیاسي تلنلاره د مادیت پالني څخه ملاتړ کوي او د دولت لپاره پولیس، زندان او محکمي اړیني ګڼي[1].

---

[1] English Wikipedea.

# نازیزم[1]

د (نـازي) اصـطلاح د (المـان د ګـارګرانو د ناسـيونال سوسیالیسـت) ګوند لنډونه (مخفف) ده، چي دا ګونـد د لـومړی نړیـوالي جګړي څخـه وروسـته رامنځتـه سـو او د ۱۹۳۳ او ۱۹۴۵ کلونـو پـه مـنځ کـي يـې پـر الـمان حکومت وکړ. د نازیزم اصطلاح زیاتره وخت په المان کي د هټلر د حکومت لپاره کارول کیږي، همدارنګه دا اصطلاح کله ناکله د فاشیزم سره هم په یوه مانا کارول کیږي.

د فاشیزم عقاید او نظري اصول د ایټالیا د فاشیزم، د آلمـان د لرغـونو ناسیونالیستي عقایدو، نژاد پالني، یاني د آلماني نژاد غـوره والـی او نـړۍ بایـد د الـماني نژاد تـر واکمنـۍ لاندي وي او پروسـي میلیتـاریزم څخــه اخیســتل ســویدي. کــه څــه هــم نــازیزم د آلمــان د لرغونــو ناسیونالیستي عقایدو څخه خپل نظري اصول اخیستي وه، خو بیـا هـم ناسیونالیست نه و؛ ځکه چي نازیزم پـر نورو نژادونو باندي د آلمانې نژاد لوړوالی او غوره والـی غوښـتی، همدارنګـه نـازیزم سوسیالیسـت

[1] Nazism

هم نه و ؛ ځکه چي د خپلي و اکمنی پر مهال یي صنایع او تولیدي وسایل ملي نکړل.

د نازیزم د غورځنګ موخه د داسي ځواکمن آلمان جوړول وه، چي خپل قلمرو پراخه کړي او د مځکي پرمخ ټول الماني توکمه وګړي تر خپلي واکمنی لاندي راولي. د دي سیاسي ایډیالوژی د حکومت ډول دیکتاتوري او میلیتاریزم و، چي د سختو تبلیغاتو او زور کارونې څخه یې ګټه اخیستل. نازیزم د اتل پالني، جګړه پالني او واک پالني سیاسي تلنلاره ده، چي د انسانانو اړیکي د جګړې او کشمکش د قانون تابع ګڼې، ددوی په آند هر ملت یو تن دی، چي د خپل ژوند د پاینښت لپاره باید د نورو ملتونو سره په جګړه کي وي.

نازیانو خپل قوم او توکم د نړۍ تر نورو توکمونو لوړ ګڼې، دوی هڅه کول چي ټوله نړۍ د آلمان د توکم تر واکمنی لاندي راولي، همدارنګه دوی دا ادعا کول، چي آلماني توکم په طبیعي ډول تر نورو غوره پیدا سوی دی، نو باید غوره توکم پر نورو توکمونو باندي برلا سی وي. هټلر به ویل (( فرد کوم ارزښت نلري، یوازي توکم او قوم ارزښت لري )). د نازیانو حکومت په دیکتاتورانه بڼه خپلې چاري پر مخ وړلې او پر ټولنې یې بشپړ کنټرول درلودی. نازي ګوند په سیاسي برخه کي سیال نه درلودی او بلي کومي ډلي ته یې دا چانس نه ورکوی، چي د سیاسي واک د ترلاسه کولو لپاره سیاسي مبارزه وکړي.

په نازیزم کي د مشرتوب او رهبری لپاره ټاکلي آرونه او اصول په ګوته سوي وه، یانې دوی به ویل چي کله یو موټی اولس جوړسي او په مشرتوب کي کومه ستونزه واقع نسي نو باید مشرتوب د فرمان ورکونکي او فرمان اخیستونکي په بڼه صورت ونیسي. په عمومي

ډول په مشرتوب کي دي اوصولو پاينبت وموندي: په کورنۍ کي د پلار واک او مشرتوب، دزده کړي په چارو کي د ښوونکي مشرتوب، په اداري کي دلوړچارواکي واک، په اقتصاد کي د مالک واک او فوځ د ځانګړي لړۍ پر بنسټ لوړ پرکښته باندي مشر و.

په نازیزم کي واکمنانو بشپړ مشرتوب غوښتی، هټلر به په خپلو ويناووکي د بشپړي واکمنۍ غوښتنه کول، د دوی په آند هر نازیست بايد د خپل حکومت کړني د وطن لپاره خدمت او د هغو منل پر ځان لازمي وګڼي. نوځکه د ایټالیا د فاشیست حکومت د ځوانانو شعار (باور، امرمنل او مبارزه) و. په آلمان او ایټالیا کي د فاشیست حکومت د دي ډول ایډیالوژۍ خپریدل د دي لامل سول چي اقتصاد او نور ټولنیز اړخونه هم ورڅخه اغیزمن سي او په اقتصادي چارو کي به منځنۍ پوړ هم د حکومت همدا ډول شعارمني؛ ځکه چي حکومت به د دوی دفاع د يوي خوا د کارګرو د ټولنو (سنډيکا) څخه او د بلي خوا د لويو شتمنو خلکو څخه کول اودوی په دي آند وه چي موږ به د همدي ځواکمن حکومت په چوکاټ کي خپلي ګټي وساتو[1].

فاشیستان او نازيان د انسانانو ترمنځ مساوات او برابري نه مني بلکي دوی د لوړشخصیت لمانځنه کوي او د دوی په آند د هغه درناوی بايد وسي، نوځکه د لوړ مشر امر په پټهو سترګو مني. د دوی په آند انسانان دي نړۍ ته په زيات توپير سره راځي، د انسانانو استعدادونه او وړتياوي مختلفي دي، نو ځکه هغه کسان چي په

[1] -راین هاردکونل، فاشیسم(مفر جامعه سرمایه داري ازبحران) ترجمه: منوچهر فکري ارشاد، ،انتشارات توس ۱۳۵۸، ص۲۵-۳۸

طبعي ډول سره د مشرتوب وړتيا لري د نورو خلکو څخه بيل سي او درناوی يې بايد وسي.

نازيزم د خپل ملت د مادي او معنوي ارزښتونو سره بې کچې مينه درلوده، نو ځکه دوی د خپل توکم غوره والی غوښتی، همدارنګه دوی هڅه کول چي په نړيواله کچه لويه ټولواکي (امپراتوري) جوړه کړې، ترڅو آلمان توکمه وګرځې تر يوه بيرغ او سياسي رژيم لاندي ژوند وکړې، همدارنګه د نورو هېوادونو څخه خام مواد د آلمان د خلکو د فابريکو لپاره په لاس راوړي. له همدي کبله هټلر د خپلو ګاونډيو هېوادونو په نيولو باندي پيل وکړ او باالاخره دوهمه نړيواله جګړه يې پيل کړه.

همدارنګه د نازيزم سياسي رژيم يو ګوندي رژيم و، کله چي په ۱۹۳۳ز کال کي هټلر واک په لاس کي واخيستی، نو نور ټول ګوندونه په قانوني بڼه لغوه اعلان سول، ځکه هټلر ويل، چي (يو ګوند، يو هېواد او يو مشر) له همدي کبله ده خپل سياسي مخالفين په سازمان سوي بڼه نه پرېښودل. سربېره پر دې د ده سياسي رژيم پوليسي او نظامي بڼه درلوده، يانې ټول واک د پوليسو په لاس کي و او د دولت چارې هم د پوليسو د پټو او ښکاره اورګانونو لخوا اداره کيدلې.

نازي ګوند د لومړی نړيوالي جګړې څخه وروسته په ۱۹۲۰ کال کي په مونيخ کي پداسي حال کي رامنځته سو، چي په همدي وخت کي په ايټاليا کي فاشيزم، په روسيه کي سوسياليزم او په نورو هېوادونو کي ځينو نورو سياسي ايډيالوژيو ځانونه څرګند کړل، کله چي لومړی نړيواله جګړه پای ته ورسيدل، آلمان د سختو اقتصادي ستونزو سره مخ سو، آلمانانيانو زياته هڅه کول، چي د دې ستونزو څخه ځانونه

راوباسي، همغه و ، چي هټلر د نازي ګوند منظم کړ او په ۱۹۳۳ کال کي يې واک لاسته راوړ. نازي ګوند چي کله رامنځته سو ، په همغه وخت کي يې خپله مرامنامه اعلان کړه، چي د راتلونکې لپاره يې زياتې موخي د ځان لپاره وټاکلې، نو په نازيزم باندي د ښې پوهېدني لپاره نوموړې مرامنامه هم لولو:

۱-موږ د آلمان د ټولو وګړو د يوالې غوښتونکي يو ، ترڅو يو لوی آلمان د ملتونو د خپلواکيو د حق پر بنسټ جوړ سي.

۲- موږ د آلمان د ملت او نورو ملتونو ترمنځ د خپلمنځيو اړيکو او د ورسا او سن ژرمن د تړونونو د لغوه کولو ، په وخت کي د مساوي حقوقو غوښتونکي يو.

۳- موږ د خپل هېواد او پدي هېواد کي د خپلو خلکو د ساتني، تغذي او سکونت غوښتونکي يو.

۴- يوازي هغه وګړې چي د المان د ملت يوه برخه وي او يا يې په رګونو کي د آلمان د ملت وينه جاري وي هغه ددي هېواد تبعه ګڼل کيدای سي، ببله دي چي ددوی عقيدي او باورورنه په نظر کي ونيول سي، چي پدي ډول به د يهوديان مخه ونيول سي او دوی به د آلمان په ملت کي ورګډ نسي.

۵- ټول هغه وګړې چي د آلمان وګړې نه وي، کولای سي چي د ميلمنو په بڼه دلته ژوند وکړي او هغه قانون چي د بيګانګانو لپاره جوړ سوی دی، د هغه پر بنسټ به ددوی سره چلن کيږي.

۶- د قوانينو د جوړولو او يا د مشرانو د ټاکلو لپاره د رايې ورکولو حق يوازي د آلمان وګړو ته ورکول سوی دی. همدارنګه موږ د پارلمان

د هغـه نـاوړه او فاسـد چلـن سـره چـي ټـول واکونـه افـرادو تـه یـوازي د ګوندي او نورو اړېکو پر بنسټ ورکوي، په خلاف کي یو.
۷- دا وړانـدیز کـوو، چـي واکمنـان بایـد خپلـو مهمـو دنـدو تـه چـي د صـنایعو پیاوړتیـا او ددي هېـواد د وګـړو د معـاش تـامین دی، مـخ واړوي. خو که چیري د هېواد ټولو نفوسو ته د معاش ورکول ناممکنه وي، نو بهرني وګړي باید د هېواد څخه په زور باندي وه ایستل سي.
۸- ددي څخه وروسته باید آلمان ته د غیـري آلمـانې وګـړو د مهـاجرت مخه ونیول سي. دا غوښتنه لرو، چي ټول هغه وګړي چي پـه ۱۹۱۴ز کـال کي آلمان ته مهاجر سویدي، د آلمان څخه ووزي.
۹- دا غوښــتنه لـرو، چـي د هېـواد ټـول وګـړي، د حقوقـو، وجـایبو او امتیازاتو له اړخه مساوي وګڼل سي.
۱۰- کار او فعالیت د جسمي او فکري قوي په نظر کي نیولـو سـره بایـد ددې هېواد د هر وګړي دنده وي. له بل پلوه د وګړو فعالیت او کـار بایـد داسي وي، چي د یوي خوا د آلمان د ملي ګټو سره پـه ټکـر کـي نـه وي او هم د بلي خوا د ملت د سوکالی او ښېګنې لامل وګرځي.
۱۱- ټول هغه عوایـد چي بېله کار او فعالیت څخه لاسته راځي لغوه ګڼل کیږي.
۱۲- پـدي پوهیـدل چـي د جګـړې پرمهـال د ملـت د زیـاتو وګـړو مـال او شـتمني قربـاني کیـږي، خـو د جګـړې پـر مهـال خپـل مـال او شـتمني نـه قرباني کول، لوی جنایت ګڼل کیږي، نو ټول هغـه مالونـه چـي ددي لارې لاسته راځي باید بېله کوم رحم او شفقت څخه ضبط سي.
۱۳- موږ د ټولو هغو چارو چي تر اوسه د تراست په بڼه تر سره کیږي، د ملي کیدو غوښتنه کوو.

۱۴- مورږ د سوداګرۍ څخه د لاسته راغلې ټولې ګټې، د وګړو ترمنځ د ويشلو غوښتونکي يو.

۱۵- مورږ د آلمان د زړو خلکو د اوسيدونکو لپاره د پراخه پلان غوښتونکي يو.

۱۶- مورږ د منځني او سالم پورږ، د لويو پلورنځايونو فوري سوسياليستي کولو او هغه کوچنيو سوداګرانو ته په اجاره ورکولو غوښتونکي يو[1].

پدې مرامنامه کې ځينې نور مواد هم ځای پر ځای کړل سويدي. خو د پورتنيو موادو په لوستلو سره تر ډيره بريده د نازيزم تګلاره معلوميدای سي.

**نړيوال حکومت**[2]

د داډول حکومت جوړيدل يو خيال دی، چې د ټول بشريت لپاره يو ځانګړی حکومت غواړي. د نړيوال حکومت د جوړيدو آندونه د اروپا په تاريخ کې څرګنديږي، په ځانګړي ډول د لرغوني يونان او روم فيلسوفانو ددې ډول حکومت د جوړولو آندونه ورکړي دي. د لرغوني يونان فيلسوفانو دا ځانګړنه د روم د امپراتورۍ لپاره کارول او هغه يې د ټول بشريت لپاره نړيوال حکومت ګڼي.

د نړيوال حکومت د جوړښت په اړه په معاصرو پيړيو کې هم زيات آندونه ورکول سوي دي، د بېلګې په توګه ګروشيوس د نړيوالي سولي او جګړې په اړه کتاب وليکی، چې د جګړې او سولې د اصولو ترڅنګ يې د نړيوال يوالي غوښتنه هم کول، امانويل کانت بيا د نړيوالو

1- غلامرضا علی بابايي، فرهنګ سياسی آرش، ص **۵۷۳-۵۷۴**.

2 World Government.

اورګانونو د جوړولو لپاره وړانديزونه وکړل، همدارنګه يو شمېر نورو ليکوالانو، ولسمشرانو او نورو وګړو د نړيوالو ځواکمنو اورګانونو د جوړولو غوښتنې وکړې. دا غوښتنې هغه وخت زياتې سوې، کله چې لومړی نړيواله جګړه پای ته ورسېدې او د اولسونو ټولنه منځته راغله، خو کله چې دوهمه نړيواله جګړه پيل سول او د اولسونو ټولنې کومه پايله ورنکړه، پدې وخت کې د يوې بلې ټولنې لپاره ډېرې جدي هڅې پيل سولې، چې د دوهمې نړيوالې جګړې په پای کې د ملګرو ملتونو ټولنه منځته راغله.

همدارنګه يو شمېر نور نړيوال اورګانونه منځته راغلي دي، چې موخه يې نړيوال يوالی او د سولې ساتل دي. (په نړيوال حکومت باندې د ښې پوهېدنې لپاره انټرنيشنليزم وګورئ).

# نوموكراسي[1]

نوموكراسي د لرغوني يوناني ژبې د دوو كلمو څخه جوړه سويده، چي (نوموس[2]) د قانون او (كراټوس[3]) د حكومت په مانا دی، نو نوموكراسي هغه حكومت ته ويل كيږي، چي د قانون پر بنسټ ولاړ وي او واكمني يې په بشپړه توګه پر منطقي او وضعي قوانينو باندي ولاړه وي.

نوموكراسي د تيوكراسۍ (د الهي حقوقو پربنسټ ولاړ حكومت) په خلاف ده، په نوموكراسۍ كي واكمني د هغو قوانينو پربنسټ ولاړه ده، چي د انسانانو په لاسونو باندي جوړ سوي وي او د منطق او عقل تابع وي، پداسي حال كي چي په تيوكراسۍ كي بيا واكمني د الهي او غيري منطقي قوانينو پربنسټ ولاړه وي.

همدارنګه يو شمير نور پوهان نوموكراسي د اټوكراسۍ (هغه حكومت، چي واک په بشپړه توګه د يوه تن په لاس كي وي) په خلاف هم ګڼي، دوی وايي، چي په اټوكراسۍ كي واک په بشپړه توګه د يوه نفر په لاس كي وي او هغه د ظلم او استبداد پربنسټ پر ټولنه باندي

1 - Nomocracy.
2 - Nomos.
3 - Kratos.

واک پلی کوي، په آټوکراسۍ کې هیڅ ډول قانون نه پیژندل کیږي او دواکمن هره خبره قانون او هره کړنه یې قانوني ده، په داسي حال کې چې په نوموکراسۍ کې بیا واک تل د قانون پر بنسټ پلی کیږي[1].

[1] - English Social Wikipedea.

# نوو کراسي[1]

د نوو کراسۍ اصطلاح د لرغوني يوناني ژبې د دو کلمو څخه جوړه سويده، چې (نوس[2]) د دماغ او عقل په مانا دی او (کراتوس[3]) د واکمنۍ او حکومت په مانا دی. نو نوو کراسي د عقل او پوهي حکومت ته ويل کيږي، چې ځيني وخت ورته د (پوهي اريستوکراسي[4]) هم ويل کيږي.
دا اصطلاح په اوسنۍ بڼه د لومړي ځل لپاره د لرغوني يونان د فيلسوف افلاطون لخوا په علمي بڼه و پيژندل سول او دده په اند نوو کراسي هغه سياسي سيستم دی، چې د انسان پر عقل او پوهي باندي ولاړ وي. خو د افلاطون څخه مخکي فيثاغورث هم يو وخت هڅه کول، چې نوو کراسي په عملي بڼه پلي کړي، ده غوښتل چې په ايټاليا کي د (پوهي ښار) د خپلو ملګرو سره يوځای جوړ کړي، چې دا هڅه د نوو کراسۍ د پلي کولو لپاره لومړی هڅه وه.

---

[1] - Noocracy.
[2] - Nous or Noos
[3] - Kratos.
[4] - Aristocracy of wise.

د افلاطون په اند نووکراسي به په راتلونکي کې د ټول بشریت لپاره منلی سیاسي رژیم وي او ډېر ژر به د ډیموکراسۍ او نورو سیاسي رژیمونو ځای ونیسي.

د نوو کراسۍ معاصر کارونکی (ولادیمیر ویرنیډسکي[1]) دی، که څه هم ده په ښکاره ډول د نوکراسۍ اصطلاح نده کارولې خو پر ځای یې د (نووسپیر[2]) اصطلاح کارولې ده او دې ډول سیاسي رژیم ته یې اشاره کړېده. پرده سربېره یو بل پوه (میخایل ایسټین[3]) پدې اند دی، چې د مځکې پرمخ ورځ تربلې د مادي کتله زیاتیږي او د بشریت ژوند ورځ تر بلې دانسان دعقل او پوهې تابع کیږي؛ نو د بشریت راتلونکې به نووکراسي وي او دا نوو کراسي به د یوه تن د عقل او پوهې پربنسټ نه وي ولاړه، بلکې دا به د ټولنې د ټولو غړو د پوهې او عقل پر بنسټ ولاړه وي.

د اروپا د ساینس او هنر د څېړنې کمیسیون څو ځله د نووکراسۍ په اړه څېړنې کړېدي او مقالې یې خپرې کړېدي، دوی وایې: که څه هم افلاطون نوو کراسي په ټولنیزو اندونو کې تعریف کړېده او دفلسفې پر بنسټ یې پیژندلې ده خو نن ورځ نووکراسي خپله بڼه بدله کړېده او د ساینس او ټکنالوژۍ په پرمختګ سره د ساینسپوهانو لاسونو ته لویدلې ده، یانې ننۍ نوو کراسي د افلاطون د نوو کراسۍ په شان نده، چې یوازې د فیلسوفانو او پاچاهانو په لاسونو کې به وي، بلکې ننۍ نوو کراسي به د خپلواکو سیالیو پر بنسټ د ساینس د ډګر تابع وي. همدارنګه شوني ده، چې په سیاسي ډول به د یو شمیر سیاستوالو او

[1] - Vladmir Vernedsky.
[2] - Noosphere.
[3] - Mikhail Epstein.

پاچاهانو په لاس کې وي خو ریښتني نووکراسي به د ساینس پوهانو په لاسونو کې وي او ساینس د بشریت مخکښنه پوهه ده[1].

[1] - English Social Wikipedea and Britanica Encyclopedea.

# نیشنلیزم[1]

نیشنلیزم د خپل ولس او د خپل تاریخ، جغرافیه، اقتصاد، مقدساتو او کلتور سره مینه درلودلو ته ویل کیږي، یا په بل عبارت د خپل ولس او د خپل ولس د مادي او معنوي ځانګړنو سره مینه درلودلو ته نیشنلیزم ویل کیږي. همدارنګه نیشنلیزم د خپل ولس ملي خپلواکۍ او ملي واکمنی، مځکنی بشپړتیا، ملي پرمختګ، ملي هوساینې او ملي عادلانه ژوند سره مینه درلودلو ته هم وایي[2].

د نیشنلیزم د اندونو پر مټ دا مکتب یو طبعي عمل دی، چې په ټولو ولسونو کې شتون لري او قومونه او قبایل د ملي موخو د سرته رسولو په موخه سره یو ځای کوي او د ښکېلاک (استعمار) او زبېښاک (استثمار) څخه یې خلاصوي. هغه ولسونه چې سیاسي خپلواکۍ ونلري او د خپلې خپلواکۍ په لټه کې وي پداسې ولسونو کې نیشنلیزم د ملي خپلواکۍ بخښونکې غورځنګ په بڼه او هغه ولسونه چې اقتصادي خپلواکۍ نلري پداسې ولسونو کې د ملي ډموکراټیک غورځنګ په بڼه را څرګندیږي.

---

[1] - Nationalism

[2] - زیارمل، محمدعثمان. ملي مترقي تګلاره(دنیشنلیزم خط السیر او تکامل)، ص ۸-۱۰.

نیشنلیزم داسي یو طبیعي خو ځښت دی، چي د خنډونو پر وړاندي موجونه او غورځنګونه رامنځته کوي او ټول خنډونه (ښکیلاک او زبېښاک) له منځه وړي. په پایله کي خپل ولس د خپلواکۍ پر ټغر باندي کینوي. د نیشنلیزم طبیعي ایډیالوژي په ولسونو کي ښۍ اړخه او کیڼ اړخه ایډیالوژۍ ګاني زیږولي دي. ښۍ اړخه ایډیالوژۍ داسي نیشنلیزم ته ویل کیږي، چي د ولس سره کوم تړاو نه ساتي، خو د ولس د کلتور، تاریخ، جغرافیه، مقدساتو او ملي اقتصاد سره په زبېښاکې بڼه مینه لري او د لږکښیو په واسطه د یو اولس مادي او معنوي پانګي خپلوي. خو کیڼ اړخه ایډیالوژي بیا داسي نیشنلیزم دی، چي د ولس ټولي مادي او معنوي پانګي د ټول ولس حق ګڼي او د ولس د اکثریت (محکوم پوړ) او د ولس د مادي او معنوي پانګو (تاریخ، جغرافیه، کلتور، مقدساتو او ملي اقتصاد) سره مینه لري.

نیشنلیزم د نړۍ په هر ولس کي شتون لري، خو په ځینو ولسونو کي ویښ او په ځینو کي بیا بیده او کمزوری وي، د نیشنلیزم د ویښیدو او پیاوړتیا یو ازنۍ لامل ټولنیزه پوهه (تاریخ، جغرافیه، سیاسي پوهه او اروا پوهنه) ده. که چیري په یوه ټولنه کي ټولنیزه پوهه زیاته وي نیشنلیزم ښه پیاوړی کیږي او تکامل کوي او که ټولنیزه پوهه کمزوري وي بیانو نیشنلیزم کمزوری وي.[1]

نیشنلیزم د بشر یوه طبیعي ځانګړنه ده، او د بشریت د پیدا ینبت سره سم په یوه نه یوه بڼه شتون درلودی، خو د تاریخ په بیلا بیلو پړاوونو کي یې بیلا بیلي بڼې خپلي کړي دي. په معاصره نړۍ کي نیشنلیزم نوې

---

[1] - زیارمل، محمد عثمان. ملي مترقي تګلاره(د نیشنلیزم خط السیر او تکامل)، ص ۲۰ـ۳۰.

بنه د ځان کړي ده، چي نوی نیشنلیزم د انټرنیشنلیزم پر وړاندي دریځ لري، چي موخه لاندي موخو ته رسیدل دي:

الف- د خپل ولس سره مینه او هغه تر نورو لوړ ګڼل.

ب- خپل ولس ته ژمن پاته کیدل او پدي باوري کیدل، چي خپل ولس یې تر نورو ولسونو زیات ارزښتونه لري.

پر پورتنیو موخو سربیره نیشنلیزم د هغو احساساتو مجموعه هم ده، چي د یوه ولس د یوالي لامل ګرځي.

لکه مخکې چي مو اشاره وکړه نیشنلیزم یو طبیعي عمل او خوځښت دي، چي د ولسونو په وګړو کي په طبعي بڼه شتون لري، دغه خوځښت په ځینو وختونو کي کرار او په ځینو نورو وختونو کي بیا په چټکۍ سره درومي، چي د چټکوالي بڼه یې غورځنګونه منځته راوړي.

نیشنلیزم په عمومي ډول پر دوو څانګو ویشل سوی دی:

**الف- اقتصادي نیشنلیزم**:

دا ډول نیشنلیزم د خپلي اقتصادي خپلواکۍ لپاره هلي ځلي کوي، یانې داسي اقتصادي بشپړتیا غواړي، چي وارداتو ته اړتیا ونلري او په کوردننه کي خپلي اقتصادي اړتیاوي پوره کړي.

**ب- سیاسي نیشنلیزم**:

دا هغه ډول نیشنلیزم دی، چي د خپل هېواد د خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي او د خپلو پولو په دننه کي د خپلي خوښي حکومت غواړي.

اقتصادي نیشنلیزم د دهمي نړیوالي جګړي څخه وروسته سخته ماته وخوړل؛ ځکه چي په عمل کي دا وښودل سول، چي هیڅ هېواد نسي کولای، چي خپلي اقتصادي اړتیاوي په کور دننه هېواد کي پوره کړي. هیڅ هېواد د خپلې اړتیا په اندازه خام مواد نلري ؛ نو ځکه دیته اړ دی،

چې د بهر څخه خام مواد وارد کړي. همدارنګه هر هېواد دیته اړتیا لري، چې خپل تولیدات صادر کړي او په بهر کې ورته مارکېټ پیدا کړي او که چیرې تولیدات راکم کړي نو کارګران بیکاره پاتې کیږي او ټولنیز نظام د ننګونو سره مخ کیږي.

سیاسي نیشنلیزم هم تر (۱۹ز) پیړۍ کمزوری سوی دی؛ ځکه چې د نړۍ په کچه سازمانونه، ټولني او تړونونه رامنځته سوي دي او د ولسونو دا خوځښتونه ددي ښکارندوی دي، چې نړۍ د انټرنیشنلیزم پر خوا روانه ده.

پردي سربیره انټرنیشنلیزم ځینې نور ډولونه هم لري، چې د خپل طبیعي شتون او تاریخي ودي له نظره پر دوه ډوله لوستل کیږي:

**۱ – طبیعي نیشنلیزم**:

دا ډول نیشنلیزم په ټولنه کې د ایډیالوژۍ په بڼه شتون نه درلودی او د ولسونو د شتون سره یې مینه نه درلوده، خو یوازې یې د خپل محدود کلتور، جغرافیه او نامظم وګړیز اقتصاد سره د طبیعي عمل په بڼه مینه درلوده.

۲- **تکاملي او تاریخي نیشنلیزم**:

دا د هغه شعوري خوځښت نوم دی، چې په ولس کې د یوې ایډیالوژۍ په بڼه موجود و او د ولسونو د شتون، ملي واکمنۍ، سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ (ملي خپلواکۍ)، سیاسي او اقتصادي ولسواکۍ (رېښتني ولسواکۍ)، ملي مبارزي، زیبښاک، ښکښېلاک او د نړیوالي ورورګلوري څخه بحث کوي.

**د نیشنلیزم تاریخي بهیر**:

د نیشنلیزم اندونه له تاریخي اړخه لرغوني یونان ته ریښي غځوي او د لرغوني یونان د فیلسوفانو د اندونو څخه خپل تاریخ را پیلوي، چي دیته زوز نیشنلیزم هو ویلای سو. خو د نوې نیشنلیزم تخم بیا د (۱۲ز) پیړۍ په دوهمه نیمایې کي وکرل سو، په (۱۷ز) پیړۍ کي یې وده وکړه، په (۱۹ز) پیړۍ کي حاصل ته ورسیدی خو په (۲۰ز) پیړۍ کي په ځانګړي ډول د لومړی او دوهمي نړیوالو جګړو څخه وروسته کمزوری او په پای کي د ماتي سره مخ سو.

د زاړه نیشنلیزم اندونه د نوې نیشنلیزم د اندونو سره زیات توپیر لري خو سر بیره پر دي توپیرونو کولای سو، چي د نیشنلیزم ریښي په لرغوني یونان کي پیدا کړو:

**لرغوني یونان**:

په لرغوني یونان کي سقراط، افلاطون او ارسطو پر یوناني نیشنلیزم باندي باور درلودی خو هغه دومره پیاوړی او غښتلی نیشنلیزم نه و لکه د (۱۹ز) پیړۍ نیشنلیزم؛ ځکه چي په هغه وخت کي ښاري دولتونو شتون درلودی او دهغه د واک کړۍ یوازي د آتن تر ښاري دولت را چاپیره وه او د اتن وګړو ددښمن په دفاع کي یوالی درلودی.

لکه مخکي چي مو اشاره وکړه نوی نیشنلیزم د (۱۲ز) پیړۍ د دوهمي نیمایې څخه را پیلیږي او په (۱۹ز) پیړۍ کي خپل ثمر ته رسیږي. د فرانسي او امریکا انقلابونه د نوې نیشنلیزم غوره بیلګي دي. په (۱۸ز) پیړۍ کي نیشنلیزم زیات پرمختګ وکړ پر همدي بنسټ ځیني وختونه (۱۸ز) پیړۍ د نیشنلیزم پیړۍ هم نومول کیږي. په همدي پیړۍ کي زیات نوې ولسونه منځته راغله.

د لومړۍ نړیوالي جګړي څخه وروسته د امریکا و لسمشر ویلسون خپله د ملي خپلواکۍ او د نړیوالي سولي عقیده په څوارلس ګونو ارونو کي وړاندي کړه او د نړیوالي ټولني د جوړیدو غوښتنه یې وکړه وروسته له دي څخه زیاتي لوی امپراتورۍ لکه د تزاري روسي، عثماني او د اتریش او هنګري امپراتورۍ له منځه ولاړي، په پایله کي نوې دولتونه منځته راغله.

د نیشنلیزم اصطلاح په (۱۲ز) پیړۍ کي فرانسوي (ژان بودن) را ژوندۍ کړه، په (۱۹ز) پیړۍ کي الماني هګل د ملي دولت په اړه ایډیالي اند ورکړ، دی د نیشنلیزم ملاتړی و او د الماني د نژاد لوړوالی یې پر نورو ولسونو باندي غوښتی. په (۲۰ز) پیړۍ کي موسولیني او هټلر د یوجبري او تحملي نیشنلیزم لپاره هلي ځلي پیل کړي، ددوی موخه داوه، چي ټولنه نړۍ د فاشیزم د مرکزي حکومت تابع کړي.

روسي د دهمي نړیوالي جګړي څخه وروسته د یو ځانګړي ډول نیشنلیزم په لوري خوځښت وکړ، د نیشنلیزم د کمونیزم او مارکسیزم تر سیوري لاندي و، چي د ټولیز نیشنلیزم سره یې توپیر درلود.

# ولسي دولت[1]

ولسي دولت په قانوني بڼه د يوې ځانګړې سيمې د اوسېدونکې د پاره کار کوي او دا حکومت د يوه ځانګړي ملت حکومت ګڼل کيږي، چې ټولې هڅې يې هم د همغه ملت[2] د پاره وي. ولسي دولت د دوو لاملونو له امله رامنځته کيږي، يو دا چې يو اولس د بل اولس سره په جوړښت او ډول کې توپير ولري او بل دا چې په تاريخي مخينه کې توپير ولري.

ولسي دولت په اروپا کې د شپاړلسمې پيړۍ څخه وروسته په فيوډالي ټولنو کې رواج سو، بيا وروسته ټولې نړۍ ته وخوځېدی. پدې ډول نظام کې د دولت او ملت ترمنځ ټينګې اړيکې شتون لري.

[1] - Nation State.

[2]- ملت د ټولني هغه وګړې دي، چې په يوه ټاکلي جغرافيايي ساحه کې يې د ګډ ژوند (تاريخي شتون) ټول مادي او معنوي ارزښتونه خوندي کړي وي او د يو ګډ هوسا ژوند هيله ولري. يا په بل عبارت ملت هغه خلک دي، چې په يوه ټاکلي جغرافيايي سيمه کې ژوند کوي او ټولې ګټې، موخې او هيلې يې سره ګډې وي، ګډ تاريخي شتون ولري او په راتلونکې کې هم په ګډه توګه د ژوند کولو هيله ولري. (فرهاد داوري، سياست پوهنه، ۱۳۹۱ل، مخ ۱۱۹).

یانې دولت په ټولنه کې تر ټولو لوی سیاسي جوړښت دی او ملت په دننه کې د ملیتي کړښو په لرلو سره د دولت تابع دی او د دولت زیږنده دی. دوی دا مني چې ملت په دننه کې ځینې کرښې لري یانې ملت پر قومي او ملیتي کرښو باندې ویشل سوی دی خو بیا هم د دولت تر واکمنۍ لاندې د یوه ملت په بڼه شتون لري.

ولسي دولت په ټولنه کې د ډیرکښیو دولت دی، چې د قومي، مذهبي،ژبني او داسي نورو ډیرکیو په واک کې وي. پدې دولت کې چې زیات وخت د قومي ډیرکیو لخوا رامنځته کیږي، د نوموړي قوم ګټې د ټول هیواد د نفوسو ګټې شمېرل کیږي او د هغو د ګټو د ساتلو د پاره کارول کیږي[1].

د ولسي دولت یو شمېر بیلګې په لاندې ډول یادولای سو:

**البانیا**: ددې هېواد ډیرکې د (الباني) په نامه یادیږي، چې د ټول هېواد د نفوسو ۹۸،۷٪ جوړوي، چې پاته نور یې کوچني لږکې قومونه دي.

**ارمنیا**: ددې هېواد ډیرکې چې ۹۸٪ سلنه جوړوي، د (ارمني) په نامه یادیږي، چې پاته نور یې لږکې قومونه دي.

**بنګله دیش**: ددې هېواد ډیرکې د (بنګالي وګړو) په نامه یادیږي، چې د ټول هېواد دنفوسو ۹۸٪ سلنه جوړوي[2].

پر پورته هېوادونو سربیره زیات نور هیوادونه لکه مصر، پاکستان، اسرایل او داسي نور هم د همدې ډول حکومتونو لرونکې دي.

[1]- په ولسي دولت باندې د ښي پوهېدنې د پاره نیشنلیزم ولولئ.

[2] - English Social Wikipedea.

# يوتوپيانيزم[1]

د يوتوپيـا اصـطلاح د سياسـت پـه علـم کـې زياتـه کـارول کيـږي، دا اصطلاح د هغې خيالي او ايډيالي ټولنې يا دولت نوم دی، چې په بشپړ ډول بې عيبه او هيڅ نيمګړتيا نلري، چې د زياتو فيلسوفانو، شـاعرآنو او ليکوالانو لخوا په خيالي ډول انځور سوېده.

دا اصطلاح په لومړي ځل انګريزي (سـرتوماس مـور) پـه (۱۵۱۲ز) کـال کې وکارول، توماس پخپـل کتـاب کـې، چې تـر همـدې نامـه لانـدې يـې ليکلی يوتوپيا يو ليري خيالي اوفرضي ټاپو ګڼلی، چې پـه هغـه ځـای کـې د تومـاس خيـالي د ګډو ګټو ولسـونه (کامنويلټ) شـتون لـري. دا اصطلاح د توماس د کتـاب د ليکلو څخـه وروسـته د خلکـو افکـارو او خيـالونو تـه لوېدلې ده، چې تـر اوسـه پـوري کـارول کيـږي او هـيڅ ډول حقيقت نلري.

د توماس څخـه مخکـې زيـات شـمېر فيلسـوفانو او پوهـانو هـم خيـالي ټولنه په خپلو خيالونو کې انځور کړيده دبېلګـې پـه توګـه افلاطـون پـه خپل (جمهوري) کتاب، انګريزي سياستوال او فيلسوف سر فرانسيس

[1] - Utopianism.

باکون په خپل کتاب (نوی اتلانتیس) او نورو په خپلو لیکنو او کتابونو کي د خیالي ټولني په اړه څرګندوني کړیدي. پر دوی سربیره د سوسیالیزم زیات شمېر مخکښانو هم خپلو ملاتړو ته په راتلونکي کي د ایډیالي ټولني د پیدا ایښت ژمني ورکړیدي. دا ډول سوسیالیستان مارکسیستانو اصلاح غوښتونکي (یوتوپیان سوسیالیستان) بلل[1].

[1]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴ش، ص۲۱۴-۲۱۵.

# یوټیلیټاریانیزم[1]

دا د یوي سیاسي فلسفي او تلنلاري نوم دی، چي په نولسمه پیړۍ کي د یوشمېر انګریزي لیبرالانو د خوا رامنځته سوه. دي فلسفي ته د ګټي (مفیدیت) فلسفه هم ویلای سو، ځکه چي دوی ټولي نیکۍ او خیرونه د ګټي په ترازو کي سنجوي. یا په بله خبره دوی وایې، چي د انسان هر قدم او کړنه اخلاقاً نیکه او ښه ده او ددي آر تابع دي، چي (زیاتره خلک د ښه والي او ګټي ځانګړنه لري).

ددي سیاسي تلنلارې پیژندل سوي مخکښان په (۱۸ز) او (۱۹ز) پیړیو کي جرمي بنتهام، جیمزمیل، جان ستورات میل او په (۱۹ز) پیړۍ کي انګریزی اقتصاد پوه ډیویډریکاردو او انګریزی حقوقپوه جان آسټین دي. ددي ډلې پوهانو فلسفه پر دي فرضیه باندي پېلیږي، چي انسان ددو لاملونو تر واک او اغیز لاندي دی یو (خوند) او بل (درد) دی. نو ځکه د انسان کړني او تګلاره باید د ګټي (اوټیلیټه) پربنسټ لاربښوده سي یانې هڅه باید وسي، چي د (درد) مخه ونیول سي او داسي تګلاره غوره سي، چي خوند او لذت تر لاسه کړل سي. ددي خبري مانا دانده، چي انسان باید ځانپاله او شهواتي وه اوسي،

[1] - Utilitarianism.

بلکې داسي تلنلاره باید غوره سي، چې د ټولني د زیاترو وګړو د پاره خوندوره او ګټوره وي.

ددي سیاسي تلنلاري ملاتړي په سیاسي برخه کي هم هڅه کړیده او د انګلستان په ولسي جرګه کې یې یوه ډله رامنځته کړیده، چې د (فلسفي راډیکالانو) په نامه یادیږي. همدارنګه په اقتصادي برخه کي یې د (کلاسیک اکونومی[1]) عقاید او تلنلاره ساتلي ده او په دي آند دي، که چیري په اوږده زماني واټن کي د وګړو ځانې ګټې وساتل سي، د ټولني عامه ګټې پخپله ساتل کیږي. نوموړي ډله په اقتصادي چارو کي د دولت د لاسوهني په خلاف سول او د (لیسه فیر) اقتصادي فرضي ملاتړ یې وکړ.

د یوټیلیټاریانیزم سیاسي تلنلاري ملاتړي په قانوني او حقوقي برخه کي د عقلي قوانینو (راسیونالیزم یا دعقل پالني) تابع دي او دودیز قوانین زاړه او منسوخ ګڼې[2].

ددي لپاره چې د یوټیلیټاریزم په اقتصادي سیستم ښه پوه سو، نو د لیسه فیر فرضیه هم لولو:

**لیسه فیر**[3]:

لیسه فیر فرانسوي اصطلاح ده او مانا یې داده، چې (پریږده هرڅوک، چې هرڅه یې زړه غواړي هغه وکړي) یا (هرڅوک یوازي پریږده). دا اصطلاح په (۱۸ز) پیړۍ کي په سوداګری کي د لوړو ټکسونو (مالیو) پر سر د یو لړ غبرګونونو په پایله کي رامنځته سول. په همدي پیړۍ کي

[1] - Classic Economy.

[2]- دکتر بهاالدین پازرګا، مکتب های سیاسي، ۱۳۴۴ش، ص ۲۱۳-۲۱۴.

[3] - Laissez-faire

د اروپا په زیاتو برخو کې دا اصطلاح په یوې داسي عقیدي باندي واوښتل، چي د سوداګری هیڅ ډول قانوني محدودیت یې نه منئ، ددي اند پلویان پدي اندو وه، چي یوازي د اقتصاد طبیعي نظم د زیاتو تولیداتو لامل کیدای سي او قانوني محدودیت د اقتصاد پرمختګ مخه نیسي. دا اصطلاح په لومړي ځل د فیزیوکراټانو د مکتب په پلویانو کې زیاته رواج سول او وروسته یې د اروپا په نورو برخو کي هغو ډلو ته لاره پیدا کړه، چي په کورنې اقتصادي کې یې د دولت لاسوهنه نه منل.

لیسه فیر په ټوله اروپا کې د خپلواکې سوداګری اند وغوړوی او سوداګروته یې د خپلواکې او پراخې سوداګری ذهنیت ورکړ. پدي وخت کې د سوداګرو ترمنځ د داسي سوداګری غوښتني پیدا سوي، چي د حکومت د قانون او ټکس څخه بهر وي، یانې (هغه وکړئ چي څه مو زړه غواړي)، د حکومت تر ولکې بهر غوښتني وي.

داسي خپلواکه او خپلسري سوداګری او صنعت په اروپایې ټولنه کې رواج پیدا کړ. هرچا، چي هرڅه یې زړه غوښتل تولیدولای او بازاته وړاندي کولای سول، خو وروسته دي ګډوډی په سوداګری او صنعت کې کومه بریا ترلاسه نکړل؛ نوځکه سوداګر سره راټول سول او د تولیداتو او قیمتونو د کنټرول لپاره یې ګډي هلي ځلي پیل کړي، چي د سوداګرو دا راټولیدنه ددي لامل سول، چي د لیسه فیر بنسټیز اند(خپلواکه سوداګري) کمزوري او په پای کې له ماتي سره مخ سول.

د لیسه فیر تر ټولو کلک ملاتړی په (۱۸ز) پیړۍ کې (ادم سمیت) و، ده په (۱۷۷۶ز) کال کې یو کتاب د(ولسونو پانګه) په نامه ولیکئ، پدي کتاب کي ده د خپلواکې سوداګری ملاتړ اعلان کړ او پدي اند و

چې د وګړو انفرادي همږغي تر ملي څواک اغیزناکه ده. د سمیت دا اندونه وروسته په زاړه اقتصاد (کلاسیکې ایکونومی[1]) د فرضي د یوې برخې په بڼه وپیژندل سول. دي فرضي ته د لیسه فیر فرضیه هم ویل کیږي، چې د ادم سمیت د فرضي او په (۱۹ز) پیړۍ کي د فرانسي د فیزیوکراټانو د فرضیو څخه ترکیب سویده. دا فرضیه (فلسفه) دوي برخي لري، چې یوه برخه یې په لیبرالیزم کي د انګریزي فیلسوف (بنتهام) پر ارونو باندي ولاړه ده او بله برخه یې په (۱۲ز) پیړۍ کي پر مهمو اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو فرضیو باندي ولاړه ده. پدي پړاو کي سیاست او اقتصاد سره بیل سول او د هر یوه لپاره بیلا بیل موضوعات و ټاکل سول. دا فرضیه د اقتصاد په ډګر کي د لاندي دوو فرضیو لامل سول:

**الف- د طبیعي همږغۍ فرضیه**:

دي فرضي ته د خپلواکو سیالیو په بازار کي د مالونو د الیشولو فرضیه هم ویل کیږي، د دي مانا داده، چې خپلواک بازار باید رواج کړل سي، نرخونه باید د بازار د شرایطو تابع وي، مالونه باید په خپلواک بازار کي تبادله سي او ټولنه خپله یو بازار دی، چې خلک په هغه کي خپل محصولات تبادله کوي. پدي فرضیه کي ټولني ته د یو بازار په بڼه کتل سویدي، چې کیدای سي یو څوک په هغه کي خپل مال په لوړه بیه خرڅ کړي او د بل مال په ټیټه بیه تر لاسه کړي. دا هرڅه د خلکو په خپلمنځی جوړراتلني پوري اړه لري.

[1] -Classical Economy

**ب- د پوړیز کشمکش فرضیه:**

دا فرضیه د (محصول ویش) او د (اجاري، ګټي او مزد) په نومونو هم نومول سویده. ددي موخه داده، چي د خپلواک بازار تر شرایطو لاندي باید د یوي ټولني ټول محصولات د تولیدکونکو ترمنځ وویشل سي یاني مال باید د ټولني د مهمو تولیدکوونکو پوړونو ترمنځ وویشل سي. ددي فرضي پر بنسټ شتمني باید په درو بڼو (اجاره، ګټه او مزد) باندي د مهمو تولیدکونکو پوړونو ترمنځ وویشل سي.

د لومړنۍ فرضي پربنسټ اقتصادي ټولنه د فردیت او وګړو څخه شمیرل کیږي او ددوهمي فرضي پر بنسټ اقتصادي ټولنه د پوړیز سیستم څخه عبارت ده او پوړونه عبارت دي له: ګټه خوړونکو، اجراکونکو، مزدوران، شتمن خلک، خپلواک مالکان او سوداګرو څخه. ددي دو سیستمونو ترمنځ توپیر پدي کي دی، چي په لومړي سیستم (خپلواک بازار) کي د ټولو وګړو ګټي ساتل کیږي او یوه طبیعي همږغي منځته راځي او په دوهم سیستم (د محصول ویش) کي د ګټو ترمنځ اختلاف او د پوړونو ترمنځ کشمکش منځته راځي.

## پای

# اخځليکونه

(۱)-پازرګا، بهاوالدين. مکتب های سياسي. ازانتشارات اقبال. ۱۳۴۴ل کال.
(۲)- اقبال، فرشيد. مکتب های سياسي. ازانتشارات سبکباران. ۱۳۸۷ل کال.
(۳)- فانوس، ميرعزيزاحمد. افکارعامه ونخبه. ناشر: انتشارات عازم. ۱۳۹۰ل کال.
(۴)- عالم، عبدالرحمن. بنيادهای علم سياست. تهران: نشرنی. ۱۳۸۸ ل کال.
(۵)- بشريه، حسين. اموزش دانش سياسي. تهران: موسسه نګاه معاصر. ۱۳۸۲ل کال.
(۶)- دولتيار، دولت. اموزش علم سياست. ناشر:انتشارات سعيد. ۱۳۹۰ل کال.
(۷)- ډي. ټنسي، ستيفان. مباني علم سياست. ترجمه دکتر حميد رضا ملک محمدي. تهران: نشر ميزان، ۱۳۸۷ل کال.
(۸)- شريعت پناهي، سيدابوالفضل قاضي. بايسته های حقوق اساسي. تهران: نشر ميزان. ۱۳۸۸ل کال.
(۹)-آئين، اميرنيک. واژه های سياسي واجتماعي.
(۱۰)- هاشمي، محمد طاهر. حقوق اساسي وموسسات سياسي. ناشر: انتشارات فرهنګ. ۱۳۸۹ل کال.

(۱۱)- داوري، فرهاد. سیاست پوهنه. مومند خپرندویه ټولنه، کال ۱۳۹۰.
(۱۲)- اخګر، بشیر. ډموکراسي. ۲۰۰۸ز کال.
(۱۳)- زیری، صالح محمد. افغانستان او دډموکراسی سیاسي نظام. چاپ ځای: کراچي، پاکستان. ۱۳۸۱ل کال.
(۱۴)- ایوبي، محمدنادر. سیاسي نظریات. صحاف نشراتي موسسه- کوټه. ۱۴۲۹ق کال.
(۱۵)- دوو رژه، موریس. اصول علم سیاست. ترجمه ابوالفضل قاضي. تهران: شرکت انتشارات علمي وفرهنګي، ۱۳۸۲ل کال.
(۱۲)- راسکین مایکل... پولیټیکل ساینس ته یوه کتنه. ژباړه اولنډیز: محمدصدیق ظهیر. خپرندوی: علامه رشاد خپرندویه ټولنه- کندهار ۱۳۸۷ل کال.
(۱۷)- روسو، ژان ژاک. ټولنیزتړون. د سیف الرحمن اشنا ژباړه. خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۵ل کال.
(۱۸)- کونل، راین هارډ. فاشیسم. ترجمه منوچهرفکري ارشاد. انتشارات توس، ۱۳۵۸ل کال.
(۱۹)- ایوبي، محمدنادر. فلسفه. صحاف نشراتي موسسه-کوټه، ۱۳۸۸ل کال.
(۲۰)- زیارمل، محمدعثمان. ملي مترقي تګلاره(دنیشنلیزم خط السیر او تکامل). چاپ: میرویس کتاب پلورنځي، ۱۳۸۴ل کال.
(۲۱)- بارز، عابدین. فرهنګ علوم سیاسي. چاپ: بنګاه انتشارات ومطبعه میوند، ۱۳۸۵ل کال.

(۲۲)- د سياسي اصطلاحاتو قاموس. د سيد عبدالله پاچا ژباړه. خپرندوی: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل کال.
(۲۳)- د افغانستان ملي مترقي گوند. سياسي اصطلاحات. دويم چاپ، ۱۳۸۳ل کال.
(۲۴)- جايس، پيټر. په لويديځ کي سياسي چاري. د احمد زبير ژمن ژباړه. خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودي ټولنه-جرمني. چاپچاري: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۲ل کال.
(۲۵)- ترکی، روستا. د ټولنپوهني له نظره په افغانستان کي دواک جوړښتونه. د محمد اسماعيل يون ژباړه.
(۲۶)- خدايار، اميرمسعود. فرهنگ واژه های مکتبهای(سياسي، فرهنگي، مذهبي، فلسفي وهنري). انتشارات محمد حسن يوسفي، ۱۳۶۷ل کال.
(۲۷)- غلامرضا علي بابايي، فرهنگ سياسی آرش، انتشارات اشيان، چاپ دوم.
(۲۸)- ريچارد جيمزبون بوزورث. ظهور وسقوط فاشيسم ايتاليا دردوران موسوليني. ترجمه علي اکبر عبدالرشيدي.
(۲۹)- سيد مهدي سيديان ، روش شناسي فلسفه سياسي ، ۱۳۸۷ شمسي.
(۳۰)- حسن سهل آبادي ، مقاله ، ماهيت فلسفه سياسي.
(۳۱)- جانتهان ولف ، دسياسي فلسفې کتبي ، . ۱۳۹۱
(۳۲)- محمد جواد نوروزي ، فلسفه سياست ، ۱۳۷۷ لمريز.
(۳۳)- ډونالډ اتول زول ، دشلمي پېړۍ سياسي فلسفه ، ۱۳۸۷ لمريز.



Download from: aghalibrary.com

(۳۴ )-آشـوري، داریـوش. دانشـنامه سیاسـی، انتشـارات مُروارید ، چاپ یازدهم، ۱۳۸۴.

(۳۵ )- زاهدي احمدزی، د اسلامي حکومت بنسټونه، ۱۳۸۷ل،

(۳۶)- مولانا ګوهر الرحمن، ژباړن: قریب الرحمن، اسلامي سیاست، پیغام نشراتي مرکز، ۱۳۸۳ هـ ش کال.

(۳۷ )- محمـد شـریف رحمـاني ، سیاسـت او اقتصـاد د اسـلام پـه رڼـا کې، پیغام خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ هـ ش کال

(۳۸ )- ابـو محمـد ګـل الرحمـان حقـاني، معـراج الاسـلام، مکتبـه فاروقیه، محله جنګي، قصه خواني پېښور.

(۳۹ )- مینو افشاری راد و علی اقـا بخشـی، فرهنګ علوم سیاسـی، ویرایش ششم، تهران، چاپار، ۱۳۸۳.

(۴۰ )- شیدان وثیق، لائیسته چیست؟، نشر باختران، تهران، ۱۳۸۴.

(۴۱ )- عبدالحی حبیبي، د مشروطیت غورځنګ په افغانستان کې، د عبدالقیوم حکیمزي ژباړه.

(۴۲ )- شـیرودي، مصـطفي، فلسـطین وصـهیونیزم، مرکـز تحقیقـات اسلامي سپاه، ۱۳۷۸.

(۴۳ )- د کابـل پوهنتـون د حقوقـو او سیاسـي علومـو پـوهنځی لکچـر نوټونه.

-( 44)English Social Wikipedia .

-( 45)Encarta2012.

-( 46)Britanica2012 .

Download from: aghalibrary.com